# پر امنیتی برخی پارلمانی څارنه:
## اصول، میکانیزم او چالچلندونه

پر هغی واکمنی چی څارنه نه وی، ترخپل پیټی لاندی نسکوریږی

(Force without judgment , collapes under ist own weight)
Horce, Odes, 3,4,65

# پر امنیتی برخی د پارلمانی څارنی کتاب په چمتو کولو کی دغو کسانو ونډه اخیستی ده:

## لیکوالان

Hans Born (هالند), Pilipp Fluri (سویس) und Anders B. Johnsson (سویدن)

## سرمؤلف

Hans Born (هالند)

## ونډه اخیستونکی

Alexey Arbatov (روسیه)، Jean-Christophe Burkel (فرانسه), Eva Busza (متحده ایالات), Marina Caparini (کانادا), Umit Cizre (ترکیه), David Darchiashvili (گرجستان), Jonah Isawa Elaigwu (نایجیریا), Hans-Peter Furrer (سویس), Denise Garcia (برازیل), Suzana Gavrilescu (رومانیا), Wilhelm Germann (آلمان), Owen Greene (بریتانیا), Miroslav Hadzic (صربستان اومونتنگرو), Karl Haltiner (سویس), Heiner Hänggi (سویس), David Hobbs (بریتانیا), Jan Hoekema (هالند), Rogier Huizenga (هالند), Andrzej Karkoszka (پولند), Peter G. Kelly (متحده ایالات), Simon Lunn (بریتانیا), Tom McDonald (بریتانیا), Dorijan Marsic (سلووانیا), Gian Giacomo Migone (ایتالیا), Michael F. Noone (متحده ایالات), Aleksandr Pikayev (روسیه), Christine Pintat (فرانسه), Andreas Prüfert (آلمان), Christopher Sabatini (متحده ایالات), Liliane Serban (رومانیا), Ravinder Pal Singh (هند), Anders C. Sjaastad (ناروی), Bauke Snoep (هالند), Svitlana Svetova (اوکراین), Jan Trapans (لتوانیا), Matias Tuler (آرجنتاین), Marlene Urscheler (سویس), Pentti Väänänen (فنلند), Biljana Vankovska (مقدونیه), Marie Vlachova (د چک جمهوری), Casper W. Vroom (هالند), Tamas Wachsler (هنگری), Donna Winslow (کانادا), Herbert Wulf (آلمان).

## لیکواله ډله

Willem van Eekelen (هالند), Andreas Gross (سویس), Miroslav Filipovic (صربستا ن), Stepan Sulakshin (روسیه), Dimitro Tabachnik (اوکراین), Ahmad Husni Hanadzlah (مالیزیا), Adeseye Ogunlewe (نایجیریا) and Elissavet Papadimitriou (یونان) - members of the IPU Committee on Political Questions, International Security and Disarmament - and Beth Mugo (کینیا) and Ricardo Vasquez (ارجنتاین), members of the IPU Committee on Parliamentary, Juridical and Human Rights Questions

## اصلی نسخه: انگلیسی، جینوا، 2003

## د انګلیسی نسخی مصحح: (بریتانیا) Oliver Wates

# سرایزه

له کومه ځایه چې امنیت د یو اولس د ملی ګټو لپاره محوری نقش لری، نو لازمه ده چې په دی برخه کی د خلکو نظریات هم په پام کی ونیول شی. په دغی ډول پالیسی کی باید هغه امنیتی ارزښتونه او اصول په پام کی ونیول شی چې دولت د هغو د ودی او ملاتړ په لټه کی دئ.

په دی وجه په پارلمان کی د منتخبو استازو دنده ده چې له حکومت او له امنیتی ادارو سره له نژدی همکاری وکړی. که څه هم هغوی ټول یواځنی موخی ته د رسیدو لپاره کار کوی، خو دندی یی له یو بل سره توپیر لری او باید یی هم ولری. پارلمان د قوانینو د جوړولو، د بودجی د تنظیم او پر امنیتی فعالیتونو د څارنی دندی په غاړه لری او هغه یواځی هغه وخت خپل مسؤلیت په سمه وجه سرته رسولای شی چې له معلوماتو او اړوندو تخصصی پوهو څخه برخه من وی او هم هغه باید دا توان او صلاحیت ولری چې وکړای شی حکومت حساب ورکونی ته کښینوی. دا د هغه یو ټولنیز جوړښت غوښتنه کوی چې د اعتماد او خبرو اترو پر بنسټ جوړ شوی وی.

په چیلی کی په تیرو څو کلونو کی د ټولنی او وسلوالو ځواکونو تر مینځ اړیکی ښی شوی دی. نړیواله ټولنه په دی هیواد کی یو بل ته د درناوی او یو بل سره د همکاری د فضا په شته والی شهادت ورکوی چې هیله کیږی په راتلونکی کی نوره هم وده وکړی. مونږ ډاډه یو چې دغه کتاب به د یوی لارښوونی په توګه په دی برخه کی مرسته وکړی تر څو د ټولنی د هر وګړی د ټولنیزو ګټو د خوندی ساتنی لپاره په امنیتی برخه کی ټول مهم لوبغاړی یو بل سره همکاری او په ګډه کار وکړی.



سناتور سرجیو پایز وردیگو Senador Sergio Páez Verdugo
د بین الپارلمانی اتحادیی د شورا رییس

# وړاندوینه

له ډیری پخوا زمانی څخه ملی واکمنی او ملی امنیت د یو ټینګ او مضبوط دولت د پایښت لپاره ژوند ښوونکی امر ګڼل کیږی. نن د هغو کسانو نقش چی د امنیت د خوندی ساتنی لپاره دنده په غاړه لری، له یو لړ بنسټیزو بدلونونو سره مخامخ دی. د وسلوالو نښتو د نویو ډولونو او د دولتونوترمینځ د اړیکو له پراخیدو سره د امنیت د معنی په هکله نوی غبرګونونه او نوی فکرونه پاړولی دی. د ۲۰۰۱ کال د سپتمبر د ۱۱ نیټی حملی او له هغی څخه راپیدا شویو پایلو د داسی فکرونو پر ضرورت باندی نور هم ټینګار کړی دی.

په همدی وجه له بل هر وخت څخه زیات اوس پر امنیتی برخی باندی د یوی اغیزمنی پارلمانی څارنی لپاره اړتیا لیدله کیږی تر څو داډ لاس ته راشی چی دغه نوی غبرګونونه له شفافیت او پوره مسؤلیت سره طرحه او د عمل په ډګر کی پلی کیږی. د پارلمانی څارنی د نشتوالی په صورت کی دا ویره شته چی امنیتی اداری له خپلو هدفونو څخه ناوړه انګیرنه ولری او د یو دولت په دننه کی د یو دولت په څیر عمل وکړی چی دا په خپله له اوسنیو محدودو امکاناتو څخه د ناوړه استفادی او یا له اندازی څخه زیات د سیاسی او اقتصادی نفوذ څخه د کار اخیستولامل وګرځی. په داسی حال کی چی جګړه ځپلی او له کړکیچ سره مخامخ ټولنی ـ که څه هم د سولی په انتقالی دوره کی دی ـ په خاصه توګه له خطر سره مخامخ دی، ثبات لرونکی دیموکراسی هم باید له مدنی ـ پوځی اړیکو سره مقابله وکړی او هغو ته داسی بدلون او وده ورکړی چی د امنیت د بدلون په حال کی چاپیریال سره یو ځای ګام واخیستلای شی.

د امنیتی برخی ذاتی او خوځنده خصوصیت د یوی اغیزمنی پارلمانی څارنی په وړاندی یوه سخته ننګونه ګڼل کیږی. د اوسنیو بیلابیلو تخصصی مسألو شته والی، د امنیتی پرسونل زیاتوالی او د هغوی پیچلی تشکیلات او همداراز اکثرا د پټو قوانینو، مقرراتو او چالچلندونو په کار اچول د پارلمانی استازو اغیزمن فعالیت له ستونزو سره مخامخ کوی، مګر داچی هغوی (پارلمانی استازی) د خپلواکو څیرن ایزو امکاناتو او لازمو مسلکی پوهو څخه برخه من وی.

د دی ټولو مسألو په پام کی نیونی سره بین الپارلمانی اتحادیی (IPU) او د وسلوالو ځواکونو د دیموکراتیکی څارنی لپاره د جینوا مرکز د داسی یو لارښود کتاب د تالیف لپاره ملا وتړله چی پر امنیتی ادارو باندی د پارلمانی څارنی د جوړښت لپاره د اغیزمنو او هراړخیزو چالچلندونو او میکانیزمونو لاری چاری وخیری او په دی برخه کی په آسانه او ساده ژبه لارښوونه وکړی. دغه کتاب د همداسی یو فکر په پایله کی خپور شوی دی. د کتاب د مسوده کولو په پړاو کی ټول د ا ړتیا وړ مواد او مطالب د لیکوالانو د پارلمانی ډلی له خوا تر غوراو کتنی لاندی ونیول شول او د بیلا بیلو کارپوهانو نظریات پری واچول شول.

د یادونی وړده چی دا کتاب د دی خبری په منلو سره لیکل شوی چی د ټولو هیوادونو لپاره د پارلمانی څارنی یوه واحد ماډل یا نمونه نه شته. قوانین او چالچلندونه چی په یوه هیواد کی ښایی د منلواو تطبیق وړ وی، ښایی په یو بل هیواد کی نه وی. سربیره پر دی ټول پارلمانونه له یو شان واک او اختیار څخه برخه من نه دی. د دی واقیعتونو په پام کی نیونی سره، په دی کتاب کی سپارښتنی او لارښوونی ښایی

تر زیاتی کچی آرمانی بڼه ولری. همداراز د امنیتی مسألو پیچلئ خصوصیت په دی کتاب کی د ټولو یاد شوو مسألو ارزونه نا ممکن ګرځوی.

لنډه دا چی کیدای شی چی د دغه کتاب لارښوونی پر امنیتی ادارو باندی د پارلمانی څارنی د سمون او ودی لپاره د یوی سرایزی په توګه وګڼله شی او هیله کیږی چی لوستونکی په دی برخه کی د لازیاتو څیړنو لپاره وهڅول شی. او په پای کی هیله کوو چی د دی کتاب له خپرولو سره د هغو امنیتی پالیسیو او چالچلندونو ډاډ تر لاسه شی چی په ریښتینی توګه د هغو خلکو له غوښتنو او ارمانونو سره سمون ولری، چی د خدمت ادعا ورته کیږی.





سفیر دکتر تئودور اچ.وینکلر
Ambassador Dr. Theodor H.Winkler
د وسلوالو ځواکونو د دیموکراتیکی څارنی لپاره د جینوا د مرکز رییس

آندرس ب. جانسون
Anders B Johnsson
د بین الپارلمانی اتحادیی عمومی منشی

# هغه څه چې تاسي په دې کتاب کې میندلای شي

دغه کتاب په اتو برخو ویشل شوئ چې هره برخه یې څو فصلونه لري او کیدای شي چې په دوه ډوله ولوستل شي. د ټول کتاب له لوستلو سره سرې کولای شي چې د امنیتي مسألو او د پارلماني څارنې په هکله پراخ معلومات ترلاسه کړي. که چیري د داسي لوستلو لپاره وخت نه وي، کیدای شي هره برخه او یا هر فصل چې د لوستونکي لپاره په زړه پوري وي، ولوستل شي.
په هره برخه کې بیلابیل چوکاټونه شته دي چې پیچلې مسألې په کې روښانه شوي دي. په هغو کې د مختلفو هیوادونو د امنیتي او استخباراتي چارو د قوانینو او مقرراتو بیلګې ښودلې شوي دي. د ډیرو فصلونو په پای کې د «هغه څه چې تاسي د پارلمان د استازي په توګه یې سرته رسولای شي» تر عنوان لاندي میندلای شي. تر دغه عنوان لاندي پارلماني استازو ته د عمل په ساحه کې ځیني سپارښتني شوي دي. خو بیاهم څرنګه چې مخکې وویل شول دغه ډول سپارښتني عامه بڼه نه لري، بلکه د هر هیواد کورني شرایط باید په پام کې ونیول شي.

په دوو لومړیو برخو کې پر امنیت باندې د پارلماني څارنو د څیړنې لپاره د نظري او تحلیلي کار چوکاټ ټاکل شوي دي. لومړی برخه د امنیت د ودې په حال کې طرحې باندې خبرې کوي او د امنیتي مسألو په اړه د پارلمان او د نورو دولتي مؤسسو دنقش په هکله یوه عمومي کتنه وړاندې کوي. هغه مهمې پوښتنې چې په دې برخه کې ځواب شوي دي عبارت دي له:

- ❖ په امنیتي چاپیریال کې وروستي پرمختګونه څه دي؟
- ❖ د هغو په نسبت نوي ګواښونه او غبرګونونه څه دي؟
- ❖ ولې پر امنیتي ادارو باندې پارلماني څارنه باید وشي؟
- ❖ پر امنیتي برخې د دیموکراتیکې واکمنې اصلي اصول څه دي؟
- ❖ پارلمان د دولت او د قضاییه قوې په وړاندې څه نقش لري؟

دوهمه برخه د ملي امنیت د پالیسي د دوري ټول پړاوونه او همداراز په دې اړه نړیوال موجود مقررات بیانوي. د دوهمې برخې دوه وروستي فصلونه د مدني ټولني، او رسنیو د نقش او د امنیتي مسألو په هکله د جنسیت پر بنسټ نظریات روښانه کو ي. په دې برخه کې اصلي پوښتني دا دي:

- ❖ په هغو پریکړو کې چې د ملي امنیت پالیسیو پوري اړه لري د پارلمان نقش څه دئ؟
- ❖ نړیوال قوانین څرنګه د ملي امنیت د پالیسیو امکانات محدودوي او یا زیاتوي؟
- ❖ څرنګه مدني ټولنه او رسنې په ملي امنیت پوري تړل کیږي؟ پارلمان څرنګه کولای شي چې د هغو له بیلابیلو ونډو څخه کار واخلي؟
- ❖ امنیتي مسألې څرنګه ټولنې ته پیژندل کیږي؟
- ❖ د ښځو نقش د امنیت په برخه کې څرنګه دئ؟

دریمه برخه د امنیتي برخې د اجزاو پیژندل ښکاره کوي چې هغه عبارت دي له پوځ، پولیسو، استخباراتي خدماتو او یو شمیر پوځي ارګانونو او د امنیتي خصوصي شرکتونو څخه.

- ❖ د هرې امنیتي اداری اصلي چالچلند او خصوصیتونه څه دي؟
- ❖ د سیاسي اوداخلي حساب او ځواب ورکوني لپاره څه ډول میکانیزمونو ته اړتیا ده
- ❖ پارلمانونه په څه ډول پر امنیتي ادارو باندې اغیزمنه څارنه د عمل په ډګر کې پلې کوي؟

څلورمه برخه پر امنیتي برخې باندې د پارلماني څارنې امکانات تر غور لاندې نیسي، او د نورو مسألو سربیره دغو پوښتنو ته هم ځواب ورکوي:

- کومې وسيلې کيداى شي چې د پارلمان په اختيار کې کيښودل شي تر څو پر امنيتي ادارو د څارنې ضمانت وکړي؟
- څنګه کيداى شي چې د امنيتي مسألو په برخه کې پارلماني تخصص اصلاح کړاى شي؟
- د امنيتي مسألو په برخه کې د پارلمان د څيړنې او کتنې نقش څه اهميت لري؟
- د پارلمان دفاعي کميسيون څرنګه کولاى شي چې په اغيزمنه توګه عمل وکړي؟
- شکايتونو ته د ځواب ورکونکې چارواکې نقش څه دى؟
- دفاعي چارو لپاره د شکاياتو اداره څه ډول کار کوي؟
- ولې پارلماني استازى بايد د امنيتي ادارو له تأسيساتو څخه ليدنه کتنه وکړي؟

پنځمه برخه هغه شرايط تر غور لاندې نيسي چې امنيت ته ځينې ځانګړې چلنجونه پيدا کوي لکه اضطراري حالات، ملي امنيت ته ګواښونه، تروريزم او انترنتي جرمونه. همداراز په دې برخه کې په سوله ساتو ماموريتونو کې د برخې اخيستلو مسألې تر بحث لاندې نيول شوي دي. دغه ماموريتونه اکثرا په هغو سيمو کې چې امنيت نه لري او يا امنيتي ثبات په کې نه شته، سرته رسول کيږي. نو په دې وجه پنځمه برخه د نورو مسألو تر څنګ د دغو مسألو په هکله هم غور کوي:

- څنګه کيداى شي چې د اضطراري حالاتو، ملي امنيت او بشري حقوقو د خوندي ساتنې تر منيځ دقيق انډول وساتل شي؟
- د اضطراري حالاتو موخې او محدوديتونه څه دي؟
- د سپتمبر د ۱۱ پيښې څخه تر اوسه پورې څه نورې پيښې شوي دي؟ څنګه کيداى شي چې د تروريزم او قانوني ديموکراتيکو اعتراضونو تر مينځ توپير وشي؟ د دولتونو د نړيوال امنيت لپاره پاليلې څه دي؟ د پارلمان نقش په دې برخه کې څه دئ؟
- بهرنيو هيوادونو ته د سولې د عملياتو په موخه د پوځې ځواکونو د استولو په پريکړو کې د پارلمان نقش څه ډول دئ؟

شپږمه، اوومه او اتمه برخې د درې سرچينو په هکله غور کوي چې امنيتي ادارو سره اړيکه لري. څرنګه چې په شپږمه برخه کې دفاعي بودجه او د پارلمان او دولتي مالي پلټنونکو د ارګانونو له خوا د هغې کنترول تر بحث لاندې نيول شوي دي:

- څرنګه کيداى شي چې بودجه د امنيت لپاره يو مهم فکتور وګرځي؟
- څرنګه کيداى شي چې د امنيتي بودجې په تنظيم کې شفافيت او حساب ورکونه په کار واچول شي؟
- د امنيتي بودجې د تنظيم د سمې څارنې لپاره څه ډول شرايط موجود دي؟
- څرنګه کيداى شي چې امنيتي اداري تر مالي پلټنې لاندې ونيول شي؟ ولې د يو خپلواک مالي پلټونکي شته والى ضروري دى او هغه څه ډول عمل بايد وکړي؟

اوومه برخه د امنيتي ادارو د پرسونل په هکله ده او موخه يې د استخدام په مسألو د غور، د پوځې افرادو روزنې، د تقاعد لپاره په طرحو، د تقاعد معاش، عسکري مکلفيت او بديل خدمت په هکله له پارلمان سره مرسته ده:

- څرنګه کيداى شي چې ديموکراتيک ارزښتونه د امنيتي ادارو پرسونل ته ورزده کړاى شي؟
- آيا پوځې خلک کولاى شي چې خصوصي اتحاديې جوړې کړي؟
- عسکري خدمت او بديل خدمت په مختلفو دولتونو کې څه ډول دي؟

- آیا د پوځی افرادو لپاره د چالچلند کوم ډول لارښوونی شته دی؟ آیا په دی برخه کی نړیوال معیارونه موجود دی؟
- په امنیتی برخه کی د پرسونل د منجمنټ کومه برخه د پارلمان استازو پوری تعلق نیسی؟

په پای کی اتمه برخه د امنیت له مادی سرچینو سره کار لری، خصوصا تدارکات (له چا څخه، څه شی باید واخیستل شی)، د وسلو سوداگری او لیږل او لیږدول:

- په دی هکله څه ډول قانونی محدودیتونه وجود لری؟
- د تدارکاتو په برخه کی هراړخیزه پریکړه د څه شی په هکله ده؟
- کوم شرایط پټوالی توجیه کوی؟
- پارلمان دغه ډول مسألی څرنگه ارزوی؟

# د موضوعاتو فهرست

| د موضوع عنوان | پاڼه |
|---|---|
| د ونډې اخيستونکو فهرست | 2 |
| سرايزه | 3 |
| وړاندوينه | 5 |
| هغه څه چې تاسې به دې کتاب کې ميندلاي شي | 7 |
| د چوکاټونو فهرست | 12-14 |
| **لومړۍ برخه** | |
| **د امنيتي طرحو وده او لوبغاړي:** | |
| **هغه يوه ننګونه چې پارلمانونه ورسره مخامخ دي** | |
| لومړی فصل: د بدلون په حال کې امنيت د بدلون په حال نړۍ کې | 17 |
| دوهم فصل: پرامنيتي ادارو باندې د پارلماني څارنې اهميت | 21 |
| دريم فصل: د پارلمان او نورو دولتي تأسيساتو نقش او مسؤليتونه | 23 |
| **دوهمه برخه** | |
| **د ملي امنيت د پاليسي څارنه** | |
| څلورم فصل: د ملي امنيت د پاليسي طرحه | 29 |
| پنځم فصل: د ملي امنيت پاليسي او نړيوال مقررات | 34 |
| شپږم فصل: د مدني ټولنو او رسنيو نقش | 38 |
| اووم فصل: د جنسيت (ښځينه او نارينه) له نظره د امنيت پاليسي | 46 |
| **دريمه برخه** | |
| **په امنيتي برخه کې اصلي اوپراتيفي څانګې** | |
| اتم فصل: پوځ | 55 |
| نهم فصل: په دولت کې نور پوځي سازمانونه | 60 |
| لسم فصل: د پوليسي ځواکونو جوړښت | 62 |
| يولسم فصل: پټې او استخباراتي ادارې | 65 |
| دولسم فصل: پوځي او امنيتي خصوصي شرکتونه | 71 |
| **څلورمه برخه** | |
| **ملي امنيت تر پارلماني څارنې: شرايط او ميکانيزمونه** | |
| ديارلسم فصل: د يو اغيزمنې پارلماني څارنې شرايط | 77 |
| څلورلسم فصل: په امنيتي برخو کې په کار لويدلي پارلماني ميکانيزمونه | 83 |
| پنځلسم فصل: د دفاع او امنيت پارلماني کميسيونونه | 89 |
| شپاړلسم فصل: شکايتونو ته د ځواب ورکوني خپلواک چارواکي | 93 |
| اوولسم فصل: د امنيتي ادارو له تأسيساتو څخه ليدنه کتنه | 97 |
| **پنځمه برخه** | |
| **په عمل کې پرامنيتي ادارو باندې څارنه: شرايط او ځانګړې چالچلندونه** | |
| اتلسم فصل: استثنايي شرايط | 103 |

# د موضوعاتو فهرست

**د موضوع عنوان** — **پاڼه**

نولسم فصل: د کورنی امنیت خوندی ساتنه 107
شلم فصل: تروریزم 111
یوویشتم فصل: امنیت او د معلوماتو تکنالوجی: نوی وسایل او ننګونی 119
دوویشتم فصل: د سولی نړیوال ماموریتونه 122

**شپږمه برخه**
**مالی سرچینی: د امنیت په اړه یواغیزمن بودجوی کنترول ته لاره اوارول**

درویشتم فصل: امنیت او د خزانی قدرت 133
څلورویشتم فصل: د امنیتی برخی د ملی بودجوی برخی د لګښتونو پلټنه 145

**اوومه برخه**
**د امنیت په برخه کی بشری قواوی:**
**د تخصص درلودلو او دیموکراتیکی څارنی له امله ډاډمنتوب**

پنځه ویشتم فصل: په امنیتی برخی کی د دیموکراتیکو ارزښتونو د سطحی لوړول 153
شپږویشتم فصل: د امنیت په برخه کی د پرسونل منجمنټ 163
اوه ویشتم فصل: د عسکری مکلفیت او د هغه په وړاندی وجدانی اعتراض 166

**اتمه برخه**
**مادی سرچینی: د وسلو په لیږدولو او تدارکاتو باندی د اغیزمنی څارنی پلی کول**
اته ویشتم فصل: د وسلو او پوځی تجهیزاتو تدارکات 175
نهه ویشتم فصل: د وسلو سوداګری او لیږدول 181

**بین الپارلمانی اتحادیه** 191
**د وسلوالو ځواکونو د دیموکراتیک کنترول لپاره د جینوا مرکز** 192

# د چوکاټونو فهرست


| د چوکاټ شمیره | موضوع | پاڼه |
|---|---|---|
| ۱ | **په اوسنی وخت کی نور امنیتی ګواښونه، په یواځیتوب یا یو ځایی، عبارت دی له:** | **18** |
| ۲ | **د امنیت د تینګښت لپاره بیلابیلی لاری چاری** | **19** |
| ۳ | **د امنیتی برخی په اړه د دولت د مهمو ارګانونو احتمالی دندی** | **24-25** |
| ۴ | **غوره واکمنی یا ښه حکومتوالی: پر امنیتی ادارو باندی د دیموکراتیکی څارنی لپاره یو مهم ارزښت ګڼل کیږی** | **26** |
| ۵ | **تر پوښتنی لاندی د ملی امنیت د پالیسی نیول** | **29** |
| ۶ | **مستقیمه دیموکراسی او د نړیوالو تړونونو او نورو موافقت لیکونو تصویب: د سویس مثال** | **36** |
| ۷ | **په لاتین امریکا کی مدنی ټولنه:** | **39-40** |
| ۸ | **دجګړو نوی ډول: د مطبوعاتو لپاره سخت وخت:** | **41** |
| ۹ | **د سپتمبر له یولسمی څخه وروسته د مطبوعاتو آزادی** | **42** |
| ۱۰ | **د پارلمان انټرنتی پاڼه** | **43** |
| ۱۱ | **پارلمانونه او رسنی** | **44-45** |
| ۱۲ | **د سولی په بیهر کی د جنسیت موضوع** | **46** |
| ۱۳ | **د جنسیت له نظره عملیات او دسولی بهیر** | **47** |
| ۱۴ | **په پوځ کی د ښځو شمیر ـ د ناټو د غړو هیوادونو مثالونه** | **48** |
| ۱۵ | **په امنیتی پالیسی کی د ښځو ونډه د جنسیت د یو مهم بهیر په توګه** | **49** |
| ۱۶ | **په امنیتی برخو کی د ښځو له برخی اخیستلو سره نوی اړخونه او ننګونی** | **49** |
| ۱۷ | **له پوځ څخه بی برخی هیوادونه** | **55** |
| ۱۸ | **د دفاعی نظام سمون: هدف څه دی** | **56** |
| ۱۹ | **په جنوبی افریقا کی د پوځ له قوتونو څخه په پولیسی دندو کی کار اخیستل** | **57-58** |
| ۲۰ | **په ځینو نورو هیوادنو کی د دولتی پوځی ټولګیو مثالونه** | **58** |
| ۲۱ | **د پولیسو د دیموکراتیک چالچلند مهم ځانګړیتوبونه** | **62** |
| ۲۲ | **خطرلرونکی تحریفات او شرایط** | **63** |
| ۲۳ | **د بیلګی په توګه په اریتریا کی د پولیسو ځواک د ودی په حال کی دی** | **64** |
| ۲۴ | **پارلمان او د استخباراتی ادارو لپاره د مخصوصی بودجی ټاکنه: مثال ارجنتاین** | **66** |
| ۲۵ | **د محرمو یا پټو اسنادو د کتنی لپاره د پارلمانی کمیټو ځینی چلندونه** | **67** |
| ۲۶ | **خصوصی پوځی او امنیتی شرکتونه او د دیموکراسی لپاره د هغوی ځینی احتمالی خطرونه** | **72** |
| ۲۷ | **پر امنیتی برخی باندی د پارلمان د دیموکراتیکی څارنی لپاره وسایل او امکانات** | **78-79** |
| ۲۸ | **پر امنیتی ادارو باندی د پارلمان د څارنی لپاره ابتکاری ستراتیژی** | **80** |
| ۲۹ | **په امنیتی چارو کی د پارلمان د کارپوه توب د کچی د لوړولو لپاره میکانیزمونه او لاری چاری: یو څو وړاندیزونه** | **81** |
| ۳۰ | **د پارلمانی میکانیزم ګډ ځانګړیتوبونه او پر اجراییه قوی دڅارنی لاری چاری** | **83-84** |
| ۳۱ | **د اغیزمنو پوښتنو لپاره وړاندیزونه** | **85** |
| ۳۲ | **د پارلمان د تحقیق د کمیټو مهم ځانګړیتوبونه** | **86** |
| ۳۳ | **په سومالیا کی د کانادایی ځواکونو د استقرار په هکله د تحقیق کمیسیون: د امنیتی موضوعاتو پر سر د پارلمان د عامه رپوټونو د اغیزو بیلګه** | **87-88** |
| ۳۴ | **په دفاعی او امنیتی مسألو کی د یوی پارلمانی کمیټی احتمالی مهمی دندی** | **90** |
| ۳۵ | **د ناروی د پارلمان (Storting) د بهرنیو چارو او دفاعی کمیټو ګډی غونډی.** | **91** |
| ۳۶ | **شکایتونو ته د ځواب ورکونی لپاره خپلواک چارواکی** | **93-94** |
| ۳۷ | **په ځینو هیوادنو کی د دفاعی چارو د شکایتونو د چارواکی دندو ته کتنه** | **94** |

# د چوکاټونو فهرست


| د چوکاټ شمیره | موضوع | پاڼه |
|---|---|---|
| ۳۸ | د آلمان د وسلوالو ځواکونو لپاره د هغه هیواد پارلماني کمیسار | 95-96 |
| ۳۹ | د ارجنتاین مثال | 97 |
| ۴۰ | د ربړوني ضد منشور اختیاري پروتوکول د امنیتي ادارو له تأسیساتو څخه د لیدني کتني لپاره امکانات برابروي | 98 |
| ۴۱ | بیړني یا اضطراري حالتونه: موخه او اصول | 104-105 |
| ۴۲ | د امنیت ا و دیموکراسي ساتنه | 108 |
| ۴۳ | تحریفونه له جدي پایلو سره | 109 |
| ۴۴ | د سپتمبر د ۱۱ پیښې په وړاندې د ملګروملتو د امنیت د شورا غبرګون | 112 |
| ۴۵ | له ترورېزم سره مبارزه | 113 |
| ۴۶ | د وګړو د شخصي معلوماتو څخه د کار اخیستلو د ساتنې لپاره منشور | 120-121 |
| ۴۷ | د سولې لپاره مینځګړیتوب، له سولې څخه ساتنه، د سولې ټینګول او د سولې رامینځ ته کول: د ملګرو ملتونوځو ګټور تعریفونه | 122-123 |
| ۴۸ | د ملګرو ملتونو د سوله ساتو ځواکونو ورو ورو خوندي کول | 126 |
| ۴۹ | د سولې په ماموریتونو کې د برخې اخیستلو مقررات | 126-127 |
| ۵۰ | د ملګرو ملتونو له خوا د سوله ساتو ځواکونو روزنه | 128 |
| ۵۱ | بودجه: د دیموکراتیکي واکمنۍ لپاره یوه مهمه وسیله | 133 |
| ۵۲ | ولې باید پارلمان د هیواد د بودجې په ټاکلو کې فعال نقش ولري؟ | 134 |
| ۵۳ | په فیصدي توګه له ملي ناخالص عاید څخه د ځینو هیوادونو دفاعي لګښت | 135 |
| ۵۴ | د پلان، پروګرام جوړوني او د بودجوي نظام | 137 |
| ۵۵ | د دفاعي بودجې بنسټیزې اجزاوې: د هسپانیې د ۲۰۰۲ کال دفاعي بودجه | 139 |
| ۵۶ | د امنیتي بودجې په شفافیت کې مهم خنډونه | 140 |
| ۵۷ | په امنیتي بودجه کې د پټ ساتنې یا محرمیت دری سطحې | 141 |
| ۵۸ | د امنیتي ادارو د بودجې د اغیزمن کنټرول په وړاندې اصلي ستونزې | 142-143 |
| ۵۹ | د جنوب ختیځې اروپا په ځینو هیوادونو کې بودجوي چالچلند ( له ۲۰۰۱ کال څخه را په د خوا) | 143-144 |
| ۶۰ | د محاسباتو د دیوان عمومي پلټونکې | 145-146 |
| ۶۱ | په پارلماني څارنه کې پر امنیتي ادارو باندې د انګلستان د ملي محاسباتو د دیوان نقش | 147-148 |
| ۶۲ | د ګرجستان پارلمان او د بودجې کنټرول | 148-149 |
| ۶۳ | د وسلوالو ځواکونو د مسلکي کارکونکو لپاره د ټولنو او انجمنونو د درلودلو د حق په هکله د اروپا د شورا سپارښتنې | 155 |
| ۶۴ | د آلمان په وسلوالو ځواکونو کې د مشرۍ او مدني روزنې مسأله | 158 |
| ۶۵ | د پولیسي چارواکو لپاره د مسلکي اخلاقي چلند مقررات | 159 |
| ۶۶ | د امنیت د سیاسي – پوځي اړخونو لپاره د اروپا د امنیت او د همکارۍ د سازمان د مسلکي چلند مقررات (۱۹۹۴) | 160 |
| ۶۷ | د پرسونل یا تشکیلاتو منجمنټ: هغه څه چې پارلمان باید ورته پاملرنه ولري | 163-164 |
| ۶۸ | عسکري خدمت په ټوله نړۍ کې | 166-167 |
| ۶۹ | د عسکري د مکلفیت په دوره کې ځورول | 168 |
| ۷۰ | د بشري حقوقو د ۱۹۹۸/۷۷ پریکړې په هکله د ملګرو ملتونو کمیسیون: د عسکري د خدمت پر خلاف وجداني اعتراض | 170 |
| ۷۱ | بدیل خدمت: د بیلګې په توګه په سویس کې | 171 |
| ۷۲ | د پارلمان استازي ولې باید د وسلو د تدارکاتو باندې څارنه ولري؟ | 176 |

## د چوکاټونو فهرست


| د چوکاټ شمیره | موضوع | پاڼه |
| --- | --- | --- |
| ۷۳ | د وسلو د تدارکاتو ګنګ او کمزوی پالیسی یا د وسلو د تدارکاتو ډیره محرمانه پروسه ښایی دغه لاندی پایلی ولری....: | 177 |
| ۷۴ | د دفاعی تجهیزاتو د تدارکاتو لپاره د هالند پالیسی: د پارلمانی څارنی اړخ | 178 |
| ۷۵ | د وسلو د لیږدولو تعریف | 181 |
| ۷۶ | د وسلو د لیږدولو په برخه کی سیمه ایزی موافقی | 182-183 |
| ۷۷ | د وسلو په بندیز کی له نور زیات دقت او پاملرنی څخه کار اخیستل: هغه څه چی پارلمانونه کولای شی په دی اړه یی سرته ورسوی | 184 |
| ۷۸ | د اضافی وسلو سوداګری: د بی وسلی کولو منفی نتایج | 185 |
| ۷۹ | د کوچنیو او سپکو وسلو د تجارت ارقام | 186 |
| ۸۰ | د کوچنیو او سپکو وسلو د غیر قانونی تجارت پرضد د ملګرو ملتونو د عمل پروګرام: د پارلمانی استازو لپاره د پام وړ موضوع | 186-187 |
| ۸۱ | د وسلود صادراتو په کنترول کی د پارلمان نقش: د اروپا د اتحادیی په غړو هیوادونو کی شفافیت او ځواب ورکونه | 188-189 |

## لومړی برخه

# د امنیتی طرحو وده او لوبغاړی: هغه یوه ننګونه چی پارلمانونه ورسره مخامخ دی

## لومړی فصل

# د بدلون په حال کی امنيت
# د بدلون په حال کی نړی کی

په وروستی لسيزه کی د نړی امنيتی شرايط سخت بدل شوی دی. په داسی حال کی چی پخوانيو ګواښونو خپل اهميت له لاسه ورکړی دی، په دی برخه کی نويو او ويرونکو ننګونو سر راپورته کړی دی چی سړی دی ته اړوی تر څو د امنيت، کړکيچ او سولی د مفاهيمو په هکله نوی فکر وکړی.

## په ديموکراسيو کی سوله او امنيت

هر نښته سولی او امنيت ته ګواښ نه پيدا کوی. په هره ټولنه کی د يو لړ موضوعاتو په هکله يو تربله متضاد او اکثرا مخالف فکرونه او نظريات موجود دی. په يوه ديموکراتيک نظام کی د بيان آزادی په توګه خلکو ته دا حق ورکړی شوی چی هغوی خپل مختلف نظريات خپلو منتخبو استازو ته ورسوی. استازی هم په خپل وار سره دنده لری چی د پارلمان په غونډو کی په دی هکله بحث او خبری ورکړی. دغه ډول يوه پروسه د ديموکراسيو لپاره لاره اواروی ترڅو د نښتو او کړکيچونو لپاره د حل لاره ومومی او د داسی روغو جوړو په لټه کی شی چی د عامو خلکو له ملاتړ څخه برخه من شی. البته بايد د حيرانيتا خبره نه وی چی د اغيزمنو ديموکراتيکو جوړښتونو د نشتوالی په صورت کی نښتی او کش کړپونه نور هم پراخيږی او له کنترول او اداری څخه وځی چی پايله يی ډيری خطرناکی دی. د نښتو او کش کړپونو د کنترول لپاره د ديموکراسی نظام، د هغه د داخلی جوړښت په پام کی نيونی سره، ذاتا له سولی او امن سره تړلی دی.

دغه اړيکه په بل ډول هم د ثبوت وړ ده. نن دغه فکر په عمومی توګه منل شوی چی امنيت په خپل ذات کی هدف نه دی، بلکه هغه بايد بالاخره د خلکو د عامه ګټو او سوکالی په خدمت کی وی. هغه ديموکراسی چی په يو اغيزمن پارلمان کی ريښه لری، کولای شی چی دغه فکر ته عملی جامه واغوندی:

**«د ټولنی، اولس او دولت خپلواکمنی هغه وخت معنی لری چی د يوی ربښتينی خپلواکمنی څخه سرچينه واخلی او هغه انسانی خپلواکمنی ده». واسلاف هاول Vaclav Havel**

ملی امنيت چی له دولت څخه چيرته چی د وګړی او ټولنی ساتنه د هغه په ړومبنيو دندو کی ځای لری، په انسانی امنيت بدليږی. په عمل کی دولتونه د دغو لاندو اقداماتو په نيولو سره امنيتی ګواښونوته ځواب ورکونکی دی:

- **ځان ساتونکی اقدام:** د نښتو د مخنيوی لپاره نوښتونه، څرنګه چی د خلکو په خوښه د نښتو د حل لارو چارو ميندل او سوله رغونکی اقدامات يی مقصد وی؛
- **لاس وهنه:** په سختو حالاتو کی، کله چی نوری لاری چاری ناکامی شی، په کورنيو نښتو کی لاس وهنه په دی مقصد چی له خطر سره مخامخ خلک وساتل شی؛
- **غبرګون ښودونکی اقدام:** مرسته کونکی اقدام چی د کورنی جګړی په وخت کی يا له هغی وروسته ضروری ګڼل کيږی په دی مقصد چی جګړه ځپلی خلک وژغورل شی، لکه د اولسی

خلکو او بی ځایه شوو خلکو لپاره د هستوګنی کمپونو جوړول، مهاجرو ته پناه ورکول او هغوی ته د مرستو برابرول.

## له پوځی امنیت څخه تر پوره امنیت پوری

په ربښتنی توګه «انسانی امنیت» ته پاملرنه د امنیت د طرحو له ودی سره نژدی تړاو لری پرته له دی چی تنګ پوځی ملاحظات په پام کی ونیول شی. په دی برخه کی اوس مخ پر زیاتیدو توافق موجود دی چی په امنیتی موضوع کی باید په پراخه لمنه غیر پوځی لاملونه په پام کی ونیول شی (لومړی چوکاټ دی وکتل شی).

**۱- چوکاټ**

**په اوسنی وخت کی نور امنیتی ګواښونه، په یواځیتوب یا یو ځایی، عبارت دی له:**

- **سیاسی ګواښونه:** لکه کورنی سیاسی بی ثباتی، ناکام حکومتونه، تروریزم او د بشری حقوقو تر پښو لاندی کول؛
- **اقتصادی ګواښونه:** لکه بی وزلی، د شتمنو او بی وزلو هیوادنو تر مینځ د واټن زیاتیدل، نړیوال اقتصادی رکود، د ګاونډیو هیوادونو اغیزی چی له اقتصادی لحاظه شتمن اړ یا کمزوی دی او سمندری لوټ ماری؛
- **چاپیریالی یا د انسانی لاس وهنو له امله ګواښونه:** لکه هسته یی ناورینونه، نړیوال چاپیریالی بدلونونه، د وچی یا اوبو کمیدل، د خوراکی موادو او نور سر چینو کمیدل؛
- **ټولنیز ګواښونه:** لکه د لږکیو او ډیرکیو تر مینځ کش کړپ، د نفوس زیاتوالی، سازمان شوی جنایتونه، د نشه یی توکو نړیوال قاچاق، غیر قانونی سوداګری، د خلکو د نه کنترول شویو مهاجرتونه او ناروغی.

د یوی ستری امنیتی اجندا د جوړولو ګټه په دی کی ده چی امنیت ته د ګواښونو په هکله هراړخیز معلومات او هغو ته د لازم ځواب ورکوو لپاره لاره برابروی. د دی طرحی کمزورتیا په دی کی ده چی امنیتی اداری کیدای شی تر دی نامه لاندی چی ګواکی له دولت او وګړو څخه ساتنه کوی، له قانونی قدرت اوزور څخه او یا ګواښ ورکولو سره، ترهغه څه زیات کار واخلی چی قانون ورته اجازه کړی ده. دا کیدای شی چی دغه اداری ډیری زیاتی غښتلی کړی، په خاصه توکه کله چی هغوی د ټولنی په غیر پوځی برخی کی فعال شی. سر بیره پر دی امنیتی برخه کیدای شی چی له یو تخصص څخه برخه من نه وی چی نویو ننګونو ته ځواب ورکړی.

## دیوه دولت له امنیت څخه تر د دولتونو تر مینځ امنیتی همکاری پوری

له ډیر پخوا څخه دا مفکوره منل شوی ده چی وایی ملی امنیت یواځی د اولس په همکاری نه داډمن کیږی، بلکه هغه د دولتونو تر مینځ د همکاریو غوښتنه کوی. په نولسمه پیړی کی د «قدرت انډول» د امنیت د ساتنی لپاره د لارو چارو په لومړی درجه کی ځای درلود. په شلمه پیړی کی دله ایز امنیتی سازمانونو لکه د اولسونو ټولنه چی وروسته د ملګرو ملتونو سازمان د هغی ځای ونیو او ډله ایز دفاعی سازمانونو لکه ناتو رامینځ ته شول.

د سړې جګړې له پای څخه وروسته کورنیو نښتو په ډېرې چټکتیا سره زیاتوالی وموند. په اوسنی وخت کې تروریزم د نړۍ د خبرونو سرټکې ګرځیدلی دی. Globalisation یا نړیوال توب د دولتونو خپل مینځی اړیکې، په خاصه توګه په امنیتی برخو کې، پراخې کړې دی. نن هغه یو ګواښ چې یوه دولت ته ځیر شوی، کیدای شی چې ډېر ژر لمنه یې نورو ته هم پراخه شی، د سیمې او حتی نړیواله سوله بې ثباته کړی. دغه وروستی واقعیت د یوې پراخې امنیتی اجندا سره جوخت نړیوالو امنیتی همکاریو ته لا زیات خوځند قوت وربښی.

## ۲. چوکاټ
## د امنیت د ټینګښت لپاره بیلابیلی لارې چارې

- **ډله ایزه دفاع**

دله ایزه دفاع هغه یو تړون دی چې د هغه پر بنسټ دوه یا څو هیوادونه د پردیو له خوا د حملې په صورت کې یوبل څخه د دفاع لپاره مکلف دی. د دغه ډول امنیتی ټینګښت ښه مثالونه ناتو او د امریکایی دولتونو تر مینځ د دفاع سازمان دی.

- **ډله ایز امنیت**

له دی ډول سیستم سره هر غړی له زور څخه د کار اخیستلو لاره رده کړې ده خو د ډله ایز امنیت بل غړی باندی د حملې په صورت کی هغه سره همکاری کوی. دغه نظام نړیوالی سولی ته د خطر په صورت کی په کلکه توګه د نړیوالی ټولنی له غبرګون څخه ملاتړ کوی.د ډله ایز دفاعی سیستم په خلاف، ډله ایزامنیت د ټولنی له دننی څخه د حملې په وړاندی د ځان څخه د دفاع حق خوندی ساتلی. د دغه ډول سیستم ښه بیلګه د ملګرو ملتونو سازمان دی. د ملګرو ملتو د منشور د ۴۱ او ۴۲ مادو له مخی، نړیواله ټولنه دنده لری چی د سوله ماتونکو پر خلاف د پوځی او یا غیر پوځی لارو څخه فشار راوړی.
سرچینه: Bruno،SIMMA : د ملګرو ملتونو منشور، ۱۹۹۵

- **د ګډو همکاریو له لارې د امنیت ټینګول**

د ګډو همکاریو له لارې امنیت چې څو اړخونه لری کیدای شی چې یو پراخ تعریف ولری. دغه اړخونه عبارت دی له: «دغه ډول امنیت یو بل باندی د بی باوری پر ځای یو بل باندی د اعتماد ټینګار کوی؛ هغه د شړلو پر ځای د غیر پرانیستلو غوښتنه کوی؛ په هغه کی د غړیتوب لپاره محدودیت نه دی اینښودل شوی؛ هغه د پوځی حل پر ځای د غیر پوځی حل باندی ټینګار کوی؛ هغه په دی باور دی چی دولتونه د قانون اصلی پلی کونکی دی، خو غیر دولتی لوبغاړی هم کولای شی چی په دی برخه کی نقش ولوبوی؛ هغه که څه هم د غیر رسمی امنیتی جوړښتونو غوښتونکی نه دی، خو هغه ردوی هم نه؛ له ټولو څخه مهمه دا ده چی هغه د خبرو اترو د ځواړخیز دود پر ارزښت ټینګار کوی».
سرچینه: EVANS Gareth: Cooperating Peace, 1993

«ډله ایز دفاعی امنیتی جوړښت» د امنیتی همکاریو یو ډیر پراخ شکل دی. سر بیره پر دی، له لږ انسجام سره د امنیتی همکاریو شبکی د دو یا څو اړخیزو موافقو په چوکاټ کی پرته له دی چی یو رسمی یا پوځی سازمان ولری، هم شته دی.

د امنیتی همکاریو په یو سازمان کی شاملیدل ، بیا په خاصه توګه په یو دله ایز دفاعی سازمان کی، د یو هیواد پر امنیتی وضعیت باندی اغیزه لری. په اساسی توګه دغه ډول همکاری ښایی له ملی امنیت سره خورا مرسته وکړی او د ګواښونو په وړاندی ښایی دا یو ډیر«کلک سوک» وی. البته په داسی امنیتی

سازمانونو کی غړیتوب ځینی تاوانونه هم لری: هیواد مجبوره دی چی خپلی امنیتی موخی د خپلومتحدینو له غوښتنو سره جوړی کړی چی دا د ملی امنیت په پالیسی کی د اختیاراتو د محدودیدو لامل ګرځی. سر بیره پر دی پارلمان تر یوی کچی مجبوره کیږی چی د ملی امنیت د څارنی پر ځای د نړیوال امنیت په صحنه کی څارنه ولری.

## دوهم فصل

# پر امنیتي ادارو باندې
# د پارلماني څارنې اهمیت

ټول په دې نظر دي چې امنیتي پالیسي د اجراییه قوې «طبیعي دنده» ده ځکه چې له ښیې پوهې څخه برخه منه ده او هم کولای شي چې ډېر ژر په عمل لاس پورې کړي. پارلمان هغسې یو مناسب جوړښت نه دی چې وکړای شي، څرنګه چې لازمه ده، امنیتي مسایل تر غور لاندې ونیسي، په خاصه توګه چې د هغه کار زیات وخت غواړي او بل داچې له لازمو معلوماتي تخصصونو څخه بې برخې دی. خو پارلمان دنده لري چې اجراییه قوه تر کنترول لاندې ونیسي او د هغې پر چالچلند باندې غور وکړي. خو بیاهم څلور مهم ټکې شته دي چې پر امنیتي ادارو باندې د پارلمان څارنه ضروري ګڼي:

### دیموکراسي د یو استبدادي حکومت د مخنیوي لپاره د بنسټ د ډبرې په توګه

د فرانسې یو پخواني لومړي وزیر،George Clemenceau، یو وخت ویلي ؤ چې « جګړه یوه ډېره جدي موضوع ده نسبت و دې ته چې هغه پوځ ته وسپارله شي». که سړی د دې خبرې د ټوکې برخې څخه تیر شي او د هغې اصلي موخې ته پام واړوي نو دا معنی ورکوي چې په دیموکراتیک حکومتي نظامونو کې د خلکو استازی له ډېر زیات واک او اختیار څخه برخه من دي او د دولت هیڅ برخه باید د هغو له څارنې څخه لیرې پاتې نه شي. هغه یو دولت چې د هغه پر امنیتي اداري، بیا په خاصه توګه وسلوالو ځواکونو باندې څارنه ونه لري، حتی په ښوو شرایطو کې هم هغه یوه نه بشپړ شوې دیموکراسي او یا د جوړېدو په حال کې دیموکراسي ګڼل کیږي.

د یو وتلي امریکایي پوه او څیړونکي،Robert A Dahl، په نظر «په سیاست کې یوه ډېره بنسټیزه او پایښت لرونکې خبره دا ده چې د استبدادي واکمنۍ مخ نیوې وشي». له کومه ځایه چې امنیتي اداره د دولت له مهمو ارګانونو څخه شمیرل کیږي، د اجراییه قوې د اختیاراتو په وړاندې د یو انډول رامینځ ته کولو لپاره یو ډول کنترول او انډول نظام درلودلو ته اړتیا ده. په دې وجه امنیتي اداره باندې پارلماني څارنه د دولت په سطح د قدرت شریکوالي لپاره یو مهم عنصر ګڼل کیږي او د اغیزمنتوب په صورت کې پارلمان کولای شي چې د اجراییه قوې یا جمهور رییس قدرت محدود کړي.

### بودجه د پارلماني څارنې د وسیلې په توګه

تر نن ورځې پورې د اجراییه قوې د کنترول لپاره بودجه د پارلمان له مهمو میکانیزمونو څخه شمیرله کیږي. په لویدیځه اروپا کې د خپلو غوښتو له پیل سره پارلمانونو په سیاسي مسألو کې د خپل نظر د څرګندولو غوښتونکي ؤ او ادعا کړې ده چې «مالیات به وضع نه شي مګر داچې د نظر څرګندولو حق خوندي وساتل شي». له کومه ځایه چې امنیت پورې اړوند سازمانونه د هیواد د بودجې یوه مهمه برخه خپل ځان ته ځانګړې کوي، لازمه ده چې پارلمان د دولت د منابعو د استفادو په څرنګوالي باندې د اغیزمنتوب او ګټورتوب له لحاظه څارنه ولري.

## د امنیتی مسألو د قانونی حدودو تدوین

د هیواد د امنیتی قوانینو د مسودی چمتو کول په عمل کی د اجراییه قوی په غاړه ده. سره له دی هم، پارلمانی استازی د دغی مسودی په کتنی کی مهم نقش لری. هغوی کولای شی چی د دغی مسودی د هر یوی لپاره د لازمو اصلاحاتو وړاندیز وکړی او یا په هغو کی د بدلون غوښتنه وکړی ترڅو ډاډ لاس ته راوړی چی وړاندی شوی مسوده د امنیت په برخه کی په کافی اندازه د نوی فکر سره سمون لری. پارلمان باید دا هم یقینی کړی چی دغه قوانین یواځی د کاغذ پر مخ نه پاتی کیږی بلکه په عمل کی هم پلی کیږی.

## عامو خلکو ته یو پل

اجراییه قوه ښایی له هغو امنیتی مسألو څخه چی د اولس لپاره خورا اهمیت لری، سمه خبرتیا ونه لری. پارلمانی استازی تل له خلکو سره په تماس کی دی او کولای شی چی د هغوی نظریات واوری. په دی وجه خلک له پارلمان څخه ډیر زیات انتظار لری، استازی هم باید د هغوی نظریات په پارلمان کی مطرح کړی او په قوانینو او پالیسیو کی د هغو له منعکس کیدو څخه ډاډمن شی.

## پر امنیتی ادارو باندی د پارلمانی څارنی په وړاندی ننګونی

**لږترلږه په یوه امنیتی اداره کی دری برخی د پارلمانی څارنی په وړاندی رښتینی ننګونی پیدا کوی:**

- د پټو یا محرمو موضوعاتو قوانین په امنیتی برخی کی د شفافیت لپاره هڅی له ناکامی سره مخامخوی. دغه قوانین پر امنیتی ادارو پارلمانی څارنه ـ په خاصه توګه په نویو دیموکراسیو او یا جګړه ځپلو هیوادونو کی ـ محدودوی او یا یی له ستونزو سره مخامخوی. د دغی پدیدی لامل کیدای شی چی د هغه قانون نشتوالی وی چی دهغه پر اساس خلک دولتی معلوماتو ته د لاس اوږدولو حق لری.
- امنیتی اداره یوه پیچلی برخه ده چی په هغی باندی پارلمان باید په ځینو مسألو څارنه ولری لکه د وسلو خرید، د وسلوالو ځواکونو کنترول، د پوځی جزوتامونو چمتو کول یا د هغو بندو بست کول. دا په داسی حال کی ده چی د یوی اغیزمنی څارنی لپاره ټول پارلمانی استازی نه یواځی له کافی تخصص او مسلکی پوهی څخه بی برخی دی، بلکه د هغوی د استازیتوب دوره ښایی لنډه وی چی د هیواد په دننه او بهر کی لازمو منابعو ته د لاس اوږدولو امکانات ونه لری.
- د امنیت د ټینګولو لپاره پر نړیوالو همکاریو ټینګار ښایی د یو هیواد د امنیتی سیاست د شفافیت او دیموکراتیک توب کچه راټیټه کړی. دا مسأله په خپله کیدای شی چی پارلمان د څارنی له پروسی څخه وباسی. په دی وجه پارلمان باید خپل نظر ته عملی بڼه ورکړی، په نړیوالو بحثونو او تصمیمونو کی برخه واخلی او په دی اړه لاس لاندی نیول شوی اقدامات وڅاری.

## دريم فصل

# د پارلمان او د نورو دولتي تأسيساتو نقش او مسؤليتونه

## ګډ مسؤليتونه

که څه هم دولت او پارلمان په امنيتي مسألو کې يو تر بله بيل نقشونه لوبوي، خو د يوې فعالې امنيتي ادارې ساتل د هغوی ګډ مسؤليت دی. دغه ګډ مسؤليت د سياسي او پوځي مشرانو په اړيکو کې هم ليدل کيږي. دغه دوه برخې د يو بل سيال چې متضاد اهداف ولري نه شي ګڼل کيدای. خو دغه دوه ډلې د يو اغيزمن، بشپړ او د خلکو پر خوښې ولاړ امنيتي سياست ته د رسيدو لپاره يو بل ته اړتيا لري. نو په دې وجه، د ديموکراتيکې څارنې لپاره بايد د هيواد د سياسي مشرانو او لوړ پوړو پوځي چارواکو ترمينځ د آزادو اړيکو او د هغوی د شخصي ګډون سره د باور پر بنسټ ولاړې خبرې اترې، ډاډمنې کړای شي.د دا ډول پاينښت لرونکو خبرو اترو او د نظرياتو د تبادلې ګټه دا ده چې د هيواد د سياسي او پوځي مشرانو تر مينځ د پرديتوب مخه نيوله کيږي او دا په خپله د امنيتي ثبات د ټينګيدو سبب ګرځي.

## د دندو ويشل

د دولت درې واړه قواوې، اجراييه، مقننه او قضاييه، د ملي امنيت په پاليسۍ کې بنسټيز نقش لري. په دريم چوکاټ کې دغه درې واړه قوې تشريح شوي او سر بيره پر دې د اجراييه قوې د درې ارګانونو، د دولت رييس، حکومت او لوی درستيز ځانګړې دندو باندې رڼا اچول شوې ده. دا چې د هر هيواد سياسي نظام له بل سره ښايي توپير ولري، په دغه چوکاټ کې هڅه شوې چې د هغوی دندې په عمومي توګه روښانه کړای شي.

پر پارلمان سربيره، قضاييه او اجراييه قواوې ، مدني ټولنه هم د هيواد د ملي امنيت د پاليسۍ په طرح او پلې کولو کې غير رسمي خو مهمه ونډه لري. دا په داسې حال کې ده چې رسنۍ عام خلک د دولتي چارواکو له چلند څخه خبروي (شپږم فصل د ی وکتل شي).

په پای کې دوه نور ارګانونه ـ د خلکو شکايتونو ته د ځواب ورکونې لپاره ګمارل شوي چارواکي (شپاړسم فصل دی وکتل شي) او د محاسباتو د ديوان پلټونکي (څلورويشتم فصل دی وکتل شي) ـ د ملي امنيت د سياست د پلي کولو او د بودجو په څارنو کې ډير مهم نقش لري.

## سياسي حساب ورکونه

امنيتي اداري بايد د دولت د درې واړو قواوو په وړاندې ځواب ورکونکي او حساب ورکونکي اوسي:

- اجراييه قوه د خپلو مرکزي، سيمه ايز او محله يي ادارو له لارې څارنه کوي. د دولت د بودجې ټاکل، عمومي کړنلاره او د امنيتي ادارو د فعاليتونو د ړومبيتوب ټاکل د اجراييه قوې پر غاړه دی.

- مقننه قوه د قوانینو د تصویب له لاری د امنیتی ادارو د اختیاراتو حد او حدود ټاکی او د بودجی دتخصیص له لاری پر امنیتی ادارو پارلمانی څارنه کوی. په دغه څارنه کی کیدای شی چی د خلکو شکایتونو ته د ځواب ورکونی لپاره پارلمانی کمیسیون هم برخه ولری.
- قضاییه قوه پر امنیتی ادارو د څارنی تر څنګ، د ضرورت په وخت کی د مدنی یا جزایی دعواوو د اقامی له له لاری د امنیتی مامورینو سرغړونی څاری.

**۳- چوکاټ**

## د امنیتی برخی په اړه د دولت د مهمو ارګانونو احتمالی دندی

| | پارلمان | قضاییه | | اجراییه | |
|---|---|---|---|---|---|
| | | | د دولت رییس | کابینه | لوی درستیز |
| اعلی قوماندان | په ځینو هیوادونو کی پارلمان وروسته له بحثونو څخه اعلی قوماندان انتخابوی او یا یی ټاکی | د اساسی قانون محکمه د اعلی قوماندان په توګه د جمهوررییس یا د هغه د کابینی پر مشروعیت باندی غور کوی | په ځینو هیوادونو کی د دولت رییس تشریفاتی بڼه لری، په ځینو نورو کی د تصمیم نیونی له قدرت څخه برخه من دی؛ د بیلګی په توګه د جګړی په وخت کی د اعلی قوماندان دنده لری | د جګړی په وخت کی دولت د ټولو ځواکونو د قوماندانی دنده په غاړه لری | په ځینو هیوادونو کی یواځی د جګړی په وخت کی لوی درستیز ټاکل کیږی او په ځینو نورو کی دغه مقام تل موجود وی |
| امنیتی پالیسی | بحثونه او د امنیتی طرحی تصویب کوی، قوانین ټاکی | | د امنیتی پالیسی په اړه د قوانیونو لاس لیک کول | د امنیتی پالیسی لپاره وړاندیز او د هغی پلی کول | حکومت ته سلا مشوری، د امنیتی پالیسی لپاره طرحی جوړول او د هغی پلی کول |
| بودجه | د بودجی تصویب | | | د بودجی وړاندیز | حکومت ته مشوره |
| دفاعی قوانین | د قوانینو تصویب | د اساسی قانون محکمه د قوانینو مشروعیت باندی غور کوی او هغه تفسیروی | د قوانینو د انفاذ لپاره لاس لیک | د قوانینو وړاندیز او د فرعی قوانینو تصویب | حکومت ته مشوره؛ د قوانینو پلی کول |
| تشکیلات | په ځینو هیوادونو کی پارلمان د یو شمیر منصبونو د تصویب لپاره اختیار لری | د هغوی د چالچلندونو د مشروعیت په هکله قضاوت | د لوړ پوړو قوماندانانو ټاکل او د تشکیلاتو د طرحی تصویب | د لوړ پوړی قوماندان ټاکل | د تشکیلاتو په برخه کی مشوره، د تشکیلاتو پلی کول، د لاس لاندی قوماندانانو ټاکل |

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| تدراکات | د وسلو د تدارکاتو د مهمو پروژو غور او تصویب | د قاضیانو محاکمه، د فساد او دوکه کاریو له قوانینونو څخه سرغړونی | | د وسلو د تدارکاتو لپاره وړاندیز | د وسلو د تدارکاتو لپاره نوښت او پلی کول |
| بهرته د پوځی ځواکونو استول/ د بهرنیو عسکرو لپاره کوربه توب | مخکی له مخکی یا وروسته تصویب یا په مجموعی توګه د هغو ردول | د هغوی د چالچلند او قانونیت په کله قضاوت | | په نړیوالو ماموریتونو کی د برخی اخیستلو لپاره خبری اتری او د جنګی شرایطو د مقرراتو په هکله پریکړی | د عملیاتو قوماندانی |
| نړیوال تړونونه، متحدینو سره یوځای کیدل | تصویب | | د نړیوالو تړونو عقد | د ملی او نړیوالو خبرو اترو مسؤلیت | حکومت ته سلا مشوره |

څرنګه چی پاس یادونه وشوه، کیدای شی چی دغه دری قواووی په مختلفو هیوادونو کی مختلفی دندی ولری. سره له دی، له امنیتی ادارو څخه د هر ډول ناوړو استفادو د مخنیونی لپاره د قدرت د ویشی په موخه یو واحد نظام ته اړتیا لیدله کیږی. د دی خبری په پام کی نیونی سره چی په ډیرو هیوادونو کی په امنیتی مسألو کی دولت مهم نقش لری، لازمه ده چی پارلمان اغیزمنه څارنه او لازم امکانات په اختیار کی ولری. د دی خبری اهمیت په دی کی نغښتی دی چی نوی امنیتی ننګونی (لومړی فصل ته کتنه وشی) ملی جوړښتونه د خپلو دندو د یو نوی تعریف لپاره هڅوی.

## د دیموکراتیکی او پارلمانی څارنی اصول

له کومه ځایه چی امنیت او دفاع د هر هیواد د ملی واکمنی په حدودو کی تعریفیږی، د دیموکراتیکی او پارلمانی څارنی لپاره کوم نړیوال منل شوی معیار وجود نه لری. خو کیدای شی چی دغه ضوابط په یوه سیمه کی سره یو شان وی. د بیلګی په توګه کیدای شی چی دلته په اروپا کی د امنیت او د همکاری د سازمان OSCE له قوانینونو او مقرراتو څخه یادونه وشی (د زیات معلومات لپاره ۶۶ چوکاټ دی وکتل شی). سره له دی هم د مدنی ـ پوځی دیموکراتیکو اړیکو د تنظیم لپاره ټاکلی اصول شته دی:

- په یوه ټولنه کی دولت یواځنی مرجع ده چی د قدرت مشروع او قانونی انحصار په اختیار کی لری؛ امنیتی اداری باید د دیموکراتیکو قانونی مراجعو په وړاندی ځواب ورکونکی اوسی.

- پارلمان له اقتدار څخه برخه من دی او په هغه باندی تکیه کولو سره اجراییه قوه د امنیت او دفاع د پالیسی د ودی، پلی کولو او بیا کتنی لپاره مسؤله ګڼله کیږی.

- پارلمان په قانونی توګه د امنیتی او دفاعی بودجی د ټاکنی او بیا کتنی مسؤلیت په غاړه لری.

- پارلمان د اضطراری حالت د اعلان، لیری کولو او یا د جنګ حالت د اعلان مسؤلیت په غاړه لری (اتلسم فصل ته دی مراجعه وشی).
- د غوره واکمنی اصول (څلورم چوکاټ ته دی کتنه وشی) او د قانون د حکومت ټینګول د دولت په ټولو څانګو کی د تطبیق وړ دی او د هغو لمن امنیتی ادارو ته هم پراخیږی.

- د امنیتی اداری هر کار کونکی د ملی یا نړیوالو قوانینونو د ماتولو په صورت کی د هیواد د قضایی محکمو په وړاندی به ځواب ورکوی.

- امنیتی ادارو پوری تړلی سازمانونه ناپلوی سیاسی دریځ لری.

**۴ـ چوکاټ**

## غوره واکمنی یا ښه حکومتوالی پر امنیتی ادارو باندی د دیموکراتیکی څارنی لپاره یو مهم ارزښت ګڼل کیږی

«غوره واکمنی یا ښه حکومتوالی د وړاندوینی وړ، شفافیت او د روښان فکری پالنی د پالیسی جوړونی سره عملی جامه اغوندی. دا هغه یوه بیروکراسی یا دفتر داری ده چی د یو هیواد د افرادو د وظیفوی تخصص څخه ریښه اخلی او دعامه هوسایی، د قانون د حکومت د ټینګولو په چارو کی د شفافو پروسو او د هیواد په چارو کی د مدنی ټولنی د ونډی اخیستلو په لاره کی ګام اخلی. بالمقابل،د استبدادی پالیسی جوړونه، بی کفایته اداری نظام، له عدل او انصاف څخه بی برخی قانونی نظام، د اجراییی له قدرت څخه ناوړه استفاده، په ټولنیزو چارو کی د مدنی ټولنی نشتوالی او پراخ اداری فساد، دا ټولی د یوی نا روغی واکمنی او حکومتوالی نښی نښانی دی».

سرچینه: نړیوال بانک، ۱۹۹۴، د واکمنی یا حکومتوالی په هکله د نړیوال بانک تجربه

## دوهمه برخه

# د ملی امنیت د پالیسی څارنه

# څلورم فصل

# د ملی امنيت د پاليسی طرحه

## د ملی امنيت د پاليسی جوړښتونه

د ملی امنيت پاليسی د امنيت په وړاندی د حکومت پاليسی او همداراز دا چی دا امنيت څه ډول لاسه ته راشی، تعريفوی. په امنيتی ادارو کی د مهمو تصميمونونيول چی د دولت او ټولنی کورنی او بهرنی امنيت تر اغيزی لاندی نيسی، هغه مسايل دی چی د ملی امنيت په پاليسی کی پری بحث کيږی. دغه پاليسی د امنيت د راوستلو پر بنسټ د پوځی پاليسی لپاره لاری چاری وړاندی کوی او د ملی او نړيوالو مقرراتو په چوکاټ کی عمل کوی. نو په دی وجه د ملی امنيت پاليسی د ملی امنيت د اړتياوو او د ملی امنيت د ړومبيتوبونو پر بنسټ جوړيږی او يو شمير بهرنی لاملونه، فشارونه او ژمنی پر هغی اغيزه کوی. په ټولو حالاتو کی دغه پاليسی بايد په قانون کی د منل شويو ارزښتونو او اصولو سره سمون ولری.

### ۵ ـ چوکاټ

### تر پوښتنی لاندی د ملی امنيت د پاليسی نيول

د ملی امنيت پاليسی پوری د اړوندو اسنادو تصويب او ياپه ځينی خاصو شرايطو کی د هغو د پلی کيدو په هکله بحثونو کی د خلکو استازی ځينی پوښتنی وړاندی کوی. د بيلګی په توګه:

- ټولنه بايد د څه ډول ګواښونو او خطرونو په وړاندی وساتله شی؟ کوم ډول ارزښتونه او يا د کومی پرګنی پوری اړوند ارزښتونه خوندی وساتل شی؟ او په پای کی څه ډول يو امنيت ته اړتيا ده؟
- آيا د ملی امنيت پاليسيو کی دغه نوی خطرونه لکه سازمان شوی جنايات يا تروريزم په پام کی نيول شوی دی؟
- څرنګه کيدای شی چی داډ لاس ته راشی چی د ملی امنيت پاليسی له بشری نړيوالو اصولو او قوانينو او بشری حقوقو سره سمون لری؟
- په کومه کچه امنيت ته اړتيا ده؟
- د ملی امنيت د ټينګښت لپاره غوره لاره کومه ده؟ له نورو هيوادونو سره يو ځای کيدل که د ناپلويتوب ساتل؟
- امنيتی ځواکونه څه ډول عمليات سرته رسوی: آيا هغوی يوازی دفاعی دريځ به ونيسی او که آيا په سوله ساتو پوځی عملياتو کی به ګډون هم وکړی؟
- د يو مطلوب امنيت د ټينګښت لپاره بايد کومی سرچينی او اداری لاس په کار شی؟ د څه مودی لپاره اوتر کومو شرايطو لاندی؟
- د ملی امنيت پاليسی بايد په کوم زمانی واټن کی بايد تر کتنی لاندی ونيوله شی؟
- کومو مالی او اقتصادی سرچينو ته اړتيا ده؟ او ماليه ورکونکی تر کومی کچی د امينت د ټيګښت لپاره په لګښت کی ونډه اخلی؟
- د ډله ايزو وژونکو وسلو په وړاندی راتلونکی ملی رينتينی دريځ او ستراتيژی څه دی؟

د یو عمومی اصل له مخی د ملی امنیت د پالیسی د پلی کولو لپاره د سازمانونو او دولتی بیلابیلو برخو ګډون او همداراز سیاسی اسنادو ته اړتیا ده. په همدی وجه دولت باید یو پراخه ملی امنیتی پالیسی چی ټول شاوخوا امینتی فکتورونه په کی په پام کی ونیول شی طرحه کړی او هغی ته پراختیا ورکړی. دغه ډول چالچلند د حکومت لپاره د ملی امنیتی پالیسی د ټولو اړخونو د بررسی امکانات برابروی. د نوو ګواښونوو لکه تروریزم او نړیوالو جنایتونو سره د مقابلی لپاره ځانګړو او همغږو هلوځلو ته اړتیا ده، ځکه له دا ډول ګواښونو سره مقابله د مختلفو دولتی ارګانونو لکه د مالیی وزارت، پولیس، سرحدی ځواکونو او استخباراتی ادارو د ونډو غوښتنه کوی.

## د پارلمان د ونډی اهمیت

د نوموړی یادونو په پام کی نیولو سره، داچی د پارلمان اصلی ماموریت د خلکو د نظریانو لیږدول دی، د ملی امنیت د پالیسی په تصویب او ودی کی د پارلمان د ونډی لپاره ډیر زیات دلیلونه موجود دی:

- له کومه ځایه چی د ملی امنیت پالیسی د خلکو ژوند، ارزښتونه او ګټی تر اغیزی لاندی نیسی، هغه باید اجراییه قوی او پوځ ته یواځی پری نه ښودل شی؛
- د ملی امنیت پالیسی د پوځ او د هغو دغړو په راتلونکی باندی مهمی اغیزی لری؛
- د ملی امنیت پالیسی ډیر مالی نتایج ځان سره لری او د خلکو له خوا د مالیی ورکړه د هغو یوه برخه جوړوی؛
- د مالی لګښتونو سر بیره امنیتی اقدامات د وګړو آزادی محدودوی او دیموکراسی تر اغیزی لاندی نیسی.

نو په دی وجه دا د پارلمان دنده ده چی داډ لاس ته راوړی چی دغه اقدامات په ټولو حالاتو کی د بشر د حقوقو له نړیوال قانون سره سمون لری، په ځانګړی توګه د جینوا له څلورو منشورونو او دوو پروتوکولونو سره. همدا راز دغه اقدامات باید د بشر د حقوقو له قانونو د بشر د حقوقو له نړیوالی اعلامیی او د مدنی او سیاسی حقوقو له نړیوال منشور سره سمون ولری. وروستی منشور یادونه کوی چی ځینی حقوق په هیڅ صورت کی د سرغړونی وړ نه دی. له ۱۸ تر ۲۰ فصلونه دی وکتل شی.

## د ملی امنیت د پالیسی د تدوین په پړاونو کی د پارلمان نقش

تر کومه ځایه چی د پارلمان اختیاراتو پوری اړه لری، د ملی امنیت د پالیسی بحث یوه مجرده موضوع نه ده، بلکه دا هغه یو بهیر دی چی په څلورو مرحلو کی شکل نیسی: تدوین، تصمیم نیونه، اجراآت او ارزونه. که څه هم د ملی امنیت د پالیسی په جوړولو او اجراآتو کی د اجراییه قوی په دندو کی لاس وهنه باید ونه شی، خو دا بهیر باید روښانه وی او پارلمان ته تر کومه ځایه چی امکان لری د برخی اخیستلو اجازه ورکړی ترڅو له دی لاری د ټولو شاملو اړخونو تر مینځ (امنیتی اداری، پوځی او صنعتی بنسټونه) د یوی سمی څارنی انډول تینګ کړای شی.

د دی بهیر په موده کی د پارلمان استازی باید له ټولو موجودو منابعو لکه ژبنی او لیکی پوښتنو، وړاندیزونو، غوښتنلیکونو، د ځانګړو کمیسیونونو څیړونو، رپوټونو، رسمی ویناوو او د خلکو د امنیتی غوښتنو او انتظارونو لپاره د اجراییه قوی د خبرتیا په موخه وزارتونو او نورو دولتی ادارو ته د استازو د استولو څخه استفاده وکړی (څلورلسم فصل، د امنیتی سکتور لپاره د پارلمان میکانیزم ته دی مراجعه وشی).

## تدوین

په ټولو پارلماني نظامونو کې پارلمان د ملي امنیت د پالیسي په تدوین کې محدود نقش ترسره کوي. د دغې پالیسي جوړوني دنده د دولت د صلاحیت لرونکو سازمانونو او ارګانونو په غاړه ده. سره له دې هم پارلمان او د هغه غړي پر امنیتي پالیسي باندې د څارنې دنده لري ترڅو د خلکو د امنیتي غوښتنو سره سم د لاس لاندې نیول شویواقداماتو له امله ډاډمن شي او د اړتیا په صورت کې په هغو کې د سمونوالي غوښتنه وکړي.

هیله کیږي چې د پارلمان نظریات په دې برخه کې د یو رسمي سند په توګه چې د هغه د منل کیدو یا ردیدو احتمال شته دې وړاندې نه شي، بلکه د کارپوهانو له کمیسیونونو سره دې مشوره وشي ترڅو په سیاسي سندونو او د پارلمان له خوا د تصویب په حال قوانینونو کې د ټولو سیاسي ګوندونو نظریات په پام کې ونیول شي. په دې ترتیب نه یواځې د امنیتي پالیسي جوړوني په لومړیو پړاونو کې د خلکو غوښتنو ته پاملرنه کیږي، بلکه د سیاسي اسنادو د تصویب لپاره د پارلماني خبرو اترو په وخت کې په پارلمان کې د همکارۍ فضا ټینګه پاتې کیږي. د پارلمان د ډیرکیو او لږکیو د قدرت په سر شخړو په پرتله د اولس ګټې خورا مهمې دي او د دغو دوو اړخونو تر منځ د نظریاتود اختلاف په وجه باید د ملي امنیت د اسنادو په هکله د دیموکراتیکو خبرو اترو لپاره خنډ پیدا نه شي. په دې ډول پارلمان باید د اسنادو د بدلون لپاره د وړاندیزونو د وړاندې کولو توان ولري.

## تصمیم نیونې

پارلمان د تصمیم نیونې په پړاو کې ډیر مهم نقش لوبوي. کله چې د ملي امنیت د پالیسي مسوده د بحث لپاره پارلمان ته وړاندې کیږي، هغه د «پارلمان دملکیت» څخه شمیرل کیږي او په دې ډول د هغه د مستقیمو مسؤلیتنو څخه. ښکاره ده چې په هغې باندې دغور لپاره کافي وخت پکار دی تر څو د ملي امنیت د پالیسي په تصویب کې د هرډول بیړې مخه ونیوله شي.

پارلمان اختیار لري چې د دولت له خوا د ملي امنیت د پالیسي په هکله وړاندې شوي نوي مقررات مني او که هغه ردوي او یا په هغو کې د لازمو اصلاحاتو غوښتنه کوي. په دې پړاو کې پارلمان باید د اړتیا په صورت کې له خپل مشروع حق څخه کار واخلي او که چیرې له وړاندې شوو اسنادو سره موافق نه وي، نوي وړاندیزونه دې وړاندې کړي. هغه رښتیني پوښتنې چې ښایي د پارلماني استازو له خوا د بحثونو او یا د تصمیم نیونې په وخت کې عنوان شي ، په تیرو برخو کې بیان شوي دي.

په دې پړاو کې د پارلمان د نفوذ ډیره مهمه وسیله د دولت د بودجې د تخصیص پوري اړه نیسي (دزیات معلوماتو لپاره ۶ برخې ته چې د ملي منابع په هکله ده مراجعه وشي). پارلمان د امنیت د هرې برخې او د امنیتي عمومي بودجې د تصویب لپاره د خبرو اترو او رای اخیستو په موخه د صلاحیت لرونکو کمیسیونو د جوړولو په وخت کې کولای شي چې له ډیر نفوذ څخه کار واخلي. دفاعي پلانونه باید په یو مناسب وخت کې تر غور لاندې ونیویل شي او د بودجې له غوښتنې سره سم شفافیت ولري.
پارلمان کولای شي چې دعامه خلکو د ملاتړ د هڅولو یا ذیاتولو کې مهم نقش ولري او د هغې پالیسي د تصویب سره د هغې مشروعت یقیني کړي. د امنیتي مسألو په سر په پارلماني بحثونو کې د شفافیت شتوالی یو خورا مهم امر دی او دا ټکې دیر زیات د پام وړ دی چې خبرې رسنۍ باید د پارلمان د غونډو او خبرو اترو څخه خبرتیا ولري او هغه وڅاري.

## د اجراآتو پړاو

د ملی امنيت په وړاندی د پارلمان دنده د اړوندو قوانينونوله تصويب او حتی د بودجی له تخصيص سره پای ته نه رسيږی، بلکه په دی برخه کی د څارنی او مالی پلټنی دنده هم بايد سرته ورسوی. د دغه قانون د پلی کيدو په وخت کی پارلمان بايد له ټولو موجودو امکاناتو(څلورلسم فصل دی وکتل شی) او د څارنی د نورو ارګانونو په مرسته (د بيلګی په توګه د ملی محاسباتو د ديوان، څلورويشتم فصل ته دی مراجعه وشی) د دولت په ټولو فعاليتونو باندی څارنه ولری. سربيره پر دی پارلمان کولای شی د بودجی دټاکنی په برخه کی د مناسبو پريکړو سره خپل نظر ته عملی بڼه ورکړی او د حساب ورکونی د سمو اجراآتو لپاره د محاسباتو د ديوان د ادارو فنی او مسلکی صلاحيتونه بيان او تر غور لاندی ونيسی.

د کړکيچ په وخت او يا په حکومتی نظام کی د بنسټيزو بدلونونو سره پارلمان کولای شی چی د دولت په چارو کی لاس وهنه وکړی. په دی اړه، د بيلګی په توګه، له هيواد څخه بهر د پوځی ځواکونو استولو (دوويشتم فصل دی وکتل شی) يا د اضطراری حالت اعلان (اتلسم فصل دی وکتل شی) څخه دی نوم واخيستل شی. همدارازَ، که چيری دولت د سترو او جدی خطاګانو مرتکب شی، پارلمان د لاس وهنی حق لری. په داسی حالاتو کی دولت بايد د پارلمان پوښتنو ته ځواب ورکړای شی او يا حتی په سختو حالاتو کی پارلمان کولای شی چی دولت تر خاصو پلټنو لاندی ونيسی.

## ارزونی او زده کړی درسونه

په يو ديموکراتيک چاپيريال کی حکومت مؤظف دی چی د هيواد د امنيتی پاليسی اهميت تر ارزونی لاندی ونيسی او د هغی کيفی او کمی پايلی پارلمان ته وړاندی کړی. تر کومه ځايه چی د پارلمان د دندو پوری اړه نيسی، دغه ارزونی د ملی امنيت د پاليسی لپاره د دولت د غوښتل شوی او تخصيص شوی بودجی له ارقامو او اجراآتو څخه عبارت ده. دغه ارزونه حتی د ځنډونی په صورت کی هم د په پام کی نيول شوی امنيتی پاليسی د تأئيد يا رد او يا د يوی نوی طرحی لپاره حتمی ګڼله کيږی. سربيره پر پارلمان، په فعالو ټولنو کی غير حکومتی سازمانونه هم د ملی امنيت فعاليتونه تر ارزونی لاندی نيسی. د بيلګی په توګه د سولی د ماموريت ارزونی او د دفاع وزارت ګران تسليحاتی سيستمونو او د هغه د تشکيلاتو ارزونه (عسکری نظام ته د جلب چالچلند). سر بيره پر دی پارلمان کولای شی چی د خاصو مالی پلټنو لپاره ځينی کارپوه مشاورين وګماری.

## هغه څه چې تاسی د پارلمان د استازی په توګه سرته رسولای شی

### امنيتی پاليسی

- ځان ډاډه کړی چې د ملی امنيت د پاليسی، عملياتی نظريو، دفاعی طرحو او د دغو برخو لپاره د غوښتل شوی بودجې تر مينځ يوه منطقی اړيکه موجوده ده.
- که چيری مناسبه وی، په خاصه توګه د نورو هيوادونو چې ستاسو د هيواد په څير ورته شرايط لری د ملی امنيت د پاليسی له پرتله کولو څخه وروسته په پارلمان کی د خپل هيواد امنيتی پاليسی په هکله د وروستيو تحولاتو په رڼا کی پوښتنی مطرح کړی او د اړتيا په صورت کی نوی وړانديزونه وړاندی کړی (د امنيتی طرحو تدوين او لوبغاړی تر عنوان لاندی لومړی برخه دی وکتله شی).
- د ملی امنيت د پاليسی د تدوين، تصميم نيونو، اجراآتو او ارزونو د پړاوونو د ټولو څلورو پړاوونو په موده کی لازم مقررات تصويب کړی.

### اړوندی پوښتنی

- ډاډ لاس ته راوړی چې د ملی امنيت د پاليسی د تعريف او يا د بيا تعريف په پروسه کی په پنځم چوکاټ کی ټولی عنوان شوی پوښتنو ته پاملرنه شوی ده.

## پنځم فصل

# د ملي امنيت پاليسي
# او نړيوال مقررات

## نړيوال اصول

نړيوال تړونونه په ځينو وختونوکې د ملي امنيت د پاليسي لپاره تعريف ته محدوديتونه پيدا کوي او په ځينو حالاتو کې يو بشپړ تعريف له ستونزو سره مخامخوي. له کومه ځايه چې د نړۍ اکثره هيوادونه د ملګرو ملتونو د سازمان غړي دي، هغوی مکلف دي چې د هغه سازمان د منشور له ۲.۳ او۲.۴ مادو څخه اطاعت وکړي چې وايي:

> **«ټول غړي هيوادونه مؤظف دي چې خپلې نړيوالې شخړې له سوله ايزو لارو چارو په داسې توګه حل کړي چې نړيواله سوله، نړيوال امنيت اوعدالت له خطر سره مخامخ نه شي.»**

> **«ټول غړي هيوادونه بايد په خپلو نړيوالو اړيکو کې د بل دولت د خاورې بشپړتيا يا سياسي خپلواکۍ پرضد له ګواښ ورکونې او يا له قوې څخه د کار اخيستنې او يا بلې هر ډول وسيلې څخه چې د ملګرو ملتو له هدفونو سره سمون نه لري، ډډه وکړي.»**

سر بيره پر دوو نومړو مادو، ځينې نور نړيوال اصول هم شته دي چې د ملي امنيت د پالسي د تدوين لپاره د کار يو مناسب چوکاټ وړاندې کوي. د ملګرو ملتونو د سازمان د عمومي اسامبلې (XXV) 2625 اعلاميه د هيوادونو تر مينځ د همکاريو د اړيکو او شرايطو په اړوند (۱۹۷۰) د نړيوالو قوانينو د اصولو د يو معتبر منشور په توګه پيژندل کيږي چې د هغه سازمان د ټولو غړو هيوادونو په برخه کې د پلي کيدو وړ دي. په دې اعلاميه کې ۸ نه بيليدونکې اصلونه چې ټول له يو شان اهميت څخه برخه من دي، بيان شوي دي:

**لومړی اصل:** له زور او ګواښ څخه ډډه کول.
**دوهم اصل:** د نړيوالو شخړ سوله ايز حل.
**دريم اصل:** د هيواد له پولو او د خاورې له بشپړتيا څخه ساتنه
**څلورم اصل:** دخپل برخه ليک ټاکنې او د خپلې خاورې چې پولې يې په نړيواله توګه په رسميت پيژندل شوې او ضمانت شوي دي، په دننه کې د ژوند کولو د حق خوندي ساتل.
**پنځم اصل:** د دولتونو د خپلواکمنې د مساوي حق منل او د هغو په کورنيو چارو کې نه لاس وهنه.
**شپږم اصل:** د بشر حقوقو ته درناوی
**اووم اصل:** د دولتونو تر مينځ همکاری
**اتم اصل:** د نړيوال قانون له مخې د منل شويو مکلفيتونو پر ځای کول.

## د امنیت او دفاع په هکله څو اړخیز تړونونه

د امنیت په برخه کې ډیر زیات تړونونه شته دی. د دغو تړونونو اصلی ځانګی په لاندی توګه دی (البته دغه فهرست بشپړ نه دی او یوازې په هرځانګه کې د تړنونو مثالونه دی):

**د نړی د امنیت د تنظیم تړون:** د ملګروملتونو منشور.
**د نړیوالو بشری قوانینو نړیوال تړونونه چې د نړیوالو او غیر نړیوالو وسلوالو نښتو باندی غور کوی:** د جینوا د ۱۹۴۹ کال څلور معاهدی او د ۱۹۷۷ کال دوه ضمیمه پروتوکولونه.

**د تسلیحاتی او د هغو اړوندو سیستمونو په هکله نړیوال تړونونه:** د قاره یی توغندیو ضد تړون، د وسلو د کمولو تړون، د ځمکنی مینونو تړون او د Tlateloco تړون او داسی نور.

**د امنیتی مسألو د څیړلو په موخه د سیمه ایزو سازمانونو د جوړولو لپاره نړیوال تړونونه:** د امریکایی هیوادونو د سازمان منشور، د اروپا د اتحادیی تړون، د CSCE/OSCE-CSCE وروستی پریکړه او د افریقا د اتحادیی د جوړیدو قانون.

**د پوځی همکاریو او دو اړخیزو دفاعی مرستو لپاره سیمه ایز موافقه لیکونه:** د ناتو تړون، د سولی په تړون کی ملګرتیا، د لویدیځی اروپا د هیوادونو د اتحادیی تړون، د امریکایی هیوادونو د متقابلو همکاریو تړون.

د نړیوال او سیمه ایز امنیت د ټیګښت او همداراز د دوو اړخیزو او څو اړخیزو همکاریو د پیاوړی کولو په موخه د نړی د دولتونو له خوا د نړیوالو تړونونو د تصویب لپاره د نړیوالو اړیکو د اصولو د چالچلند تعریف میندل. په دی برخه کی معمولا د بهرنیو چارو وزارت د خبرو اترو لاربښودنه کوی.

## دوه اړخیز موافقت لیکونه یا د دوستی معاهدی، همکاری او متقابلی پوځی مرستی

د یو هیواد د ملی امنیت د پالیسی په تدوین کی دوه اړخیز موافقت لیکونه بنسټیز نقش لری. د دغو تړونونو ـ کله چی په هغه کی یوازې دوه هیوادونه برخه ولری ـ ګټه دا ده چی تر زیاته حده د هیواد د ضوابطو، موقعیت او اړتیاوو په پام کی نیونی سره تنظیم کیږی. په دی اړه کیدای شی چی د پخوانی شوروی اتحاد او متحده ایالاتو ترمینځ د وسلو د کمولو تړون څخه نوم واخیستل شی.

دغه ډول تړونونه (د بیلګی په توګه د ارمنستان او روسیی تر منیځ د ۱۹۹۷ کال د دوستی، همکاری او دوه اړخیزو همکاریو معاهده) نه یوازې د دوستی او د نه تیری کونکی سیاست د څرګندولو په توګه لاس لیک کیږی، بلکه په عمل کی هم په کار اچول کیږی. د بیلګی په توګه: په ځینو حالاتو د یوبل په هیوادونو کی د پوځی ځواکونو او تجهیزاتو کښته کول دی. د۱۹۹۰ لسیزی په موده کی روسیی د پخوانی شوروی اتحاد د نوو آزاد شویو جمهوریتونو سره د پوځی همکاریو یو شمیر تړونونه لاس لیک کړی دی.
په دغو تړونونو کی کیدای شی چی، د اړتیا په صورت کی، پراخی پوځی همکاری هم شاملی کړای شی. په دی اړه د ۱۹۹۴ کال د دیموکراتیکی ملګرتیا د تړون د تصویب څخه چی د امریکی او قزاقستان د ۱۹۹۲ کال د موافقت لیک څخه وروسته رامینځ ته شوو او د دواړو هیوادونو په مخ یی د دوه اړخیزو پوځی همکاریو لاره پرانیستله، نوم واخیستل شی.

په ټوليزه توګه د دوه اړخيزو معاهدو څخه د بهرني امنيتي پاليسي د جوړولو، له نورو هيوادونو سره د دوستي د اړيکو د پراخولو او د سختو ستونزو د حل لپاره د وسيلو په توګه کار اخيستل کيږي. پارلمانونه د څو اړخيزو امنيتي تړونونو په پرتله د دوه اړخيزو تړونونو په هکله د تصميم نيونی له زيات قدرت څخه برخه من دي او د هغو په متن او محتوا کی د بدلون راوستلو او بحث لپاره اجراييه قوی ته د پيشنهادی طرحو په وړاندی کونه کی پوره آزادی او واک لري.

## د پارلمان او عامه خلکو د ونډی اهميت

په هغو هيوادونو کی چی د نړيوالو تړونونو د تصويب په بهير کی د پارلمان او عامه خلکو د برخی اخيستلو دود نه شته غوره ده چی خلک وهڅول شی، ځکه دا له هغو تړونو څخه د خلکو د ملاتړ لامل ګرځی. د موجودو اصولو له مخی په ديموکراتيکو هيوادونو کی د اجراييه قوه د پارلمان له خبرتيا او تأييد څخه پرته نه شی کولای چی پټ تړونونه لاس ليک کړی. دا يو مکلفيت دی چی هغه يوه نړيوال موافقت ليک چی د يو هيواد خپلواکمنی، د خاوری بشپړتيا او د هغه نړيوال موقعيت باندی اغيزه لري، بايد په پارلمان کی تر بحث لاندی ونيول شی او د هغه له خوا تصويب شی.

په ځينو هيوادونو لکه سويس کی، بايد د مهمو تړونونو په هکله ټول پوښتني وشی. په دی ډول د هيواد د بهرني سياست په بنسټيز بدلون کی د مدني ټولني د ونډی ضمانت کيږی. په سويس کی د دا ډول تړونونو له تصويب څخه مخکی ټول پوښتني حتمی دی (شپږم چوکاټ دی وکتل شی).

> **۶ ـ چوکاټ**
>
> **مستقيمه ديموکراسی او د نړيوالو تړونونو**
> **او نورو موافقت ليکونو تصويب: د سويس مثال**
>
> په سويس کی پارلمان، مرکزی شوری (دولت) او اولس ټول د نړيوالو موافقت ليکونو په تصويب کی ونډه لري. د هيواد په هکله مهم موافقت ليکونه يواځی د پارلمان له خوا نه تصوييبيږی، بلکه د خلکو له خوا هم بايد پری بحث وشی. د ټول پوښتني له لاری ټولنه د اړوندو موافقت ليکونو په هکله خپل نظريات څرګندوی. همداراز ټولنه د همدی ټول پوښتني له لاری فدرالی شورا ته د راتلونکو تړونونو پر سره د خبرو اترو د پيل يا د پای ته رسولو اختيار ورکوی. که چيری دولت وغواړی چی ډله ايزو امنيتي سازمانونو يا د اولس څخه بهر يوی ټولني سره يو ځای شی، ټول پوښتنه يو حتمی امر دی.
> ۱۴۰ ماده b د سويس له قانون څخه)

## هغه څه چې تاسې د پارلمان د استازې په توګه يې سرته رسولاى شى

### د تړون په هکله خبرې اترې

- ډاډ تر لاسه کړى چې پارلمان يا د هغه اړوند کمسيونونه:

ـ د خبرو اترو په ټيمونو کې د مختلفو ګوندونو د استازو په شاملولو سره د خبرو اترو په بهير کې ګډون کوى؛

ـ د اړوندو مسألو په هکله د خلکو له نظرياتو څخه په عامه توګه او د اړوندو سازمانونو او د هغو د څيړنو څخه په خاصه توګه خبرتيا مومى او هغه په پام کې نيسى؛

ـ خپل نظريات په دى ډاډ چې د خلکو له نظريو او فکرونو څخه يې استفاده کړې ده، په رسمي توګه دولت ته وړاندى کوى.

### د تحليل اغيزى

- ډاډ پيدا کړى چې يوه موافقت ليک پارلمان ته وړاندى شوى او کولاى شي چې دهغه د سياسى، اقتصادى، ټولنيز او د چاپيريالى اغيزو يو بشپړ تحليل (په منځنى او اوږده موده کې) تر بحث لاندى نيول کيږى.

### تصويب

- ډاډ پيدا کړى چې د يو تړون د تصويب لپاره پارلمان په خپل وخت خبر کړاى شوى دى؛
- ډاد پيدا کړى چې د تصويب په حال کې د تړون او د هيواد د کورنيو قوانينونو تر مينځ جوړښت موجود دى او دا کار کيداى شي چې د ملي قانون په احکامو کې د بدلون راوستلو سره يا ـ د اړتيا په صورت کې ـ له اړوند نړيوال موافقت ليک سره تفسيرى او د مشروط قانونى بندونو په ضميمه کولو سره ترسره شي.

### د قانونى مشروط او تفسيرى بندونو باندى کتنه

- ډاډ پيدا کړى چې د ټاکل شويو مشروط او تفسيرى قانونى بندونو دايمي اعتبار ستاسو د هيواد د ملي پاليسي د وخت په وخت د کتنى د يو برخى په توګه تر کتنى لاندى نيول کيږى.

## شپږم فصل

# د مدني ټولنواو رسنيو نقش

امنيتي اداري وار په وار پراخيږي او وده کوي. دغه بهير د پارلمان لپاره يو مخ په زياتيدونکی ننګونه ده، دا په داسي حال کی ده چي پارلمان د ملی امنيت په برخه کی د دولت په چارو کی د څارنی لپاره له کار پوه پرسونل څخه بی برخي دی. په نتيجه کی يو شمير نور ارګانونه را پيدا شوی چي د هغه نقش يی بشپړ کړی، خو بياهم پارلمان دا ستر مسؤليت په غاړه لری چي حکومت حساب او کتاب ته کش کړی. مدنی ټولنه کولای شي چي پارلمان سره د هغه په جوړ شوی چوکاټ کی د امنيتی ادارو په څارنه کی مرسته وکړی.

## مدنی ټولنه

د «مدني ټولنې» اصطلاح هغو خپلواکمنو سازمانونو ته ويل کيږی چي د دولتي او خصوصي تأسيساتو ترمينځ قرار لری او خپله په يو لړ ټولنيزو او مدني فعاليتونو کی ونډه اخلی. د خپلی خوښی کارونو انجمنونه، ټولنيز غورځنګونه او هغه ډلی او سازمانونه چی د ټولنی د بيلابيلو پرګنو څخه استازيتوب کوی او په مختلفو ټولنيزو فعاليتونو لاس پوری کوی، په مدني ټولنی کی شامل دی. په لاندی کرښو کی پر امنيتی ادارو باندی د مدنی ټولنی د څارنی د مهم نقش په هکله او دا چي دغه نقش په کومو برخو کی بايد وی، خبری شوی دی. همداراز په دی هکه هم يادونه شوی چي مدنی ټولنه په پارلمانی څارنه کی څه ونډه اخيستلای شی.

## مدنی ټولنه او ديموکراسی

ربښتيا خبره دا ده چی مدنی ټولنه د يو دولت د ديموکراتيک کيدو د پروسی غبرګون دی او په جوړ شويو او مضبوطو ديموکراسيو کی پياوړی نقش لوبوی. مدنی ټولنی عملا سياسی مشران دی ټکی ته متوجه کوی چی په ټولنه کی مختلفی غوښتنی او يو تربله بيلابيلی ګټی موجودی دی چی د عامه لګښتونو او دولتی اقداماتو په هکله د تصميم نيونی په وخت کی بايد په پام کی ونيول شی. په همدی وجه د يوی فعالی او خوځنده مدنی ټولنی شته والی د ديموکراسی لپاره حتمی ده. د دغی ټولنی ذاتی قوت کيدای شی چی د دولت د قدرت په وړاندی يو انډول وګڼل شی تر څو د استبداد مخه ونيسی او د هغی څو اړخيز خصوصيت د دی سبب ګرځی چی دولت د يو څو محدودو کسانو يا څو ډلو د لاس آله ونه ګرځی.

## مدنی ټولنه او امنيتی اداری

په مدنی ټولنه کی بيلابيلی ډلی او مؤسسی، لکه علمی او اکاديميک بنستونه، څيړنيز تأسيسات، د بشر د حقوقو غير حکومتی مؤسسی او د سياست په ډګر کی غير حکومتی فعالی مؤسسی له خپلو پرله پسی هڅو سره کولای شی چی د امنيتی ادارو پر تصميمونو او اقداماتو اغيزی وکړی.

دولت کولای شی چی د ملی امنيت، د وسلوالو ځواکونو، پاليسی جوړونی او هم د استخباراتی چارو باندی په عامو خبرو او بحثونو کی غير حکومتی سازمانونه برخی اخيستلو ته وهڅوی. دغه ډول خبری او بحثونه په خپل وار سره د دولت د چالچلند په روښانتيا کی مرسته کوی.

# د امنیتی برخی په اړه د غیر حکومتی سازمانونو او څیړنیزو مؤسسو ځانګړی نقش اواغیزی

غیر حکومتی سازمانونه معمولا غیر انتفاعی مؤسسی دی چی د ټولنی د ګټو د خوندی ساتنی او د ځینو خاصو موضوعاتو لپاره جوړیږی. څیړنیزی مؤسسی هم کیدای شی چی غیر حکومتی سازمانونه او یا هم کیدای شی چی له حکومت سره یو ډول تړاو ولری، لکه له دولت څخه د مالی بودجی لاس ته راوړل.

غیر حکومتی سازمانونه او څیړنیزی مؤسسی کولای شی چی له دغو لاندو لارو پر امنیتی برخی باندی دیموکراتیکه او پارلمانی څارنه پیاوړی کړی:

- د خپلواکو تحلیلونو خپرول او دامنیتی ادارو، پوځی اړیکو او دفاعی مسألو په هکله پارلمان، رسنیو او خلکو ته د معلوماتو ورکول؛
- په امنیتی اداره کی د قانون د واکمنی او د بشر د حقوقو د درناوی لپاره څارنه او تشویق؛
- د خپل سیاسی کار په اجندا کی د امنیتی موضوعاتو نیول چی د ټولنی لپاره خورا اهمیت لری؛
- د سیمینارونو او د زدکړو د کورسونو د دایرولو له لاری د پارلمان د توانمندی د غښتل کولو او د استعدادونو د روزلو لپاره همکاری؛
- د دولت د امنیتی پالیسی، دفاعی بودجی، د سیاسی اختیاراتو ټاکلو، په امینتی مسألو کی د خلکو د ونډ ی اخیستلو باندی د اداری او د څارنی او د احتمالی پالیسی جوړولو لپاره د بدیل تخصصی نظر وړاندی کول؛
- د ملی امنیت د پالیسی او د هغی د تطبیق د څرنګوالی په هکله د نیول شویو تصمیمونو د غبرګون وړاندی کول؛
- خلکو ته د زدکړو ورکول او د هغوی په دننه کی د بدیل بحثونو او خبرو لپاره لاره اوارول.

په لاتین امریکا کی د مدنی ټولنی ونډی او فعالیتونه ډیر ښه مثالونه دی چی څرنګه غیر حکومتی سازمانونه او څیړنیزی مؤسسی کولای شی چی د امنیتی ادارو په څارنه کی خپلی دندی سرته ورسوی(۷ چوکاټ دی وکتل شی).

**۷ ـ چوکاټ**

## په لاتین امریکا کی مدنی ټولنه:

**په مدنی ټولنه کی د موجودو سازمانونو د نقش او اهمیت په هکله عملی مثال**

په دغو ټولنو کی اکثره دغه اوسنی سازمانونه او ډلی د پوځی او غیر پوځی کسانو ترمینځ د خبرو اترو د زیاتولو او پراخولو په موخه په ۱۹۸۰ او ۱۹۹۰ لسیزو کی جوړ شول. په دغی مودی کی د لاتینی امریکا غیر پوځی منتخب حکومتونه د خپلو پوځی ځواکونو د جوړښت د بدلون په لټه کی شول. دغو خبرو اترو پوځی ځواکونه له یواځیتوب څخه وایستل اود مدنی ټولنی، منتخبو دولتی واکمنانو او دیوځ د لوړپوړو مشرانو تر مینځ یی د نظریو د تبادلی لپاره یوه نوی پروسه پیل کړه. له هغه وخت څخه را په دی خوا دغه ټولنی په دی برخه کی مهم نقش لوبوی او د امنیت او دفاعی چارو په موضوعاتو کی هغوی د مهمو غیرپوځی تخصصی سرچینو څخه شمیرل کیږی او د پوځی پالیسیو په کتنه او د بودجو په ټاکنه کی ستر مسؤلیتونه په غاړه اخلی.

**مثالونه**

د نمونی په توګه کیدای شی چی په ارجنتاین کی د SER en 2000 څخه نوم واخیستل شی.دغه ډله چی د ۱۹۹۰ کال له پوځی کودتا څخه وروسته جوړه شوه، په لومړی سر کی د خلکو د استازو، سیاسی ګوندونو او پوځ تر مینځ د خبرو اترو د تشویقولو لپاره په فعالیت پیل کړ. دغو خبرو اترو د SER en 2000 لپاره د بنسټ تیږه کینوده چی د هغی پر اساس غیر پوځی کسانو د هغو قوانینونو چی د راتلونکی دفاعی پالیسی کاری چوکاټ یی جوړاوه د طرحو او مسودو په هکله خپل نظریات ورکړل.

د ارجنتاین په څیر، د دومینیک په جمهوریت کی هم د امنیت او دفاع غیر پوځی کارپوهانو چی د FLASCO یوه برخه جوړوی، د پوځی برخی په مرسته د پولیسی ځواکونو د اصلاحاتو لپاره یوه لایحه جوړه کړه او بیا وروسته له هغی اجراییه قوی او پارلمان ته یی د دغی لایحی په اړه لاربنوونی وکړی.

په لاتین امریکا کی د موجودو ډلو ډیری یی د خپل قانون جوړونو په ارګانونو کی دانسانی استعدادونو او کارپوه قوتونو د روزنی په موخه د پوځی ځواکونو په چالچلند باندی د څارنی لپاره له امنیتی او دفاعی کمیټو سره له نژدی همکاری لری.

د پیرو په هیواد کی د Peruvian group Instituto de Estudios Politicos y Estrategicos چی هسپانوی مخفف یی IDEPE دی، په نامه یوه ډله د پوځی بودجی د ډول او تخصیص په برخه کی د پارلمانی کمیسیونونو په چوکاټ کی د پارلمان استازی او کار کونکی روزی.

په ګواتیمالا کی د FLASCO ډله پارلمان ته د استخباراتی اصلاحاتو او پوځی خدماتو په شمول د پوځ په اړه د مختلفو قوانینو د تحلیل او څیړنی په برخه کی مرسته کوی.

**د ملکی تخصص نشتوالی**

د دفاع او امنیت په برخه کی په لاتین امریکا کی تراوسه پوری هم ښه ملکی تخصص نه شته دی. د ملکی تخصص د نشتوالی نیمګړتیا پر پوځی ځواکونو باندی د اجرایی او قانون جوړونو د ارګانونو څارنه له ګډودی سره مخامخ کړی ده. بیاهم، د مدنی ټولنی سازمانونه کولای شی په لنډه موده کی له دولتی مؤسسو سره د مرستو او د اړوندو کدرونو له لاری چی تر روزنی لاندی دی دغه خلاء ډکه کړی.

**شبکه**

دغه هدف ته د رسیدو لپاره د SER en 2000 ډلی په دی وروستیو وختونو کی له څیړنیزو مؤسسو او د امنیت او دفاع د غیر دولتی کار پوهانو څخه یوه شبکه جوړه کړی ده. دغی شبکی د RESDL په نامه(www.ser2000.org) د امنیت او دفاع په اړه د موادو او قوانینو یو اطلاعاتی بانک جوړ کړی دی چی له هغو سازمانونو څخه د ملکی افرادو لپاره څیړنیز پروګرامونه او لیدنی کتنی تنظیموی.

سرچینه:Chris Sabatini, National Endowment for Democracy, Washington DC, 2000

## د ډله ايزو رسنيو وسايل

په عمومي توګه خپلواکي رسنۍ، خلکو او د هغوی سياسي استازو سره د تصميم نيوني په امر کی مرسته کوی. هغوی د دولت د دری ګونو قواوو په چالچلند باندی د څارنی په امر کی ونډه لری او د هغو مسألو چی په عامه بحثونو کی عنوان کيږی محتوا او څرنګوالی تر اغيزی لاندی راولی چی دا په خپل وار سره دولت، تجارت، اکادميک چاپيريال او مدنی ټولنه تراغيزی نيسی. په دی ډول آزادی ډله ايزی رسنی د ديموکراتيکو حکومتونو پرانيستی وسايل دی. په ۸ چوکاټ کی هغو مسألو او ستونزو ته چی د دولت انتقاد کونکی خبريالان ورسره مخامخ دی، اشاره شوی ده. د خبريالانو د امنيت خوندی ساتنه د مطبوعاتو لپاره يو حتمی امر دی.

**۸ چوکاټ**

**دجګړو نوی ډول: د مطبوعاتو لپاره سخت وخت:**

«د نړی څه ناڅه دريمه برخه خلک په هغو هيوادونو کی ژوند کوی چی د مطبوعاتو آزادی نه لری. (...) بايد د هغو خبريالانو چی په جګړه ايزو سيمو کی په غير قصدی توګه وژل کيږی او د هغو تر منځ چی د حساسو مسألو او يا د ظلمونو او تيريو، اختلاس، بيعدالتيو، جرم او جنايت، دوکه کاريو او داسی نورو په هکله د څيړنيزو مقالو او ليکنو په وجه وژل کيږی بايد توپير وشی.د جګړو نوی ډول د پوځونو تر مينځ نه، بلکه د بيلابيلو نژادونو، ايديولوژيو، مذهبونو او يا جنايی ګټو تر مينځ دی، په همدی وجه د داسی جګړو په هکله رپوټ ورکول سخت کار دی. په داسی جګړو او نښتو کی خبريالان د غيرقصدی وژلو قربانيان نه دی. ځينی وخت اورپکی او حتی د رسمی پوځونو کسان هم خپلو هدفونو ته د رسيدو لپاره مزاحمت پيدا کونکی شاهدان (خبريالان، رپوټ ورکونکی، څيرندويان او داسی نور) وژنی.»

سرچينه: د ۲۰۰۲ کلنی رپوټ، بی سرحده خبريالان

په هغو هيوادونو کی چی مطبوعات له دولتی ارګانونوڅخه په خپلواکه توګه عمل نه کوی، کله هم د دولتونو د سياسی مقصدونو لپاره تری ناوړه ګټه اخيستل کيږی. په داسی حالاتو کی ډله ايزی رسنی نه شی کولای چی پر امنيتی ادارو باندی روښانه او ديموکراتيکه څارنه خوندی وساتی.

د انترنيت له پيدايښت سره رسمی معلوماتو ته د عامو خلکو د لاس رسيدو امکانات ډير زيات شوی دی. له تيری لسيزی را په دی خوا د شفافيت، دولتی ځواب ورکونی او رسمی معلوماتو ته د لاس رسيدو په لور خوځښت راپيدا شوی دی. دغه خوځښت بايد نور هم تشويق شی، ځکه د هغه په نتيجه کی د وګړو د معلوماتو کچه لوړيږی، په عامه مسألو باندی بحثونه زياتيږی او د غوری واکمنی درلودلو لپاره مرسته کوی. خو د انترنيت نيمګړتيا او تاوان دا دی چی کيدای شی له هغه څخه د نژاد پالنی او سامی ضد تند لاری ناوړه ګټه واخلی. په تيرو ځينو نښتو کی راديو او تلويزيون د تند لارو ډلو تبليغاتی وسيلی ګرځيدلی او د ټولنی د مختلفو ډلو په مينځ کی ناکراری پيدا کړی دی.

## د امنیتي مسألو په اړه د معلوماتو را ټولول او لیږدول

د دیموکراتیکې ادارې او د یوې ښې واکمنۍ له نظره، ډله ایزې رسنۍ د امنیتي مسألو په هکله د معلوماتو د ټولو حق لري ـ البته که چیرې د ولس په ګټه وي ـ او هم د رښتینوالۍ، حق او عدالت پر بنسټ، د خبرونو د چمتو کولو او خپرلو مسؤلیت په غاړه لري.

په دې ډول ډله ایزې خبري رسنۍ دولت او پارلمان ته چې غواړي خپل وګړي (دا د وګړو ښکاره حق دی چې د هیواد له چارو او سیاست څخه خبر ولري او د هغو د فسخه کولو حق لري) د تصمیمونو او سیاست جوړونو په هکله معلومات پیدا کړي، د هغو په خپرولو کې مرسته وکړي. د بیلګې په توګه ډله ایزې خبري رسنۍ کولای شي چې د امنیتي چارواکو، د امنیتي سیاست، په بهر کې د پوځي ځواکونو د خوندي کونې، تدارکاتو، نړیوالو تړونونو، د راتلونکو امنیتي ننګونو او نورو داسې بحثونو په هکله د معلوماتو د خپرولو سره خلک پوه کړي او هغوی سره د معلوماتو د آزدي په حق کې مرسته وکړي. که چیرې اړوند معلومات پټ یا محرم وي، نو د ډله ایزو خبري رسنیو د دا ډول دندې سره سره ، په خلکو باندې د نورو عقاید ښایي وتپل شي او سانسور شوي معلومات یې په اختیار کې پریښودل شي.

## د ډله ایزو رسنیو او امنیت پورې د اړوند مسألو قانون

ټول هیوادونه د مطبوعاتو، راډیو او تلویزون د آزادیو په هکله قوانین لري. د دغه اصل په هکله د بشر د حقوقو د نړیوالې اعلامیې په ۱۹ ماده کې داسې راغلي دي:

> **« هر څوک د نظر او بیان د څرګندولو آزادي لري: دغه حق عبارت دی له دې چې هر څوک آزاد دی چې د یو نظر خاوند وي او پرته له کوم محدودیت څخه د هرې رسنۍ له لارې چې وي د معلوماتو او نظریاتو په لټولو او ترلاسه کولو لاس پورې کړي.**

که څه هم د اړوندو آزادیو د کچې په هکله نړیوال منل شوي لارښود لیکونه وجود نه لري، خو دا خبره د یادونې وړ ده چې نوموړي نړیوال اصل واضح ، پرته له کوم قید او شرط او امنیتي موضوعاتو پورې د اړوندو محدودیتونو له هر ډول تړاو څخه بیان شوي دي.

**۹ـ چوکاټ**

### د سپتمبر له یولسمې څخه وروسته د مطبوعاتو آزادي

د مې دریمه هر کال په نړۍ کې د مطبوعاتو د آزادۍ د ورځې په توګه لمانځله کیږي. په ۲۰۰۲ کال کې د دغې ورځې د لمانځنې په ترڅ کې هغې یوې موضوع ته پاملرنه شوې وه چې د سپتمبر د ۱۱ تروریستي حملو څخه وروسته لاس لاندې نیول شوي امنیتي اقداماتو د مطبوعاتو په ازادۍ باندې څه اغیزې کړې دي.
د یونسکو عمومي مدیر، Koichiro Matsuura ، وایي: «که څه هم پرته له شک څخه د بنسټیزو آزادیو د عملي کولو او د تروریزم په وړاندې آزادۍ د خوندي ساتنې تر مینځ کش او کړپ موجود دی، خو د هر تروریستي ضد فعالیت اصلي موخه باید د ټولو خلکو له آزادۍ څخه ساتنه وي.»

سرچینه: د پارلمانونو نړۍ، ۶ شمیره، د ۲۰۰۲ کال د مې میاشت، د بین الپارلماني اتحادیو اتحادیه

## د امنيتي مسألو په هکله له خلکو سره د پارلمان اړيکې

په يوې غوره واکمنۍ کې ديموکراتيکه څارنه يوازې هغه وخت د يو اغيزمن اصل په توګه مطرح ده چې عام خلک له اصلي او د پارلمان له مهمو مسألو څخه چې تر بحث لاندې نيول کيږي، خبر اوسي.

عامو خلکو ته د امنيتي مسألو د ليږدولو اغيزمنتوب د دولت او پارلمان له خوا د معلوماتو ډيروالي او رښتينوالي پورې اړه لري. پارلمان بايد دې ته خاص اهميت قايل شي چې خلک د معلوماتو د يوې لازمي سويې او کيفيت څخه برخه من وي تر څو د چارو له جاري وضعيت او په پارلمان کې د تصميم نيونې د پروسې له نتايجو څخه پوهه ولري.

### اسنادو ته د خلکو لاس رسيدنه

خلکو ته د امنيتي مسألو پورې د اړوندو معلوماتو د رسولو يوه لاره دا ده چې پارلمان د دولت په همکارۍ او يا په يوازيتوب سره دغه معلومات د اسنادو يا انټرنتي پاڼې په قالب کې د خلکو په اختيار کې کيږدي.

| |
|---|
| **۱۰- چوکاټ**<br>**د پارلمان انټرنتي پاڼه**<br><br>د ۲۰۰۲ کال د مې د مياشتې پورې په ۱۸۰ هيوادونو کې ۲۴۴ پارلماني جرګې موجودې وې (۶۴ پارلمانونه دوه جرګه ايز دي). بين الپارلماني اتحاديه په ۱۸۲ هيوادونو کې د ۱۸۰ انټرنيتي پاڼو څخه خبرتيا لري (ځينې دوه جرګه ايز پارلمانونه، هر جرګه خپله ځانګړې انټرنتي پاڼه لري). د بين الپارلماني شورا له خوا د ۲۰۰۰ کال د مې په مياشت کې «د مطلبونو د لارښود او د پارلمان د انټرنتي پاڼو جوړښت» تر نامه لاندې د هغې شورا په انټرنتي پاڼه کې ميندلای شي :http://www.ipu.org |

**په لاندې مثالونو کې د امنيتي ادارو پورې د اړوندو مسألو معلومات بيان شوي دي:**

- اسناد چې له ستراتيژيکي اهميت څخه برخه من دي؛ لکه د ملي امنيت پاڼه؛
- دفاعي بودجه (غير له پټو بودجو څخه)؛
- د امنيتي ادارې په اړه د پارلمان د مهمو خبرواترو، تصميمونو، وړانديزونو، قوانينو او نورو داسې په هکله د مطبوعاتو خپاره شوي مطالب؛
- د پارلمان (او د هغه د کميسيونو) د ټولو غونډو او د امنيتي مسألو په هکله د خبرواترو جزييات؛ دغه جزييات بايد د پټو غونډو د اختياراتو او حدودو په چوکاټ کې رپوټو څخه عبارت وي؛
- د امنيتي مسألو په هکله د پارلمان د پلټنې پورې اړوند خپاره شوي مسألې؛
- د پارلمان کلنۍ رپوټونه يا د امنيتي ادارو د چالچلند په هکله کتنه؛
- هغه رپوټونه چې شکايتونو ته د ځواب ورکونکي مامور يا عام پلټونکي يې د امنيتي مسألو په هکله وړاندې کوي. د شکايتونو مامور بايد اجازه ونه لري چې د رپوټ د ځينو خاصو برخو په وړاندې کولو لاس پورې کړي، خو کيدای شي چې له هغه څخه غوښتنه وشي چې ځانګړو کميسيونونو ته خپل رپوټ وړاندې کړي. دولت بايد د هر اقدام رپوټ چې د شکايتونو د مامور يا عام پلټونکي د رپوټونو پربنسټ يې برابر کړي، پارلمان ته واوروي؛

- د دوو یا څو اړخیزو موافقت لیکونو په هکله معلومات؛
- د امنیتی مسألو په هکله د پارلمان د هرغړی یا سیاسی اړخ د راپیو په اړوند معلومات (د بیلگی په توگه د بودجی، نړیوالو اتحادونو سره یو ځای کیدو، عسکری ته د جلب او احضار او تدارکاتو په هکله د راپیو د ورکړو څرنگوالی)؛
- د معلوماتو د آزادی قانون جوړول.

## د پارلمان په فعالیتونو کی د خلکو د ونډی لپاره لاره اوارول

په یوه اړخیزه توگه (د پارلمان یا د دولت له خوا) د معلوماتو لیږدول بسیا نه کوی. پارلمان باید له خلکو سره د دایمی اړیکو لپاره امکانات برابر کړی. دو اړخیزه اړیکی یا خبری اتری د څو دلیلونو له لحاظه د اهمیت وړ دی:

- د ټولنی د وگړو د دایمی ونډی او څارنی ژمنه کوی؛
- د پارلمان د چالچلند په نسبت د خلکو اعتماد او باور غښتلی کوی؛
- په غیر مستقیمه توگه د ناوړه اداری څارنه کوی (د بیلگی په توگه د خلکو شکایتونو ته د ځواب ورکونی لپاره د پارلمان د گمارل شوی مامور)
- د خلکو ملاتړ، د قانون مشروعیت، د دولت سیاست او په نتیجه کی د دیموکراتیک ثبات ژمنه کوی.

د پارلمانی معلوماتو، غوړ نیونکو غونډو، د خبری خپرونو کنترول، تلویزونی گردی میز بحثونو او د کمیسیون د غړو اړوند خبرونو برابرولو سره دوه اړخیزه اړیکی غښتلی کیږی.

**۱۱ چوکاټ**

### پارلمانونه او رسنی

«۱۱- د اروپا شورا ملی پارلمانونو ته بلنه ورکوی چی ژرترژره دغو هدفونو ته د رسیدو لپاره په اقداماتو لاس پوری کړی:

**الف -** د پارلمان او د کمیسیون د بیلابیلوغونډو د فعالیتونو شفافیت نه یوازی له خلکو سره د اړیکو د ټینگولو، بلکه د دیموکراسی په چالچلند باندی د مستقیمی اغیزی د یو مهم سیاسی ړومبیتوب په توگه؛
**ب -** د خبر رسولو لپاره د پخوانیو چلندونو او بیا په خاصه توگه له نوی تخنیک څخه کار اخیستل:
**۱-** د خبری رسنیو او بیا په خاصه توگه د پارلمانی ریوټچیانو لپاره د ټولو څخه د غوره شرایطو له لاری.
**۲-** داډ مینډل له دی څخه چی پارلمان پوری د اړوندو بحثونو په هکله معلومات په ډیری چټکتیا سره له مختلفو لارو ټیک په ټیک خلکو ته رسول کیږی؛
**۳-** له خلکو او خبریالانو سره د نیغ په نیغ الکترونیکی اړیکو لپاره د آن لاین د خدمتونو بندو بست کول؛
**۴-** د یوی لایحی په هکله د رایی اخیستنی څخه مخکی له خلکو څخه د نظرغوښتنی په موخه د پارلمان د اسناد وړاندی کول؛
**ج -** په مخابراتی برخو کی د کارپوهانو له مشوری څخه کار اخیستل؛
**دال -** د غیر کار پوهو یا عادی لوستونکو لپاره د قانونی متنونو چمتو کول؛

**هـ -** د هغو اقداماتو سرته رسول چې د سياسي شخړو په هکله ذهني شرايط روښانه کړي. د بېلګې په توګه، د هغو ساحو مېندل چې په هغو کې د تصميم نيوني لپاره د کار پروسه آسانه شوي وي؛
**و -** د معلوماتو او مخابراتو په چوکاټ کې د هغو معلوماتي مجموعي تشويقول چې په هغو کې قوانين او د هغو ځانګړيتوبونه خبرياالنو او کارپوهو ډلو ته روښانه کړاى شي.
**ز -** د پارلمان د فعاليتونو په هکله د خبرياالنو لپاره د سيمينارونو دايرول په دې موخه چې هغوى د پارلمان د قانون جوړوني او د هغه اړوندو غونډو او د کار له څرنګوالي او هم له نړيوالو مؤسسو سره د پارلمانونو د اړيکو په هکله پېژندګلوى پيدا کړي. کورني خبرياالن، ورځپاڼي او سمعيه ايزي خپروني بايد له خاصي پاملرني څخه برخه من وي؛
**ح -** د دې لپاره چې د ټولني وګړي وکړاى شي د پارلمان له غړو او د هغه له معلوماتي خدمتونو سره اړيکي ټينګي کړاى شي، په انټرنټ کي د يوى معلوماتي شبکي پرانيستل؛
**ط -** د پارلمان د فعاليتونو په هکله د ځانګړو خپلواکو تلويزوني چينلونو د پرانيستلو لپاره تشويقول؛ لکه چې په ځينو اروپايي هيوادونو، امريکا متحده اياالتو او کانادا کي دا کار شوى دى؛
**ى -** له هغو رسنيو سره مرسته (مالي يا غيرمالي) چې د ناپيلو خبرونو د خپرولو لپاره هلي ځلي کوى، خو د بازار د فشارونو له امله د له مينځه تلو له ګوا ښ سره مخامخي دى.
سرچينه: د اروپا د شورا د پارلماني مجمعي د ۱۹۹۷ کال ۱۱۴۷ پريکړه

د ديموکراسي د اوږدې مودې د ثبات په موخه په يو نظام کي د خلکو ونډه خورا اهميت لري، البته د داسي ونډې کچه له يو هيواد څخه تر بل پوري توپير لري. په ځينو هيوادونو کي خلک کوالى شي چې د پارلمان په غونډو کي برخه واخلي. دغه کار د غير حکومتي سازمانونو او هغو خلکو لپاره چې د تصميم نيوني له بهير سره علاقمند دى، خورا اهميت لري. په غونډو کي د هغوى يواځي شته والي هم ارزښت لري او حتى که چيري په بحثونو کي د مداخلي حق هم ونه لري.

## هغه څه چې تاسي د پارلمان د استازى په توګه سرته رسولاى شي

### دغير رسمي چاراواکو ونډه د ملي امنيت په سياست کي

- ډاډمن شي چې پارلمان د امنيتي او د هغو اړوندو مسألو کي دمدني ټولني د استازو له ونډې څخه استفاده کوى.
- که چيرى اړتيا وى دغه هدف ته د رسيدو لپاره، د هغو قوانينو له تصويب څخه ملاتړ وکړى چې د امنيتي مسألو د کتني لپاره صلاحيت لرونکي مؤسسي، غير حکومتي سازمانونه او ډله ايزې رسني له پارلماني کميسيونونو سره د همکاري لپاره هڅوى.

### عامه خبرتيا

- ډاډ من شي چې د هغو تصميمونو په هکله چې امنيتي مسايل تر سيورى لاندى نيسي او همدا راز په امنيتي برخو کي د تصميم نيونو په بهير کي پارلمان د عامه اړيکو په برخه کي له اغيزمنو چالچلندونو څخه برخه من دى.

### د امنيت او د مطبوعاتو تر مينځ اړيکه

- ډاډ من شي چې په قانون او د عمل په ډګر کي د امنيتي مسألو په برخه کي د مطبوعاتو له آزادى څخه ملاتړ شوى دى او لګول شوى محدوديتونه د بشر د نړيوالو حقوقو له اصولو سره مخالفت نه لري.
- د معلوماتو د آزادى لپاره د مناسبي قانون جوړوني څخه ډاډ پيدا کړى.

## اووم فصل

# د جنسیت (نارینه او ښځینه) له نظره د امنیت پالیسی

د جنسیت مساویتوب له نویو موضوعاتو څخه ده چی په دی وروستیو وختونو کی عامه پام ورته اړول شوی دی. دا اوس د امنیتی مسألو د مهموځانګړتوبونو څخه شمیرل کیږی. ځکه نه یواځی په دی وجه چی ښځی او ماشومان په نښتو او وسلوالو کړکیچونو کی د اغیزمنو خلکو (لکه پناه وړونکی او جګړه ځپلی) یوه ستره برخه جوړوی، بلکه ښځی د نړی د نفوسو له نیمایی څخه زیاته برخه ده او د امنیتی مسألو په حل کی د ونډی لپاره له مساوی حق څخه برخه منی دی. د ښځو له استعداد او نظریاتو څخه کار اخیستلو سره هغو امنیتی ننګونو ته د ځواب میندلو سبب ګرځی چی د خلکو له غوښتنو او د یو انسانی امنیتی چلند سره سمون لری او نتیجه یی پاینښت لرونکی ده. په امنیتی پالیسی کی د جنسیت مساویتوب ته له دوو مختلفو جهتونو څخه لیدل کیږی. لومړی دا چی امنیتی پالیسی باید د جنسیت لپاره حساسو مسألو ته ځیر کړای شی. دغه ډول پالیسی باید د حل داسی لاری چاری وړاندی کړی چی د هغو له مخی د ښځو حقوق او ګټی خوندی وساتلی شی. دوهم دا چی د تصمیم نیونی او د امنیتی پالیسی په ټولو برخو کی د ښځو ونډه تشویق او تری ملاتړ وشی.

## ښځی اود نښتو د حل لاری چاری

د نښتو د حل لاری چاری، سوله ساتنه او سوله جوړونه یواځی د هغو کسانو کار نه دی چی په وسلوالو نښتو او جګړو کی نیغ په نیغ برخه لری چی ډیری یی نارینه دی. تر اوسه پوری په دی برخه کی د ښځو ونډه ډیره کمزوری او په ځنډو کی ده، که څه هم حتی د جګړو او د پوځی نښتو په وخت کی هغه دندی هغوی سرته رسوی چی معمولا د نارینه کار دی. په هر حال، نن په امنیتی چارو کی د ښځو له مهارتونو، پوهی او نظریاتو څخه کار اخیستل د بل هر وخت څخه زیات د پاملرنی وړ دی. د عمل په ډګر کی د تصمیم نیولو، د شخړو په حل او د سولی په فعالیتونو کی د ښځو مستقیمی ونډی لپاره لازمه ده چی په ټولنه او د نښتو په حالاتو کی د نارینه او ښځو د دودایز نقش په مفکوره کی یو بدلون راوستل شی.

---

**۱۲ـ چوکاټ**

### د سولی په بهیر کی د جنسیت موضوع

«د سولی په هر بیهر کی چی د ښځو غوښتنی او نقش له پام څخه وغورځول شی، هغه په ذاتی او طبیعی توګه له بی ثباتی سره مخامخ دی» ...«د کړکیچونو څخه وروسته دوری په بدلونونو کی د ټولنیزو او اقتصادی پرمختګونو لپاره ښځو ته د چارو سپارل یو مهم او بنسټیز امر دی. ښځی ـ که څه هم په مختلف ډول او مختلفو حالاتو کی ـ د نارینه و په څیر د جګړو، نښتو او پوځی کش کړپونو قربانیان دی، د جګړی په وخت کی، ښځی په نویو فعالیتونو کی برخه اخیستی او له زیاتو نورو مسؤلیتونوله منلو سره نوی نقشونه سرته رسوی. خو د دغو نویو نقشونو او مسؤلیتونو سره سره، په هغو ټولنو کی چی د شخړو څخه وروسته رامینځ ته کیږی، د سولی د ټینګښت او د اړوندو فعالیتونو په پروسه کی ښځو ته هغه نقش نه ورکول کیږی چی ور سره ښایی.»

د جنسیت له لحاظه بشری امنیت: د سولی په جوړونی کی له انزوا څخه تر د ښځو برخی اخیستلو پوری، ۲۰۰۱، د نړیوالو چارو لپاره د ناروی انستیتوت

---

په ۱۳ چوکاټ کې د ملګرو ملتونو د امنيت د شورا د ۲۰۰۰ کال د ۱۳۲۵ پريکړې ځينې غټ ټکي راخيستل شوي چې په هغو کې د هغه يو نظر په بدلون باندې ټينګار شوي چې ښځو ته يواځې د شخړو د قربانيانو په سترګه نه ، بلکه د ښتو د حل کونکو، سوله جوړونکو اوساتونکو په توګه له نارينه سره د مساوي مقام درلودلو په نظر ورته وکتل شي. دغسې يو فکرې بدلون غوښتنه کوي چې په جګړو او د پوځي نښتو څخه مخکې يا د هغو په ترڅ او وروسته دوره کې د نارينه او ښځو مساوي دندو ته پاملرنه وشي. دا په دې معنی ده چې دپاليسي ټاکنې او قانون جوړونې په لومړي پړاو کې د جنسيت مساويتوب او له هغه سره اړوندو مسألو له ملي او نړيوال اهميت څخه برخه من دی.

**۱۳- چوکاټ**

## د جنسيت له نظره عمليات او دسولې بهير

د امنيت شورا (...)

«۷- غړي هيوادونه دې ته هڅوي چې جنسيت پوري په اړوندو مسألو کې د زدکړو لپاره په هڅو کې خپلې مالي، تخصصي او لوژيستکي ملاتړ پياوړی کړي.دغه هڅې له مختلفو مالي طرحو او مرستو څخه عبارت دی چې د ملګرو ملتو د ښځو د صندوق، د ملګرو ملتونو د ماشومانو له صندوق، د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کميسارۍ او داسې نورو اړوندو مؤسسو له خوا په لاره اچول کيږي.

۸- له ټولو اړوندو اړخونو څخه غوښتنه کيږي چې د سولې د موافقه ليکونو لپاره په خبرو اترو او د هغوی د عملي کولو په وخت کې د جنسيت مسأله په پام کې ونيسي، له دې جملې څخه **(الف)** - د جګړې څخه وروسته دوره کې د کډوالو د بيرته استونې، ميشته کونې، بيا رغاونې اوټولنې کې د بيرته حل کونې په پروسو کې د ښځو او نجونوغوښتنو ته پاملرنه؛ **(ب)** - هغه اقدامات چې هغو کې د سولې په ټينګولو او د شخړو د حل لپاره له بومي فعاليتونو څخه د ښځو له مخکښيتوب او نوښت څخه ملاتړ وکړي او د سولې د ټولو موافقت ليکونو په پلي کولو کې ښځو ته ونډه ورکړای شي؛ **(ج)** - هغه اقدامات چې د هغو پر بنسټ د ښځو او نجونوحقوقو څخه ملاتړ او هغو ته درناوی وشي، په خاصه توګه هغه حقوق چې اساسي قانون، انتخاباتي نظام، پوليسي ځواک او قضاييه قوې پوري اړه نيسي (...).

**۱۵-** ژمنه په دې هکله چې د جنسيت پوري اړوند مسألې او د ښځو حقوق له مختلفو لارو چارو، لکه له ملي او نړيوالو سازمانونو سره د سلا مشورو له لارې د امنيت د شورا د هدفونو او دندو يوه برخه ګرځي.

د ۲۰۰۰ کال د ۱۳۲۵ پريکړې سره جوخت، د ملګرو ملتونو عمومي منشي د «ښځې، سوله او امنيت» تر نامه لاندې د ۲۰۰۰ کال د اکتوبر په ۱۶ يو رپوټ وړاندې کړ. دغه رپوټ پر ښځو او نجونو، نړيوالو قوانينو، د سولې په بهير کې د ښځو د ونډې، سوله ساتو عملياتو، بشري عملياتو، بيا رغاونه او بيرته اعاده کولو د پوځي نښتو د اغيزو او همدا راز د بې وسلې کولو، د پوځي تحرکاتو پای ته رسولو او په ټولنه کې د خلکو بيرته ګډونې په مسألو باندې خبری کوی. د دغه رپوټ يوه برخه د دې فصل په پای کې د يوې سپارښتنې په توګه وړاندې شوی ده.

## د پارلمان په دفاعي کميسيون کې ښځې

په تيرو ۲۵ کلونو کې په پرله پسې توګه د بين الپارلماني اتحاديې له خوا په سياست کې د ښځو د نقش لپاره د غوښتنو دعنوانولو سره د دې واقعيت ويندويي کوي چې د پارلمان په دفاعي کميټو کې د ښځو

ونډه نشته او یا کمزوري ده. دا خو لا پرېږده چې هغوی دی د کمیټو د رییس، مرستیال یا د ځانګړو چارواکو په توګه انتخاب شي. د بین الپارلماني اتحادیې د۱۹۹۷ کال یوه څېړنه (نارینه او ښځې په سیاست کې: دیموکراسي د پېښیدو په درشل کې) ښیي چې له ۹۷ پارلمانونو له جملې څخه چې په خپل جوړښت کې د ښځو له شته والي څخه رپوټ ورکړی، یواځې په سلو کې په دری یې ښځې د کمیټو ریاستونه په غاړه لري. په ټولیزه توګه د پارلمان په ټولو کمیسیونونو کې یواځې په سلو کې ۱۸ یې د هغوی ریاستونه په غاړه لري. د دې نیمګړتیا لپاره کیدای شي چې دوه مهم لاملونه موجود وي. لومړی دا چې په اوسني وخت کې د ښځینه پارلماني غړو شمیر ډېر کم دئ (د ۲۰۰۲ کال په مې کې ٪۱۴،۳). دوهم دا چې په ټوله نړۍ کې دا عام ذهنیت خپور دی چې د جګړې، سولې او امنیت مسألې یواځې د نارینه و کار دی. دغه ډول فکر ستونزې پیدا کونکې دی، حال دا چې پرته له شک څخه جګړه د ټولنې ټول غړي اغېزمن کوي، په ډېرې حالاتو کې ښځې د نارینه په پرتله زیاتې اغېزمنې کېږي.

## وسلوالې ښځې

له ډېرې پخوا زماني څخه په یو شمیر وسلوالو ځواکونو کې ، څه اداري، تدارکاتي یا څه مرستندیو خدماتو کې، د ښځو شته والی دود دئ. په مرستندویو برخو کې د ښځو شته والی نه یواځې د سولې په وخت کې بلکه د جګړې او وسلوالو نښتو په حالاتو کې هم خورا اهمیت لري. خو د جنګي عسکرو په توګه د ښځو ونډه بیخي یوه نوې موضوع ده. په نړیواله سطح په پوځ کې د ښځو د شته والي په هکله معلومات خورا کم دي. ۱۴ چوکاټ کې د ناټو د غړو هیوادونو د ښځینه عسکرو شمیر ښیي.

**۱۴ـ چوکاټ**

**په پوځ کې د ښځو شمیر ـ د ناټو د غړو هیوادونو مثالونه**

| هیواد | شمیر | د ټول ځواک فیصدي |
|---|---|---|
| بلجیم | 3202 | %7.6 |
| کانادا | 6558 | %11.4 |
| د چک جمهوریت | 1991 | %3.7 |
| دنمارک | 863 | %5.0 |
| فرانسه | 27516 | %8.5 |
| آلمان | 5263 | %2.8 |
| یونان | 6155 | %3.8 |
| هنګري | 3017 | %9.6 |
| ایتالیا | 438 | %0.1 |
| لوکزامبورګ | 47 | %0.6 |
| هالند | 4170 | %8.0 |
| ناروې | 1152 | %3.2 |
| پولند | 277 | %0.1 |
| پرتګال | 2875 | %6.6 |
| اسپانیا | 6462 | %5.8 |
| ترکیه | 917 | %0.1 |
| انګلستان | 16623 | %8.1 |
| ایالات متحده | 198452 | %14.0 |

سرچینه: د ناټو رپوټ ـ اوړی ۲۰۰۱

په عمومي توګه غوره ده چې وویل شي د پوځ په عسکري یا په مسلکي او تخصصي برخو کې د ښځو ونډه د سیاسي مشرې له خوا غښتلې کړای شي او یا د امنیتي ادارو په داخلي بدلونو کې د عمل جامه واغوندي. داسي ښکاري چې دغه دواړه یو تر بله له خپلواکو مسألو پورې اړه لري:

- د ملي امنیت د پیاوړتوب او له هغه څخه د ملاتړ لپاره د ټولو خلکو د هڅولو ضرورت؛
- د وسلوالو ځواکونو عصري کول چې د دولت د نورو څانګو په څیر له ټولنیزو بدلونو څخه او د جنسیت د مساوات له طرحې څخه اغیزمن کیږي.

## ۱۵ـ چوکاټ
## په امنیتي پالیسی کې د ښځو ونډه د جنسیت د یو مهم بهیر په توګه

د دولت امنیتي پالیسي کیدای شي چې د جنسیت له نظره تر ارزوني لاندې ونیول شي. د ملګرو ملتونو د ښځو لپاره څلورم نړیوال کنفرانس«ښځې په پیکنګ کې» تر شعار لاندې د جنسیت بهیر د ښځو او نارینه د برابرۍ څخه د ملاتړ لپاره د یو نړیوال اقدام په توګه په رسمیت وپیژاند. د ملګروملتونو اقتصادي شورا د جنسیت بهیر داسي تعریفوي: «... دا هغه یو بهیر دی چې په هغه کې ښځې او نارینه په ټولو فعالیتونو، لکه قانون جوړوني، پالیسي جوړوني او په ټولو کچو پروګرام جوړونو کې په مساوي توګه برخه اخلي. دا هغه یوه ستراتیژي ده چې د ښځو او نارینه و نظریات او مهارتونه د اقتصاد، سیاست او ټولنې په ساحو کې د پروګرامونو د جوړوني او د هغو په عملي کولو او د سیاسي موضوعاتو په ارزونه کې د یو بل تکمیلي او بشپړ ایز اړخونه ګڼي تر څو له دې لارې ښځې او نارینه یو شان ګټه واخلي او نابرابري دوام پیدا نه کړي. وروستی هدف د جنسیت مساوات دی».
سرچینه: د ملګرو ملتونو د اقتصادي او ټولنیز شورا تفاهم لیک ۱۹۹۷/۲

په وسلوالو ځواکونو کې د ښځو د پراخې برخې سره کیدای شي چې په خپل وار سره د دود ایز دفاعي چلند څخه انساني امنیت ته په بدلون کې مرسته وکړي: په انساني امنیت کې په ځیرنیز، معلوماتي تکنالوجي، همدا راز استخباراتي کارونو باندې ټینګار کیږي او کله هم د هغو پر ځای د داسي میتودونو او عملیاتو لپاره غوښتنه کوي چې په هغو کې له جسمي قوت او روزنې څخه باید کار واخیستل شي. دغه ډول یو بهیر د ښځو لپاره نوي چانسونه برابروي او بیا په خاصه توګه په هغو هیوادونو کې چې نارینه او ښځې د زده کړو له یو شان حقوقو څخه برخه من دي.

## ۱۶ـ چوکاټ
## په امنیتي برخو کې د ښځو له برخې اخیستلو سره نوي اړخونه او ننګوني

په امنیتي ادارو، بیا په خاصه توګه په پوځ او پولیسي ځواک کې د ښځو له برخې اخیستلو سره دا پوښتنې پیدا شوې چې آیا روزنې او بیا په خاصه توګه جسمي روزنې د ښځو او نارینه و لپاره باید یو شی وي؟
باید د جنسیت پورې اړوند مقررات ـ چې تر اوسه پورې د هیوادونو په پوځي او پولیسي ځواکونو کې له پام څخه غورځول شوي ؤـ وټاکل شي. د بیلګې په توګه: په پوځ کې د میرمنې او خاوند مسألې او همداراز د پوځي میندو او پلرو مسألې باید په پام کې ونیول شي.
د جامو اغوستلو ځرنګوالي، ښایسته توب او حتی د جنسي جذابیت مسألې، دا ټول هغه پوښتنې دي چې باید ورته ځواب ومیندل شي. آیا د ښځو او نارینه و یونیفورم باید یو شی وي؟ آیا تل باید د نارینه و یونیفورم واغوستل شي؟
دغه ډول مسألې د نوي فکر غوښتنه کوي. اساسي قانون، پوځ او داسي نور پوځي اداري او همداراز پولیسي مقررات باید پراخ شي او وده وموممي او د نویو واقعیتونو سره سمون پیدا کړي.

# د دفاع په وزارت او سوله ساتو عملیاتو کی ښځی

د ناتو د ۲۰۰۱ کال د اوړی د رپوټ له مخی، د دوهمی نړیوالی جګړی څخه وروسته په سوله ساتو عملیاتو کی د ښځو ونډه ډیره لږه ده. یواځی یو څو هیوادونو لکه، هنګری، فرانسه، هالند او پرتګال د خپلو سوله ساتو ځواکونو په سلو کی ۵ یی د ښځو لپاره ځانګړی کړی دی. د ملګرو ملتونو تجربه ښیی چی خلک په سوله ساتو پوځونو کی د ښځو له شته والی څخه هرکلی کوی او دغه شته والی په داسی عملیاتو کی مثبتی اغیزی لری. د بیلګی په توګه د ښځو له ونډی سره د زور زیاتیو د له مینځه وړلو او د ښځو مسألو ته زیاته پاملرنه کیږی.

د استخبارتی چارو لپاره تر اوسه پوری د وزارت مقام په سر کی یا د هغه د مرستیالی مقام ته ډیری لږی ښځی ټاکلی شوی دی. د بین الپارلمانی اتحادیی د ۲۰۰۰ کال د مارچ د میاشتی یو نړیواله احصاییه ښیی چی د ټولو هغو وزیرانو چی د دفاعی یا امنیتی چارو مسؤلیت په غاړه لری یواځی ۱،۳ فیصده یی ښځی دی او یا د وزیرانو د ټولو مرستیالانو اود وزارت د نورو لوړ پوړو مقامونو او همدا راز په دغو چارو کی په پارلمان کی د ټولو منشیانو یواځی ۹،۳ فیصده یی ښځی دی. (هغی یوی نړیوالی نقشی ته چی د ملګرو ملتونو او د بین الپارلمانی اتحادیی له خوا په ګډه د «په ۲۰۰۰ کال کی ښځی په سیاست کی» تر عنوان لاندی خپره کړی کولای شی کتنه وکړی).

## هغه څه چی تاسی د پارلمان داستازی په توګه سرته رسولای شی

### معلومات

- د پوځ په بیلابیلو برخو، د پوځ په مختلفو ادارو، پولیسی ځواک، امنیتی ادارو او همداراز د اړوندو روزنی په مرکزونو کی د ښځو د شمیر په تناسب احصایوی معلومات لاس ته راوړی. همداراز په لوړو او تصمیم نیونکومقامونو او همدا راز په ملګرو ملتونو، ناتو او داسی نورو نړیوالو سازمانونو کی چی په امنیتی مسألو باندی خبری کوی، د خپل هیواد د استازو په شمیر کی د ښځو د تناسب په هکله معلومات وغواړی.

### د شخړو په حل او بیا رغاونه کی د جنسیت نقش (*

- ډاډ پیدا کړی چی په مرکچی پلاوی کی تر کومه ځایه چی امکان ولری د ښځو او نارینه و انډول خوندی وساتل شی؛
- ډاډ پیدا کړی چی د سولی په موافقت لیکونو کی په سیستماتیکه او ښکاره توګه په ښځو باندی د وسلوالو نښتو اغیزو، په سوله کی د هغوی ونډی او د کړکیچ څخه وروسته دوره کی د هغوی اړتیاوو او رومبیتوبونو ته پاملرنه شوی ده؛
- ډاډ پیدا کړی چی د ښځو له پوهی، تجربو او استعدادونو څخه چی د نښتو په دوره کی لاس ته راوړی دی، د بیارغاونی په وخت کی په ښه وجه تری کار اخیستل کیږی.

### جنسیت او د سولی ماموریتونه*)

- له جګړی څخه وروسته په سوله ساتو ماموریتونو او په بیا رغاونه کی د ښځو له ونډی څخه ملاتړ وکړی؛
- ډاډ پیدا کړی چی آیا دسوله ساتو ماموریتونوعسکرو او نورو نړیوالو کارکونکو لازمی فرهنګی او جنسیتی زدکړی کړی دی؛

- د هغو سوله ساتو عسکرو او نړیوالو کارکونو چې د ښځو حقوق یې تر پښو لاندي کړي دي، پر سزا ورکوني باندې څارنه ولري.

## حکومت

- ډاډ پیدا کړي چې آیا د ښځو او نارینه و مسؤلیتونه - د بیلګی په توګه په تیرو لسو کلونو کي د دفاع په وزارت کي - یو شان د هغوی د دواړو په غاړه ؤ. او وګوري چې آیا د قانون له مخې او د عمل په ډګر کي د غټو څوکیو او تصمیم نیونکو مقامونو د اشغال لپاره ښځو د نارینه و په څیر مساوی امکانات په اختیار کي درلودل.

## پارلمان

- د پارلمان د امنیتي او دفاعي کمیټو پخواني او اوسني جوړښتونه اوپه هغو کي د دندو کچه چې د ښځو په اوړو اینودل شوی ده، ترکتني لاندي ونیسي؛
- په دې هکله زیاته پاملرنه وکړي چې نوموړي کمیټي د جنسیت پوري اړوندو مسألو ته پاملرنه کوي او د اړتیا په صورت کي د ښځې او نارینه تر مینځ په انډول باندي ټینګار وکړي.

*) د ښځو او سولې په موضوع باندي د ملګرو ملتونو د عمومي منشي د ۲۰۰۲ کال د اکتوبر د ۱۶نیټي له رپوټ څخه ځیني سپارښتني

## دریمه برخه

# په امنیتی برخه کی اصلی اوپراتیفی څانګی

1

[۱] د وسلو د تولید په صنعت کی سرِی کولای شی چی د امنیتی برخی پر اهمیت باندی لا زیات معلومات پیدا کړی، خو دا چی د دولتی ادارو خدماتو پوری اړه نه لری، په دی ځای کی تر بحث لاندی نه نیول کیږی.

## اتم فصل

# پوځ

پوځی تشکیلات د تاریخ په اوږدو کی تل موجود ؤ او دهیواد د ساتنی لپاره د توری او ډال(سپر) په توګه ګڼل کیده. ۱۷ چوکاټ ښیی چی په ۲۰۰۲ کال کی یوائی ډیر لږ هیوادونه ؤ چی د پوځ له درلودلو څخه بی برخی ؤ.

**۱۷- چوکاټ**

**له پوځ څخه بی برخی هیوادونه**

ځینی هیوادونه د پوځی ځواکونو څخه بی برخی دی چی په دی جمله کی د جنوبی کوچنی اقیانوس د سیمی هیوادونه دی: نائورو، مالدیو، کِریباتی، ساموآ، دسلیمان ټاپوګان، توالو، پالائو، وانواتو او یا د کاریبیک د سیمی هیوادونه لکه سنت وینسنت او ګرنادینز، سنتکیتس او نویس، سنتلوسیا، دومینیکا او ګرانادا. کوستاریکا، ایسلند، ماورتیس، ختیځ تیمور، سومالیا (اوس د پوځ په جوړولو لګیا دی)، آندورا، سنمارینو او هاییتي هغه نور هیوادونه دی چی د پوځی ځواک څخه بی برخی دی. ډیری دغه هیوادونه ملیشه یی ځواکونه لری (د بیلګی په توګه ملی ګارد او سرحدی ساتونکی).

### د پوځ دندی

د سړی جګړی له پای څخه وروسته امنیتی بدلونونو په ټوله نړی کی پوځونو باندی اغیزی وکړی. په داسی حال کی چی پوځ خپلی پخوانی بنسټیزی دندی په غاړه لری، ځینی نوی یی هم ورپه غاړه شوی. نن دغه لاندی فعالیتونه په نړی کی د هیوادونو له عادی دندو څخه شمیرل کیږی:

- د هیواد له خپلواکی، حکومت، د خاوری له بشپړتیا او په ټولیزه توګه د هیواد له وګړو څخه ساتنه؛
- د سولی ساتنی او سولی ټینګولو لپاره نړیوال ماموریتونه
- د پیبنو په وخت کی د مرستو رسول؛
- کورنی امنیتی دندی (په استثنایی حالاتو کی کله چی عامه نظم ګډوډ شوی وی له امنیتی ځواکونو سره د امن او نظم په خوندی ساتنه کی مرسته)؛
- ملت - جوړونی کی ونډه (ټولنیزه دنده)

د دغو دندو د سرته رسولو کچه د هر هیواد قانونی جوړښت او امنیتی شرایطو پوری اړه لری.

### له واکمنی او ټولنی څخه ساتنه

د نویو امنیتی بدلونونو او ګواښونو سره سره د پردیو هیوادنو د تیریو په وړاندی له خپل هیواد څخه دفاع او ساتنه تر اوسه پوری د پوځونو په غاړه ده. دغه دنده نه یوائی د خاوری له بشپړتیا او سیاسی خپلواکمنی څخه ساتنی پوری تړلی ده، بلکه له ټولی ټولنی څخه ساتنه هم ده.

د سړې جګړې له پای څخه وروسته سیاسی مشران او پوځونه دی ټکی ته متوجه شوی دی چی ملی حاکمیت ته یواځی پردی پوځونه ګواښ نه پیدا کوی بلکه ځینی غیر پوځی ګواښونه لکه تروریزم، کورنی جګړې، سازمان شوی جنایتونه، انترنیت او فساد هم هغه له خطر سره مخامخ کوی (لومړی چوکاټ ته دی کتنه وشی). څه ناڅه ټول وسلوال ځواکونه اوس د دفاعی نظام په سمون کی ونډه لری. په ۱۸ چوکاټ کی د دا ډول سمون دری پروسی بیان شوی دی.

## ۱۸ـ چوکاټ
## د دفاعی نظام سمون: هدف څه دی

له ۱۹۹۰ کال څخه را پدیخوا د ډیرو وسلوالو ځواکونو جوړښت له بدلون سره مخامخ شوی او په مختلفو هیوادونو کی د بیلابیلو موخو لپاره اصلاحات په لاره اچول شوی دی. که چیری په ساده ژبه وویل شی، په دی اړه دری مختلف هدفونه د تشخیص وړ دی:

**◄ د دیموکراسی ټینګول**

په ډیری هیوادونو کی چی د یو کمونستی نظام، دیکتاتوری یا جګړې څخه وروسته دوره تیروی، د دفاعی نظام د سمون موخه د دیموکراسی ټینګول دی:

- په دیموکراتیکه توګه د یوی منتخبی سیاسی مشری په وړاندی د پوځ مسؤل او ځواب ورکونکی ګڼل؛ پرته له دی ښایی پوځ د دیموکراسی لپاره خطر وګرځی
- د پوځ لپاره د اړتیا وړ منابعو او د ټولنی د نورو برخو د اړتیاوو تر مینځ انډول رامینځ ته کول

**◄له نوی امنیتی فضا سره جوړښت**

- له نویو امنیتی ګواښونو سره د پوځ د پراخولو او د بودجی سمون
- د نویو ماموریتونو لپاره د پوځ چمتو کول، د بیلګی په توګه: له سولی څخه ساتنه

**◄ نړیوال کیدل**

نور زیاتی پوځ یواځی په ملی ساحه کی فعالیت نه لری، بلکه د نورو هیوادونو له پوځی ټولګیو سره په ګډه عمل کوی. دغه فعالیتونه کیدای شی چی د یوی لنډی مودی په مخه وی لکه د ملګرو ملتونو د سولی ماموریتونه، یا د اوږدی مودی سازمانی همکاری لکه ناتو او یا د دو اړخیزو یا څو اړخیزو همکاری وی.

- په دغو ډول همکاریو کی پوځ تر یوی کچی ترنړیوالی قوماندی او سازمانی جوړښت لاندی راوستل کیږی.
- د نورو هیوادونو له پوځ سره د تجهیزاتو، روزنی، معلوماتو، قوماندی او د سیستمونو د کنترول په برخو کی همکاری کول د پوځ توانمندی زیاتوی.

**د نړیوالو پوځی دایمی ټولګیو بیلګی:**

- د آلمان ـ هالند لومړی قطعه
- د بالتیک د هیوادونو قطعه ( لیتوانیا، استونیا، لاتویا)
- آلمانی ـ دنمارکی ـ پولندی قطعه
- د څو هیوادنو، سلواک، هنګری، رومانیا او اوکراین ګډ انجینری کنډکونه، "TISA" نومی کنډک.

## له نړیوالی سولی سره همکاری

پوځونه لږترلږه په دوو دلیلونو د سولی په ماموریتونو کی ګډون کوی. لومړی، د نښتو او د هغو د احتمالی اغیزو د پراختیا مخ نیوی، لکه د مختلفو سیمو د ثبات ګډوډیدل، د اقتصادی نظام مختل کیدل او د کډوالو د نه کنترول وړ بهیر پیل کیدل. دوهم داچی پوځونه کولای شی د خلکو په امنیت کی مهم نقش ولری او د جګړی په سیمو کی له ولسی خلکو څخه ساتنه وکړی. وروسته له هغی چی په وروستیو نښتو کی زورزیاتیو قوت وموند او اولسی ژوند یی سخت اغیزمن کړ، د خلکو امنیت، په خاصه توګه د بشری حقوقو خوندی ساتنه د نړیوالی ټولنی د مهمو سیاسی هدفونو څخه شمیرل کیږی. د سولی په ماموریتونو کی د برخی اخیستلو له ضمنی اغیزو څخه یوه دا ده چی د پوځی ټولګیو د روزنی لپاره موقع برابروی او په واقعی صحنو کی د تجربی لاس ته راوړنی لپاره لاره اواروی.

## د مصیبتونو په وخت کی د مرستو رسول

طبیعی پیښی لکه زلزلی، سیلاوونه او یا د بشر په لاس رامینځ ته شوی مصیبتونه، لکه اورلګیدنه او یا د الوتکو نسکوریدل په هر هیواد کی ښایی رامینځ ته شی. په داسی حالاتو کی دولتی چارواکی مصیبت ځپلو ته د مرستو د رسولو لپاره پوځ ته بلنه ورکوی. په داسی شرایطو کی پوځ مختلفی دندی ترسره کوی، لکه د نظم او قانون بیرته ټینګول، د خوراکی او روغتیایی موادو رسول، د تګ او راتګ د کرښو خوندی ساتل. د مصیبت ځپلو لپاره د مرستو د رسولو په موخه له پوځ څخه کار اخیستل د دی سبب ګرځی چی په ټولنه کی ښه نوم وګټی او د ملاتړ کچه یی لوړه شی.

## د ملکی قوانینو د پلی کولو ارګانونو سره مرسته

د ملکی قوانینو د پلی کولو له ارګانونو سره مرسته کول د پوځ یوه بله دنده ده. خو د پوځ دغه دنده یو شخړه ایز بحث دی. کله چی له ځینو ګواښونو سره د ملکی قوانینو د اجراء کونکو او پولیسو لپاره مقابله سخته شی، د پوځ مرسته ضروری ګڼل کیږی. تروریستی حملی، سازمان شوی جنایتونه د نشه یی توکو قاچاق د داسی ګواښونو څخه شمیرل کیږی. د ملکی قوانینو له اجراء کونکو سره د پوځ مرسته دغه لاندی اندیښنی او خطرونه ځان سره لری:

- کیدای شی چی پر پوځ باندی د ملکی څارنی او کنترول ګواښ رامینځ ته کړی؛
- هرومرو د پوځ د سیاسی کیدو لامل ګرځی؛
- پوځ کولای شی چی په مؤقتی توګه نظم او قانون ټینګ کړی، خو نه شی کولای چی د نښتو او ګډوډیو سیاسی، ټولنیز او اقتصادی لاملونه له مینځه یوسی؛
- د پوځ وسلوال ځواکونه د جګړی لپاره روزل شوی دی، نه د پولیسی دندو او یا په خپل هیواد کی له خپلو وګړو سره د مقابلی لپاره؛
- په عمل کی د پولیسو او د وسلوالو ځواکونو تر منیځ د سیالی خطر موجود دی.

**۱۹- چوکاټ**

## په جنوبی افریقا کی د پوځ له قوتونو څخه په پولیسی دندو کی کار اخیستل

(...) په خاصو شرایطو کی، لکه د نظم د بشپړ ګډوډیدو سره، چی پولیسی ارګان ونه شی کړای چی هغه بیرته اعاده کړی او یا د ملی دفاع په شرایطو کی د ملی دفاع له ځواکونو(SANDF) څخه کار اخیستل کیږی (...). په کورنیو چارو کی له پوځ څخه کار اخیستل د پارلمان د څارنی او د بشتیزو حقوقو لپاره د اساسی قانون د حکمونو غوښتنه کوی.
سرچینه: « په دیموکراسی حکومتونو کی دفاع»
د جنوبی افریقا د جمهوری د ملی دفاع سپین کتاب، می ۱۹۹۶

## ټولنیزی دندی

پوځ او بیا په خاصه توګه هغه پوځ چی عسکری خدمت یی د مکلفیت پر اساس جوړ شوی وی، د ملت ـ جوړونی په پروسه کی نقش لری، ځکه د اولس د مختلفو پرګنو څخه ځوانان (ډیری نارینه) چی یو تر بله مختلف نژادی او ټولنیز پس منظر لری، یو ځای خدمت کوی. دغه حقیقت په مهاجر منونکو او څو کلتوری ټولنو کی چیرته چی پوځ له مختلطو خلکو څخه جوړ شوی، رښتینوالی پیدا کوی. د پوځ د ټولنیزو فعالیتونو له جملی څخه د خلکو لپاره د زدکړو امکانات برابرول دی. هغه کسان چی د کسب او کمال په زدکړو کی له ستونزو سره مخامخ شوی وی، پوځ کی له شاملیدو سره خپلی دغه ستونزی حل کولای شی. د پوځ د نورو ټولنیزو فعالیتو څخه، بیا په خاصه توګه د پرمختیا په حال کی هیوادونو کی، په لیری پرتو سیمو کی له ملکی ادارو سره مرسته ده، چی هلته له سابقه لرونکو پوځیانو څخه د ښوونی روزنی، لومړنیو روغتیایی مرستو او چاپیریالی ورانیو په مخنیوی کی تری کار اخیستل کیږی.

پورتنی ټولنیز فعالیتونه په ټولنه کی د پوځ د رغونکی ونډی یو څو مثالونه ؤ. خو له بده مرغه په ځینو هیوادونو کی په ټولنه، اقتصاد او سیاست کی د پوځ د ناوړه لاس وهنی شاهدان یو. د بیلګی په توګه، په ځینو هیوادونو کی پوځ په سیاسی چارو کی مداخله کوی او دولت له خطر سره مخامخوی.
له بده مرغه په ځینو نورو کی پوځ په تجارتی معاملو کی برخه اخلی چی د دولتی بودجی سر بیره یو نوی عاید د هغه لپاره دی. دغه عاید په دیموکراتیکه توګه نه کنترولیږی.

## هغه څه چی تاسی د پارلمان د استازی په توګه سرته رسولای شی

### د پوځ چالچلند

- داډ پیدا کړی چی د پوځ فعالیتونه:
- د پوځ په قانون او مقرراتو کی سم تعریف شوی وی؛
- د ملی امنیت له پالیسی سره سمون لری؛
- د ټولنی له رښتینو امنیتی غوښتنو سره سمون لری؛
- غیر پوځی دندی د هغه د لومړنیو دندو په ترسره کولو کی چی هغه د ملی حاکمیت څخه ساتنه، له نړیوالی واکمنی سره مرسته او نړیوالو قوانینو په اجراء کولو کی کموالی نه راوړی.

**د دفاعی نظام اصلاح**

داډ پیدا کړی چی د پارلمان صلاحیت لرونکی کمیسیونونه د وړاندوینو وړ هراړخیزو اصلاحاتو رپوټونه د هغو د اغیزمنو تحلیلونو سره یو ځای ترلاسه کوی او له دی لاری دځینو موضوعاتو له مطرح کولو سره د غونډو د دایریدو غوښتنه کوی.

**په پولیسی دندو کی د پوځی ځواکونو ونډه**

- په اصل کی په پولیسی دندو کی له پوځی قوتونو څخه کار اخیستل، یو ناوړه کار دی، خو په ځینو حالاتو کی چی د حل بله لاره چاره نه وی، پارلمان باید:
- په پولیسی چارو کی د پوځ ونډه باید په بشپړه توګه تعریف، محدود او د قانون له لاری کنترول شی، خصوصا کله چی:

- پوځ خپل پخوانی دریځ ته د بیرته ستنیدو وړ وی؛
- د پوځ د ونډی خصوصیتونه او محدودیتونه معلوم وی؛
- د هغه د ونډی موده ټاکله شوی وی؛
- د پوځ د هغو ټولګیو ډول معلومول چی په پولیسی دندو کی ونډه اخلی؛
- د هغو ارګانونو شته والی چی د پوځ د مداخلی او یا د هغی د پای لپاره تصمیم نیولی شی.
- د یو غور قضاوت حق کله چی قانون یا د بشر حقوق تر پښو لاندی شی.

- داسی قانون تصویب کړی چی د هغه له مخی د کورونو هر ډول پلټنه، نیول او له قوی څخه کار اخیستل د یو صلاحیت لرونکی ارګان له خوا تأیید او اجازه وشی.
- ډاډ پیدا کړی چی داسی میکانیزمونه ـ پارلمانی یا داسی نور ـ شته دی چی د ملکی قوانینو په اجراء کونکو ارګانونو کی د پوځ ونډه له نړیوالو بشری او بشری حقوقو قوانینو او اوصولو سره سمون ولری.

## نهم فصل

# په دولت کې نور پوځي سازمانونه

د «دولت د نورو پوځي سازمانونو» اصطلاح د موجودو شرايطو او په هغه هيواد کې چې له هغې څخه کار اخيستل کيږي، يو تر بله سره مختلفه معنی لري. په هر صورت دغه سازمانونه له خصوصي پوځي سازمانونو سره توپير لري. په لندن کې د ستراتيژيکي مطالعاتو د موسسې په نظر د «نورو دولتي سازمانونو» څخه مقصد چې کله هم د نيمه پوځيانو په نامه ياديږي، ژاندارمري، ګمرکي محافظين او سرحدي ځواکونه دي. که چيری هغوی مسلکي پوځي زدکړی کړی وی، نو دجګړی په وخت کی هغوی د پوځ تر قوماندی لاندی وی.

د نړی تقريبا ټول هيوادونه د ملي پوځ تر څنګ دغه ډول پوځي سازمانونه لري چی له پوځ سره له نژدی اړيکی لری. په ځينو حالاتو کی پوځ د اړتياوړ تجهيزات، پوځي قرارګاوی او پوځي روزنی هغوی ته برابروی.

دغه ډول سازمانونه په ډيرو حالاتو کی په پوليسی عملياتو کی له ناوړو پوځي چلندونو څخه کار اخيستی دی او پر بشری حقوقو د تيريو په وجه ګرم ګڼل شوی دی. له کومه ځايه چی دغه سازمانونه د پوليسو او پوځ تر مينځ د بيلتون پوله کمزوری کوی، لازمه ده چی د هغوی نقش او دريځ په سمه توګه تعريف شی. غوره دا ده چی نور پوځي سازمانونه د کورنی امنيت په خوندی ساتنه کی ونډه ونه لری. پارلمان بايد په دی برخه کی مناسب قوانين وټاکی او د حکومت په کړووړو څارنه ولری. جمهور رييس يا لومړی وزير بايد د پارلماني څارنی لپاره امکانات برابر کړی، نه يواځی په دی وجه چی د قانون سره سم له قوی څخه هر ډول کار اخيستل بايد د پارلمان تر څارنی لاندی وی، بلکه په دی وجه چی دا خطر موجو دی چی دغه سازمانونه پرته له څارنی څخه په پراخ لاس بڼايی له قوی څخه کار واخلی.

**۲۰ـ چوکاټ**

**په ځينو نورو هيوادنو کی د دولتي پوځي ټولګيو مثالونه**

| هيواد | په وسلوالو پوځونو کی د پرسونل مجموعه | په نورو دولتي پوځي سازمانونو کی د پرسونل شمير | د دولتي پوځي سازمانونو نور ډولونه |
|---|---|---|---|
| فنلند | ۳۱۷۰۰ | ۳۴۰۰ | سرحدي ګارد |
| متحده ايالات | ۱۳۶۵۸۰۰ | ۵۳۰۰۰ | هوايي ګزمه يی ځواک |
| د روسيی فيدراسيون | ۱۰۰۴۱۰۰ | ۴۲۳۰۰۰ | سرحدي ګارد، د کورنيو چارو د وزارت سرتيری، د د روسيی د فيدراسيون د ساتنی ځواکونه، د فدرال امنيتي خدمات، مرکزی اداره، مخابرات او اطلاعات، د اورګاډو د شرکت ساتونکی |

| | | | |
|---|---|---|---|
| مراکش | ۱۹۸۵۰۰ | ۴۲۰۰۰ | ژاندارمري او مرستندوی ځواګونه |
| فرانسه | ۲۹۴۴۳۰ | ۹۴۹۵۰ | ژاندارمري |
| ايتاليه | ۲۵۰۶۰۰ | ۲۵۲۵۰۰ | د کارابينير خاص ځواک او د کورنيو چارو د وزارت ګارد |
| ترکيه | ۶۰۹۷۰۰ | ۲۲۰۲۰۰ | ژاندارمري، ملي ګارد او ساحلي ګارد |
| بورکينافاسو | ۱۰۰۰۰ | ۴۴۵۰ | ژاندارمري، امنيتي هوايي شرکت |
| چيلي | ۸۷۰۰۰ | ۲۹۵۰۰ | د کارابينير خاص ځواک |
| د کوريا جمهوريت | ۶۸۳۰۰۰ | ۳۵۰۰۰۰ | د ملکي دفاع ځواک او دسمندري پولو ساتونکي |
| اندونيزيا | ۲۹۷۰۰۰ | ۱۹۵۰۰۰ | د پوليسو ځواک، سمندري پوليس او د پوځ مرستندوی محلي ځواک |
| سرچينه: IISS، پوځي انډول، ۲۰۰۰ تر ۲۰۰۱، لندن | | | |

## په دولت کې د نورو پوځي سازمانونو فعاليتونه

دغه سازمانونه پراخ فعاليتونه سرته رسوي چې مشهوريې په لاندې ډول دي:

- پر پولو څارنه لکه د مالونو او د انسانانو د قاچاق څارنه؛
- د شورشونو کنټرول؛
- په اضطراري حالاتو کې د قانون او نظم ساتنه او د دولت د مشرې او د مهمو تأسيساتو لکه د اتمي دستګاوو څخه ساتنه.

| |
|---|
| **هغه څه چې تاسې د پارلمان د استازي په توګه سرته رسولای شی** |
| اړوندو برخو ته په تيرو يا راتلونکو فصلونو کې چې په دې اړه معلومات وړاندې کوي، مراجعه وکړئ. |

## لسم فصل

# د پوليسي ځواکونو جوړښت

## په ديموکراسي کې پوليسي ځواک

د پوليسو چالچلند بايد په ټولو حالاتو کې د قانون په چوکاټ کې وي. دغه ځواک مکلفيت لري چې له قانون څخه اطاعت وکړي چې د هغه د پلي کولو او له هغه څخه دملاتړ دنده لري. سربيره پر دې د پوليسو نقش بايد په جزايي نظام کې د نورو مهمو ارګانونو څخه لکه څارنوالي، قضايي نظام يا جزايي سيستم توپير ولري. د غوره حکومتي واکمنۍ له نظره ټول دولتونه بايد د فرد د حقوقو او آزاديو په خوندي ساتنې سره عامه امنيت ټينګ کړي. په يوې ديموکراسي کې وګړي حق لري چې د پوليسو له خوا ورسره د قانون له مخې د عدل او ناپيلتوب پر بنسټ چلند وشي. د پوليسو چالچلند په حقيقت کې په يو هيواد کې د ديموکراسي د څرنګوالي نښانه ګڼل کيږي.

**۲۱ ـ چوکاټ**

**د پوليسو د ديموکراتيک چالچلند مهم ځانګړيتوبونه**

- د پوليسو ځواکونه بايد د قانون واکمنۍ ته درناوی ولري او د اخلاقي اصولو پر بنسټ بايد عمل وکړي؛
- د عامه امنيت د اغيزمنې خوندي ساتنې لپاره د پوليسو ديموکراتيک چلند يواځې د بشر حقوقو ته د درناوي سره عملي بڼه غوره کوي؛
- د دې لپاره چې پوليس د خپل چلند په خاطر ځواب ورکونکي وګڼل شي لازمه ده چې په چارو کې يې شفافيت، د څارنې ميکانيزمونه او داخلي او بهرنې کنترول موجوږ وي؛
- د پوليسو ديموکراتيک چلند يو ډول له قاعدې څخه سرته پروسه ده چې په ټولنه کې د وګړو او ډلو غوښتنو او اړتياوو ته ځواب ورکوي او د خلکو د اعتماد، خوښې او ملاتړ په لټه کې دې او په نتيجه کې شفافيت او خبرو کولو پورې اړه لري. په همدې وجه په ډيرو هيوادونو کې د خلکو د اړتياوو د پوره کولو او په ګړندې توګه د سيمې خلکو ته د رسيدو لپاره د پوليسو تشکيلات مرکزي بڼه نه لري.

## دځانګړو ساتونکو اقداماتو لپاره اړتيا

د اجراييه قوې لپاره پوليس د هغې يوې وسيلې په توګه ګڼل کيږي چې په ټولنه کې د خپلو دندو د ترسره کولو لپاره له قوې څخه د کار احيستلو له انحصار څخه برخه من دي. سره له دې هم، د همدې انحصاري دريځ په وجه، له دغه ځواک څخه د دولتي ناوړه استفادو، د خلکو په خلاف له خشونت څخه د کار اخيستلو او په بشري حقوقو کې د تيريو امکان موجود دی. په يوه ديموکراتيکه ټولنه کې پوليسي خدمات د يولړ خاصو تدبيرونو غوښتنه کوي ترڅو ډاډ ومينډل شي چې هغوی د ټولنې د ګټو په خدمت

کې دې او له هغو څخه ساتنه کوي، نه دا چې د سياست والو، دولتي لوړپوړو چارواکو او يا د پوليسي بنسټونو په خدمت کې وي. که څه هم پوليس بايد په خپل چلند کې له آزادۍ او خپلواکۍ څخه برخه من وي، خو د قانون په ټينګولو کې بايد ناپيلي دريځ ولري او په خپل کار کې مسلکي عمل وکړي. د پوليسو افراد بايد د خپل مسلک له اخلاقي اصولو څخه خبر ولري او دې اصولو ته بايد دزړه له کومې وفاداري ولري. د دغو اصولو يوه برخه د وګړو ژوند ته درناوی، يواځې د مشروع هدفونو څخه د ملاتړ لپاره د اړتيا په صورت کې له قوي څخه کار اخيستل او د ټاکلي اندازې څخه زيات اوغير قانوني فشار څخه نه کار اخيستل دي. پوليسي ځواکونه بايد له قوي څخه په کار اخيستلو کې د قانون د اعتدال له حدودو څخه اطاعت وکړي. د بهرنيو حساب ياځواب ورکونو- سياسي او قضايي (دريم فصل ته دی کتنه وشي) جوړښتونو سربيره، د پوليسي تأسيساتو په دننه کې هم بايد حساب ورکونکي اداري موجوې وي. د پوليسي تأسيساتو په دننه کې د ادعا شويو پوليسي سرغړونو يا د خلکو شکايتونو ته بايد هغو تأسيساتو په دننه کې ځواب ورکړ شي.

**۲۲- چوکاټ**

## خطرلرونکي تحريفات او شرايط

«په امنيتي ځواکونو باندې غير ديموکراتيکه واکمني امنيتي ړومبيتوبونه له خط سره مخامخ کوي.
د پوځي امنيت خواته ليږدونه په ډېرى هيوادونو کې د دولت له خوا د پوليسو پوځي کولو (چې دا د پوليسو او پوځ تر مينځ توپير کمزوري کوي) او يا د هغو د بودجې د کمولو لامل ګرځي او همداراز دا د خلکو د امنيت او ساتنې لپاره د پوليسو توانمندي کمزوري کوي. په خاصه توګه په لږعايد لرونکو هيوادونو کې د پوليس معاش د هغوی د ژوندانه اړتياوې په سختۍ سره پوره کوي. د هغوی تعليمي سويه ډېره ټيټه او اداره يې فاسده ده . په هغوی کې د بيسوادۍ کچه هم لوړه ده.» .....
«په نويو ديموکراسيو کې منتخب سياسي رهبران په قدرت کې د پاتې کيدو لپاره ډېرى وخت امنيتي ځواکونو بيا په خاصه توګه پوځي ټولګيو باندې تکيه کوي. په همدې وجه دغه رهبران ښايي په پوځ کې له شفافيت او حساب ورکونې سره مخالفت وکړي، ځکه هغوی خپلو هدفونو ته د رسيدو لپاره د وسلوالو ځواکونو قدرت ته اړتيا لري.»
د انساني ودې رپوټ ۲۰۰۲

## د عاموخلکو تدبيرونه او نوښتونه

د پوليسو پر ځواکونو باندې څارنه کيدای شي د غير رسمي ميکانيزمونو له لارې يا په اصطلاح له قاعدې څخه د سر خواته، د بيلګې په توګه د محلي خلکو په سطحه د بشري حقوقو د سازمانونو له لارې، پياوړې شي. دا په خپل ذات کې د پوليسو په نسبت د خلکو اعتماد زياتوي. د ولسي خلکو د پلاوو (لکه له پوليسو څخه د خلکو د شکايت لپاره ګمارل شوي چارواکي) څارنه د پوليسي تأسيساتو څخه بهر د هغو ارګانونو چې پوليس ورته دندې اجراء کوي، د حساب ورکونې شرايط غښتلي کوي. په ځينو حالاتو کې د ولايتي امنيتي شوراګانو جوړول چې د مدني ټولنې او محلي مشران د هغو غړي وي، دسيمې په کچه په پوليسي خدماتو ګټوري اغيزې کوي. همداراز د پوليسي، استخباراتي او د پوځ د احتمالي مزاحمتونو په وړاندې د ولسي پلټونکو او د مدني ټولنې د څارونکو د ساتنې لپاره بايد قوانين موجود وي.

**۲۳- چوکاټ**

## د بېلګې په توګه په اريتريا کې د پوليسو ځواک د ودې په حال کې دی

له خپل چاپيريال سره د پوليسو اړيکه تل تر زياتې کچې ځو مخ ايزه ده. له قوي څخه کاراخيستل د قانون د ټينګولو او ټولو خلکو ته د خدمت سرته رسولو په موخه د پوليسو د فعاليتونو دوه اړخونه دي چې د هغو ځواکونو څو مخ ايز چلند روښانه کوي. د ودې په حال هيوادونو، لکه اريتريا کې دغه سرخوږ ډېر ښه احساس کيږي. اريتريا د خپلې آزادې لپاره د حبشې پرضد ديرش کاله مبارزه وکړه. هغه يوه مبارزه چې لا تراوسه هم پای ته نه ده رسيدلې، ځکه د ۱۹۹۸ او ۱۹۹۹ کلونو په مينځ کې بيا نښتې پيل شوې.
د ۱۹۹۰ لسيزې په پيل کې د پوليسو ځواک له پنځه زرو کسانو څخه جوړ شوو چې ډېری يې د اريتريا د آزادې ښنونکې پوځ سرتيري ؤ. د دې امر دليل روښانه دی؛ دولت بايد له پخوانيو مجربو پوځيانو څخه ساتنه وکړی او د هغوی چارې سمبالې کړي. ځينې پخواني لوړپوړي پوځي صاحبمنصبان په پوليسي ځواک کې د خدمت سابقه لري او د اريتريا - حبشې په ايتلافي اردو کې يې د صاحبمنصبانو په توګه کار کړی دی.
د هالند هيواد د اريتريا لکه په نورو تخصصي برخو کې د جنايي تحقيقاتو په متودونو، د پوليس د عالي اکادمۍ په جوړولو او زدکړو د پروګرامونو په تنظيم کې هم مرسته کوي. سربيره پر دې البته د يو لړ فرهنګي بدلونونو لپاره اړتيا ليدله کيږي، په دغې اړتيا باندې لړترلړه يو شمير مرسته کونکې هيوادونه او د اريتريا خپله اکادميکه پرګنه پوهيږي. هغو کسانو چې په پوځ کې خدمت کړی دی له قوي څخه د کار اخيستلو په برخه کې هغسې فکر نه کوي لکه د مثال په توګه د انګلستان پوليس چې کوي. د اريتريا د پوليسو په ځواک کې فرهنګي بدلون چې د هالند په مرسته وشوو، په دې موخه په لاړواچول شو چې پوليس ديموکراتيک چالچلند ولری، له ديموکراتيک چالچلند څخه مقصد په ډېره لږه کچه د نظم او قانون ساتل دي.

سرچينه: Casper W.Vroom, University of Mastricht، د اريتريا د پوليسي ځواک په فرهنګي بدلون کې د هالند ونډه.

## هغه څه چې تاسې د پارلمان د استازی په توګه سرته رسولای شی

### ديموکراتيک نظم

- ډاډ پيدا کړی چې پوليس د قانون په چوکاټ کې عمل کوي.
- ډاډ پيدا کړی چې پوليس د هغو اخلاقي اصولو پربنسټ عمل کوي چې خلک تری انتظار لري: عدل، ناپيلتوب او د پيژندل شويو مقرراتو له مخې عمل. په دې اړه ډاډ لاس ته راوړی چې ستاسو اړوند حکومت د پوليسي صاحبمنصبانو په هکله د ملګرو ملتونو د سازمان د ۱۹۷۹ کال قوانينو تابع وی (۶۵ چوکاټ ته کتنه وکړی).

### زده کړی

- ډاډ پيدا کړی چې پوليسي زدکړی په دې موخه سرته رسولی کيږی چې د قانون او نظم د ډېرې لږې قوي څخه د کار اخيستلو سره خوندی ساتل کيږی او دې هدف ته د رسيدو لپاره په خاصه توګه ديموکراتيک اخلاقي معيارونه په پام کې نيول کيږی. (اووم فصل ته دی کتنه وشی).

په ۶ ، ۷ او ۸ برخو کې د مالي، بشري او تخنيکي منابعو په اړوند سپارښتنو ته دی کتنه وشي.

## يولسم فصل

# پټې او استخباراتي اداري

استخباراتي اداري (کله هم د امنيتي ادارو په نامه ياديږی) چې د هيواد او ټولنی د امنيت او د هغو د بنسټيزو ګټو په هکله د معلوماتو خپلواک تحليلونه وړاندې کوي، د هر دولت د مهمو ارګانونو څخه شميرل کيږی. که څه هم دغه اداری اجرائيه قوی پوری اړه لری، خو پارلمان د هغو پر فعاليتونو باندی په څارنې کې ستر نقش لری.

د تروريزم، نشه يي توکو د قاچاق، د مالونو د قاچاق، سازمان شويو جنايتونو او د غيرقانوني کډوالو په نتيجه کې نويو را پيدا شويو خطرونه او ګواښونه چې کورنی امنيت په خطر کې اچوی، غوښتنه کوی چې اطلاعاتي توانمندی غښتلی کړای شی. په خاصه توګه د سپتمبر د ۱۱ پيښی څخه وروسته د سترو استخباراتي ادارو شته والی يو ضرورت دی. دهغو حملو څخه وروسته ځينودولتونو خپلو استخباراتي ادارو ته ډير زيات اختيارات ورکړل؛ د بيلګی په توګه د انترنتي پاڼو، تيلفوني کرښو او د فکس له لاری د اړيکو د کنترول اختيارات (د تروريزم تر عنوان لاندی شلم فصل دی وکتل شی).

نويو تکنالوجيو د مشکوکو افرادو د کنترول، توقيف او بندی کولو امکانات پراخ کړی دی او په دی ډول د کورنيو او بهرنيو استخباراتي ادارو تر منيځ د همکاريو اړيکی د ټينګيدو په حال کی دی. اوس د پارلمان دنده ده چې پری نه ږدی چې د استخباراتي ادارو د زياتيدو په حال کی قدرت د قانون او د بشر د حقوقو له نړيوالو اصولو خلاف عمل وکړی.

## د استخباراتي ادارو ځانګړيتوب

د استخباراتي ادارو له ځانګړيتوبونو څخه يو هم د معلوماتو راټول او ارزونه ده چې بايد په پوره امانتداری ورسره معامله وشی. له بلی خوا دا انديښنه موجوده ده چې د کورنی سياست په اړه معلوماتو څخه ناوړه استفاده وشی. امنيتي اداری کيدای شی چې د ټولنی او سياسی نظام لپاره چې بايد تری ملاتړ وشی، خطر وګرځی. په همدی وجه د اجرائيه قوی د څارنی سر بيره پر استخباراتي ادارو باندی د پارلماني روښانو او او ديموکراتيکو څارنو لپاره سخته اړتيا ليدل کيږی. د يو پلټونکی نظام او د يو انډول د رامينځ ته کولو سره کيدای شی چې له استخباراتي ادارو څخه د پارلمان او اجرائيه قوی د ناوړه سياسی هدفونو مخه ونيوله شی.
د ديموکراسی په يو نظام کی استخباراتي اداری بايد د اغيزمنتوب، سياسی ناپليتوب، د مسلک اخلاق اصولوته وفا درلودلو، د قانوني اختياراتو په حدودو اود هردولت د ديموکراتيکو اصولو د قانوني مشروعو ضوابطو سره سم عمل کولو لپاره هڅه وکړی.

ديموکراتيکه څارنه بايد په يو روښان او څرګند قانوني چوکاټ کی سرته ورسول شی او استخباراتي اداری د پارلمان د تصويب شويو قوانيونو پر اصولو جوړ کړی. پارلماني پريکړی بايد د دغو ادارو اختيارات، اپراتيفی چالچلندونه او هغه ميکانيزم چې د هغه پر بنسټ دغه اداری حساب ورکونی او ځواب ورکونی ته کښينول شی، وټاکی.

**۲۴- چوکاټ**

## پارلمان او د استخباراتی ادارو لپاره د مخصوصی بودجی ټاکنه: مثال ارجنتاین

«د ملی امنیت د ۲۰۰۱ کال د نومبر د ۲۷ نیټی د ۲۵/۵۲۰ قانون ۳۷ ماده: د ملی کنګری دوه جرګه ایز کمیسیون د استخباراتی ملی ادارو لپاره د بودجی د ټاکنی لپاره د څارنی او کنترول صلاحیت لری. په دی موخه د ملی کنګری دوه جرګه ایز کمیسیون د خپلو صلاحیتونو په چوکاټ کی د هر اقدام لپاره اختیار لری، بیا په خاصه توګه:
**۱-** د ملی بودجی د قانون په خبرواترو کی چی د هغه لایحه د اجراییه قوی له خوا کنګری ته استول کیږی، برخه اخیستل. په همدی وجه، اجراییه قوه ټول لازم اسناد د پارلمان په اختیار کی پریږدی، په خاصه توګه: **الف -** د سپما، محرم او پټو بودجو لپاره ضمیمه او یا هغو ته په محدوده توګه لاس اوږدونه، البته د پارلمان له خوا د داسی اسنادو څخه استفاده د قانون په چوکاټ کی باید وی؛ **ب -** هغه یوه ضمیمه چی په هغی کی د بودجو اړتیاوی، پروګرامونه او هدفونه روښانه کړای شوی وی.

**۲-** د استخباراتی اداری له ټولو ارګانونو څخه چی په دی قانون کی ورته ځای ورکړ شوی دی او د موجود وضعیت او همدا راز د خپل چالچلند په هکله د معلومات او رپوټ ورکولو مسؤلیت لری، د همکاریو غوښتنه. د اړتیا په صورت کی د هغو معلوماتو او اسنادو لپاره هم غوښتنه وشی چی په ۳۹ ماده کی یی یادون شوی دی.

**۳-** په دی برخه کی څارنه چی د بودجی تخصیص له هغو هدفونو سره سمون لری چی د بودجی په قانون کی ټاکل شول دی.

**۴-** د ملی کنګری او جمهور رییس لپاره د کلنی رپوټ چمتو کول چی په هغه کی د دغو موضوعاتو یادون شوی وی: **الف -** د استخباراتی ادارو د تخصیص شوی بودجی د لګښت ارزونه او تحلیل. **ب -** د دوه جرګه ایز کمیسیون له خوا د سرته رسول شویو څارنو په هکله دڅرګندونو او د لازمو وړاندیزونو وړاندی کول.

سرچینه: د ارجنتاین د ملی امنیت د ۲۰۰۱ کال د نومبر د۲۷ نیټی د ۲۵/۵۲۰ قانون

ډیری دولتونه د پارلمانی څارنی د کمیټو په چوکاټ کی په مختلفو کچو رسمی څارنی سرته رسوی. کله کله د پارلمان د موجودو کمیټو، لکه د دفاع او د وسلوالو ځواکونو د کمیټو فعالیتونه په استخباراتی مسألو باندی د غور په موخه پراخیږی. په ځینو نورو هیوادونو کی د پارلمان اصلی او فرعی کمیټی، په خاصه توګه د استخباراتی ادارو د څارنی لپاره، پخپله د پارلمان له خوا جوړیږی.

د پارلمان د څارنی کمیټه باید لازمو معلوماتو ته لاس اوږد کړای شی او د امنیتی ادارو د رییسانو او د څارنی د بودجی په ټاکلو کی ګډون ولری (د مخصوصو بودجو په هکله ۲۴ چوکاټ ته دی کتنه وشی).

د پارلمان د صلاحیت لرونکو کمیټو ترڅنګ او یا د هغو د نشتوالی په صورت کی ځینو دولتونو پر استخباراتی ادارو د څارنی کمیټی له اجراییه قوی او د دولت د هیأت څخه یی جلا جوړی کړی دی. د دولت د کابینی او اجراییه قوی په سطح د څارونکو هیأتونو پلټنی یواځی انتظامی اواداری حیثیت لری. د پارلمانی کمیټو په پرتله چی د ټولو سیاسی ډلو له استازو څخه جوړی شوی دی، غیر پارلمانی کمیټی ډیر زیاته علاقه نه لری چی تر خپلو څارنو لاندی سازمانونو باندی په خپلواکه توګه عمل وکړی.

**۲۵ـ چوکاټ**

## د محرمو يا پټو اسنادو د کتنې لپاره د پارلماني کميټو ځينې چلندونه

- کميټه صلاحيت لري چې د اړتيا په صورت کې پټې غونډې دايرې کړي؛
- کميټه په ښکاره غونډو کې پارلمان ته د خپل کار په هکله رپوټ ورکوي چې د (غير محرم مسألو) په هکله ښکاره خبرو اترو سره دوام پيدا کوي؛
- کميټه حق لري چې د هر ډول معلوماتو لپاره ـ په دې شرط چې د جاري عملياتو په هکله يا د استخباراتي اداري د کار کونکو د نومونو په هکله معلومات بربنډ نه شي ـ غوښتنه وکړي؛
- کميټه کولای شي چې هر هغه معلومات چې د ولس په ګټه وي بربنډ کړي (البته د مستحق اکثريت رايېو سره)؛
- کميټه بايد خپل کار يواځې په غوښتل شويو معلوماتو پورې محدود نه کړي. وزير يا د استخباراتي ادارو مسؤل وزير په خپل نوښت هغه معلومات چې د استخباراتي مسألو څخه د بشپړ خبرتيا سبب ګرځي، د کميټې په اختيار کې کيږدي.

## په ديموکراسيو کې د استخباراتي ادارو حد او حدود

پر استخباراتي او پټو ادارو باندې د څارنې څرنګوالي تر زياته کچې د يو دولت په قانوني پس منظر، سياسي نظام او تاريخي عواملو پورې تړلي دي. د بيلګې په توګه، ځينې هيوادونه د بريتانيې د مروج قانون د دود تر اغيزې لاندې دي چې ډېر زيات پر قضايي څارنې ټينګار کوي. خو ځينې اروپايي هيوادونه او هغه هيوادونه چې د اوسني تاريخ په يوه برخه کې د ټکونکي پوليسي ځواک تجربه کړې ده، د قانون څارنه غوره ګڼي. د امريکا متحده ايالات د مرکزي حکومت د اجرايیه، قضاييه او مقننه قواوو له لارې د څارنې پر ميکانيزمونو باندې ټينګار کوي. ځينو ديموکراتيکو دولتونو د څارنې خاص ارګانونه جوړ کړي دي چې صلاحيت لري ترڅو د استخباراتي سازمانونو له خوا د بشري حقوقو سرغړونو په هکله رپوټونه تر پلټونو او څېړنو لاندې ونيسي او کولای شي چې عام خلک د خپلو پلټنو له نتايجو څخه خبر کړي. (د زياتو معلوماتو لپاره شپاړسم فصل کې شکايتونو ته د ځواب ورکونې د ګمارل شوي مامور عنوان ته مراجعه وکړی).

## د فعاليت حدود

د استخباراتي ادارو د څارنې ساحه محدوده ده. دغه محدوديت د فعاليتونو په ډول (کورنی، جاسوسی ضد يا بهرنی اطلاعاتو) او يا د فعاليت اړوندو ساحو (اوپراتيفي لارې چارې، محرم اقدامات) پورې اړه لري.

## په پارلمان کې ښکاره يا محرم بحث

په عمومي توګه په ديموکراتيکو ټولنو کې د دولت په نورو ارګانونو کې د فعاليتونو په پرتله استخباراتي څارنه له لږ شفافيت څخه برخمنه ده. د بيلګې په توګه، د پارلمان د استخباراتي کميټو غونډې معمولا په ښکاره نه دايريږي. همداراز په دغو غونډو کې برخه اخيستونکې پارلماني استازي مکلف دي چې د محرم معلومات د نه بربنډولو لپاره لوړه وکړي. سر بيره پر دغو چلندونو، ديموکراتيکې ټولنې د مناسب قانوني چالچلند او د دغو ادارو د ځواب ورکونې د مسؤليت تر مينځ د انډول برابرولو په لټه کې دي، څرنګه چې وکړای شي له يو خوا د پرله پسې او پاينت لرونکو پلټنو له لارې او له بلې خوا د ملي امنيت څخه په ساتنه کې محرميت او اغيزمنتوب خوندي وساتل شي.

## د دندو ویشه

پر استخباراتی ادارو د څارنی یوه بنسټیزه لاره دا ده چی په استخباراتی عملیاتو کی د یوه سازمان یا اداری د انحصار مخه ونیوله شی. که څه هم د استخباراتی مختلفو ادارو (احتمالا د وسلوالو ځواکونو، پولیسو یا کورنی او بهرنی استخباراتو پوری اړوند سازمانونو) زیاتول دومره اغیزمن نه دی، ځکه دا کار د سیالیو سبب ګرځی، خو کیدای شی چی په تولیزه توګه د داسی سازمانونو زیاتوالی د دیموکراتیکی څارنی سبب وګرځی. همدا وجه ده چی ډیری دولتونه بیل کورنی او پوځی استخباراتی اداری لری. د دیموکراتیکی څارنی له نظره دغه ډول بیلوالی غوره دی، خو دا د پټو اطلاعاتو او د هغو د اړوندو تحلیل پروسه کی ګډوډی پیدا کوی. دغه مسأله د امریکا پر متحده ایالاتو باندی د تروریستی حملو څخه وروسته له ډیرو ستونزو سره جوخت وه.

## د استخباراتی پرسونل ښوونه او روزنه

د استخباراتی کارپوهانو ښوونه او روزنه د څارنی له ډیرو مهمو اړخونو څخه شمیرل کیږی. د مسلکی پوهی زده کول، د دیموکراتیکو معیارونو او د بشر د حقوقو په نسبت ژمنه او د خپل هیواد په وړاندی د مسؤلیت احساس د استخباراتی ادارو د کارکونکو د ښوونی او روزنی مهم اړخونه دی. په دیموکراتیکو نظامونو کی هڅه کیږی چی ملکی افراد په دی برخه کی وروزل شی او بیا استخدام شی او اجازه نه ورکول کیږی چی دغه دنده پوځی برخی ته پریښودله شی.

## د محرمو معلوماتو بربنډول

هغه یو بل بنسټیز لامل چی د څارنی او ځواب ورکونی لپاره آسانتیاوی برابروی دا دی چی د استخباراتی فعالیتونو په اړه معلومات وروسته له یوی خاصی مودی د عامو خلکو په اختیار کی پریښودل کیږی. د معلومات ورکونی د قوانینو شته والی او د یوی ټاکلی مودی څخه وروسته دمحرمو اسنادو خپرول د څارنی او ځواب ورکونی لپاره ډیری آسانتیاوی برابروی. دغه ځنډول شوی شفافیت او د عامه خلکو مراقبت له دیموکراتیکی څارنی سره مرسته کوی. (یوویشتم فصل دی وکتل شی).

### هغه څه چی تاسی د پارلمان د استازی په توګه سرته رسولای شی

#### د پارلمانی څارنی میکانیزمونه

- ډاډ لاس ته راوړی چی پارلمان پر استخباراتی ادارو باندی د څارنی لپاره له خاص صلاحیت سره یوه اصلی او یوه فرعی کمیټه لری. (د پارلمان د بیلابیلو کمیټو د پرتله کولو لپاره دی، پنځلسم فصل وکتل شی).
- ډاډ پیدا کړی چی د دغی کمیټی حدود او اختیارات په روښانه توګه څرګند شوی وی او تر کومه ځایه چی امکان ولری محدود شوی نه وی او د هغی غړی ټولو معلوماتو او تخصصی چارو ته لاس اوږد کړای شی.
- ډاډ لاس ته راوړی چی د پارلمان کمیټه په اړوند اقدام لاس پوری کوی او په منظمه توګه د خپلو پلټنو، میندنو او وړاندیزونو په هکله رپوټ وړاندی کوی.

## دیموکراتیک او قانونی بنسټ

- ډاډ لاس ته راوړی چی د استخباراتی ادارو اړوند قوانین دغه لاندی مسألی کنترولوی: شرایط، د فعالیت ساحه، چالچلند، همکاری، د دندو ټاکل، د ماموریتونو او پر استخباراتی ادارو د څارنی په هکله رپوټ ورکول؛ سربیره پر دی د شخصی معلوماتو او د استخباراتی ادارو د کارکونکو د وضعیت په هکله د خاصو معلوماتو راټولول اود اسنادو ثبت باید د قانون پر بنسټ سرته ورسول شی.
- ډاډمن شی چی استخباراتی اداری له سیاسی لحاظه ناپیلتوب ولری او د خپلو مسلکی اصولو پر بنسټ چی د دیموکراتیکو معیارونو له منلو او د هیواد په وړاندی د مسؤلیت احساس څخه عبارت دی، عمل کوی.
- ډاډ لاس ته راوړی چی پر استخباراتی چارو باندی د پارلمان د څارنی کمیټه داستخباراتی ادارو کار کونکو ته د دیموکراتیکو اصولو او د بشر د حقوقو د قوانیونو د زدکړو لپاره په لازمو اقداماتو لاس پوری کوی.
- هغه قوانین تصویب کړی چی د دولت دری واړو قواوو ته نوری دندی ورسپاری. یا په بل عبارت:

- اجراییه قوی ته دی دنده ورکړای شی چی د استخباراتی ادارو دندی روښانه کړی او دا وټاکی چی کوم فعالیت رومبیتوب لری؛
- مقننه قوه د قوانینو د ټاکلو، د بودجی او د دولت و استخباراتی ادارو پر چلند د څارنی دنده په غاړه لری او هیڅکله باید د استخباراتی ادارو په جاری چارو کی لاس وهنه ونه کړی.
- قضاییه قوه د اړتیا په صورت کی په شخصی شتمنیو او په ډله ایزو رسنیو کی استخباراتی ادارو ته د مداخلی لپاره اجازه ورکوی او په دی برخه کی د هغوی پر چلند څارنه کوی چی د قانون له مخی یی کړی دی که نه.

## شفافیت او ځواب ورکونه

- ډاډ لاس ته راوړی چی په پارلمان کی د څارنی استخباراتی کمیټه د اجراییه قوی له خوا د استخباراتی پالیسیو له طرحی څخه خبرتیا مومی او په دی برخه کی ورسره سلا او مشوره کیږی.
- ډاډ لاس ته راوړی چی د پارلمان د استخباراتی څارنی کمیټه د محرمو معلوماتو له ساتنی سره د استخباراتی ادارو پر قانونی، غوره او اغیزمن چلند باندی څارنه لری. په دی اړه کیدای شی چی د ټیلفونی خبرو د اوریدو او د ثبت لپاره د قانونی شرایطو برابرولو څخه نوم واخیستل شی.
- ډاد لاس ته راوړی چی دغه کمیټه د استخباراتی ادارو له فعالیتونو څخه پوره خبرتیا پیدا کوی او د هغو ادارو د رییسانو په ټاکلو کی برخه لری.

## د اسرارو د ساتلو اړوند مسألی

- د حساب ورکونی او پر استخباراتی ادارو باندی د مستقیمی او غیر مستقیمی څارنی لپاره د معلوماتو د آزادی قوانین خورا اهمیت لری.
- د اسرارو د ساتنی او د مسؤلو چارواکو د حساب ورکونی تر منیځ د انډول د خوندی ساتنی په موخه د پټی بودجی د لګښت لپاره د ځانګړی حساب ورکونی سرته رسول

حتمی امر دی.

- داډ لاس ته راوړی چی د هغو اسنادو د خپرولو مقررات چی یو وخت محرم ؤ، د قانون په چوکاټ کی سرته رسول کیږی ترڅو څنډول شوی شفافیت خوندی پاتی شی. د هغو رپوټونو چی د معلوماتو د آزادی د قانون له مخی د خلکو د خبرتیا لپاره خپریږی، سرلیکونه باید وخت په وخت خپاره شی. (شلم فصل کی د تروریزم تر سر لیک لاندی او شپږمی برخی کی د مالی سرچینو موضوع ته دی کتنه وشی).

## دولسم فصل

# پوځی او امنیتی خصوصی شرکتونه

هغه دولت چی له پوځی ځواکونو څخه د قانونی استفادی انحصار په خپل اختیار کی لری، په هیواد کی د امنیت د خوندی ساتنی لپاره یواځنی ارګان دی او د کورنی امنیت د ساتنی او د بهرنیو ګواښونو په وړاندی د دفاع مسؤلیت په غاړه لری. خو سره له دی په وروستیو کلنو کی د کورنیو نښتو د زیاتیدو سره «د امنیتی چارو د خصوصی کونی» فکر راپیدا شوی دی. ځینی غیر دولتی امنیتی لوبغاړو سر راپورته کړی او پر امنیتی ادارو د دودایزی دیموکراتیکی څارنی پر خلاف راپورته شوی دی.

له ۱۹۹۰ لسیزی را په دی خوا د خصوصی پوځی او امنیتی شرکتونو شمیر په ډیری چټکتیا سره لوړ شوی دی. د دغو شرکتونو ډیری کیدای شی چی په دری ډلو وویشل شی: اجیر ملیشه یی ځواک، خصوصی پوځی شرکتونه او خصوصی امنیتی شرکتونه. مهمه خبره دا ده چی د دغو ډلو ټول فعالیتونه باید د دولت د میکانیزمونو له لاری کنترول شی.

## د خصوصی امنیتی او پوځی شرکتونو چلندونه او هغو سره تړلی خطرونه

جګړه ځپلی هیوادونه یا هغه چی د یو واکمن دولت له شتوالی څخه بی برخی دی، تل د خصوصی پوځی او امنیتی شرکتونو په لټه کی وی. دغه ډول هیوادونه د لازمو پوځی توانمندی او تعلمیاتو د نیمګړتیاوو د پوره کولو لپاره دغه ډول شرکتونو ته لاس اوږدوی ځکه د خپلو خلکو او د نورو ډلو لپاره امنیت خوندی ساتلی نه شی. پر امنیتی برخی باندی د رښتینی دیموکراتیکی څارنی په موخه د قوی څخه په کار اخیستلو کی د دولت د انحصار محدودول او یا له کورنیو نښتو سره مخامخ کیدل هغه نور لاملونه دی چی ولی ځینی هیوادونه داسی شرکتونو ته مخ اړوی.

په داسی شرایطو کی له خصوصی امنیتی او پوځی شرکتونو څخه کار اخیستل ښایی په لنډه موده کی د ملی تخصصی مهارتونو د زیاتولو، د هیواد د توانمندی د پیاوړی کولو او حتی په ځینو حالاتو کی په خپل ځان باندی د باورتیا د میندلو له لحاظه مثبتی اغیزی ولری. خو څرنګه چی په ۲۶ چوکاټ کی لیدل کیږی، د دیموکراسی د ټینګولو په پروسه کی د داسی شرکتونو شته والی منفی اغیزی زیاتی او ژو مخه ایزه وی.

عام او د خلکو منتخب تأسیسات او بیا له ټولو څخه مهم د هر هیواد پارلمان د څارنی او دیموکراتیک کنترول لپاره یو سم او اغیزمن جوړښت ته اړتیا لری ترڅو نه یواځی د دولت پر امینتی جوړښتونو بلکه پر استخدام شویو امنیتی ـ پوځی کارپوهانو هم څارنه او کنترول ولری.

**۲۶ـ چوکاټ**

**پوځی او امنیتی خصوصی شرکتونه او د دیموکراسی لپاره د هغوی ځینی احتمالی خطرونه**

- د خصوصی امنیت لوبغاړی ښایی تر یوی کچی په پوځی او امنیتی برخو کی د ټینګښت سبب وی، خو په اوږده موده کی ځینی دولتونه د خپلو کورنی ستونزو په حل کی پر خپل پوځی ځواک تکیه کوی.

- د بهرنیو کارپوهانو استخدام، د بیلګی په توګه د پوځي ـ امینتی مشخصو ماموریتونو او د هغو د بودجی په اړوند، ځینی پوښتنی پیدا کوی، د یوی غوره او دیموکراتیکی واکمنی له نظره باید دغه ډول پوښتنو باندی په عامه توګه بحث اوخبری وشی او مناسب ځوابونه ورته ورکړای شی.
- په ځینو نورو حالاتو کی، دغه خصوصی لوبغاړی د نورو ماموریتونو(ډیری قانونی او مشروع ماموریتونه) تر پوښښ لاندی د وسلو د دلالانو په توګه عمل کوی.

## اجیر پوځیان

اجیر پوځیان د یوی ډیری پخوانی پدیدی برخه ده او وروستیو نښتو وښودله چی لا تراوسه د نړی په ځینو برخو کی له هغو څخه کار اخیستل کیږی.

د «پوځی اجیرانو» اصطلاح د ملګرو ملتونو د ۱۹۸۹ کال د نړیوال منشور په لومړی مادی کی چی د پوځی اجیرانو د استخدام، کار اخیستلو، تمویل او روزنی په خلاف د هغه سازمان د عمومی اسامبلی د ۱۹۸۹ کال د دسمبر د ۴ نیټی د ۴۴/۳۴ پریکړی په توګه په تصویب ورسیده، تعریف شوی ده. دغه پریکړه د ۲۰۰۱ کال د دسمبر په ۲۰ نافذه شوه، خو تراوسه پوری ډیرو لږو هیوادونو هغه لاس لیک کړی ده. دغه تړون د جینوا د ۱۹۴۹ کال د تړون ۴۷ ماده په تفصیل سره بیانوی (په خاصه توګه د هغو افرادو چی د زور زیاتیو په مقصد استخدام شوی دی ترڅو یو دولت نسکور کړی او یا یو حکومت د خپلی خاوری د بشپړتیا په دننه کی کمزوری کړی):

**«لومړی ماده ـ په اوسنی تړون کی:**
۱ـ اجیر هغه څوک دی چی: **الف ـ** د یو هیواد په دننه یا بهر کی په یوی وسلوالی نښتی د جګړی لپاره استخدام شوی وی؛ **ب ـ** په جنګی عملیاتو کی یواځی د خپلو شخصی ګټو لپاره جګړه کوی او یا په حقیقت کی د مادی غراماتو لپاره چی په دی نښتو کی د هم لیکو یا د دغی جګړی عاملینو ته ورکول کیږی، برخه اخلی؛ **ج ـ** نه د نښتو د اړخونو ملی غړی دی او نه د هغه هیواد چی د هغوی تر واکمنی لاندی دی، اوسیدونکی دی؛ **دال ـ** د نښتو د اړخونو د وسلوالو ځواکونو غړی هم نه دی؛ **هـ ـ** د هغه یو هیواد چی په دی نښتو کی برخه نه لری، د وسلوال ځواک غړی نه وی.

۲ ـ همدا راز اجیر هغه څوک دی چی په هر ډول شرایطو کی: **الف ـ** په خاصه توګه په زورپالونکو عملیاتو کی د دغو لاندو هدفونو په مقصد د هیواد په دننه یا بهر کی استخدام شی: **(۱)ـ** د یو حکومت نسکورل یا د هغه کمزوری کول؛ یا **(۲)ـ** د یو هیوا د خاور بشپړتیا کمزوری کول؛ **ب ـ** په نښتو کی په دی مقصد برخه اخیستل چی شخصی ګټی تر لاسه کړی او یا له مادی غراماتو څخه برخه من شی؛ **ج ـ** د هغه یو هیواد تبعه او وګړی نه وی چی د هغه پر خلاف دغه عملیات سرته رسول کیږی؛ **دال ـ** د یو هیواد له خوا د یو رسمی استازی په توګه استول شوی نه وی؛ **هـ ـ** د هغه یو هیواد چی هلته دغه نښتی روان دی، د وسلوال ځواک غړی نه وی.

د دغه نړیوال تړون له مخی که څوک د یوداسی پوځی اجیر په استخدام، کار اخیستلو، تمویل، روزنه یا داسی نورو عملونو لاس پوری کړی، له تړون څخه یی سرغړونه کړی او د جرم شریک ګڼل کیږی. خو سره له دی هم، ځینی هیوادونه بهرنی کارپوهان د ځینو خاصو دندو لکه د جنګی الوتکو پیلوتان یا تروروستی ضد عملیاتو لپاره، استخداموی.

د ملګرو ملتونو د بشری حقوقو ځانګړی رپوټ ورکونکی په خپل رپوټ کی سپارښتنه کوی چی «د هغه سازمان عمومی اسامبله دی هغو هیوادونو ته چی تر اوسه پوری یی د پوځی اجیرانو ضد منشور لاسلیک کړی نه دی، بلنه ورکړی چی هغه دی لاس لیک کړی. د دی لاس لیک کونی سره جوخت د خپلو اړوندو هیوادونو اساسی قانون باندی هم له سره غور وکړی او له دی تړون سره دی هغه جوړ کړی.» (۷۰ پاراګراف)

## خصوصی پوځی شرکتونه

خصوصی پوځی شرکتونه د «پوځی اجیرو ځواکونو» عصری او متحد الشکل ډول دی. هغوی هم د مادی ګټو د ترلاسه کولو لپاره پوځ ته د ښوونی او روزنی او داسی نور فعالیتونه سرته رسوی او په دقیقه توګه جنګی او غیر جنګی عملیاتو کی برخه اخلی. خو له کومه ځایه چی د دغو شرکتونو بشری ځواک د پوځ تقاعدی کسانو څخه جوړ شوی دی او په وسلوالو ځواکونو کی خدمت نه کوی، دغه ډول شرکتونه د قانون له مخی د اجیرو پوځیانو په تعریف کی نه جوړیږی. دغه شرکتونه په جنګی عملیاتو کی له کډون څخه نیولی تر پوځی لار ښونو، د وسلود تدارکاتو، د استخباراتی غونډو دایرولو، د یرغمل نیونکو پرضد د عملیاتو او داسی نورو برخو کی خدمتونه ترسره کوی. د دغو خدمتونو سر بیره، د نوموړو شرکتونو ځانګړیتوب دا دی چی د یو دولت د غوښتنی سره سم د نښتو په وخت کی او یا له هغو څخه وروسته د بیا رغاونی په موده کی به په عمل لاس پوری کوی.

د دغه خصوصی پوځی شرکت ښه مثال د امریکا د MPRI شرکت دی چی د مسلکی خدماتو په وړاندی کولو سره د د دفاعی تړونونو پر بنسټ په دفاعی چارو، د قانون په پلی کولو او د حکومتی رهبری د پراخولو په ساحو کی فعالیت کوی. دغه شرکت د امریکا د پوځ د پخوانیو لوړ پوړو پوځیانو له خوا په ۱۹۸۹ کال کی جوړ شوو او لا تراوسه د پوځ د پخوانی پرسونل له خوا اداره کیږی.

## خصوصی امنیتی شرکتونه

خصوصی امنیتی شرکتونه د تجاری چارو او مالونو څخه د ساتنی په موخه خدمت کوی او په دی ډول د جنایی جرمونو په مخنیوی کی ونډه لری. دغه ډول خصوصی امنیتی شرکتونه هر چیری میندل کیږی؛ خو وروستی پروسی ښیی چی له دغه ډول شرکتونو څخه کار اخیستل مخ په زیاتیدو دی، خصوصا په جنګی سیمو کی ـ او یا په هغو سیمو کی چی تجارت د هغه څه څخه زیات ملاتړ ته اړتیا لری چی یو دولت له خوا چمتو کیږی. دغه شرکتونه نسبت و دی ته چی په پوځی نښتو کی لاس ولری، دیر زیات له شخصی شتمنیو او پرسونل څخه د ساتنی په ساحو کی فعالیت لری. خو له کومه ځایه چی د جنګی سیمو لپاره امنیتی او پوځی مهارتونه یو شان د اهمیت وړ او ضروری دی، دغه شرکتونه په عمل کی له دواړو مهارتونو څخه برخه من دی. همدا وجه ده چی د خصوصی پوځی او امنیتی شرکتونو تر مینځ د توپیر پوله ډیره نری ده . له کومه ځایه چی د دغو شرکتونو اهمیت او شمیر وار په وار زیاتیږی، دیموکراتیک ارګانونه، په خاصه توګه پارلمان، باید پر دغو نویو امنیتی لوبغاړو باندی د څارنی او کنترول معیارونه وړاندی کړی، پرته له دی د دیموکراسی لومړنی اصول له ګواښ سره مخامخ کیږی.

## هغه څه چې تاسی د پارلمان د استازی په توګه سرته رسولای شی

### قانون جوړونه

- ډاډ لاس ته راوړی چې ستاسو هیواد د ملګرو ملتونو د ۱۹۸۹ کال د هغه یو تړون چې د پوځی اجیرانو د استخدام، کار اخیستلو، تمویل او ښوونی او روزنی سره مخالفت کوی، غړی دی او په دی برخه کی د منل وړ قوانین تصویب کړی دی.
- ډاډ لاس ته راوړی چې د خصوصی پوځی او امنیتی شرکتونو لپاره له قانونی چوکاټ څخه کار اخیستل کیږی.

### د وسلو د مقرراتو او د تحریم لپاره درناوی

- له کومه ځایه چې خصوصی امنیتی او پوځی شرکتونه له هیواد څخه بهر په جنګی سیمو کی فعالیت لری، پارلمان دی ته وهڅوی چې د دغو نوی تاسیس شویو شرکتونو دفعالیتونو او ستاسو د هیواد د ملی امنیتی پالیسی، بهرنی پالیسی، اړوندو نړیوالو قوانینو، پریکړو او مقرراتو تر مینځ د جوړښت په برخه کی پلټنی وکړی.
- له قانونی لحاظه ډاډ لاس ته راوړی چې د هغو هیوادونو په دننه کی چې د وسلو بندیزونه پری لګول شوی دی، خصوصی امنیتی او پوځی شرکتونه فعالیت نه کوی.

### شفافیت

- ډاډ لاس ته راوړی چې هیڅ بهرنی خصوصی پوځی او امنیتی شرکت د پارلمان له اجازی څخه پرته د یو هیواد په ملی ساحه کی فعالیت نه شی کولای. حتی که چیری دغه فعالیت د دولت په غوښتنه هم وی.
- ډاډ لاس ته راوړی چې د خصوصی پوځی او امنیتی شرکتونو لپاره د دولت اختصاصی بودجه د پارلمان په څارنی او خوښه برابریږی.

### ځواب ورکونه

- ډاډ لاس ته راوړی چې پارلمان د خصوصی پوځی او امنیتی شرکتونو د ټولو سندونو په وړاندی، څه د قانون له نظره او څه د عمل په ډګر کی، د ځواب ورکونی مسؤلیت د هیواد په دننه او بهر کی د دولت په غاړه اینبی دی.

## څلورمه برخه

# ملی امنيت تر پارلمانی څارنی:
## شرايط او ميکانيزمونه

## دیارلسم فصل

# د یوې اغیزمنې پارلماني څارنې شرایط

پر امنیتي ادارو باندې پارلماني څارنه د پارلمان په قدرت او له حکومت او امنیتي ادارو سره د دغه بنسټ اړیکو پورې تړلې ده. په داسې شرایطو کې، قدرت په پارلمان کې د خلکودعنوان شویو ګډو غوښتنو سره سم د حکومت پر اختیاراتو او چالچلندونو باندې د اغیزمنتوب د توانمندۍ معنی لري. همداراز دغه قدرت د پالیسیو پر پلې کولو، قوانینو، تصمیمونو او د پارلمان له خوا پر تصویب شوې بودجې باندې د څارنې توانمندۍ څخه هم عبارت دی. دغه قدرت نه یوازې د هیواد له اساسي قانون او کورنیو قوانینو څخه سرچینه اخلي بلکه د پارلماني مقرراتو له لارو چارو او د دودایزو چالچلندونو څخه هم لاس ته راځي.

## پر امنیتي برخې د اغیزمنې پارلماني څارنې شرایط په لاندې ډول دي:

- څرګند قانوني او مشروع اختیارات
- دودایز چالچلندونه
- سرچینې اوکارپوه توب
- سیاسي غوښتنې

### قانوني او مشروع اختیارات

د هر هیواد اساسي قانون (یا ورته قوانین) پر امنیتي برخې د پارلماني څارنې مهم بنسټ ګڼل کیږي. په داسې حال کې چې د هر هیواد اساسي قانون له بل هیواد سره د سیاسي، فرهنګي، اقتصادي او ټولنیز پس منظر په پام کې نیونې سره توپیر لري، ډیرې اساسي قوانین د لاندې اصولو پر بنسټ تدوین شوي دي:

- اجراییه قوه (د بیلګې په توګه جمهور رییس، لومړی وزیر یا د دفاع وزیر) د هیواد د امنیتي خدماتو مسؤلیت په غاړه لري.
- اجراییه قوه پارلمان ته د ځواب ورکونې مسؤلیت لري.

له کومه ځایه چې د اساسي قانون احکام ډیر مهم قضائي سرچینه ګڼل کیږي، غوره ده چې د امنیت په برخه کې د پارلمان اختیارات هم په اساسي قانون کې ټاکل شوي وي. اساسي قانونونه په آسانۍ سره د بدلون وړ نه دي، په هغو کې سمون راوستل په پارلمان کې د غړو د اکثریت شته والي ته اړتیا ده. نو په دې وجه قانونونه د امنیت په برخه کې د پارلمان له اختیاراتو څخه د ملاتړ له پاره اغیزمنې لارې چارې پرانیځي. دغه ډول اختیارات کیدای شي چې د ځینو ځانګړو قانون جوړونو او د پارلمان د کار دقوانینو له لارې ټینګ کړای شي. سربیره پر دې د وخت په تیریدو سره د پارلمان د څارنې لپاره د آسانتیاوو د برابرولو په موخه ټولنیزو معیارونو او د ځواب ورکونې چالچلندونو پراخوالي موندلې دی.

۲۷ چوکاټ پر امنیتي ادارو د پارلمان د څارنې د اختیاراتو یوه پراخه ساحه ښکاره کوي.
د دغو اختیاراتو زیاته برخه په راتلونکو فصلونو کې تر ځیرنو لاندې نیول شوې دي.

**۲۷ چوکاټ**

## پر امنیتی برخی د پارلمان د دیموکراتیکی څارنی لپاره وسایل او امکانات

### ۱. عام اختیارات

**الف -** د قوانینو تدیون
**ب -** د قوانینو تعدیل یا له سره لیکل
**ج -** تر پوښتنی لاندی د اجراییه قوی د غړو نیول
**دال -** د پارلمان غونډو ته د اجراییه غړو غوښتل (احضار)
**هـ -** د پارلمان غونډو ته د شهادت ورکونی لپاره د پوځی پرسونل او د دولت د کار کونکو غوښتل
**و -** د پا رلمان غونډو ته د شهادت ورکونی لپاره د ملکی کارپوهانو غوښتل
**ز -** له اجراییه قوی څخه د اسنادو غوښتنه
**ح -** د پارلمانی تحقیقاتو او پوښتنو سرته رسول
**ط -** د غوړ نیونو غونډو جوړول

### ۲ - پر بودجی څارنه

**الف -** په بودجی پوری تړلو اړوندو اسنادو ته لاس اوږدول
**ب -** د امنیتی او دفاعی بودجی ارزونه او په هغی کی د سمون راوستلو حق
**ج -** د پروګرامونو، څیړنو او پالیسو له لاری پر بودجی څارنه
**دال -** د امنیتی یا دفاعی فوق العاده بودجی د غوښتنی د منلو یا ردلو حق

### ۳ - سوله ایز ماموریتونه او د هیواد په بهر کی د ځواکونو خوندی کول: د پارلمان د منلو یا ردولو حق

**الف -** له هیواد څخه بهرته د ځواکونو له استولو څخه مخکی په تصمیم نیولو کی ونډه درلودل
**ب -** د ماموریت اختیار؛ د ملګرو ملتو د پریکړو منل
**ج -** د ماموریت بودجه
**دال -** د سولی په ماموریت کی د برخی اخیستلو مقررات
**هـ -** په عملیاتو کی برخه اخیستل
**و -** د قوماندی لړی/ کنترول
**ز -** د ماموریت موده
**ح -** د ماموریت د سرته رسولو په وخت کی له ځواکونو څخه لیدنه کتنه

### ۴. تدارکات

**الف -** د تدارکاتی تصمیمونو په هکله د اجراییه قوی له خوا د پارلمان بشپړ خبرول
**ب -** د تړونونو منلو یا ردولو حق
**ج -** د تدارکاتو لپاره د لاندو پړاونو څیړل

- د نوو تجهیزاتو د برابرولو د اړتیا تشخیص
- د تولیدونکو پرتله کول او د هغو ټاکل
- د ورکړی او معاوضی لپاره د فرمایشونو ارزونه

## ۵- د دفاع او عمومي امنيت پاليسي: د منلو يا ردولو حق

**الف -** د امنيتي پاليسي معنی
**ب -** د کړکيچ د منجمنت طرح
**ج -** د پوځي ځواک جوړښت
**دال -** پوځي ستراتيژی/ پوځي دکترين

## ۶- دفاعي/امنيتي تشکيلات

**الف -** د تشکيلاتو د منلو يا ردولو حق
**ب -** د بشري قواوو د کچې ټاکل
**ج -** د پوځي لوړ مقام (لکه لوی درستيز) په ټاکلو کې د منلو يا ردولو يا د نظر غوښتنې حق

## دوداېز چالچلندونه

ټول چالندونه او متقابلې اړيکې يواځې د قانون له لارې تنظيم کيدای نه شي. نو په دې وجه مهمه خبره دا ده چې د پارلمان د سرپرستې او څارنې عادتونه او لارې چارې د ټولنيزو دودونو لکه درناوی او يو بل باندې د اعتماد درلودنې له لارې بندو بست شي. د بېلګې په توګه د امنيتي مسألو دنويو پرمختګونو په هکله په مناسبو وختونو کې د پارلماني استازو خبرول او د هغو ونډه نه يواځې د شفافيت او ځواب ورکونې لپاره خورا اهميت لري، بلکه په دې برخه کې د خلکو تر مينځ ديالوګ هم د پاملرنې وړ دی.

## سرچينې او کارپوه توب

په عمومي توګه پر امنيتي ادارو باندې د پارلماني څارنې توانمندی او وړتيا په خپل وخت او زمان، کارپوه توب يا تخصص او تر لاسه کړای شويو معلوماتو پورې اړه لري.

### وخت او زمان

په خپل وخت او زمان کې د امنيتي مسألو په هکله د دولت د هدفونو او تصميمونو پورې اړوند معلوماتو لاس ته راوړل د پارلمان لپاره خورا اهميت لري. که چيرې دولت له تصميم نيونې څخه وروسته پارلمان خبروی، نور د څارنې او لاس وهنې مسأله بې معنی امر دی. په داسې يو حالت کې پارلمان له يو «سرته رسول شوی عمل» سره مخامخ دی چې يا به هغه ردوی او يا به يې منی.

البته د ملي کړکيچ يا په اضطراری حالت کې دولت مجبور دی چې سمدلاسه په عمل لاس پورې کړي او بيا کولای شي چې پارلمان له خپل تصميم څخه خبر کړي. خو حتی دا شرايط هم د دې دليل نه شي کيدای چې دولت دې د پارلمان د قانون له چوکاټ څخه سرغړونه وکړي.

ترکومه ځايه چې پيژندل شويو او اوږدې مودې مسألو پاليسيو پورې اړه نيسي، پارلمان بايد په بنسټيزو مسألو باندې، لکه دفاعي بودجه، د وسلو د چمتو کولو اوتدارکاتو او د دفاعي چارو کتنه، د بحث او غور لپاره کافي وخت ولري.

د ورځنی فشار سره د مقابلی یوه لاره چی پارلمانی استازی د خپلو دندو په ترسره کولو کی ورسره مخامخ دی، د یوی ابتکاری ستراتیژی جوړول دی. ۲۸ چوکاټ کی پر امنیتی برخی د څارنی لپاره د ابتکاری ستراتیزی ځینی عناصر ښودل شوی دی.

**۲۸- چوکاټ**

## پر امنیتی ادارو د پارلمان د څارنی لپاره ابتکاری ستراتیژی

ډیری وخت د پارلمانی استازو دنده د ورځنی خبرونو تر نفوذ لاندی ده. سر بیره پر دی د هغوی د سیاسی کار لارښونه تر زیاتی کچی د دولت له خوا ټاکله شوی ده. د وخت او زمان پر تنګوالی باندی د لاس برتوب اغیزمنه لاره هماغه د پارلمانی څارنی لپاره ابتکاری ستراتیژی ده. امنیتی اداری ته په پام کی نیونی سره دغه ستراتیژی کیدای شی چی دغو لاندو مسألو څخه عبارت وی:

**د کار اجنداء جوړول:** استازی باید تل او په دوامداره توګه د ولس هدفونه او غوښتنی د خپل ورځنی سیاسی کار په اجنداء کی شامل کړی.

**وروستی تحولات:** د ملی او نړیوالو امنیتی او پوځی پرمختګونو په هکله د پارلمان معلومات باید تازه او نوی وی. د دغو معلوماتو لاس ته راوړل نه یواځی د دولتی چینلونو له لاری ممکن دی بلکه نورو غیرحکومتی سازمانونو، لکه پوهنتونونو، څیړنیزی مؤسسی او یا داسی ورته سازمانونو څخه هم کیدای شی چی لاس ته راشی.

**زده کړای شوی تجربی:** پارلمان باید د امنیتی ادارو د لوبغاړو له پخوانیو چالچلندونو څخه وخت په وخت زدکړی وکړی.

**پایښت لرونکی کتنی:** پارلمان باید له دولت څخه وغواړی کله چی د امنیتی پالیسی په نوی کولو لاس پوری کوی وروستی تصمیمونه، بدلونونه او لاس ته راغلی تجربی په پام کی ونیسی.

## معلومات، کارپوه توب او د پارلمان کارکونکی

پر امنیتی ادارو د اغیزمنی پارلمانی څارنی غوښتنه دا ده چی پارلمان په چارو کی له ښه کارپوه توب او سرچینو څخه برخمن وی او یا د هغه په اختیار کی کیښودل شی. خو په چارو کی د پارلمان تخصص په سختی سره د دولت او د امنیتی ځواکونو له تخصص سره پرتله کیدای شی. په ډیری حالاتو کی پارلمان ډیر زیات کارپوه او څیرندوی کسان نه لری. دا په داسی حال کی ده چی دولت کولای شی چی د دفاع وزارت او دامنیتی چارو پوری د اړوندو نورو وزارتونو له کارکونکو څخه کار واخلی. ځینی پارلمانونه – لکه د ارجنتاین ملی کنګره - یو پوځی اړیک نیونکی دفتر لری چی له پارلمان سره د دایمی اړیکو له لاری پارلمانی استازو او بیا په خاصه توګه د دفاع او امنیت کمیټو ته لازمی مشوری ورکوی. سر بیره پر دی د پارلمان استازی د یوی لږی مودی لپاره د استازیتوب دنده په غاړه لری؛ حال دا چی د دولت کارکونکی او پوځی پرسونل د خپل کار په ټوله موده کی د دفاع په وزارت کی تیروی.اصلی ستونزه دا ده چی دولت او اردو پارلمانی د امنیتی معلوماتو سرچینی دی، حال داچی دواړه ارګانونه باید تر څارنی لاندی ونیول شی. دغه ډول یو حالت په خپل ذات کی د دولت او اردو په وراندی د پارلمان لپاره نا مناسب شرایط برابروی. د پوځی کار، پوځی فرهنګ او پوځی ښوونی او روزنی او د پټو قوانینونو له کبله د امنیتی اداری د سرپټی جوړښت دغه حالت نور هم بدورګی کوی.

په ۲۹ چوکاټ کی په امنيتي چارو کی د پارلمان د کارپوه توب د کچی د لوړوالی لپاره ځینی وړاندیزونه شوی دی.

**۲۹ـ چوکاټ**

## په امنيتي چارو کی د پارلمان د کارپوه توب د کچی د لوړولو لپاره میکانیزمونه او لاری چاری: یو څو وړاندیزونه

- د دفاع او امنیت د کمیتی جوړول ـ که چیری تر اوسه پوری وجود ونه ولری ـ دغه کمیټه باید په امنیتي مسألو کی د استازو د تخصص او پوهی باندی د تمرکز بر بنسټ جوړه شی. پارلمان کولای شی چی د دفاع کمیټه په فرعی کمیټو لکه د تدارکاتو، تشکیلاتو او د بودجی د پلاویو په کمیټو، وویشی؛
- په ملی او نړیوالو سیمینارونو کی ګډون، د څیړنیزو سفرونو سرته رسول، د امنيتي ادارو له ودانیو څخه لیدنه کتنه (د پټو او استخباراتی ادارو په هکله یولسم فصل دی وکتل شی) او د پارلمانی استازو لپاره د تخصصی زدکړو د کورسونو دایرول او هغو استازو ته معلومات ورکول چی په بهرنی سولیز ماموریتونو کی له ونډه اخیستونکو پوځیانو څخه لیدنه کتنه کوی؛
- د مختلفو هیوادونو د پارلمانی غړو ترمنځ د تجربو او زدکړو تبادله؛ د بیلګی په توګه د نړیوالی پارلمانی غونډی؛
- په پارلمان کی د پوه او متخصصو کارکونکو درلودل؛
- نویو او وروستی معلومات لرونکو تخصصی کتابتونونو، د اسنادو او څیړن ایز مرکزونو او د معلوماتو الکترونیکی زیرمو ته د لاس اوږدولو امکاناتو درلودل؛
- په غیر حکومتی سازمانونو کی د بهرنیو کارپوهانو د باور وړ لاربنوونو څخه کار اخیستل (لکه پوهنتونونو یا سیاسی مشاورین)، یا د پوځی متقاعدینو (د مدنی ټولنی تر عنوان لاندی شپږم فصل ته دی مراجعه وشی)؛
- د استازو د استفادی لپاره د هیواد په ژبو په امنیتي ساحو کی د سیمه ایزو او نړیوالو تړونونو ترجمه او چمتو کول، البته که چیری موجود وی، د دغو تړونو د تصویب پوری اړوند او هم د هغو تړونونو د څارنی د ارګانونو معلوماتو سره؛
- د کلنی بشپړی او هراړخیزی کتنی لپاره د امنیتي چارو پوری د یو څو اړوندو موضوعاتو ټاکل (د بیلګی په توګه د فرعی کمیتی له خوا)؛
- د امنیتي او دفاعی مسألو د څیړنی لپاره د پارلمان د ټولو ډلو څخه د یو منتخب کمیسیون جوړول (په دوه جرګه ایز پارلمانونو کی له دواړو جرګو څخه)؛ دغه ډول یو څارونکی کمیسیون کولای شی چی په مسألو باندی د یو څیړن ایز مرکز په توګه خدمت وکړی.

## سیاسی غوښتنی

که چیری حتی د پارلمانی څارنی قانونی مقررات له نقص او نیمګړتیا څخه پاک وی او له کافی تخصصی سر چینو څخه برخه من هم وی، بیاهم پر امنیتي ادارو د یوی اغیزمنی څارنی لپاره ضمانت نه شی کیدای. دغه وروستی لامل یعنی له موجودو میکانیزمونو څخه د کار اخیستلو لپاره د پارلمانی استازو سیاسی غوښتنه پر امنیتي ادارو باندی د اغیزمنی پارلمانی څارنی د خوندی ساتنی بنسټیز شرط دی. دا چی پر امنیتي ادارو باندی په څارنه کی سیاسی غوښتنی له نیمګړتیاوو سره مخامخ وی ښایی دغه لاندی لاملونو ته ګوته ونیوله شی:

- **ګوندی انضباط:** له کومه ځایه چی د پارلمان د واکمن ګوند په ګټه ده چی اجراییه قوه پر قدرت پاتی شی، نو په ښکاره توګه پر هغی باندی له ګوت نیونی څخه ډډه کوی.
- **د انتخاباتی ګټو شته والی او یا نه شته والی:** له کومه ځایه چی په ډیری هیوادونو کی عام خلک له امنیتی مسألو سره علاقه نه لری، نو استازی په دی باور دی چی د هغوی د بیا انتخاب لپاره په دا ډول مسألو وخت تیرول چندان ګټه نه کوی.
- **د استازو امنیتی ملاحظات:** دغه ډول ملاحظات ،د بیلګی په توګه، د اطلاعاتو د کمیټی غړی له دی څخه منع کوی چی خپل میندل شوی مسألی بربنډ کړی.

په نتیجه کی د داسی شرایطو له شته والی سره، د اجراییه قوی د څارنی لپاره د پارلمان له امکاناتو څخه په غیر فعاله توکه کار اخیستل کیږی ( البته بیړنی حالات لکه، رسوا کونکی پیښی یا اضطراری حالت له دی امر څخه استثنایی دی). خو بیاهم دا د هر استازی دنده ده چی د اجرائیه قوی هدفونه او چالچلندونه ترغور او څیړنی لاندی ونیسی او پر هغو انتقاد وکړی.

## څلورلسم فصل

# په امنیتی برخو کی په کار لویدلی میکانیزمونه

ټول قانونی نظامونه پر سیاسی پالیسی باندی د څارنی، د هیواد د اداری په شکل، له وګړو څخه د ساتنی او د زورزیاتیو او بی عدالتیو د کشف او شنډولو په موخه د پارلمانونو لپاره د معلوماتو د راټولو امکانات برابروی. همداراز پارلمانی استازی کولای شی چی له مناسبو او غیر رسمی لارو چارو څخه چی د قوانینو، قانونی وسیلو او ډول ډول میکانیزمونو بشپړونکی دی، کار واخلی.
پارلمانونه له حکومت څخه د معلوماتو د راټولولو لپاره له دری قانونی لارو کیدای شی چی استفاده وکړی:

- **پارلمانی بحثونه**
- **پارلمانی پوښتنی او استیضاح**
- **پارلمانی تحقیقات**

### د امنیت پر سر پارلمانی بحثونه

د امنیتی مسألو په هکله پارلمانی بحثونه د حقایقو او د حکومت د هدفونو په اړوند د معلوماتو د راټولو او د نظریاتو د تبادلی لپاره مناسبه موقع برابروی. په عمومی توګه، د امنیتی مسألو او تدبیرونو په اړه د پارلمان بحثونه په پنځو مختلفو حالتونو کی سرته رسول کیږی:

- د اجراییه قوی له خوا د دفاعی کلنی بودجی له وړاندی شوی طرحی څخه وروسته؛
- د اړوندو وزیرانو، په خاصه توګه د دفاع او بهرنیو چارو د وزیرانو، د رسمی او غیر رسمی څرګندونو په اړه؛
- د ملی دفاع د کتنی په اړه، د دفاعی رسمی رپوټ د وړاندی کونی او یا د هر ډول ملی دفاع د اصلی سند په اړه؛
- د حکومت د پروګرامونو په اړه چی اکثرا له انتخاباتو څخه وروسته اعلامیږی؛
- هر ډول خاصه مسأله چی د پارلمان د بحثونو غوښتنه وکړی، د بیلګی په توګه، د یوی سیاسی رسوا کونکی قضیی د رامینځ ته کیدو په وخت کی، د امنیتی اندیښنو او یا د مصیبتونو په وخت کی.

**۳۰- چوکاټ**

**د پارلمانی میکانیزم ګډ ځانګړیتوبونه او پر اجراییه قوی دڅارنی لاری چاری**

**عمومی بحثونه**

«په ځینو هیوادونو کی د اساسی قانون احکام اجراییه قوی ته دنده ورکوی چی په منظمه توګه د هیواد د اداری په هکله پارلمان ته رپوټ وړاندی کړی. (...) په ډیری هیوادونو کی د عامی پالیسی اړوند مسألی وخت په وخت تر غور لاندی نه نیول کیږی. ډیری وخت یواځی دپارلمان د یو غړی په غوښتنه دغسی یو کار کیږی (...).»

- **استیضاح**

«(...) استیضاح د معلوماتو د لاس ته راوړلو او د پارلمان په لرغونی نظام کی د څارنی د عملی کولو لپاره یوه لاره چاره ده. له وزیرانو د هغوی د وزارتونو د کار په هکله او له جمهور رییس څخه د هیواد د عمومی پالیسی او وضعیت په هکله د پارلمان یواستازئ یا استازي استیضاح اخلی. هر استیضاح دوه اصلی ځانګړیتوبونه لری: لومړی داچی هغه د عامو خبرو اترو لامل ګرځی او دوهم دا چی له استیضاح سره سیاسی تحریم جوخت دی، ځکه هغه د حکومت له خوا د څرګندونو په هکله چی د پارلمان د رضایت یا نارضایت لامل ګرځیدلی د راییو اخیستنی سبب کیږی. استیضاح یوه اغیزمنه لاره چاره ده، ځکه وزیران د رپوټ ورکونی لپاره مستقیما غوښتل کیږی. دغه طریقه یواځی د معلوماتو د لاس ته راوړلو لپاره نه ده، بلکه د مستقیمی څارنی لاره ده (...).»

- **د ځنډونی وړاندیز**

«که څه هم د بریتانیا په نظام کی د استیضاح تر نامه لاندی کومه پروسه نه شته، خو هغی ته ورته د «د ځنډونی وړاندیز» شته دی. ځنډونه ( مؤقتی تعطیل) تیک له وقفی څخه مخکی پیل کیږی او له حکومت سره د ځینومسألی پر سر د غږیدو ـ له راییو اخیستلو څخه مخکی ـ لاره اواروی (...).»

- **پوښتنی او ګرویځنی**

« د پوښتنی یا د تحقیق(...) له پروسی څخه مقصد د هیواد له مشرانو څخه د ټاکلو معلوماتو لاس ته راوړل، د هغوی د مداخلی لپاره غوښتل او د اړتیا په صورت کی د ناوړه استفادو بربنډول او له دی کبله د اړول شوی تاوان معلومول دی. همداراز تحقیق د هغو حقایقو جزییاتو ته د لاس رسیدو لپاره لاره اواروی چی پارلمانی غړی په پارلمان کی د مطرح شویو قانونی اسنادو د پوهیدو لپاره ورته اړتیا لری (...). دا پروسه د مخالفانو لپاره هغه یو سند دی چی غواړی د حکومت کمزورتیا پری بربنډ کړی. له کومه ځایه چی دغه کمزورتیا لانجی راپاروی، د حکومت د سمون لپاره ګټه کوی (...). د دغی پروسی غوره والی په دی کی دی چی د پارلمان غړی د پوښتنی او ګرویځنی لپاره له خپل قانونی حق څخه په آزاده توګه استفاده کوی.

- د تحقیق کمیټی: ۳۲ چوګاټ ته دی کتنه وشی.

سرچینه: پارلمانونه، د Michel Ameller لیکنه، بین الپارلمانی اتحادیه، ۱۹۹۶

## تحقیق او پارلمانی امنیتی استیضاح

پوښتنی ـ څه لیکل شوی یا څه شفاهی ـ د پارلمان د پلټونکی ورته چالچلند څخه شمیرل کیږی چی د حکومت په کړو وړو باندی د پراخی څارنی په موخه تری استفاده کیږی.
د تحقیق د پروسی بنسټیز نقش ته پاملرنی سره، پوښتنی کولای شی چی پر امنیتی ادارو باندی د اغیزمنی څارنی لپاره ښه مرسته وکړی. په عمومی توګه د امنیت په هکله د پارلمان پوښتنی..:

- پارلمانی غړو ته موقع ورکوی ترڅو د حکومت دفاعی او امنیتی پالیسیو په هکله په خپل وخت، دقیق او نوی معلومات لاس ته راوړی؛
- د پارلمان له خوا تصویب شوی امنیتی احکامو د پلی کولو په څارنه کی مرسته کوی؛
- امنیتی او دفاعی موضوعاتو د عامو خلکو پام اړوی، په خاصه توګه کله چی پوښتنه شفاهی وی او د هغی ځواب د تلویزیون له لاری خپور شی او یا په پارلمان کی تر بحث لاندی ونیول شی او یا د حکومت د خپرونو له لاری خپور شی (څرګنده ده چی د پارلمانی پوښتنو معلوماتی اړخ یواځی د پارلمان ساحی پوری تړلی نه دی؛ د پوښتنو موخه د خبری رسنیو، غیر حکومتی سازمانونو او مدنی ټولنی په ګډون د یو ستر مخاطب خبرول دی).

- کيداى شي چې په امنيتي موضوعاتو کې د حکومت پر سياسي اجندا باندې اغيزه وکړي او هغې ته مهم بدلون ورکړي؛
- په پارلمان کې د حکومت مخالف اړخ ته اجازه ورکوي ترڅو اړوندو امنيتي مسألو يا د هغو مسألو په هکله چې تر اوسه پورې قانع کونکې معلومات لاس ته نه دي ورغلي، پوښتنې مطرح کړي؛
- د امنيتي برخې په اړوند پارلماني پوښتنې، تر زياتې کچې، ډيرې حساسې دي. هغه وزير چې پارلماني پوښتنو ته د ځواب ورکولو مسؤليت لري، ډيرې وخت علاقه نه لري چې هغو ته ځواب ورکړي. دغه نه علاقه ډيرې وخت د امنيتي برخې د فعاليتونو د محرميت خصوصيت پورې اړه نيسي. اکثرا ملي امنيت پورې تړلې اسناد محرم دي نو په دې وجه نه د پارلماني او نه د عامو خلکو په اختيار کې کېښودل کيږي.

### ۳۱- چوکاټ
## د اغيزمنو پوښتنو لپاره وړانديزونه

- **بشپړ چمتوالى:** د امنيتي مسألو په هکله د تخنيکي پوښتنو مطرح کول نا ممکن دي. له پوځي پرسونل سره اړيکې (يا هغو کسانو سره چې پوځي او پارلماني سابقه لري) کيداى شي چې په دې برخه کې ډيره زياته مرسته وکړي.
- **څرګند او ښکاره بيان:** په پوښتنه کې نه څرګندوالى ښايي د غلط پوهې سبب وګرځي او کيداى شي چې د وزيرانو له خوا نيمګړى او ناسم ځواب ورکړ شي.
- **مناسب وخت:** د يوې پوښتنې وخت او زمان ډير مهم دى او هغه کيداى شي چې د تبليغاتي لحاظه اغيزمن وي.

خو د معلوماتو د محرميت لپاره د اجراييه قوې قانوني اختيارات محدود دي. سر بيره پر دې د اسنادو د محرميت پروسه بايد په بشپړه توګه روښانه وي؛ تر څو د تصميم نيونې مسؤل شخص په دې هکله پريکړه وکړي چې کوم سند محرم وګڼل شي، او تر کومې مودې او د محرميت او غيرمحرميت شرايط څه دي.
ترکومه ځايه چې د پارلمان سازماني جوړښت پورې اړه نيسي، دغه لاندې لاملونه کيداى شي چې په پارلماني پوښتنو کې اغيزمن شي:

- استازو ته دا امکانات برابرول چې بشپړونکې پوښتنې مطرح کړي، که چيرې مخکې له هغې قانع کونکې ځواب نه وي ترلاسه کړى او يا زياتو څرګندونو ته اړتيا ولري؛
- استازو ته دا امکانات برابرول چې له وزيرانو څخه د پوښتنو په غونډو کې عنوان شويو مسألو باندې بحث وکړي؛
- له هغه يو لاربنود ليک څخه برخمن کيدل چې له حکومت څخه د پوښتنو لاره آسانه کوي؛
- له حکومت څخه د پوښتنو او ځوابونو په غونډو کې د عامو خلکو د ګډون امکاناتو برابرول او يا د راډيو او تلويزيون له لارې د بحثونو خپرول؛
- د بحثي مسألو په هکله د تبليغاتي فعاليتونو امکانات برابرول او د پوښتنو او ځوابونو د متن خپرول ترڅو د ټولو خلکو په اختيار کې کېښودل شي.

## د امنيتی مسألو په برخه کی د پا رلمان ځانګړی تحقيقات

د پارلمان کميټی د قانون جوړونی د دندو تر څنګ د دولت پر پاليسيو باندی په اغيزمنی څارنی کی هم برخه لری. د دولت فعاليتونه کيدای شی چی د معلوماتو د راټولولو د بيرنيو ماموريتونو له لاری چی ديری وخت له يوی کميټی څخه زيات په کی لګيا وی او بيا معلوماتی رپوټ خپروی، تر نظر لاندی ونيول شی. د پارلمان ځانګړی پوښتنی او پلټنی بايد د احضارولو لپاره د قضاييه قوی له اختياراتو څخه هم برخه من وی.

### د تحقيق د کميټو امتيازات او مهم ځانګړيتوبونه

- دفاعی/امنيتی مسألو ته په پاملرنی سره د تحقيق بيرنی کميټی چی له خاص اهميت څخه برخه منی دی، بی شميره ګټی ورسره جوخت دی، په خاصه توګه:
- د داسی کميټو جوړول له سياسی نظره، بيا په خاصه توګه د خلکو له خوا، مثبت کار ګڼل کيږی؛
- دغه کميټی ښايی د امنيتی ادارو په اړه د سياسی مسألو د جزيياتو د ژوری څيړنی لپاره ډيری مناسبی لاری چاری وی؛
- دغه کميټی کولای شی چی د امنيتی خاصو مسألو په اړه د حکومت د پاليسيو يو ځانګړی ارزونه وکړی او د اړتيا په صورت کی د حکومت د پاليسيو د آزموينو لپاره ځينی وړانديزونه وړاندی کړی چی ښايی د پارلمان او حکومت له خوا ومنل شی.

**۳۲- چوکاټ**

### د پارلمان د تحقيق د کميټو مهم ځانګړيتوبونه

«(...) د تحقيق له کميټو څخه د ځينو خاصو مسألو د څيړلو لپاره کا راخيستل کيږی. په همدی موخی، پارلمان خپل ځينی غړی د څارنی لپاره د معلوماتو راټولولو په مقصد ګمارلی دی چی دغه افراد هغسی رپوټونه برابروی چی د هغو له مخی ـ د پارلمان په خوښه ـ د بحث او تصميم نيونی لپاره غونډی دايريږی. هر ډول تحقيق او پلټنه د پارلمانی ضوابطو طبيعی اصل دی چی د هغه پر اساس پارلمان بايد له هغو چارو څخه پوره خبرتيا ولری چی اجراييه په کی لاس لری (...).

په ځينو هيوادونو کی د تحقيق د کميټو لپاره ګرانه ده چی په اغيزمنو پلټنو لاس پوری کړی. معمولا دغه کميټی د افرادو د احضار له صلاحيت څخه برخه منی نه دی، هغوی يواځی په محکمو کی د احضار له چلند څخه کار اخلی. دغه مسأله د دی لامل ګرځی چی حکومتی چارواکی د هغو په کار کی لاس وهنه وکړی او يا د کميټو د کار بهير له خنډ سره مخامخ کړی او نتيجه دا کيږی چی د داسی کميټو د تحقيقاتو اغيزی کميږی (...). د داسی حالت درلودلو سره غوره ده چی پارلمانی تحقيقات د قسم په يادولو سره سرته ورسول شی ، ترڅو د هغو اغيزمنتوب خوندی وساتل شی (...).

د تحقيق کميټو ته د حکومت د چا رواکو له خوا وړاندی شوی اسناد کيدای شی چی ځينی ستونزی پيدا کړی، ځکه هغوی د اړوندی وزارتخانی د وزير تر لاس لاندی عمل کوی. پوښتنه دا ده چی حکومت تر کومه ځايه کولای شی چی خپل کارکونکی پارلمان ته د ځواب ورکولو څخه منع کړی؟ (...) که څه هم په ځينو هيوادونو کی له اړوند وزارت څخه اجازه اخيستل الزامی دی، خو هغه وزارت خپله بايد د اسنادو له وړاندی کونی څخه ډډه ونه کړی، مګر داچی د اسنادو وړاندی کول عامه امنيت ته تاوان ورسوی او عامه چاری له خطر يا ستونزو سره مخامخی کړی (...).
د يادونی وړ ده چی د تحقيقاتو د ترسره کولو لپاره هرډول کميټی چی جوړيږی، پرته له يو تحقيقاتی

ارګان څخه بل څه نه دی، هغوی یواځی پارلمان ته د رپوټ ورکونی دندی په غاړه لری. دا یواځی پارلمان دی چی له دغو تحقیقاتو او معلوماتو څخه تل نتیجه واخلی او د هغو پر بنسټ پریکړه وکړی.»

سرچینه: پارلمانونه، Michel Ameller، بین الپارلمانی اتحادیه، ۱۹۹۶

د دغو کمیټو بل مهم ځانګړیتوب د هغو جوړښت دی. د استازو د اقلیت او اکثریت تناسب چی د دغی کمیټو غړی دی، د هغو کمیټو د تحقیقاتو په نتایجو کی غوڅ اهمیت لری. د تحقیقاتو د ترسره کولولپاره د یو پارلمان قدرت او اختیار تر بل پوری او یا د یوی کمیټی تر بلی پوری ډیر زیات توپیر لری. اصلی قدرت هغه یو قدرت دی چی وکړای شی:

- د پارلمان د تحقیقاتو موضوع او پرخوالی خپله وټاکی؛
- له پوځی هډو او امنیتی ادارو له قرارګاوو څخه لیدنه کتنه وکړی (اوولسم فصل دی وکتل شی)؛
- اړوند معلومات او اسناد تر لاسه کړای شی، چی په هغو کی له جمهور رییس، اجراییه قوی او د هیأت له مشری څخه فوق العاده پټ او محرم اسناد هم شامل دی؛
- د جمهوری ریاست له کا رکونکو، د حکومت له اجراییی ارګان، پوځ، حکومتی چارواکو او د مدنی ټولنی له غړوڅخه تر لوړی لاند ی شهادت اخیستل؛
- د ښکاره او غیر ښکاره غونډو دایرول.

په سومالیا کی د کانادایی سرتیرو په هکله د هغه هیواد تحقیقات د دی واقعیت ډیره ښه بیلګه ده (۳۳ چوکاټ دی وکتل شی).

**۳۳- چوکاټ**

## په سومالیا کی د کانادایی ځواکونو د استقرار په هکله د تحقیق کمیسیون: د امنیتی موضوعاتو پر سر د پارلمان د عامه رپوټونو د اغیزو بیلګه

په سومالیا کی د کانادایی ځواکونو د خوندی کیدو په موده کی په کال ۱۹۹۳ کی ځینی پیښی برببنډی شوی چی ډیری کاناداییانو ته یی سخت ټکان ورکړ: په یو شمیر سومالیاییانو باندی چی د Belet Huen نومی قرارګاه ته ننوتلی ؤ، ډزی کول، د کانادا د هوایی غنډ د دوو کوماندویانو له خوا د یو نیول شوی سومالیایی ځوان د مرګ تر سرحده پوری وهل او ټکول، د احتمالی ځان وژنی لپاره د دغو سرتیرو د یوه تصمیم او د معلوماتو له ورکړی څخه د سرغړونو یا د مهمو معلوماتو د تحریف ادعاوی.
هغه ویدیویی کسیټونه هم کشف شول چی د سر تیرو د کرکجنو او جنایی عملونو څخه ویندویی کوی. د دغو پیښو په هکه کوم پوځی پلټونکی پلاوی چی ګمارل شوی ؤ، په کانادا کی د عامه ځواب ورکونی د معیارونو د ساتنی او پام کی نیونی سره د حکومت له خوا بی کفایت وګنل شو. په همدی وجه د کانادا پارلمان دغی موضوع باندی د غورلپاره ښکاره پلټنی په لاره واچولی.

**حدود او اختیارات -** د پلټنی او تحقیق قانون د شاهدانو احضار، د هغوی شهادتونو ته غوږ نیول، د مشاورینو او وکیلانو استخدام او د اسنادو راټولو ته اجازه ورکوی. دا صلاحیت چی خلک شهادت ورکونی ته احضار کړای شی په سومالیا کی د پیښو او د کانادا د دفاع وزارت په سویه د چارو د روښانه کولو لپاره خورا مهم میکانیزم ؤ. د دغو تحقیقاتو حدود یواځی د سومالیا په پیښو پوری تړلی پاتی نه شوو، بلکه د هغه هیواد د قوماندی نظام، د کانادایی ځواکونو انضباط او چالچلند او د دفاع وزارت له خوا نیول شوی تصمیمونه هم تر پوښتنو او ګرویځنو لاندی ونیول شول. د دغو تحقیقاتو دوهمی برخی د کمیسیون غړی دی ته واړول چی په سومالیا کی د کانادایی عسکرو له خوندی کیدو څخه مخکی پیښی او همدا راز د جګړی په ترڅ کی پیښی تر پلټنی لاندی ونیسی.

**نه محاکمه -** که څه هم دغو پاسنی تحقیقاتو د هغو اساسی لاملونو، ځوابونو او پیښنو چی د افرادو له محاکمی څخه مخکی رامینځ ته شوی ؤ، پلټنی کولی، خو د افرادو د محاکمه کولو په مقصد سرته نه رسول کیدل. د دغو تحقیقاتو مهمه پاملرنه ډیره زیاته بنسټیزو مسألو او د کانادا د پوځ او د دفاع وزارت جوړښت ته شوی وه ،نسبت ودی ته چی په دغو ارگانونو کی استخدام شویو کسانو ته وشی. خو بیاهم، دغه ډول پاملرنی هم دی ته اړتیا درلوده چی د قوماندی په نظام کی د افرادو چلند او د هغوی ریاست څرنگوالی پلټنی لاندی ونیسی.

**نتیجی -** د دوو کلونو د تحقیق نتیجه هغه یو اوږد رپوټ ؤ چی په هغه کی د سومالیا د ماموریت په موده کی د کانادایی پوځ د جوړښت په هکله مسألی روښانه کړای شوی ؤ؛ هغه نور مسألی چی هغه کی تری یادونه شوی وه عبارت ؤ له پوځی اخلاقی فرهنگ او اصول، په کانادا کی پوځی - ملکی اړیکی او داسی نور مسألی. دغه تحقیقات د حکومت او پوځ په پالیسو او چالچلندونو کی د بنسټیز بدلون په موخه له یو لړ وړاندیزونو سره پای ته ورسول شول. ددغو وړاندیزونو ځینی همدا اوس د چمتوالی او پلی کولو په پړاو کی دی.

سرچینه: پروفیسور Donna Winslow، د کانادا د پارلمانی تحقیقاتو حقوقی مشاور، ۱۹۹۶

## پنځلسم فصل

# د دفاع اوامنيت پارلمانی کميسيونونه

د امنيتی ادارو د پيچلی جوړښت په پام کی نيونی سره د پارلمان لپاره دهغه يو کميسيون شته والی خورا ژوند ښنونکی اهميت لری چی وکړای شی پر اجراييه قوی باندی اغيزمن وی. پر امنيتی اداره باندی پارلمانی څارنه نه يواځی د يوه بلکه تر مختلفو نومونو لاندی د څو کميسيونو- چی په ځينو حالاتو کی د هغوی دندی سره ګډيږی ـ د شته والی ضمانت کوی.
دغه لاندی کميسيونونه ډير زيات مروج دی چی کله کله هم ګډی غونډی جوړوی:

- د دفاع کميسيون (کله هم د وسلوالو ځواکونو د کميسيون، د دفاع او ملی امنيت کميسيون او کله هم د بهرنيو چارو کميسيون) په امنيتی برخی کی د اړوندو مسألو، لکه هدفونه، جوړښتونه د پرسونلو فعاليتونه او د پوځ د بودجی طرحه، جلب او احضار او تدارکاتی موضوعاتو په څيړلو لاس پوری کوی؛
- د بهرنيو چارو کميسيون د سولی په ماموريتونو کی د ونډی لپاره د نيول شويو تصميمونو، په خپله خاوره کی د سوله ساتو ځواکونو د تأييد يا نه تأييد، ملی امنيت، نړيوال يا سيمه ايز سازمانونه، تړونونه، ژمنی او داسی نور ملی او بين المللی مسألو باندی غور کوی؛
- د بودجی يا مالی کميسيون د ټولو امنيتی ادارو د بودجو په هکله د ورستی تصميمونو دنده په غاړه لری ؛ احتمالا هم د عامه حسابونو کميسيون چی د دفاعی بودجی په شمول د ټولی ملی بودجی لپاره د ملی پلټنی رپوټونو باندی غور کوی؛
- د استخباراتو اصلی کميسيون (يا فرعی کميسيون) چی ډيری وخت د تړل شويو دروازو تر شا غونډی کوی؛
- د سوداګری او صنعت کميسيون چی په خاصه توګه پوځی او تجاری تدارکاتی چاری په غاړه اخلی (تاوانونه او غرامات)؛
- د علومو او تکنالوجی کميسيون چی په پوځی تحقيقاتو او اړوندو پرمختګونو باندی غور کوی؛
- د کورنيو چارو کميسيون چی دپوليسی ځواک، سرحدی ځواک او د نيمه پوځی سازمانونو د ځواکونو د چارو د څيرلو دندی په غاړه لری.

## اختيارات او وسيلی

د بهرنيو سرچينو له لاری د اسنادو او معلوماتو د راټولوو لپاره د پارلمانی کميسيونو صلاحيتونه له يو بل سره توپير لری. ځينی پارلمانی کميسيونونه لکه د بريتانيا د عوامو د مجلس خاص او بيرنی کميسيون نه شی کولای چی په خپل سر د معلومات په راټولولو لاس پوری کړی، حال دا چی ځينی نور، لکه هغه چی د امريکا په کانګرس کی دی، د بهرنيو منابعو له لاری د معلوماتو د راټولولو لپاره څه ناڅه له نامحدودو اختياراتوڅخه ـ البته د لوړی د يادونی په شرط ـ برخه من دی. د پارلمان ځينی کميسيونونه د قانون ټاکنی، تصويب او حتی د قانون د مسودی جوړونی او هم په موجوده قوانينو کی د سمون راوستلو اختيارات لری، خو ځينی نور يواځی د اجراييه قوی پرچالچلندونو او د بودجی د ټاکنی باندی غور کوی، پرته له دی چی د قانون جوړونی صلاحيت ولری.

هغه امکانات، وسايل او تخصص چی د کميسيونونو په اختيار کی ايښودل کيږی د هغوی د دندو په ترسره کولو کی خورا اهميت لری. د دغو تخصصونو په جمله کی کيدای شی چی د کميسيون د غړو د تواتمندی او ثبات څخه نوم واخيستل شی. همدا راز دغه نور تخصصونه هم د يادونی وړ دی: د څيړنی

خصوصیت او وړتیا (د عامو مسألو په وړاندی تخصص، خپلواک یا د پارلمان د تحقیقاتی ستر بنسټ د یو برخی په توګه تخصص)؛ معلوماتو او بشپړونکو اسنادو ته لاس اوږدول (د هغو اسناد بیا چمتو کونه او د هغو د لاس ته راوړنی امکانات)؛ د کارپوهانو د مرستو لپاره د غوښتنی امکان؛ او د لازمو تحقیقاتو د سرته رسولو د امر ورکولو امکان. (د زیاتو معلوماتو لپاره څلورلسم فصل کی د میکانیزمونو او پارلمانی وسیلو موضوع ته مراجعه وکړی).

**۳۴- چوکاټ**

## په دفاعی او امنیتی مسایلو کی د یوی پارلمانی کمیټی احتمالی مهمی دندی

**امنیتی پالیسی**

- د دفاع وزارت په نوښت د هر ډول اعلان شوی پالیسی په هکله پلټنه او رپوت ورکول؛
- په دی هکله وخت په وخت پلټنه چی آیا د دفاع وزارت خپلی دندی په سمه توګه سرته رسولی دی که نه؛
- په دی هکله دقیقه پلټنه چی آیا د دفاع وزارت د معلوماتو د آزادی له قانون سره سم عمل کړی او هم په دی هکله پلټنه چی پارلمان ته د هغه وزارت د معلومات ورکونی کیفیت څرنګه دی؛
- په امنیتی برخو کی د پوځی او ملکی پرسونل د عرایضو او شکایتونو پلټنه.

**قانون جوړونه**

- د حکومت له خوا په پیشنهادی مسوده شوی قانون چی پارلمان پری غور کوی کتنه او په دی هکله رپوت ورکول؛
- د دفاع وزارت د مسؤلیتونو په چوکاټ کی د نړیوال یا سیمه ایزو تړونونو او موافقو باندی کتنه؛
- د اړتیا په صورت کی له وزیر څخه دی وغوښتل شی چی د یو نوی قانون وړاندیز وکړی او یا خپله دی د یو قانون مسوده وړاندی کړی؛

**لګښتونه**

- د دفاع وزارت د عمومی اټکل شوی او کلنی لګښتونو په هکله کتنه او رپوټ ورکول؛
- د دفاع وزارت له خوا د وړاندی شوی هر تخمینی اضافی لګښت باندی کتنه او په دی هکله د غوښتنی په صورت کی د لا زیاتی کتنی لپاره پارلمان ته رپوټ ورکول؛
- د اړتیا په صورت کی مستعدو چارواکو ته امر کول تر څو په دی اړه په یوی مالی پلټنی لاس پوری کړی.

**منجمنت او اداره**

- د اجراییه قوی د اړوند چارواکی له خوا د لوړ پوړو چارواکو د هری ټاکنی په هکله غور او د اړتیا په صورت کی د معلوماتو لاس ته راوړل او په دی هکله رپوت ورکول (د بیلګی په توګه لوړ پوړو پوځی قوماندانانو، لوړ پوړو ملکی چارواکو)؛
- د دفاعی برخی پر داخلی تشکیلاتو کتنه، کیدای شی چی دا کار په پارلمان پوری د اړوندو ارګانونو له خوا سرته ورسول شی (پارلمانی پلټونکی)؛ همدا راز د احتمالی ناوړه چلند په هکله د پارلمان پام اړول.

سرچینه: د پارلمانی ژوری کتنی په هکله د Hansard Society Commission درپوټ پر بنسټ، بریتانیا، ۲۰۰۱

په لاندې ۳۵ چوکاټ کې د ناروې د پارلمان د کار څرنګوالې د يو مثال په توګه وړاندې شوې دی.

**۳۵ - چوکاټ**

## د ناروې د پارلمان (Storting) د بهرنيو چارو او دفاعي کميټو ګډې غونډې

«د بهرنيو چارو د سترې کړاى شوې کميټې دنده دا ده چې له حکومت سره د مهمو بهرنيو، تجارتي او د ملي امنيت د پاليسيو پر موضوعاتو باندې بحث وکړي. دغه بحثونه بايد د مهمو تصميمونو له نيولو څخه مخکې سرته ورسيږي. په خاصو حالاتو کې ستره کړاى شوې کميټه کولاى شي چې پارلمان ته خپل سپارښتونه وړاندې کړي.

ستره کړاى شوې کميټه د پارلمان د بهرنيو چارو د کميټې له عادي غړو، د پارلمان د رييس او مرستيال (البته که چيرې مخکې له دې د هغې کميټې غړيتوب ونه لري)، د پارلمان د دفاعي چارو د کميټې د رييس او يولس نورو غړو څخه چې د انتخاباتي کميټې له خوا ټاکل کيږي، جوړه شوې ده. کله چې دغې سترې کړاى شوې کميټې ته ټاکنې کيږي، بايد په پارلمان کې د موجودو ډلو د استازيتوب تناسب دې هم په پام کې ونيول شي.

د همدې اصل له مخې د انتخاباتو کميټه مرستيالان هم ټاکي چې هغوى به د کميټې د اړوند غړو د هر ډول غيابت په صورت کې (د رخصتي په شمول) په کميټه کې ګډون کوي.

دغه کميټه هغه وخت خپل غونډه دايروي چې د هغې رييس د هغې د دايرېدو ضرورت ووينې يا د دهغې د دايرېدو لپاره لومړى وزير، د بهرنيو چارو وزير يا د کميټې يو پر دريمه غړي غوښتنه وکړي.

په سترې کړاى شوې کميټې کې خبرې او بحثونه بايد پټ وساتل شي، مګر داچې مخکې له مخکې په څرګنده توګه د هغو د ښکاره کولو لپاره موافقه شوې وي. دغه اصل د د دغې کميټې او نورو کميټو تر مينځ د ګډو غونډو په برخه کې هم د تطبيق وړ دی.

رييس کولاى شي چې تصميم ونيسي چې حتى د کميټې غونډو ته احضاريدل هم پټ وساتل شي.

د بهرنيو چارو د سترې کړاى شوې کميټې د يوې غونډې په اجندا کې يوه موضوع هغه وخت کيداى شي چې د پارلمان يوې غونډې کې تر بحث لاندې ونيوله شي چې د هغې کميټې لږترلږه ۶ غړي په يوه غونډه کې د هغې لپاره غوښتنه وکړي. کميټه بايد په دې هکله غور وکړي چې آيا په پارلمان کې د کتنې لپاره شرايط چمتو دي که نه او د داسې شرايطو د شته والي په صورت کې د پارلمان رياست ته بايد خبرتيا ورکړاى شي. پارلمان په پټه توګه تصميم نيسي چې دغسې يوه غونډه په پټه توګه دايره شي او که هغه د عامو خلکو په مخ پرانيستې پاتې وي. د پارلمان ملاحظه بايد د حکومت له خوا په يوې وينا کې د حکومت د يو غړي له خوا وړاندې شي. د هغې موضوع په هکله بحث کيداى شي چې د دغې وينا سره سمدلاسه پيل شي او يا وروسته په يوې بلې غونډې کې چې تصميم يې د پارلمان په لاس کې دی. کميټه نه شي کولاى چې په دې غونډه کې وړانديزونه وړاندې کړي چې هغه دې هرمرو په پام کې ونيول شي».

سرچينه: د ناروې د پارلمان د کار د څرنګوالي د مقرراتو ۱۳ برخه.
(Storting: http://www.stortinget.no/g)

## هغه څه چی تاسی د پارلمان د استازی په توګه سرته رسولای شی

**هغه ساحی چی ستاسو په پارلمان یا شورا کی د دفاعی چارو د یوی کمیټی له خوا تر کتنی لاندی نیول کیدای شی**

- د هغی کمیټی او د هغی د احتمالی فرعی کمیټی یا کمیټو صلاحیت تر کتنی لاندی ونیسی ترڅو ډاډه شی چی؛
  - هغه ښه تعریف شوی دی؛
  - هغه کمیټه اجازه ورکوی چی ټولو برخو باندی ژوره کتنه او غور وکړی؛
  - هغه له امنیتی پالیسی او د وزارت د مقام په سویه د پالیسیو له دندو سره سمون لری، هغه دندی چی ښایی امنیتی اغیزو سره تړاو ولری، لکه د بهرنیو چارو، هوایی/ سمندری امنیت صنایع، د انرژی تولیدی دستګاوی او داسی نور؛

**د پارلمان یو اغیزمنه کمیټه**

- ډاډ لاس ته راوړی چی ستاسو په پارلمان یا شورا کی اړونده مستعده کمیټه او فرعی کمیټه له هغو میکانیزمونو څخه برخه منی دی چی په ۳۴ چوکاټ کی تشریح شوی دی - هم په قانون او د عمل په ساحه.
- د دفاعی چارو د ځینو خاصو ساحو لکه بودجی، تدارکاتو، پرسنول اود سولی ماموریتونو لپاره د فرعی کمیټی ګمارل په پام کی ونیسی.
- د امنیتی برخی د معلوماتو د پالیسی او د دفاعی لګښتونوپه اړوند د غور او کتنی د یوی ځانګړی پروسی لپاره قانون جوړونه په لاره واچوی.
- ډاډ پیدا کړی چی دغه کمیټه د کارپوهانو له مشورو څخه د کار اخیستلو په شمول له کافی امکاناتو څخه برخه منه ده.
- د امنیتی برخی پر سر د پارلمانی څارنی لپاره نړیوال چمتو کړای شی غوره چالچلندونه تر غور او کتنی لاندی ونیسی.

## شپاړسم فصل

# شکایتونو ته د ځواب ورکونی لپاره خپلواک چاروا‌کی

د امنیتی برخی د څارنی لپاره د خپلواکو تأسیساتو د چاروا‌کو په ډله کی شکایتونو ته د ځواب ورکوخپلواک چاروا‌کی خپل ځانګړی ځای لری. په ځینو هیوادنو کی دغه چاروا‌کی عمومی دنده لری او ټول هغو ستونزو باندی کتنه کوی چی د حکومتی اداری د ناوړه چالچلندونو څخه راپیدا کیږی. ځینی نور هیوادونه د دی کار لپاره بیا یو بل ارګان لری، لکه په نایجیریا کی د کمیسار یا د عامه شکایتونو د کمیټی په نامه یادیږی. خو ځینو نور هیوادونو مخصوص شکایتی چاروا‌کی ګمارلی چی یوازی د وسلوالو ځواکونو سره سراو کار لری.

**۳۶- چوکاټ**
**شکایتونو ته د ځواب ورکونی لپاره خپلواک چاروا‌کی**

«(...) د شکایتونو چاروا‌کی دنده لری چی د تصمیمونو، چالچلندونو او یا د عامه چارو نیمګتیاوو په هکله د خلکو شکایتونو ته غوږ ونیسی او هغو ته ځواب ورکړی. د دغی دندی لپاره چاروا‌کی د پارلمان یا د حکومت د مشر له خوا، البته له پارلمان سره له مشوری څخه ورسته، ټاکل کیږی. دشکایتونو د چاروا‌کی نقش دا دی چی د حقوقو د سرغړونو، له قدرت څخه د ناوړه استفادی، اشتباهاتو، نیمګړتیاوو، غیر عادلانه تصمیمونو او ناوړه اداری پرخلاف له خلکو څخه ساتنه وکړی ، دا ټول په دی موخه سرته رسول کیږی چی عامه اداره اصلاح شی، د حکومت چاری شفافیت ولری او حکومت او د هغه مامورین د خلکو د استازو په وړاندی د حساب او ځواب ورکونی د مسؤلیت احساس وکړی.د شکایتونو د چاروا‌کی ماموریت کیدای شی چی د اساسی قانون په دننه کی تعریف شی او د قانون جوړونی د مرجعی له خوایی ملاتړ وشی او یا په یوی قانونی دوره کی دغه ماموریت جوړ شی (...).
د خلکو د حقوقو د ساتنی لپاره د شکایتونو چاروا‌کی مختلف صلاحیتونه لری:

**۱-** د دی مسألی پلټنه چی آیا د حکومت اداره د قانون خلاف یا غیر عادلانه عمل کوی که نه؛
**۲-** که چیری یوی ناپلوی پلټنی سره د حکومت په اداره کی یوه ناوړه چلند کشف کړای شی، د هغه د اصلاح لپاره سمدلاسه سپارښتنه؛
**۳-** په خاصو حالاتو کی د خپل فعالیتونو په هکله حکومت او شکایت کونکی ته خبر ورکول که چیری په دی خاص حالت کی د هغه سپارښتونو ته حکومت غوږ ونه نیسی، پارلمان ته خبر ورکول. د شکایتونو لپاره ډیر ګمارل شوی چاروا‌کی د خپلو فعالیتونو په هکله پارلمان او عام خلکو ته یو کلنی رپوټ برابروی.

د شکایتونو چاروا‌کی معمولا دا صلاحیت نه لری چی نیول شوی تصمیمونه یی حتما د حکومت له خوا ومنل شی. بلکه هغه یوازی د کارونو د سمون لپاره سپارښتنی کولای شی (...). په عمومی توګه، د عامه چارو د برخی د شکایتونو چاروا‌کی د حکومت د ارګانونو په یوی پراخی برخی باندی قانونی صلاحیتونه لری. په ځینو هیوادونو کی د صلاحیتونو دغه لمن قضایی، پولیس او پوځ ته پراخیږی، خو بنایی په ځینو نورو هیوادونو کی د دغو ارګارنونو یوه یا څو یی دشکایتونو د چاروا‌کی د څارنی له صلاحیت څخه لیری وساتل شی.

سرچینه: د شکایتونو د چاروا‌کی د نړیوال انستیتوت د معلوماتو رساله په دغه انترنتی پانه کی هم لیدلی شی:
http://www.lawa.ualberta.ca/centers/ioi
همدارازدغی سرچینی ته هم مراجعه وکړی: د بشری حقوقو لپاره د ملګرو ملتونو د عالی کمیساری،
Fact Sheet No 19, national Institutions fort he Promotion and Protection

## د دفاعی چارو لپاره د شکایتونو چاروا‌کی

د یو جلا ارګان په توګه، د دفاعی چارو لپاره د شکایتونو چاروا‌کی د مختلف هیوادونو په قوانینوکی تر مختلفو نومونو لاندی راغلی دی، لکه چی په فنلند، ناروی، پرتګال او آلمان کی د دفاع لپاره د شکایتونو چاروا‌کی په نامه یادیږی، په اسراییلو کی دغه چاروا‌کی د پوځی عسکرو د شکایتونو کمیسار په نامه، په کانادا کی د کانادا د ځواکونو او د ملی دفاع د وزارت د شکایتونو چاروا‌کی او په آسترالیا کی د آسترالیا د دفاعی ځواک د شکایتونو چاروا‌کی په نامه یادیږی.

**۳۷- چوکاټ**
**په ځینو هیوادنو کی د دفاعی چارو د شکایتونو د چاروا‌کی دندو ته کتنه**

| هیواد | نوم او مناسبت | دنده | سیاسی چاروا‌کو ته رپوټونه او د هغوی دریځ |
|---|---|---|---|
| آسترالیا | **- د دفاع د ځواک دشکایتونو مامور- د** وزیر د مقام په تصمیم تاکل کیږی | دآسترالیا د دفاع د ځواک د غړو له خوا د هر ډول ناوړه اداری چلند | - وزیر ته هر کال د رپوټونو سپارل تر څو هغه یی پارلمان ته وړاندی کړی |
| کانادا | **- د دفاعی چارو د شکایتونو چاروا‌کی -** وزیر د مقام په تصمیم تاکل کیږی | د ملی دفاع د وزارت د کارکونکو(DND) او د کانادایی ځواکونو(CF) د بشری حقوقو خوندی ساتنه | - DND یا CF ته په خاصو حالاتو کی رپوټ ورکول. د فعالیتونو په هکله وزیر ته کلنی رپوټونه. - ناپلوی او بیطرف بورد - د دفاع وزیر له اداری او منجمت څخه خپلواک. |
| ناروی | **- د دفاعی چارو د شکایتونو چاروا‌کی - د** ناروی د پارلمان کاری چوکاټ لاندی | د هر عسکر د سوکالی تأمینول؛ دننبتو په حل کی مرکزی نقش لرل او د دفاعی تآسیساتود مختلفو برخو په مینځ کی د اعتماد او پرانیستی فضا خوندی ساتل. | د سپارښتونو، ارزونو او انتقادونو کول چی اړوند عامه ارګانونه په خپله خوښه هغو سره سم عمل وکړی. |

د شکایتونو چاروا‌کی د خلکو او یا د پارلمان په استازیتوب پر پوځ د څارنی لپاره د یو اضافی جوړښت څخه نمایندګی کوی. د پوځی شکایتونو د چاروا‌کی مهمه دنده دا ده چی د امینتی خدماتو، په خاصه توګه په پوځی چاروا‌کی، د اړوند مسؤل وزیر په استازیتوب د ادعا شوو خپل سرو تصمیمونو او یا ناوړه چلندنو په هکله پلټنه وکړی.

د پوځي شکايتونو د چارواکي اداري مقام له يو سياسي سيستم څخه تر بل پوري توپير لري. د دفاعي چارو د شکايتونو چارواکي کيداى شي چې د پارلمان له خوا وټاکل شي او پارلمان ته رپوټ ورکړي (آلمان، سويډن)، يا کيداى شي چې د دفاع وزير له خوا وټاکل شي (اسرائيل، کانادا). د شکايتونو چارړکي ځيني په پارلمان کې خپل دفتر لري (لکه په آلمان کې، د آلمان د وسلوالو ځواکونو لپاره دآلمان پارلماني کميسار، ۳۸ چوکاټ دی وکتل شي) يا کيداى شي چې د هغه دفتر له پارلمان څخه بهر وي، لکه په سويډن کې.

هغه وګړي يا پوځيان چې د پوځيانو له خوا ورسره ناوړه چلند شوی دی، کولای شي د شکايتونو له چارواکي څخه وغواړي چې په موضوع کې پلټنه وکړي. سر بيره پر دی، پارلمان استازی کولای شي چې د شکايتونو له چارواکي څخه وغواړي چې د ادعا شويو سرغړونو يا شکايتونو په هکله پلټنه وکړي. هغه دوسيې چې د شکايتونو د چارواکو له خوا په دی اړه تر پلټنې لاندی نيولی کيږي، د عسکری څخه د معافيت، د عسکری د اجباری خدمت تعجيل، د عسکری د خدمت په موده کې تبديلی، ماکولات، له عسکری څخه ترخيص، د غيابت اجازه، انضباطي او د سزاوړ سرغړوني او داسې نورو دوسيو څخه عبارت دی. که چيری د شکايتونو چارواکو وميندله چې شکايتونه د اوريدو وړ دی، هغه کولای شي چې په دی هکله سپارښتنې وکړي، د بيلګې په توګه له اړوند ارګانونو څخه غوښتنه کولای شي چې خپل نيول شوی تصميم کې بدلون راولي او يا په هغه باندی له سره غور وکړي.

## د شکايتونو چارواکي او محرميت

د امنيتي برخې د خصوصيت په پام کې نيوني سره، د ملي امنيتي ګټو په وجه ځيني معلومات د بربنډيدو وړ نه دی. ډيری هيوادنه په قانون کې ځيني احکام وضع کړی دی چې د شکايتونو چارواکي د ملي امنيت په موضوعاتو کې څه ډول عمل وکړي. په عمومي توګه، حتي په هغو ساحوکي چې د لومړی درجې محرميت او پټوالي مقررات هم حاکم دی، د شکايتونو چارواکي اجازه لری چې هر ډول د اړتيا وړ پلټنه په لاره واچوی او پوځي هډو او اړوندو اسنادو ته لاره ولري. خو د شکايتونو چارواکي اجازه نه لری چې عامو خلکو ته د خپلی پلټنې نتايج بربنډ کړي.

<table><tr><td>

**۳۸ ـ چوکاټ**

### د آلمان د وسلوالو ځواکونو لپاره د هغه هيواد پارلماني کميسار

په ۱۹۵۰ لسيزه کې د خپلو وسلوالو ځواکونو بيرته جوړولو سره، آلمان په دی اړه پارلماني څارنی ته خاص اهميت ورکړی دی. د دی لپاره چې په اساسي قانون کې منل شوی ارزښتونه چې د انساني فرد د حقوقو د خوندی ساتنی پر محور څرخيږی، د وسلوالو ځواکونو په برخه کې هم د تصديق وړ وګرځی آلمان 45b ماده هم په اساسي قانون کې زياته کړی ده. په دی مادی کې راغلی دی چې:

«... يو پارلماني کميسار بايد وټاکل شي ترڅو د وسلوال ځواکونو اساسي حقوق خوندی وساتي او له پارلمان سره په پارلماني څارنی کې مرسته وکړی.» د دی مادی د پلی کيدو لپاره ټول اړوند تفصيلات د « د وسلوالو ځواکونو لپاره د پارلماني کميسار په قانون» کې بيان شوی دی.

پارلماني کميسار د پارلمان يو مرستندوی ارګان دی او په همدی وجه هغه د مقننی يو غړی حسابيږی. هغه کولای شي چې د پارلمان يا دفاعي کميټې په هدايت په پلټنه لاس پوری کړی او يا که داسې شرايط رامينځ ته شي چې د هغه پام ورته واړول شي او په خپل صلاحيت کولای شي چې په اقدام لاس پوری کړی.

</td></tr></table>

د قدرت د بیلوالی له اصل سره، پارلمانی کمیسار د دفاع پر وزیر څارنه کولای شی. هغه کولای شی چې د وزیر او د هغه لاس لاندی ټولو کارکونکو په هکله د معلوماتو او د هغوی د سوابقو غوښتنه وکړی. هغه کولای شی چې هر وخت او هر چیری د وسلوالو ځواکونو له جزو تامونو، قرارګاوو او تأسیساتو څخه لیدنه کتنه وکړی، پرته له کومی مخکی له مخکی خبرداری څخه. هغه کولای شی چې په پلټنه او بیا په خاصه توګه چې د عسکری د لوړ پوړو او یا ټیټ پوړو افرادو شکایتونه ترلاسه کړی، د پوځ هر غړی کولای شی چې هغه ته پرته له کوم خنډ څخه یا پرته د رسمی چینلونو له لاری، په مستقیمه توګه شکایت وکړی. شکایت کونکی دی له دی څخه ویره نه لری چې د خپل شکایت په وجه له انضباطی سزا سره مخامخ کیږی او یا هغه سره تبعیض کیږی.
سرچینه:http://www.bundestag.de

## د شکایتونو چاراوکی:
## پر پوځ باندی د اعتماد د غښتل کیدو یوه سرچینه

د پوځ لپاره د شکایتونو د چاراوکی سابقه، د بیلګی په توګه د سویدن د پوځ د شکایتونو چاراوکی چې په ۱۹۱۵ کال کی وګمارل شوو، ښیی چې د دغه ارګان په مرسته پر دفاعی سکتور باندی دخلکو اعتماد ډیر زیات غښتلی شوی دی. سر بیره پر دی، د شکایتونو چاراوکی د پوځ په دننه کی د نارینه او ښځینه غړو لپاره د ناوړه چالچلندونو په وړاندی د ساتنی امکانات برابروی. کیدای شی چې داسی سړی ووایی چې د امنیتی برخی په اړه د شکایتونو د چاراوکی ستره لاس ته راوړنه دا ده چې د پوځی سلسله مراتب ته له تاوان رسولو او د پوځ د حیثیت له ټیټولی څخه پرته په دی ټوله اداری پروسه کی د شفافیت د رامینځ ته کولو سره پوځ باندی اعتماد او باور پیاوړی کوی.

### هغه څه چې تاسی د پارلمان د استازی په توګه سرته رسولای شی

**د شکایتونو د چاراوکی ارګان**

- که چیری ستاسی په هیواد کی داسی یو ارګان موجود نه وی، نو د هغه د جوړلوولپاره ځینی اقدامات په پام کی ونیسی.
- په دی اړه هغو لاربښونو، اسنادو او تجربو څخه کولای شی چې استفاده وکړی چې د شکایتونو د چاراوکی نړیوال ارګان تر نامه لاندی په دغه انټرنیټیټ پاڼه کی لیکل شوی دی http://www.ombudsmaninternational.com

**د دفاعی یا امنیتی برخی د شکایتونو چاراوکی**

- که چیری ستاسی په هیواد کی داسی یو ارګان موجود نه وی، نو د هغه د جوړولولپاره ځینی اقدامات په پام کی ونیسی.
- د هغو هیوادونو چې په دفاعی برخه کی د شکایتونو چاراوکی لری له تجربو، معلوماتو او نورو امکاناتو څخه استفاده وکړی.
- که چیری ستاسی هیواد په دفاعی برخی کی د شکایتونو چاراوکی له څه مودی را په دی خوا لری، نو د هغه د اختیاراتو د حدود، چالچلندونو، عمومی اقداماتو لکه پارلمان د رپوټ ورکونی، اغیزو، بودجی او داسی نورو مسألو په هکله په لنډه توګه د معلوماتو غوښتنه وکړی او هم د هغه دغه ډول شرایط د نورو هیوادونو چې ستاسو هیواد ته ورته امنیتی وضعیت لری، پرتله کړی.

## اولسم فصل

# د امنيتی ادارو له تأسيساتو څخه ليدنه کتنه

## وړتيا

له امنيتی برخی سره پيژندگلوی د ټولو پارلمانی غړو لپاره اهميت لری. دامنيتی ادارو په اړتياو باندی په سمه توگه د پوهيدو لپاره نظری پوهه بايد له عملی تجربو سره جوخت کړای شی. له دی نظره، د امنيتی ادارو له تأسيساتو څخه د پارلمانی استازو ليدنه کتنه کيدای شی چی د يو ديالوگ د ودی لپاره يوه لاره وگنله شی او په دی ډول د سياسی او پوځی مشرانو تر منيځ د اعتماد او تفاهم فضا رامينځ ته شی. دغه ليدنی کتنی د عسکرو له ورځنيو ستونزو څخه د پارلمانی غړو خبرتيا زياتوی او پوځ ته څرگندوی چی سياسی مشری د پوځيانو له ماموريت سره مينه او په دی برخه کی ژمنه لری.

| |
|---|
| **۳۹. چوکاټ**<br>**د ارجنتاين مثال**<br><br>سياستوال له پوځی قرارگاوو او اډو څخه په دی موخه ليدنه کتنه کوی چی له پوځی پرسونل سره تبادل نظر وکړی. دغه ليدنی کتنی د وسوالو ځواکونو له خبرتيا سره سرته رسول کيږی او د دغو دوو تأسيساتو ترمينځ بی اعتمادی او مخکی قضاوتی کموی. د پوځ له ستونزو څخه د خبرتيا غوره لاره همدا د پارلمانی غړو او د وسلوالو ځواکونو تر منيځ ليدل کتل دی. د امنيتی مسألو په برخه کی مقررات او زمان سره توپير لری، دغه ډول ليدنی کتنی سياستوالو سره مرسته کوی چی په دی مسألی باندی پوه شی.<br>سرچينه:Pablo Carlos Martinez، «د وسلوال ځواکونو بيا جوړول او د پارلمان مقررات: د ارجنتاين تجربه»، httpÖ//www.pdgs.org |

په توقيفونو، جيلونو او زندانونو کی بنديان په بشپړه توگه د امنيتی پرسونل ترکنترول او لاس لاندی دی. دغه خاص حالت په ځانگړی توگه هغوی د بشری حقوقو د سرغړونو وړ گرځوی. له بده مرغه، په زندانونو او توقيفونو کی ربړونی او په بشری حقوقو تيری ډير پراخ او زيات دی. په همدی وجه دغه تأسيسات په ځانگړی توگه بايد تر څارنی او د کنترول ميکانيزم لاندی وی. د دی ستونزی غوره لاره چاره دا ده چی پارلمانی استازی او کار پوهان له دغو تأسيساتو څخه په دی موخه ليدنه کتنه وکړی چی د ناوړه چالچلندونو بربنډول کوی او په راتلونکی کی د هغو مخه نيسی.

په ۴۰ چوکاټ کی هغه ميکانيزم تشريح شوی چی د ربړونی پر خلاف د ملگرو ملتونو د منشور په ضميمه يی پروتوکول کی له زندانونو څخه د ليدنی کتنی لپاره لاره اواروی.

**۴۰ـ چوکاټ**

## د ربړونې ضد منشور اختیاري پروتوکول د امنیتي ادارو له تأسیساتو څخه د لیدنې کتنې لپاره امکانات برابروي

د ۲۰۰۲ کال د دسمبر په میاشت کې د ملګرو ملتونو عمومي اسامبلې د ربړونې او نورو بیرحمیو ضد لکه غیر انساني یا سپکاوي یا سزا ورکونې له منشور سره د یو ضمیمه یې پروتوکول پریکړه وکړه. دغه پروتوکول دولتونه دې ته مکلفوي چې خپل زندانونه اوتوقیفونه د هغو ملي خپلواک او نړیوالو کارپوهانو پرمخ پرانیځي چې د ناوړه چالچلندونو د مخنیوي او کمولو په موخه د سپارښتونو د ورکولو لپاره ګمارل شوي دي.

## د بریالیو لیدنو کتنو لپاره شرایط

ښکاره ده چې د امنیتي ادارو له تأسیساتو لکه د عسکرو یا پوځي هډو، څخه لیدنې کتنې باید له اړوند وزارت (د مثال په توګه د دفاع وزارت) سره همغږې کړای شي. ناڅاپي یا نه همغږي شوي لیدنې کتنې کیدای شي چې نا خوالې پایلې ولرې، څرنګه چې ښایي پر پوځ باید د بې اعتمادي په توګه تفسیر شي او یا ښایي داسې وګڼل شي چې ګواکې د پوځ سلسله مراتب ته پاملرنه نه ده شوې او دا کیدای شي چې د پوځ عادي کار ته خنډ پیدا کړي. په لیدنه کتنه کې باید د مختلفو سیاسي ګوندونو استازې ګډون ولري او د ماهیت له لحاظه ښه تیاری ورته نیول شوی وي.

د دغو لیدنو کتنو محدودیت دا دی چې پارلماني کمیټه یوازې هغه څه وینې چې د امنیتي ادارو قوماندانان یې غواړي چې ولیدل شي. دغه ډول لیدنې کتنې البته د ستونزو رښتیني واقعیتونه نه بربنډوي، بلکه ماهیتا پوځ ته موقع ورکوي ترڅو وضعیت په خپله ګټه وڅرخوي، په خاصه توګه د بودجې په غوښتنه کې. تر یوې کچې د دغه کار د تلافي لپاره درې ډوله لیندنې کتنې کیدای شي چې سرته ورسیږي: لیدنې کتنې چې د پوځ له خوا یې سپارښتنه کیږي، لیدنې کتنې چې د پارلمان له خوا یې سپارښتنه کیږي او مخکې له مخکې اعلانیږي، لیدنې کتنې په لنډه زماني موده کې د پارلمان له خوا یې سپارښتنه کیږي (مثلا یوه ورځ مخکې).

## هغه څه چې تاسې د پارلمان د استازې په توګه سرته رسولای شې

**د امنیتي ادارو له تأسیساتو څخه د لیدنې کتنې لپاره قانون**

- د امنیتي ادارو له تأئیساتو (په بهر کې د خوندي شویو عسکرو په شمول) څخه د پارلماني لیدنې کتنې لپاره قانوني بنسټ جوړ کړي.
- که چیرې داسې یو قانون موجود نه وي چې له امنیتي تأسیساتو څخه د پارلماني پلاوو د لیدنې کتنې لپاره لاره اواره کړي، وګورئ چې آیا سره له دې هم پارلماني استازې کولای شي چې د امنیتي ادارو له تأسیساتو څخه لیدنه کتنه وکړي، دغه کار پر څه بنسټ او تر کومو شرایطو لاندې سرته رسول کیږي، او په دې برخه کې د پارلماني استازو د انتخاب لپاره څه معیارونه په پام کې نیول شوي او له څه اغیزو سره.
- ډاډ لاس ته راوړئ چې وضع شوي مقررات دغه لاندې مسألې په پام کې ونیسي:
ـ د امنیتي ادارو له کومو تأسیساتو څخه لیدنه کتنه کیږي؛
ـ تر څه شرایطو لاندې دغه لیدنې کتنې سرته رسول کیږي، مثلا، آیا دغه ډول لیدنې کتنې هروخت او په هر زمان کې ممکن دي؛

- له ملی پوځی ټولګيو او هډو څخه د پارلمانی ليدنو کتنو رښتينی لاره چاره او شمير؛
- ډاډ لاس ته راوړی چی د داسی ليدنو کتنو په هکله پارلمان او يا اړوندو کميټو ته چی په دی هکله بحث کوی، تفصيلی رپوت ورکول کيږی ؛
- د هغو ليدنو کتنو چی مخکی له دی سرته رسيدلی، د اغيزو ارزونه وکړی.
- پوښتنه وکړی چی آيا ستاسو دولت د ملګرو ملتونو د ربړونی ضد منشور او د هغه ضميمه يی پروتوکل تصويب کړی دی که نه.

**د پارلمانی پلاوو چی دغه ډول ليدنی کتنی کوی، غړيتوب**

- ډاډ لاس ته راوړی چی پارلمانی پلاوی په يوی خاصی ډلی پوری تړلی نه وی، هغوی بايد په پارلمان کی د اکثريت او اقليت د اړخونو د تناسب په پام کی نيونی سره جوړ شوی وی.
- دا هم وګوری چی په کتونکو پلاوو کی د جنسيت انډول تر کومه ځايه چی امکان ولری، په پام کی ونيول شی.

**د ليدنی کتنی لپاره تياری**

- د ناخوالو او غير سازنده عواقبو د مخنيوی لپاره ډاډ لاس ته راوړی چی ليدنی کتنی د دفاع وزارت سره په همغږيو کی بندوبست شوی دی.

**پارلمان ته رپوت ورکول**

- ډاډ من شی چی پارلمان او د هغه اړوندو کميټو ته تفصيلی رپوټ ورکول کيږی هغوی پری بحث کوی.
- ډاډمن شی چی د امنيتی ادارو اړوند چارواکی دغه رپوټ ته مخکی له مخکی لاس ولری ترڅو خپل ملاحظات څرګند کړای شی.

**اغيزی او تبليغات**

- ډاډ لاس ته راوړی چی د پلاوو ميندل شوی حقايق او سپارښتنی او د پارلمان اړوند تصميمونه عملی بڼه غوره کوی او دعامو خلکو په اختيار کی هغه ايښودل کيږی او لازم تصميم پری نيول کيږی.

## پنځمه برخه

# د امنیتی ادارو څارنه په عمل کی:
## ځانګړی شرایط او عملیات

## اتلسم فصل

# استثنایي حالتونه

کله هم استثنایي حالتونه رامینځ ته کیږي، لکه جګړه، کور نی شخړه یا نور داسی بیړنی حالات، چی دولت مجبور دی چی د کړکیچ د حل لپاره له ځینو خاصو صلاحیتونو او چالچلندونو څخه استفاده وکړی. دغه ډول صلاحیتونو څخه کیدای شی چی کار واخیستل شی پرته له دی چی د حکومت دیموکراتیک سیستم ته تاوان ورسیږی.

جګړه یا نور دا ډول بیړنی حالتونه د پوځی ځواب یا حتی د پوځی واکمنی غوښتنه کوی. په داسی حالتونو کی امنیتی او پوځی اداری په عمومی توګه باید له یو لړ نړیوالو اصولو او ژمنو، لکه د بشر د حقوقو قانون او داسی نور قوانینو څخه پیروی وکړی او تر دیموکراتیکی څارنی باید پاتی شی. بشری حقوق هم تر کومه ځایه چی امکان لری باید خوندی وساتل شی. څرنګه چی د ملګرو ملتونو د بشر د حقوقو کمیسیون د ۲۰۰۱ کال د اګست د میاشتی په ۲۹ پریکړه لیک کی د اولسی او سیاسی حقوقو په هکله د نړیوال منشور په ۴ ماده کی ټینګار کړی چی د فرد حقوق په هیڅ وجه د غوځیدو وړ نه دی.

## د جګړی حالت

د ملګرو ملتونو د منشور ۴.۲. ماده وایی:

«د دی سازمان غړی په خپلو نړیوالو اړیکو کی باید له قوی څخه د کار اخیستلو او ګواښ ورکونی څخه ډډه وکړی (...).

د بل دولت پر خلاف له زور څخه کار اخیستل په کلکه توګه بند شوی دی. د پارلمان یو نقش دا دی چی په دی هکله څارنه وکړی چی آیا اجراییه څانګه د جګړی او ګواښ په هکله او بل دا چی د شخړی په وخت کی د خپل قدرت له حدودو څخه د نه تیری کولو سره نړیوال محدودیتونو ته درناوی لری که نه. ناپیلو هیوادونو لکه سویس په خپلو بهرنیو اړیکو کی د شخړو د جګړی له لاری هر ډول حل ظاهرا ردوی. لړترلږه یو هیواد، لکه جاپان شته دی چی د هغه د ۱۹۴۶ کال اساسی قانون په څرګنده توګه د یو پوځی ځواک درلودل منع کړی دی. ډیرو نورو داسی هیوادونو لکه هنګری، د اولسونو تر مینځ د جګړی له لاری د شخړو حل ردوی.

د جګړی په وختونو کی پارلمانونه، د اساسی قانون له احکامو سره سم، کولای شی چی لږترلږه له دری لارو د تصمیم نیونی په پروسه کی ونډه واخلی:

**(۱) اساسی قانون کولای شی چی پارلمان ته د جګړی یا سولی اعلان صلاحیت ورکړی.**

البته نن ورځ دغه امر په عمل کی تر زیاتی کچی فرضی بڼه لری نو ځکه جګړه ډیری وخت پرته له یو مخکی له مخکی خبرداری څخه په لاره اچول کیږی او پیښی ښایی د پارلمان له خوا په تصمیم نیونو کی رومبیتوب وکړی.

**(۲) اساسی قانون کیدای شی چی له اجراییه څانګی څخه وغواړی د جګړی یا سولی اقدام باندی لاس پوری کولو څخه مخکی له پارلمان څخه په څرګنده توګه اجازه واخلی.**

دغه احکام پارلمان ته اجازه ورکوی چی په جګړی کی له اخته کیدو یا په بهر کی په یوی پوځی لاس وهنی لاس پوری کیدو څخه مخکی په موضوع باندی بحث وکړی.

**(۳) اساسی قانون امکان لری چی پارلمان ته همدومره صلاحیت ورکړی وی چی د جګړی لپاره د اجراییه څانګی له تصمیم څخه یواځی خبرتیا پیدا کړی،** پرته له دی چی له هغه سره په دی موضوع باندی بحث وکړی یا تری اجازه وغواړی. ډیری اساسی قوانین په حقیقت کی یواځیز همدومره غوښتنه کوی چی پارلمان خبرتیا پیدا کړی.

## بیړنی یا اضطراری حالت

بیړنی حالت یا د ملی کړکیچ یو حالت کیدای شی چی په ډیرو حالتونو کی رامینځ ته شی. ملی اساسی قوانین او مقررات د یو شمیر حالاتو پیش بینی کوی چی په هغو کی کیدای شی بیړنی حالت اعلان شی، لکه د اساسی قانون او عامه نظم ته له ګواښ څخه نیولی تر طبیعی مصیبتونو، ساری ناروغیو یا ملی مالی یا اقتصادی کړکیچونو پوری .

د بیړنی حالت اعلان یواځی هغه په استثنایی شرایطو کی کیدای شی او باید ځینو اصولو ته تابع وی ترڅو دیموکراتیک اصول تر پښو لاندی نه شی. په دی اړه ۴۱ چوکات ته دی کتنه وشی. د دغه استثنایی شرایطو تعریف د هر هیواد د ملی اساسی قانون او نظام پوری اړه لری. اساسی قانون او قوانین باید اجراییه له دی څخه منع کړی چی بیړنی حالت د ګوندی سیاسی ګټو په خاطر اعلان نه کړی. سربیره پر دی، اساسی قانون او اړوند قوانین باید په څرګند توګه دا بیان کړی چی پوځی کودتا ګانی د قانون له مخی بی اعتباره دی.

**۴۱ـ چوکاټ**

### بیړنی یا اضطراری حالتونه: موخه او اصول

«ټول قانونی نظامونه دبیړنیو حالاتو سره د مقابلی لپاره ځینی خاص اقدامات په پام کی نیولی دی. خو د اساسی حقوقو کمزوری کول یا ځنډول، باید یواځی موقتی وی او البته هغه هم په دی موخه چی عادی شرایط بیرته اعاده کیږی او بنسټیز حقوق خوندی ساتل کیږی. (...)

### نړیوال اصول:

«نړیوال اصول چی د بیړنی حالت په اړه رابرسیره کیږی، کیدای شی چی په لاندی ډول خلاصه شی:
**د مشروعیت اصل،** له هغه یوی موافقی سره اړه لری چی له یوی خوا د بیړنی حالت د اعلان او پریکړه شویو بیړنی اقداماتو تر مینځ او له بلی خوا د بیړنی حالت د اعلان او د هیواد د کورنی قانون تر مینځ موجوده وی. دغه اصل سر بیره پر دی په دی لټه کی دی چی کورنی قوانین له نړیوال قانون سره سمون ولری.

**د بیړنی شرایطو د اعلان اصل،** هغه یوی اړتیا ته اشاره کوی چی د هغی پر بنسټ د بیړنی حالت اعلان باید وشی.

**د اړیک نیولو اصل،** هغه یوه مکلفیت پوری اړه نیسی چی د هغه له مخی په خپل وخت سره د دولت نورو ډلو ته په کتبی توګه او همدا د بشری حقوقو لپاره د ملګرو ملتو د ځانګړی رپوټ جوړونکی ته د بیړنی حالت په هکله خبرتیا ورکوله کیږی.

**د موقتی شرایطو اصل،** هغه د بیړنی حالت د اعلان یو استثنایی ماهیت پوری اړه نیسی او هرومرو په یوی لنډی زمانی مودی پوری محدود دی.

**د استثنایی ګواښ اصل،** هغو شرایطو ته ویل کیږی چې کړکیچ ټولنی ته په جاری حالت کی یا په راتلونکی کی ګواښ پیدا کوی.

**د نسبیت اصل،** هغی یوی اړتیا ته اشاره کوی چې نیول شوی تصمیمونه د کړکیچ له ژوروالی سره تناسب ولری.

**د نه بدلیدو وړ اصل،** دغه اصل هغو بنسټیزو حقوقو پوری اړه نیسی چې د نه بدلیدو یا نه تضعیف وړ دی. «دغه مسأله خورا اهمیت لری چې پارلمان د بشر د حقوقو د ساتنی د یو ارګان په توګه د قانون انحلال یا ځنډولو په وجه یا د قانون جوړونی په صلاحیت او پر اجراییه باندی د څارنی د کموالی په وجه خپله د اضطراری حالت قربانی نه شی.» د اضطراری حالت په اعلان او یا د هغه د پای ته رسولو لپاره هم د پارلمان نقش خورا اهمیت لری. (...)

## د قانون ماهیت او بیړنی حالت

«(...) د اضطراری حالت قانونی ماهیت داسی دی چې د هغه چالچلندونه (علان، تصویب او داسی نور) او اقدامات چې په هغو شرایطو کی سرته رسول کیږی (د ځینو حقوقو لغو کول او یا محدودول او داسی نور) باید د قانون د اصولو پربنسټ جوړ او کنترول شی.

## د پارلمان چالچلند

«باید اعتراف وشی چې په یو حکومت (...) کی د خپلواکی اصلی او د قدرت توازن د قانون د واکمنی یوه برخه ده. په همدی وجه، په نړی کی ډیر قانونی سیستمونه پارلمان ته د دی اختیاراتو د درلودلو امکان ورکوی چې، کله چې د اجراییه قوه بیړنی حالت اعلانوی، پارلمان په خپل وار سره د هغه په اعلان اویا د هغه په لیری کولو کی فعال نقش ولری. اصلی موخه دا ده چې د هغه یو وضعیت څخه مخنیوی وشی چې اجراییه قوه د مطلق قدرت په توګه په ځینو حساسو اقداماتو لاس پوری کړی (...).

## د بیړنیو حالاتو په اړه د قانونی اقداماتو د ړومبیتوبونو درجه بندی

«تجربی ښودلی ده چې په بیړنیو حالاتو کی غوره ده چې اقدامات د اساسی قانون له مخی درجه بندی شی. په داسی حال کی چې ډیرو قوانیونو دغه امر څرګند کړی دی، ځینو نور د همدی ټکی په یادولو سره چې هیڅ قانونی مرجع باید په بیړنی حالاتو کی قانون ونه ټاکی، اشارتا له دی څخه یادون کړی دی. (...)

اقتباس: د بشری حقوقو او استثنایی حالاتو په هکله د ملګرو ملتونو د ځانګړی ریوټ ورکونکی، ښاغلیL.Despouy بین الپارلمانی اتحادیی سمپوزیم، بوداپست ۱۹۹۳

## پایښت لرونکی او رښتنی استثنایی حالتونه

د اوږدی مودی استثنایی حالتونه چې وخت په وخت د پارلمان له خوا نوی کیږی او یا په لسیزو هغه دوام کوی، هم د هغه یو وضعیت لامل ګرځی چې پر امنیتی برخی ملکی څارنی ته تاوان رسوی او حتی کیدای شی چې په نتیجه کی امنیتی اداری یو ډول مصؤنیت پیدا کړی او دیموکراسی ته تاوان ورسوی. دا پارلمان یو ډیر کمزوری او د ژوبلیدو وړ وضعیت کی راولی. رښتینی او له کنترول څخه وتلی استثنایی حالتونه، څرنګه چې په یو شمیر هیوادنونو کی موجود دی په ښکاره توګه پر امنیتی برخو د پارلمانی څارنی لپاره یو مستقیم ګواښ دی، په داسی حالاتو کی امنیتی ارګانونه عملا په خپلو فعالیتونو کی هر هغه څه چې وغواړی په پرانیستی لاس یی سرته رسوی.

## هغه څه چې تاسې د پارلمان د استازي په توګه سرته رسولای شی

**قانون جوړونه په استثنایی حالتونو کې**

- داد لاس ته راوړی چې د استثنایی حالتونو مختلف دولونه په اساسی یا نورو قوانینو کې ډیر ښه تعریف شوی وی.
- استثنایی حالت باید په خپله د دری یا شپږو میاشتو په موده کې پای ته ورسیږی، مګر دا چې د پارلمانی استازو د بحثونو او رایيو سره د هغه د دوام لپاره پریکړه وشی.
- هغه وکړی چې د قانون، د استثنایی حالت د اعلان، د اړیکو نیول، موقتی شرایط، استثنایی ګواښونه، نسبیت او د بدلون راوستل د استثنایی حالاتو په هکله نړیوال اصول په ملی قانون کی په ښه وجه مراعات شی.
- داډ لاس ته راوړی چې بشری قانون، د اساسی قانون ضمانتونه او د بشر د حقوقو اړوند قوانین د استثنایی حالت په موده کی مراعات کیږی.
- همداراز داډ لاس ته راوړی چې د استثنایی حالت د اعلام او یا د هغه د پای ته رسولو په اړه د اجراییه قوی او د پارلمان د صلاحیت حدود په اساسی قانون کی په ښکاره توګه بیان شوی وی.

**د یو استثنایی حالت په وخت کی پارلمان**

- داډ لاس ته راوړی چې د استثنایی حالاتو شته والی د امنیت په اړه پر اجراییه قوی باندی د پارلمان څارنه او بشری حقوقو ته درناوری محدود نه کړی.

## نولسم فصل

# د کورنی امنیت خوندی ساتنه

کورنی (یا عامه) امنیت او عامه نظم د عامه ښیګڼو څخه شمیرل کیږی. هغه په دی معنی چی امنیت د ټولو لپاره، پرته له کوم توپیر څخه، امنیت د هغو کډوالو او بهرنیانو لپاره چی اړونده خاوره کی ژوند کوی. له هغه څخه د یو خاص رهبر یا سیاسی ځواک او یا د امنیتی اداری له خوا د یوی وسیلی په توګه باید کار وانه اخیستل شی.

## عمومی استدلال او د داسی قانونمندی خصوصیت

ټول قانونی سیستمونه یو ډول قانونمندی لری چی هغو شرایطو ته ګوته نیسی چی د استثنایی حالت د اعلان غوښتنه ونه کړی، خو هغوی د ربښتینی ګواښ څخه ویندویی کوی یا کیدای شی چی کورنی امنیت او عامه نظم له خطر سره مخامخ کړی.

دغه قانونمندی په مختلفو کچو اجراییه قوی ته یی ځانګړی اختیارات ورکړی او د ځینو قوانینو د ځنډلو او یا تعلیق وړاندوینه کوی. دغه امر په دی موخه چی هغه قوانین چی بنسټیز اهمیت لری او یا په خاص شرایطو کی کیدای شی چی له خطر سره مخامخ شی، پلی کیږی. خو دغه شرایط  خپله د قانون له مخی تعریف او روښانتیا ته اړتیا لری.

هغه حقوق چی ډیر زیات د محدودیت او یا ځنډولو له خطر سره دیری وخت مخامخ کیږی، هغه د معلوماتو د آزادی حق، د عامو مظاهرو حق او د پناه غوښتنی حق څخه عبارت دی. البته نړیوال قوانین د بنسټیزو حقوقو، لکه د ژوند کولو حق یا له ربړونی یا جسمی سزا ورکونی یا د غیر انسانی چلند څخه د خوندی ساتنی دحقوقو د تعلیق مخنیوی کوی. مهاجرین، خبریالان، سیاسی فعالین، د بشر د حقوقو مدافعین، پناه غوښتونکی او همدا ډول مذهبی او نژادی لږکی هغه کسان دی چی ډیر زیات تر څارنی لاندی پریوزی.

## بالقوه خطرونه

د کورنی امنیت او د عامه نظم قانونمندی ته بالقوه خطرونه په لاندی ډول دی:

- د ګواښونو د ماهیت څخه عام تعریف چی کیدای شی اجراییه قوی ته لاره اواره کړی هغو سره سم د حالاتو هغسی یو تفسیر وکړی چی خپله یی غواړی؛
- اجراییه قوی او د امنیتی اداری یو شمیر ارګانونو ته د اوږدی مودی او له حدودو څخه وتلی اختیارات ورکړی، پرته له دی چی د هغو په وړاندی یو انډول او یا قضایی سزا په پام کی ونیوله شی؛
- په ځینی حالاتو کی له کورنی امنیت او عامه نظم څخه ناوړه استفاده کیږی ترڅو د ټولنی د دځینو پرګنو، لکه سیاسی رهبری او یا  خپله د امنیتی اداری ګټی خوندی وساتلی شی او له هغو څخه د خلکو د حقوقو او فعالیتونو د محدودولو لپاره د وسیلی په توګه کار اخیستل کیږی.
- د پولیسی ځواک پوځی کول چی د کورنی قانون او نظم د ساتلو ځواک دی، له پوځ سره  چی د هیواد د ساتنی دنده په غاړه لری، توپیر له مینځه وړی. دغه کار کله چی دغه ځواکونه کافی

مالي بودجې نه لري، خطرناک بريښي. ځکه کيداې شي چې هغوی هر يو په خپل وار سره له امنيتي کمزورتيا څخه ناوړه استفاده وکړي او په دې ډول مصؤنيت له مينځه ولاړ شي. هغه بل خطر چې د پوليسو پوځي کولو ته ګواښ ورکوي دا دی چې هغه کسان چې د دقدرت په سر کې دي له پوليسو څخه (او کله هم له استخباراتي خدماتو او نيمه پوځيانو) د ملي امنيت او د عامه نظم د ساتنې پر ځای د سياسي مخالفينو د کنترول او د هغوی د ټکولو لپاره کار اخلي. سر بيره پر دې د ټولنې د نظم د ساتنې لپاره په مکرره توګه له پوځي ځواکونو څخه کار اخيستل د پوځ د سياسي کيدو خطر ځان سره لري.

- د پارلمان او د قضاييه قوې د چالچلند محدودول، خصوصا کله چې هغوی له داسې يو دريځ څخه برخه من نه وي چې له اجراييه قوې سره مقابله وکړي.

هغه اقدامات چې د امنيت او د عمومي نظم د ساتنې تر نامه لاندې لاس لاندې ونيول شي، کيداې شي چې د امنيتي ځواک د غړو له خوا د بشري حقوقو د ترپښو لاندې کيدو سبب وګرځي او دغه کسان کيداې شي چې د دغه عمل لپاره حتی د مصؤنيت د درلودلو له موقف څخه استفاده وکړي. په داسې حالاتو کې معمولا دغه لاندې حقوق تر پښو لاندې کيږي: د ژوند کولو حق، له ربړونې څخه ساتنه، غير انساني او سپکاوی کونکې چلندونه، غير قانوني بنديانول، د يوې قانوني او خپلواکې محکمې له خوا د عادلانه محکمې حق، د بيان ، عقيدې او د ټولنو جوړولو حق.

> **۴۲. چوکاټ**
> ## د امنيت او د ديموکراسۍ د دواړو ساتنه
>
> د تاريخ په اوږدو کې او نن په ډيرو د پراختيا په حال کې هيوادونو کې مطلق العنان حکومت د ديموکراسۍ په وړاندې مخالفت کړی او هغه د هغې په لور د پرمختګ مخه يې نيولې ده، هغوی استدلال کوي چې ديموکراسي له عامه نظم او شخصي امنيت سره نه جوړيږي. خو تجربو ښودلې ده چې د دې خبرې عکس ربښتيا ده: پردولتي امنيتي قواوو باندې ملکي څارنه نه يواځې چې د شخصي امنيت مخالفت نه کوي، حتی د هغه لپاره يو لازمي امر دی. پرته له داسې يوې څارنې څخه د شخصي امنيت تضمين کونکې له ستر ګواښ سره مخامخ دی.
>
> سرچينه: د ملګرو ملتو د بشري پراختيا رپوټ، ۲۰۰۲ پاڼه ۸۷

په ځينو هيوادونو کې، ځينې خاص قوانين جوړې شوي چې له ديموکراسۍ څخه دفاع وکړي. په ارجنتاين کې، دبيلګې په توګه، د ديموکراسۍ د دفاع په هکله د ۱۹۸۴ کال ۲۳.۰۷۷ شميره قانون دسزا ورکونې قوانينو ته يې بدلون ورکړ او د ديموکراسۍ ضد ځينې مشخص جرمونه يې وښودل، د بيلګې په توګه د ځينو غير قانوني ټولنو چې ديموکراسۍ ضد هدفونه لري يا اساسي قانون ته درناوی نه کوي، د جوړول لپاره يې سزاوې وټاکلې.

## کورنی امنيت ته د ګواښ په پلمه د اشخاصو نيول

د کورنی امنيت او د عامه نظم د ساتنې په هکله ټول قوانين د هغو کسانو د نيول حکم کوي چې دغو دواړو ته د ګواښ ورکونې شک پرې کيږي. په دې اړه دوه ډول قانوني جوړښتونه وجود لري:

- هغه قوانين چې د هر هغه چا د نيولو حکم کوي چې يقينا امنيت ته ګواښ پيدا کوي: د داسې نيونې لپاره حکم معمولا قضا يا په ځينو حالاتو کې يواځې اجراييه قوه ورکوي؛

- هغه قوانين چې د هر هغه چا د نيولو حکم کوی چې اجراييه قوه پرې قانع شوی چې ملی امنيت ته ګواښ پيدا کوی، يا په بل عبارت قانون د هغو شرايطو د کنترول يا مخ نيونی لپاره چې کيدای شي ملی امنيت ته په کی خطر پيدا شی، اجراييه قوی ته ځينی خاص صلاحيتونه ورکړی دی.

ډيری هغه هيوادونه چې د بريتانيا د کامنولت غړی دی، د دوهم ډول قوانين لری. د داسی قوانينو سره اجراييه قوه اجازه پيدا کوی چې له يو لړ پراخو صلاحيتونو څخه استفاده وکړی پرته له دی چې له پارلمان او يا قضاييه قوی څخه پوښتنه وکړی. يوه مهمه مسأله په دی برخه کی د اجراييه قوی د صلاحيت حدود او ظرفيت دی چې کولای شی د حکومتی اداری يا وزير د مقام په سويه د هغه يو چا د نيولو امر ورکړی چې ملی امنيت ته د ګواښ ورکونی ګمان پری کيږی. دغه نيول شوی کسان د يوی اوږدی مودی پر مخ د اجراييه قوی په اختيار کی دی او هم کولای شی چې په وار وار د هغوی د توقيف موده اوږده کړی او يا يی د يو نا معلوم وخت لپاره بنديان وساتی. ځينی دغه قوانين، البته ټول نه، د غور کونی لپاره د ځينو ارګانونو د شته والی امر کوی، چې کولای شی اجراييه قوی ته په دغی موضوع کی مشوره ورکړی او يا کيدای شی چې د دی صلاحيت هم ولری چې اجراييی ته ووايی چې نيول شوی کسان خوشی کړی. د دغه ارګان جوړښت کيدای شی چې تر مختلفو کچو اجراييه پوری اړه ولری.

په ډيرو هيوادونو کی دغه ډول قوانين چې په عمومی توګه له استعماری دوری څخه پاتی دی، تر بحث لاندی نيول شوی، او حتی اجراييه قوی او امنيتی ادارو، بيا په خاصه توګه پوليسو ته د ډير زيات صلاحيتونو ورکولو او پر مدنی او سياسی حقوقو باندی د هغو د ناوړه اغيزو په خاطر شخړه ايز ګڼل شوی دی.

> **۴۳- چوکاټ**
>
> **تحريفونه له جدی پايلو سره**
>
> کله چې حکومتونه د خپل قدرت د ساتلو لپاره پر امنيتی ځواکونو تکيه ولری، دغه ځواکونه خپله د خلکو او ګاونډيو دولتونو لپاره خپله د نا امنی لامل ګرځي. (...) کله چي د کورنيو چارو د وزارت ځواکونه، پوليس، نيمه پوځيان يا اورپکی او استخباراتی اداری کورنی سياسی کش کړپونو ته ورداخل شی، د ملکی ديموکراتيکی څارنی هڅی ډيری وخت له ګواښ سره مخامخ کيږی.
>
> د ملګرو ملتونو د بشری څانګی رپوټ، ۲۰۰۲ ، ۸۷ او ۹۲ پاڼی

## هغه څه چې تاسی د پارلمان د استازی په توګه سرته رسولای شی

**د کورنی امنیت او د عامه نظم د ساتنی لپاره قانونمندی**

- په یاد ولری چی عمومی امنیت او نظم د خلکو لپاره دی او باید له هغو څخه د خلکو د ټکولو یا سیاسی څارلو لپاره د وسیلی په توګه کار وا نه اخیستل شی. پاملرنه وکړی چی له پولیسی ځواک څخه د ټکولو او له حد څخه زیات د هغه له پوځی کولو څخه ډډه وشی؛
- هڅه وکړی چی اجراییه قوه د پارلمان په وړاندی ځواب ورکونکی وی. د هغی د قدرت په مخکی روښانه قانونی محدودیتونه کیږدی؛
- دا امکان برابر کړی چی که چیری امنیت له خپل قدرت څخه له حد او حدودو څخه زیاته استفاده کوی، د قضاییه او اجراییه قواو له خوا ورته سزا وټاکله شی؛
- د دیموکراسی څخه د دفاع د قانون تطبیق او آسانتیا تر تحلیل او ارزونی لاندی ونیسی

**پارلمانی څارنه**

- ډاډ لاس ته راوړی چی پارلمان وخت په وخت کورنی امنیت او عامه نظم پوری اړوند مسایل تر بحث لاندی نیسی او په دی برخه کی د قانونمندی موجودی اړیکی تر څیړنی لاندی نیسی.
- ډاډ لاس ته راوړی چی صلاحیت لرونکی کمیسیونونه له خپلو ټولو وسیلو او سرچینو څخه کار اخلی، معلوماتو ته یی لاس رسیږی او تر کومه ځایه چی امکان لری د کورنی امنیت او عامه نظم په پام کی نیونی سره اغیزمنه څارنه سرته رسوی. د اړتیا په صورت کی د نورو وسیلو او امکاناتو، لکه هغه تخصص چی د کمیسیونونو په اختیار کی دی، د لاس ته راوړو لپاره لازم ګامونه واخلی.
- هرچیری چی امکان ولری او هر وخت چی اړتیا ورته ولیدله شی، د بحث وړ مسألو ته د خلکو پام راواړوی.
- د کورنی امنیت او عامه نظم او په همدی ډول له بشری حقوقو څخه د خلکو د برخه من کیدو او د بنسټیزو آزادیو په اړه په سازمانی او یا شخصی توګه له غیر حکومتی سازمانونو سره خبری او اتری وکړی.

## شلم فصل

# تروریزم

تروریزم هغه یوه پدیده ده چې حکومتونه باید خپل خلک ترې وساتي. هغوی نه یوازې د داسې حق خاوندان دي، بلکه د داسې ساتنې دنده د حکومتونو په غاړه ده؛ سره له دې هم، تر کومه ځایه چې امکان لري باید هڅې وشي چې تروریستي ضد اقدامات باید پر بشري حقوقو باندې د تیریو لپاره توجیه نه شي.

**«د هیواد په دننه کې دا خطر موجود دی چې د امنیت په لټه کې سیاسي آزادۍ ګاني قرباني شي او په نتیجه کې نه یوازې دا چې عامه امنیت مو پیاوړی کړای نه دی، بلکه د هغه د کمزوري کیدو لامل هم شوی یو او په دې ډول د حکومت د دیموکراسۍ بیړۍ مو له دننې څخه تاواني کړې ده.»**
کوفي عنان، د ملګروملتونو عمومي منشي، د ۲۰۰۱ کال د نومبر ۲۱

تروریزم د کورنۍ، سیمه ایز او نړیوال امنیت لپاره د ډیرو سترو ګواښونو څخه شمیرل کیږي. د تروریزم په وړاندې غبرګونونه البته ډیر کړکیچن دي، په خاصه توګه داچې تروریزم له سازمان شویو جنایي جرمونو سره تړلی دی. د دغو غبرګونونو لمن له پولیسي عملیاتو او سرحدي کنترول څخه نیولې تر د جاسوسي عملیاتو پورې او همدارز له مالي اقدماتو نیولې تر د جزایي قوانینو او د معلوماتو د تکنالوجي ساحې پورې پراخه شوې ده.

د سپتمبر له ۱۱ څخه را په دې خوا ډیرې دولتونو په دغو ساحو کې د خپلو قوانینو د پیاوړې کولو د ضرورت احساس کړی دی. سربیره پرې دې د دولتونو ترمینځ، په خاصه توګه د استخباراتي عملیاتو او د تکنالوجیو د معلوماتو په برخه کې همکاري پراخه شوې ده چې البته دا ښایي د دې لامل وګرځي چې بشري حقوقو او فردي آزادیو ته تاوان واوړي.

د تروریزم د کنترول لپاره د نړیوالو همکاریو په پام کې نیونې سره د ملګرو ملتونو د امنیت د شورا ۱۳۷۳ پریکړه (د۲۰۰۱ کال د سپتمبر ۲۸؛ ۴۴ چوکاټ ته دې کتنه وشي) د شتمنیو پر زیرمو باندې په ځانګړې توګه ټینګار کوي. ۱۳۷۳ پریکړه همداراز د سرحدونو، د تذکرو او مسافرتي اسنادو د کنترول پر اهمیت باندې هم ټینګار کوي. دا په دې وجه تر څو د هیواد په دننه او سرحد کې د تروریستانو یا تروریستي ډلو د کښته پورته کیدو مخه ونیوله شي. سربیره پر دې په دغې پریکړې کې د تروریستي ډلو د غړو د ټکولو، د وسلو او تروریستي تجهیزاتو د چمتو کولو او د تروریستي ضد اقداماتو د لاس لاندې نیولو او د دولتونو تر مینځ د همکاریو لپاره سپارښتنې شوې دي. دغه پریکړه د هغو کسانو چې په تروریستي فعالیتونو کې مالي مرستې کوي، پلان جوړوي او یا د هغو لپاره شرایط او امکانات برابروي د محاکمې غوښتنه شوې ده. د هغو پر خلاف د هر بل ډول اقدام سر بیره، دغه ډول تروریستي اعمال په کورنیو قوانینو کې د جنایي جرمونو په توګه پیژندل شوي او په مناسب چالچلند سره به هغو ته سزا ورکول کیږي. د تروریستي عملونو د مخنیوي لپاره دې ته اړتیا ده چې د کورنیو او نړیوالو قوانینو سره سم معلومات تبادله شي او په اجرایي او قضائي برخو کې سره همکاري وشي. له هغې څخه وروسته د همدې پریکړې له مخې، د ملګرو ملتونو د امنیت د شورا د ټولو غړو څخه یو کمیسیون جوړ شوو چې د اړتیا وړ تخصصونو په مرسته، د دغې پریکړې پر تطبیق باندې څارنه وشي.

### ۴۴- چوکاټ
## د سپتمبر د ۱۱ پیښې په وړاندې د ملګروملتونو د امنیت د شورا غبرګون

د امنیت شورا (...)
۳- له ټولو دولتونو څخه غواړي چې:
**الف -** د عملیاتي معلوماتو د تبادلې د پرخوالو او ګړندي کولو لپاره لارې چارې ولټوي، په خاصه توګه د افرادو یا تروریستي شبکو د کړووړو، د مسافرت د جعلي اسنادو، د وسلو د قاچاق، چاودونکي موادو، د تروریستي ډلو له خوا د مخابراتي تکنالوجیو څخه د کار اخیستلو او د هغه خطرونو په هکله چې د تروریستي ډلو له خوا د ډله ایزو وژنو وسلو له امله موجود دي.
**ب -** د کورني او نړیوالو قوانینوله مخې یو بل سره د معلوماتو تبادله ولري او د تروریستي عملونو د مخنیوي لپاره د اجرایي او قضایي موضوعاتو کې یوبل سره همکاري ولري؛
**ج -** د تروریستي حملو د مخنیوي لپاره د دو یا څو اړخیزو معاهدو او جوړښتونو د عملي کولو په برخه کې یو بل سره همکاري ولري او د تروریستي اعمالو کونکو سره دې مقابله وکړي؛
**د -** څومره چې ژر امکان ولري، د تروریزم ضد نړیوالو معاهدو او تړونونو غړیتوب دې لاس ته راوړي چې په دې جمله کې د ۱۹۹۹ کال د دسمبر د ۹ نیټې له تروریزم سره د مالي ملاتړ د ټکولو نړیوال تړون شامل دی؛
**هـ -** همکاري دې پراخې کړي، د تروریزم پرضد نړیوالې معاهدې او تړونونه او همدا راز د ملګرو ملتونو د امنیت د شورا د ۱۹۹۹ کال ۱۲۶۹ او د ۲۰۰۱ کال ۱۳۶۸ پریکړې دې په بشپړه توګه پلي کړي؛
**و -** د پناه وړونکو د پناه د غوښتن لیکونو له منلو څخه مخکې دې د بشر د حقوقو له پریکړو سره سم د ملي او بین المللي قوانینو پر بنسټ په اقداماتو لاس پورې شي ترڅو ډاډ لاس ته راشي چې پناه غوښتونکي په تروریستي اعمالو کې لاس نه لري او نه د هغو لپاره یې امکانات برابر کړي دي؛
**ز-** ډاډ لاس ته راوړي چې د نړیوالو قوانیونو سره سم د پناه غوښتنې له موقف څخه د تروریستي اعمالو کونکي او سازمان ورکونکي ناوړه استفاده نه کوي او سیاسي ادعاوې په تروریستي اعمالو باندې د تورنو کسانو د بیرته تسلیمولو مخه نه نیسي (...).

سرچینه: د ملګرو ملتونو د امنیت شورا، د ۲۰۰۱ سپتمبر د ۲۸ نیټې پریکړه
http://www.un.org/Docs/scres/2001/sc2001.htm

د ملګرو ملتونو د عمومي اسامبلې د ۱۹۹۹ کال د دسمبر د ۹ نیټې پریکړه له ژمنه کونکو هیوادونو څخه غواړي چې هغه کسان چې تروریستي فعالیتونه تمویلي، له خپلو هیوادونو څخه وباسي او د شکمنو مالي انتقالاتو په هکله دې په پلټنه لاس پورې کړي. د ۲۰۰۲ کال د اپریل له دوهمې څخه را په دې خوا د نړۍ ۱۳۲ هیوادونو دغه تړون لاس لیک کړی دی او ۲۶ نورو د هغه د تصویب پروسه بشپړه کړې ده چې د هغه غړي دولتونه شمیرل کیږي. دغه تړون په ۲۰۰۲ کال کې نافذ شو.

### د سپتمبر د یولسمې پیښې اغیزې

د پارلماني استازو لپاره دا خورا اهمیت لري چې د تروریزم سره د یوې اندول مقابلې لپاره د خپلو حکومتونو پر طرحو باندې څارنه ولري، هغه یو مقابله چې بشري حقوق په کې خوندي پاتې شي. د پارلماني استازو له نظره د تروریزم اړوند مسألې باید د قانوني موادو په توګه په تصویب ورسیږي. دا د امنیت د راوستلو او تروریستي ضد اقداماتو د سرته رسولو لپاره نوی لاره چاره ده چې د امنیت او د آزادي ترمینځ اندول رامینځ ته کوي او بشري قوانینو او د بشر نړیوالو حقوقو ته د هر اړخیز درناوی ضمانت کوي.

## د قانون له نظره د تروریزم تعریف

تر نن ورځې پورې د تروریزم په هکله داسې یو تعریف نه شته چې نړیوال توافق پرې شوی وی. تر هغه پورې چې نړیواله ټولنه د تروریزم په هکله په یو ګډ تعریف باندې موافقې ته رسیږي، تروریزم د یوی نه تعریف شوی پدیدی په توګه به پاتې وی. د نړیوال حقوقو د علم پر بنسټ د ملی آزادی لپاره هڅې او له پردی اشغال څخه خلاصون یو مشروع حق دی او دا ډول مبارزه تروریستی عمل ګڼل کیدای نه شی. سر بیره پر دی نړیوالی ټولنی، په دی جمله کی بین الپارلمانی اتحادیی، په تکرار سره دا حقیقت بیان کړی چې تروریزم په یو خاص مذهب، ملیت یا تمدن پورې تړل کیدای نه
شی او یا د هغو په نامه توجیه کیدای نه شی. د تروریزم بل ډول تعریف د هغو حملو تشریح ده چې په تروریستی اقداماتو کی تری کار اخیستل کیږی او نړیوالی ټولنی په وار وار سره هغه غندلی دی: هغه حملی چې په خاصه توګه د هغو په نتیجه کی بی ګناه وګړی خپل ژوند له لاسه ورکوی او یا هغه ډول زور زیاتی چې د ملی فرعی ډلو یا د پټو اجنټانو له خوا سرته رسول کیږی.

د وګړو پرضد له زورزیاتیو څخه کار اخیستل، انسانی ارزښتونو ته نه پاملرنه او له دی لاری تبلیغاتو سره ډیره مینه د تروریستی حملو خصوصیتونه دی. په تروریستی حملو کی له مروجو لارو چارو، لکه الوتکی تښتونی، په ګاډو کی بمب ایښودنی، ځانمرګی بریدونه، ترور او ډله ایزی وژنی څخه کار اخیستل کیږی. د تروریزم پر ضد پایښت لرونکی مبارزه د مالی ملاتړ، د وسلو جنګی مهماتو او ډیری وخت د نړیوالو سازمانونو د ملاتړ غوښتنه کوی، خو ډیری وخت لیدل شوی چې دریم هیواد تروریستانو ته د مرستو رسولو او پناه ورکولو سره ملاتړ کوی. ۴۵ چوکاټ د تروریزم پرضد د یو انډول اقدام مهم ټکی بیانوی او د ناراضیتوب له مشروع حق او د تروریستی ضد اقداماتو څخه ملاتړ کوی. په دغه چوکاټ کی ۳۷ ماده نه یواځې د تروریستی ضد اقداماتو د ترسره کولو لپاره بلکه د هغو هیوادونو چیرته چې د تروریستانو په زانګو او د دی په بدل شوی دی د ټولنیز، سیاسی او اقتصادی پرمختګ باندی هم ټینګار کوی.

> **۴۵ چوکاټ**
>
> **له تروریزم سره مبارزه**
>
> **۳۴ -** (...) کنفرانس یادونه کوی چې د ملی آزادی او له پردی اشغال څخه خلاصون مشروع حق دی چې په نړیواله پریکړه کی عنوان شوی دی، په خپل ذات کی تروریستی عمل نه ګڼل کیږی. سره له دی کنفرانس په دی ټینګار لری چې هیڅ ډول مبارزه چې د هغی په نیتجه کی بیګناه وګړی له مینځه ځی، د توجیه وړ نه ده .
> **۳۷ -** کنفرانس د تروریزم ضد د امنیتی اقداماتو په سرته رسولو او د دی اقداماتو څخه د ملاتړ لپاره د اقتصادی او ټولنیزو انکشافی پروګرامونو او همداراز د پارلمانی دیموکراسی د غښتل کولو پر پروګرامونو ټینګار کوی.
>
> سرچینه: د مدیترانیی، ولتا او مالتا په سیمه کی د امنیت او همکاری په هکله د بین الپارلمانی اتحادیی د دریم کنفرانس وروستی سند، د ۱۹۹۵ کال د نومبر میاشت.

یو شمیر تروریستی ضد قوانین لکه د اطریش (د جزایی قانون څخه د ۲۷۸ ب د مسودی پاراګراف)، آلمان (د جزا د قانون ۱۹ الف پاراګراف) او کانادا (۳۶ ج لایحه) په دغو لاندو برخو کی د پلی کیدو وړدی:

- د ترووريستي فعاليتونو يو محدود لست يعني هغه عمل، سرغړونه يا ګواښ چې جرم ګڼل کيږي لکه قتل، يرغمل نيول، الوتکې تيښتول، ترووريستي بمب چاودنه يا دغو ډول فعاليتونو سره مالي همکاري کول؛ د جرايمو دغه لست اکثرا هغو اعمالو ته اشاره کوي چې په اوسني قانون کې هم غير قانوني ګڼل کيږي (د آلمان، اطريش او کانادا ترووريستي ضد قوانين)؛
- د يو ترووريستي ټولنې رهبري کول او ترې ملاتړ کول (مالي يا له نور لارو) هم يو غير قانوني عمل دی (د آلمان، اطريش او کاناد)؛
- د هغو ترووريستي فعاليتونو چې کيدای شي سياسي، ايديولوژيکي يا مذهبي لاملونه ولري؛(کانادا)
- د ترووريستي فعاليتونو لپاره قصد په دې موخه چې عام خلک وډار شي او يا هغوی له خطر سره مخامخ کړای شي اويا دولت مجبوره کړي چې په يو ډول نه په يو ډول عمل وکړي او يا د ځينې چارو د سرته رسولو څخه مخ واړوي (کانادا)؛
- د ترووريستي فعاليتونو ښکاره هدف د خلکو وژل، هغوی ته تاوان رسول، له خطر سره د خلکو د ژوند مخامخول، عام يا خصوصي تأسيساتو ته تاوان رسول او يا د هغو ورانول دي؛ (کانادا)
- د هغو فعاليتونو له مينځه وړل چې د ديموکراسي او قانون د واکمنی د اعادې او ټينګولو او هم له بشري قوانينو څخه د ملاتړ په موخه سرته رسول کيږي (اطريش). د داسې قوانينو شته والی په جنايي اقداماتو باندې د قانوني اعتراضونو او مبارزو له بدليدو څخه مخنيوی کوي.

د ترووريستي ضد قوانينو د دغو اړخونو په پام کې نيوني سره په هغو کې ګډه وجه دا ده چې ترووريزم له زورزياتيو او خلکو ته د تاوان اړلو سره تړلی دی. سر بيره پر دې دغه قوانين له هغه څه څخه يو مشخص لست لري چې د ترووريستي عمل په نامه يادېږي. نه يوازې د دغو عملونو د سرته رسولو بلکه له يوی ترووريستي ډلې سره اړيکه درلودل (د غړي، ملاتړ کونکي يا د ډلې د مشر په توګه) هم ترووريستي عمل ګڼل کيږي.

د پارلماني څارنې له نظره مهمه مسأله دا ده چې د ترووريزم په نويو قوانينو کې له ترووريزم څخه يو سم تعريف او تفسير وشي. دغه تعريف بايد نه دومره محدود وي چې د ترووريستي ډلو فعاليتونه له پام څخه وغورځول شي او نه دومره پراخ وي چې قانوني او ديموکراتيک اعتراضونه هم ترووريستي عمل وګڼل شي. دلته پوښتنه دا ده چې په يوه ديموکراتيکه ټولنه کې زور زياتي ترکومې کچې د توجيه وړ دی. د بيلابيلو هيوادونو قانون جوړونکي دغه سوال ته په مختلفو طريقو ځواب ورکوي، ځکه هرټولنه د خپل عمر په موده کې د زورزياتيو د مشروعيت څخه خپله ځانګړې پوهيدنه لري. په داسې حال کې چې څوک دغه پوښتنه په پام کې نيسي، د زورزياتيو د هدفونو قانونيت هم په پام کې ونيسي. که چيری زورزياتی د توجيه وړ وي، هغه بايد د ګواښ او هدفونو له کچې سره تناسب ولري.

دوهمه پوښتنه دا ده چې آيا ترووريستي ضد اقدام بايد له ترووريستي ګواښ سره تناسب ولري. دا بايد په پام کې ونيول شي چې د ترووريستي ضد قوانينو څخه مقصد له پوليسي او امنيتي خدماتو له نورو ځواکونو سره مرسته ده ترڅو په اغيزمنه توګه د ترووريستي فعاليتونو پر خلاف عمل وکړای شي، نه دا چې د ډلو د بيان ربښتيني آزادي محدوده کړای شي او قانوني سياسي مخالفين تر کنترول لاندې ونيول شي او يا داسې نور بدلونونه په لاره واچول شي.

## له ترووريزم سره د مقابلې درې لارې

له ټولنې او دولتي مؤسسو څخه د ساتنې لپاره امنيتي خدمات کولای شي چې د ترووريستي حملو پر خلاف درې ډوله غبرګونونه ښکاره کړي.

- **تروریستی ضد اقدامات**: د خلکو، عامه ژوند، ودانیو او بنسټیزو تأسیساتو د تاوانی کیدو د خطر کمول
- **د تروریزم په وړاندی د مقابلی لپاره اقدمات**: د تروریستانو د پیژندنی او د هغوی د فعالیتونو د مخنیوی له لاری د تروریستی حملو مخنیوی
- **د کړکیچ منجمنت**: له یوی تروریستی حملی څخه وروسته دمسألو حل او په سیمه کی د ثبات او امنیت ټینګول (ناورین، بیړنی حالت)

څیړنی او تحلیلونه ښیی چی ډیری تروریزم ضد فعالیتونه له دغو مسألو سره اړه لری: (۱) ملی قانونمندی، همغږی، د بودجی تخصیص، (۲) کورنی امنیت، (۳) پردیان، (۴) د مسافرتونو او سرحدونو کنترول، (۵) مالی چاری، (۶) نړیوالی همکاری، (۷) اتمی، بیولوژیکی او کیمیاوی ګواښونه. دغه لنډ لست باید د تروریزم ضد احتمالی اقداماتو د یو فهرست په توګه په پام کی ونیول شی.

### ملی قانونمندی، همغږی او بودجه

- د تروریستی ضد خاصو قوانینو تصویب یا د موجودو قوانینو بدلول؛
- د چارو او سازمانونو لپاره د اضافی ځانګړی بودجه (د پولیسی ځواک، د سرحدونو، ملی هوایی کرښو کنترول، د عامه روغتیا مسؤلین، ملی پست او پوځی ځواکونه)؛
- د کورنی امنیتی ادارو تر مینځ د معلوماتو د شریکولو د کچی لوړول؛
- د اوږدی مودی تشکیلاتو او همغږیو د مرکزونو جوړول په دی موخه چی د مختلفو امنیتی خدماتو (لکه پولیسی ځواک، پوځی سرحدی امنیتی محافظین) د پالیسیو تر مینځ د کلیو او بانډو، ولایاتو یا ایالتونو په سطح کی همغږی رامینځ ته کړی؛
- په ګمرکی او مالیاتی دفترونو کی د افرادو د سابقی په هکله د معلوماتو د لاس ته راوړلو لپاره استخباراتی او د قانون اجرایی مامورینو ته لاره خلاصول.

### کورنی امنیت

- انترنتی معلوماتو، تیلفونی خبرو او د فکس له لاری اړیکو ته لاس درلودل ( پرته له دی چی د څارنی اړوندی اداری یا محکمی ته خبر ورکړای شی)؛
- له مخابراتی شرکتونو څخه غوښتل چی د خپلو مشتریانو تر مینځ رد او بدل شوی معلومات ( د بیلګی په توګه تر یو کال پوری) وساتی، او په دی ډول دا امکانات برابر کړای شی چی د قانون اجرا کونکی مامورین مخابره شویو معلوماتو ته لاس اوږد کړای شی؛
- له بانکونو، انترنتی خدماتی شرکتونو او اعتباری دفترونو څخه د افرادو په هکله د بریښنایی ثبت شویو سوابقو لاس ته راوړل پرته له دی چی مظنون سړی تری خبر وی؛
- د یو شمیر کمپیوتری اطلاعاتی زیرمو په واسطه له مدنی معلوماتو سره د یوی اغیزمنی کمپیوتری شوی څیړنی وړاندی کول؛
- د غیر پولیسی چاراکو سره د مشوری له لاری په پولیسی اطلاعاتی سیستم کی د شخصی دوسیو د معلوماتو څخه د کار اخیستو اجازه ورکول؛
- د اوږدی مودی لپاره په توقیف کی د افرادو ساتل په دی موخه چی له هغو څخه زیات معلومات لاس ته راوړل شی؛
- د ملی څارنی د یو سیستم رامینځ ته کول، مثلا د تذکری د پوښتی له لاری.

**پردی (کډوال، پناه غوښتونکی او بهرنیان)**

- د بهرنيانو او پرديو په هکله معلوماتي زيرمو ته د امنيتي ادارو پر مخ لاره پرانيستل؛
- ديو خاص قوم د خلکو تر څارنې لاندې نيول (د افرادو د نژادي سوابقو په هکله معلومات راټولول)؛
- د قضايي غور نه کول، کله چې پناه وړونکو باندې په تروريستي فعاليتونو کې د لاس درلودلو شک وشي.
- د پناه غوښتنې د ردولو امکان، کله چې اړوند چارواکی (وزير) اعلان وکړي چې هغه پناه غوښتونکی د ملي امنيت لپاره خطر دی؛
- د کډوالو او پناه وړونکو د ګوتو د نښان ساتل تر يوې اوږدې مودې مثلا (لس کلونو لپاره)؛
- د هغو کسانو بندي کول چې له هغه څخه د تروريستي فعاليت ګواښ موجود وي، خو له هيواد څخه ايستلای نه شي؛
- د ويزې د اخيستلو په وخت کې د افرادو د هويت د کنترول زياتول، د سياسي پناه غوښتنې په وخت کې د پناه غوښتونکې د سياسي سابقې په هکله پلټنه.

**مسافرتونه او د سرحدونو کنترول**

- د سرحدونو د کنترول سختول؛
- په وسله باندې د ملکي الوتکو د کارکونکو سمبالول؛
- د پيلوټ کوټې ته د ګولې ضد دروازې نصبول؛
- په هوايي ډګرونو کې د ټولو بارونو او بکسونو څخه عکس اخيستل؛
- په شناخت پاس يا تذکرو يا پاسپورټونو کې د بيومتريک خصوصيتونو څخه کار اخيستل؛
- په حساسو او تاوان رسيدو وړ ځايونو او تأسيساتو کې له دقيقو او بشپړ پلټونو څخه کار اخيستل (بندرونه، تونلونه، هوايي ډګرونه)؛
- د ننوتو په ځايونو کې د معلوماتو راټولول.

**مالي چاري**

- د مالي انتقالاتو څارنه؛
- د پيسو د سپينولو او درغليو د مخ نيوې په موخه پر بانکونو او اعتباري مؤسسو باندې د څارنې زياتول؛ که چيري پر چا ګمان وشي چې په تروريستي عملياتو کې لاس لري د هغه د بانکي حسابونو تړل؛
- له بانکونو څخه د ټولو حسابي شميرو او مرکزي اطلاعاتي زيرمو ته (د بانکي حساب د تبادلو) امنيتي اړوندو مسألو په هکله د معلوماتو غوښتل، په دې اړه دا يو جرم دی که چيری بانک دپيسو د انتقال په هکله چې له تروريستي عملياتو سره د تړاو شک پرې کيږي، معلومات ور نه کړي.
- د اطلاعاتي مالي يونيټونو جوړول يا د هغو زيات اغيزمن کول (د ماليې په وزارت کې)

**نړيوالې همکاری**

- د نړيوالو همکاريو زياتول، د بيلګې په توګه په اروپا کې د مجرمينو نيول يا ژرترژره د هغوی سپارل؛
- په کورنې قانونمندی کې د تروريستي مسألو په هکله د نړيوالو معاهدو شاملول؛

- د نړیوال امنیتي مرستندوی ځواک (آیساف) د یوی برخې په توګه په افغانستان کې د عسکری ځواک خوندی کول؛
- د تروریزم په هکله د ملګرو ملتونو د سازمان د پریکړو تصویب او لاس لیک کول؛
- په نړیواله سطح د ملګرو دولتو تر مینځ د امنیتي خدماتو د معلوماتو تبادله؛
- د تروریزم اصلي ریښو ته پاملرنه کول یعنی هغو هیوادونو ته د مرستو برابرول چیرته چې د تروریزم زانګو یا ټاټوبی ګڼل کیږی.

**اتمی، بیلوژیکی او کیمیاوی ګواښونه**

- د هستوی، بیلوژیکی، او کیمیاوی او جنګی وړانګو د اوسنیو مرکزونو ټینګول یا زیات اغیزمن کول؛
- په دی برخه کی د اوسنیو هڅو همغږی، د بیلګی په توګه د مختلفو واکسینونو د تولید زیرمه کول (مثلا د تباکو واکسین)؛
- د درملو د زیرمو له شته والی څخه د روغتیایی مرکزونو ډاډمن کیدل او په دی برخه کی د هغوی د چمتوالی غښتل کول؛
- له هستوی تسهیلاتو څخه د ساتنی لپاره د اصلاحاتو لاس لاندی نیول (د بیلګی په توګه د رادار د دستګاوو نصبول په دی موخه چی الوتکی په ټیټی ارتفاع کی و پیژندلی شی).

## د بشر د حقوقو او امنیت تر مینځ سم انډول

دغه ډول اقدامات چی په مختلفو هیوادونو کی تر لاس لاندی نیول کیږی نه یواځی د یوی لنډی مودی لپاره نه دی، بلکه د یوی اوږدی مودی په مخ نافذ پاتی کیږی. نو په دی وجه تروریستی ضد اقدامات له دی قاعدی څخه وتلی نه شی، بلکه هغه په ټولنه کی د عادی ژوند د بهیر یو حتمی عنصر ګڼل کیږی. کله چی دغه اقدامات د خلکو مدنی حقوق، لکه د بیان آزادی، د انجمن جوړونی او شخصی حقوق او داسی نور تر اغیزی لاندی نیسی، نو دا امر له یو ځانګړی اهمیت څخه برخه من کیږی. د اوږدی مودی پر مخ د تروریستی ضد اقداماتو شته والی او داچی دغه اقدمات د یوی اوږدی مودی هدفونه تعقیبوی، نو د بیړنیو یا اضطراری حالت اعلان ته حاجت نه شته.

سر بیره پر دی تروریستی ضد اقدامات د قانون د اجراء کونکو او استخباراتی اداری ترمینځ د دندو پخوانی ویشه کوچنی کوی. د قانون اجراء کونکی، لکه پولیس، او استخباراتی خدمات یو تر بله مختلف هدفونه تعقیبوی. استخباراتی اداری د بالقوی ګواښونو په هکله معلومات راټولوی، حال دا چی د پولیسو دنده له قانون او نظم څخه ساتنه ده. استخباراتی اداری معمولا شکمن افراد نه بندی کوی. په داسی حال کی چی پولیسی ځواک د جرم په اړه د شواهدو د لاس ته راوړنی څخه مخکی په «استخباراتی ساتونکی اقدام» لاس نه پوری کوی. د دیموکراتیکی واکمنی له نظره استخباراتی خدمات باید د خپلو خلکو په هکله تجسس او پلټنه ونه کړی. د دندو دغه ډول ویشه وار په وار سختیږی او وجه یی دا ده چی په مختلفو هیوادونو کی له تروریزم سره د مبارزی مقررات د کورنیو جرایمو په هکله له تحقیقاتو څخه د ملاتړ لپاره له اطلاعاتی لارو چارو څخه کار اخیستل محدودوی.

دریمه ستونزه دا ده چی امنیتی ادارو مخ پر زیاتیدو اجازه اخیستی ده چی خپل اتباع پرته له دی چی د څارنی ارګانونه لکه، محکمه، خبر کړی تر تعقیب لاندی نیسی چی دا کیدای شی په خطرلرونکی توګه د وګړو مدنی حقوق تاوانی کړی. سر بیره پر دی د وګړو، د شکایتونو لپاره ګمارل شویو چارواکو او غیر حکومتی سازمانونو لپاره ګرانه ده چی حکومتونه او یا د هغه نور ارګانونه د امنیتی ادارو د فعالیتونو په وجه تر پوښتنی لاندی ونیسی، ځکه هغوی په کافی اندازی د څارنی له فعالیتونو څخه خبرتیا نه لری.

ځلورم دا چې د دی امکان شته دی چې مهاجرین، پناه وړونکي او بهرنیان د تروریستي ضد اقدامونو هدف ګرځي، دا ښایي د مختلفو قومونو د خلکو تر مینځ د کش کړپ سبب شي او هم هغه یو اصل تر پښو لاندې کړي چې د قانون په وړاندې ټول خلک له مساوی حقوقو څخه برخه من دي.

که څه هم ښایي دا ټول اقدامات د تروریزم پر ضد د یوی اغیزمنې مبارزی لپاره ضروري وي، خو پارلمان باید ډاډه شي چې دغه اقدامات د نړیوالو انساني او بشری حقوقو له قانون او اصولو سره سمون لري. په بل عبارت، د مطلق امنیت رامینځ ته کول نه یواځې ممکن نه دي، بلکه ښایي نړیوالو او ملي ژمنو ته د حکومت درناوی هم له خطر سره مخامخ کړي. ځکه مطلق امنیت ډیری وخت له مطلق واکمنی سره جوخت دی او دا ډول واکمنی له دیموکراسي سره نه جوړیږي. همدا وجه ده چې ټولو قانوني سیستمونو پر هغو ځانګړو صلاحیتونو چې اجراییه قوی ته سپارل شوی دي، محدودیتونه ایښي دي. د تروریزم پرضد د اوسنی مبارزی په پام کې نیوني سره، د آزادي او امنیت تر مینځ کش او کړپ ښایي د پارلمان استازی له یو جدي ننګوني سره مخامخ کړي. سره له دی هم، دا خورا مهمه مسأله ده چې د آزادي او امنیت تر مینځ د انډول رامینځ ته کول باید یواځې د اجراییه قوی ځانګړی مسؤلیت نه وي او پارلمان د خلکو د حقوقو د استازی په توګه باید په دې برخه کې ژوره څارنه ولري.

## هغه څه چې تاسی د پارلمان د استازی په توګه سرته رسولای شی

**له تروریزم سره مبارزه**

- د تروریزم په وړاندی د مقابلې لپاره یوه پراخه لاره غوره کړي، نه یواځې ساتني او امنیت ته خپل پام واړوی، بلکه د هغه ریښه یی لاملونه، لکه کورني مخالفتونه، هم وڅیړی. په یاد ولري چې د سیمه ایزو شخړو د حل لپاره له سولیزو لارو چارو څخه کار اخیستل او همداراز د فرهنګي دیالوګ او روغي جوړې رامینځ ته کول د تروریزم د مخنیوی اساسي لاره ده.
- د ډیرکیو او لږکیو په ځینو شخړو کې د سیمه ایزو اختلافاتو ډیری ریښې په قومي یا مذهبي توپیرونو کې مینډلې کیږي. په داسي شرایطو کې کیدای شي چې له پوځي خدماتو څخه استفاده او یا ناوړه استفاده وشي، نو په دې وجه د پارلمان هغه استازی چې له لږکیو څخه استازیتوب کوي، باید د پارلمان د دفاع، اطلاعاتو او قضایي چارو کمیسیون کې شامل وي او پارلمانونه باید د دغو لږکیو له ډلو څخه د ساتني لپاره یو کمیسیون او قضایي پلاوی جوړ کړي.
- ډاډ لاس ته راوړی چې ستاسو حکومت تروریزم پوری د اړوندو معاهدو او پروتوکولونو غړی دی، په خاصه توګه د ۱۹۹۹ کال د دسمبر د ۹ له تروریزم څخه د مالي ملاتړ د مخ نیوی نړیواله معاهده. د اړتیا په صورت کې د دغو ژمنو د تصویب او هغو ته د پابندی او هم له اړوندو پریکړو او پالیسیو څخه د استفادی لپاره په اقداماتو لاس پوری کړي.
- د هسته یی تروریستي عملیاتو د ټکولو لپاره د ملګرو ملتو د امنیت د شورا د پریکړی او همداراز د تروریزم د له مینځه وړلو په موخه د هغې شوری د بشپړی پریکړی پلي کول په پوره ځیرتیا سره کنترول کړي.
- د ملي پیوستون د څرګندولو په موخه هغه اقدامات تصویب کړي چې د تروریستي اعمالو قربانیان تلافي کړای شي.
- ډاډ لاس ته راوړی چې د تروریزم ضد قانونمندی د امنیتي اړتیاو او مدني ـ سیاسي حقوقو او همداراز په ټولو اړوندو مسألو کې د دغه قانون د بالقوی اغیزو او د هغه د تطبیق د لګښت تر مینځ انډول موجود دی.

همداراز په اتلسم چوکاټ کې د استثنایي حالاتو په هکله د موجودو وړاندیزونو او په نولسم چوکاټ کې د کورني امنیت او عامه نظم د ساتني موضوع ته دی کتنه وشي.

# یوویشتم فصل

# امنیت او معلوماتی تکنالوجی: نوی وسایل او ننګونی

له نویو تکنالوجیو سره پیژندګلویو د امنیت له ساتنی سره یی مرسته کړی ده، خو په عین وخت کی یی نوی جدی ګواښونه یی هم پیدا کړی دی. د ملګرو ملتونو د امنیت د شورا د۲۰۰۱ کال ۱۳۷۳ پریکړه (۴۴ چوکاټ دی وکتل شی) چی په تیر فصل کی ورته اشاره وشوه، د هغه څه یوه ښکاره بیلګه ده چی د نړیوال تروریزم او نړیوالی سولی او امنیت ته د هغو خطرونو په هکله د معلوماتی تکنالوجیو څخه د دوه ګونی کار اخیستو په نسبت نړیواله ټولنه پوره خبرتیا لری.

په څو تیرو لسیزو کی مختلفو نړیوالو سازمانونو د هغو جرمونو او فعالیتونو په برخه کی چی نړیوال امنیت ته خطر پیدا کوی، د اطلاعاتی تکنالوجیو د کار اخیستو د مخی نیوی لپاره په مختلفو لارو چارو باندی کار کړی دی او په عین وخت کی یی هغه لاربښوونی ترغورلاندی نیولی دی چی د هغو هیوادونو مخنیوی وکړی چی د دی تکنالوجیو سره بشری حقوق او آزادی له ګواښ سره مخامخ کوی.

دغه لاندی مطالب کیدای شی چی د پارلمانی استازو لپاره د پام وړ وی ترڅو هغسی قوانین جوړ کړی چی دغو نوو ننګونو ته ځواب ورکړی.

### انترنتی جرم

د هغه یو جرم چی تعریف یی تراوسه پوری بشپړ شوی نه دی انترنتی جرم دی. په هر صورت دغه اصطلاح معمولا د جرمونوهغه پراخی ساحی او د معلوماتی تکنالوجیو څخه ناوړو استفادو ته اطلاق کیږی چی ډیر مشهور او رپوټ ورکړ شوای شکل کمپیوتری غلا او کمپیوتری ویروس دی. که څه هم وروستی څو کلونه په دی ساحه کی د یوی لوړی علاقمندی شاهدی ورکوی، خو کمپیوتری جرمونه کومه نوی پدیده نه ده، او له کامپیوتر څخه د کار اخیستلو له لومړی ورځی څخه داسی پیښی لیدلی شوی دی چی دلته ورته اشاره کیدای شی. په اوسنی وخت کی توپیر دا دی چی د کامپیوتری برید کونکو په اختیار کی امکانات ډیر زیات دی او د دی وجه هم هماغه د انترنټ خپله شهرت دی. هغه بیشمیره ګټی چی انترنټ یی عرضه کوی او هم نړیواله پراخه شبکه په خپله وار سره له هغی څخه د عامه استفادی لامل ګرځیدلی دی. په عین وخت کی دغه پراخه استفاده د هغه له اړوندو مسألو سره د علاقمندی د زیاتیدو سبب شوی. اوس داسی ښکاری چی هسی ورځ به نه وی چی له یو انترنتی جرم څخه رپوټ ور نه کړای شی.

د اروپا شورا د ۲۰۰۱ د نومبر په ۲۳ د انترنتی جرمونو په هکله یو منشور طرحه او اوس هغه د تصویب پړاو ته رسیدلی دی. کله چی د ۵ هیوادونو له خوا چی لږترلږه دری یی د اروپا د شورا غړی وی، په تصویب ورسیږی، دغه منشور د پلی کیدو وړ ګرځی. (د ۲۰۰۲ کال د می په میاشت کی دغه منشور د اروپا د شورا د ۲۹ غړو او ۴ غیر غړو له خوا لاس لیک شوو). دغه منشور د جرمونو د یوی ګډی پالیسی د اړتیا د پیژندلو پر بنسټ ولاړ دی او د مناسبی قانونمندی او د نړیوالی همکاری د ټینګولو سره د جرمونو په وړاندی له ټولنی څخه ساتنه کوی.

## د معلوماتی سيستمونو امنيت

په هرممکنه ساحه او د هر ممکنه مقصد لپاره د معلوماتی سيستمونو د مخ پرزياتيدو کار اخيستو سره هم نړيوال سازمانونه د اړوندو خطرونو په هکله اندېښمن شوی دی. په پايله کی دا امر د دی سبب شوو چی په اروپا کی د امنيت او همکاری کنفرانس OECD د ۱۹۹۲ کال د نومبر په مياشت کی دی ته واړاوه چی د معلوماتی سيستمونو د امنيت لپاره يو لړ لارښونی په تصويب ورسوی چی«دغه لاندی هدفونه تعقيبوی:

- د هغو خطرونو په وړاندی چی معلوماتی سيستمونه له ګواښ سره مخامخ کوی د خبرتيا زياتول او دخطرونو په وړاندی د ساتنی د لارو چارو ميندل؛
- د هغو کسانو سره د مرستی لپاره د يو کاری چوکاټ جوړول چی په عمومی او خصوصی برخو کی د معلوماتی سيستمونو د پراخولو او ساتنی مسؤليت په غاړه لری؛
- د دغو اقداماتو څخه د کار اخيستو لپاره د عمومی او خصوصی برخو تر مينځ د همکاريو زياتول؛
- په معلوماتی سيستمونو باندی د ډاډ من کيدو لپاره د امکاناتو برابرول او د هغو لارو چارو ميندل چی له هغو څخه د کار اخيستو زمينه مساعده شی (...)؛
- د معلوماتی سيستمونو د امنيت د خوندی ساتنی لپاره د نړيوالو همکاريو پراخول»

د دغو لارښوونو په طرحه کی OECD څرګنده کړه چی «هغی د ملی امنيت او عامه نظم په اړه د حکومتونو خپلواک حقوق تر اغيزی لاندی نه دی نيولی، بلکه هغوی تل د خپل ملی قانون ترشرايطو لاندی عمل کوی »

## په کمپيوتر کی ثبت کړای شوای شخصی معلومات

**د ملګرو ملتونو عمومی غونډی د ۱۹۹۰ کال د دسمبر په مياشت کی په کمپيوتر کی د شخصی ثبت کړای شوو معلوماتو په هکله يوه طرحه وړاندی کړه.** څوکاله مخکی له هغی د ۱۹۸۰ کال د سپتمبر په مياشت کی د پراختيا او اقتصادی همکاريو سازمان هم د شخصی مسألو او له ملی پولو څخه بهر ته د شخصی معلوماتو د ليږدلو د ساتنی په هکله ځينی سپارښتنی او لارښوونی تصويب کړی وی. همداراز د اروپا شورا په ۱۹۸۱ کال کی د هغه يو منشور پريکړه وکړه چی د هغه پر بنسټ د يو وګړی د شخصی معلوماتو څخه د کار اخيستو ساتنه کيږی. ۴۶ چوکاټ ته دی کتنه وشی.

**۴۶- چوکاټ**

### د وګړو د شخصی معلوماتو څخه د کار اخيستلو د ساتنی لپاره منشور (ETS no.108)

«دغه منشور لومړنی نړيوال مرعی الاجراء وسيله ده چی د وګړو په هکله د راټول کړای شويو شخصی معلوماتو او له هغو څخه د ناوړه کار اخيستلو او په عين وخت کی له ملی سرحداتو څخه بهر د هغو معلوماتو د بهيرمخنيوی کوی. دغه منشور د شخصی معلوماتو د راټولو او له هغو څخه د کار اخيستلو د ضمانت کولو سر بيره، د ساتونکو قوانينو د نشتوالی په صورت کی، د وګړو د نژادی، سياسی، روغتيايی، دينی، جنسی او جنايی سابقی په هکله معلوماتو څخه د کار اخيستلو مخه نيسی. دغه منشور د دی ضمانت هم کوی چی وګړئ له دی خبر شی چی د هغه په هکله معلومات زيرمه شوی دی او د اړتيا په صورت کی د تصحيح لپاره لاس ته راوړی.
په دی منشور کی په دغو حقوقو باندی محدوديت يواځی هغه وخت شايی ولګول شی چی ځينی ملی

ګټی لکه (دولتی امنیت، دفاع او داسی نور) له خطر سره مخامخ شی. منشور همدا راز له ملی پولو څخه بهر هغو دولتونو ته د شخصی معلوماتو په لیږدیدو باندی محدودیت لګولی چی هلته د شخصی معلوماتو د ساتنی لپاره انډول قوانین وجود ونه لری.
سرچینه: د اروپا شورا
Website http://conventions.coe.int

## هغه څه چی تاسی د پارلمان د استازی په توګه سرته رسولای شی

### د معلوماتی تکنالوجیو په هکله قانونمندی

- ډاډ پیدا کړی چی د معلوماتی تکنالوجیو، انترنتی جرایمو په اړوند په کافی اندازی قانونمندی وجود لری او دا چی دغه ډول تکنالوجی په چټکتیا سره وده کوی موجود قانونمندی وخت په وخت تر غور لاندی نیول کیږی او نوی کیږی.
- ډاد پیدا کړی چی ستاسو هیواد د سیمه ایز او نړیوالو تړونونو غړی دی او خپل کورنی سیاسی قانونمندی د هغو پر بنسټ جوړوی.
- دی ته پاملرنه وکړی چی د معلوماتی تکنالوجیو څخه د کار اخیستلو او انترنتی جرایمو په هکله کورنی قانونمندی او سیاسی تدبیرونه په تفصل سره بیان شوی دی او له هغو څخه کار اخیستل کیږی او همدا راز په دی اړه د بشر د حقوقو او د بنسټیزو آزادیو د خوندی ساتنی ته ځانګړی پاملرنه کیږی.
- که چیری اړتیا وی، د هر نامطلوب حالت د تلافی کولو لپاره له حکومت څخه د پوښتنی پارلمانی غونډی، غوړنیونی غونډی او یا د یوی خصوصی لایحی د طرحی جوړولو په موخه په اقداماتو لاس پوری کړی.

### پارلمانی وسیلی او سرچینی

- ډاډ لاس ته راوړی چی د پارلمان یو کمیسیون او یا یو فرعی کمیسیون تل د معلوماتی تکنالوجیو او د هغو څخه د کار اخیستلو په اړه مسآلی او پرمختګونه څاری.
- د اړتیا په صورت کی د یو داسی کمیسیون او یا فرعی کمیسیون او د اوسنی کمیسیون د کار په اجندا کی د دغی موضوع د نیولو لپاره په اقداماتو لاس پوری کړی.
- ډاډ لاس ته راوړی چی په پارلمان کی صلاحیت لرونکی کسان د خپل ماموریت د ترسره کولو لپاره له لوړ مهارت او امکاناتو څخه برخه من دی.
- که چیری مناسب وی، په پارلمان کی د یو غیر رسمی جرګه ګی جوړول په پام کی ونیسی ترڅو د معلوماتی تکنالوجیو په هکله پرمختګونه، بحثونه تر څارنی لاندی ونیسی. دغه ډول جرګه ګی باید ګوندی تعصب ونه لری او تر کومه ځایه چی امکان لری د هغه غړی دی د پارلمان له دواړو جرګو څخه وی.

## دوه ویشتم فصل

# د سولی نړیوال ماموریتونه

په اوسنیو نړیوالو شرایطو کی، د ملګرو ملتو د سازمان د شپږم فصل (د شخړو سوله ایز حل) یا اووم فصل (هغه اقدامات چی سولی ته ګواښ پیدا کوی یا د سولی ماتول او د تیری چلند) څخه په کار اخیستلو سره د شخړو د حل لپاره هلی ځلی روان دی. د دغو تدبیرونو پر بنسټ ملګرو ملتونو د دغو ماموریتونو د بندوبست کولو لپاره یو لړ طرحی او عملیات او همدا راز لار ښوونی جوړی کړی دی. ملګرو ملتونو د سازمان د سولی د مینځګړیتوب لپاره د عملیاتو په هکله ۴۷ او ۴۸ چوکاټونه او د سوله ساتو ځواکونو د روزنی په هکله ۵۰ چوکاټ ته دی کتنه وشی). د دغو پرمختګونو له مخی چی نړیوال امنیت اغیزمن کوی، ښایی له دولتونو څخه وغوښتل شی چی په داسی ماموریتونو کی ونډه واخلی.

## په بهر کی د سولی په ماموریتونو کی ونډه

له سولی څخه ساتنه، د سولی ټینګول او یا د مینځګړیتوب عملیات د د ملګرو ملتو د امنیت د شوری د صلاحیت له مخی د غړو هیوادنو په ونډی پوری تړلی دی. د نړی دیر زیات هیوادونه اوس بهرته په دی موخه خپل ځواکونه استوی چی په ناامنو سیمو کی سوله او ثبات ټینګ کړی. د یادونی وړ ده چی په بهر کی د ځواکونو هر ډول خوندی کونه باید له نړیوالو اصولو او قوانینو سره سمون ولری ، څرنګه چی په پنځم فصل کی د ملی امنیتی پالیسی او نړیوال مقرراتو تر عنوان لاندی یی یادونه شوی ده.

د غوره واکمنی له نظره، ښه ده چی د پارلمان او د حکومت تر مینځ د څارنی او انډول د سیستم په چوکاټ پارلمان دا امکان ولری چی په بهر کی د پوځی ځواکونو د خوندی کونی په تصمیم نیونی کی ونډه واخلی.

**۴۷ ـ چوکاټ**

**د سولی لپاره مینځګړیتوب، له سولی څخه ساتنه، د سولی ټینګول او د سولی رامینځ ته کول: د ملګرو ملتو څو ګټور تعریفونه**

**د سولی لپاره مینځګړیتوب**

د ښمنیو د پای ته رسولو او د اختلافاتو د حل لپاره دغلیمو ډلو د هڅونی په موخه له دیپلوماتیکو لارو چارو څخه کار اخیستلو ته د سولی مینځګړیتوب وایی. د مخنیونکی سازمان په توګه ملګری ملتونه یواځی هغه وخت کولای شی چی په دی برخه کی نقش ولوبوی چی د شخړی اړخونه موافقه وکړی. په دی ډول د سولی مینځګړیتوب د شخړی د پای ته رسولو لپاره د اړخونو له خوا د پوځی ځواک څخه کار اخیستل منع کوی.

**له سولی څخه ساتنه**

له ۱۹۴۸ کال څخه را په د ی خوا د سولی د ساتنی ۵۴ عملیاتونه سرته رسیدلی دی. له هغو څخه په تیرو ۱۲ کلونو ۴۱ یی د ملګرو ملتو د امنیت د شوری له پریکړو سره سم شوی دی. په اوسنی وخت کی ۱۵ سوله ساتی عملیات په لاره دی. له سولی څخه د ساتنی ماموریت په لومړی سر کی د دولتونو

تر منيځ د نښتو د حل لپاره د يوی وسيلی په توګه په لاره واچول شوو او په دغه ماموريت کی د ملګرو ملتونو تر قوماندی لاندی د يو شمير هيوادونو پوځی پرسونل شامل کړای شول ترڅو پوځی نښتی کنترول او حل کړی. نن له سوله ساتی ماموريت څخه د حکومتی نښتو او کورنيو جګړو د پای ته رسولو لپاره کار اخيستل کيږی. د ملګرو ملتو د سازمان دسوله ساتو ځواکونو، پوځی پرسونل، پوليسو، ملکی کارکونکو ټولو دنده دا ده چی د شخړی اړخونه سره ليری وساتی او هغو سره مرسته کوی چی د شخړی د سوله ايز حل لپاره هڅه وکړی.

دغه دندی عبارت دی له: د سولی له تړونونو سره مرسته، د اوربند کنټرول، د يوی بيلونکی سيمی جوړول، د سياسی تأسيساتو جوړول، د حکومت تر څنګ کارکول، دمينونو پاکول، د پخوانيو اورپکو بی وسلی کول او په ټولنه کی د هغوی جذبول، د انتخاباتو په لاره اچول، له دايمی پرمختګ سره مرسته کول. غړی دولتونه په خپله خوښه پوځ، پوځی تجهيزات او يا ملکی پوليس برابروی، څکه ملګری ملتونه خپله کوم پوځی ځواک نه لری. د انتخاباتو څارونکی، د بشری حقوقو ريپوټ ورکونکی اونور ملکی کار کونکی تل د پوځی پرسونل تر څنګ فعاليت کوی. د سوله ساتو ځواکونو هغه بهير ته تيره وسله دا ده چی د دندی د ترسره کولو په وخت کی ناپيلتوب وساتی. خو سوله ساتی ماموريت له ټولو څخه زيات له خطرونو سره جوخت دی. له ۱۹۴۸ کال څخه را پديخوا تراوسه پوری ۱۶۵۰ پوځی او غير پوځی کسانو خپل ژوند له لاسه ورکړی دی.

**د سولی ټينګول: آيا د سولی ټينګول هماغه د سولی ساتنی معنی لری؟**

د سولی د ټينګښت په برخه کی د امنيت د شورا غړو دولتونه صلاحيت ورکوی چی ټاکلی هدف ته د رسيدو لپاره له ټولو لازمو اقداماتو څخه کار واخلی. په دی برخه کی د شخړی د اړخونو خوښه حتمی او ضروری نه ده. د سولی د ټينګول اقدامات په ډيرو لږو حالتونو په کار لويدلی دی. بيلګی يی دا دی: د خليج جګړه، سوماليا، روندا، هايتی، بوزنيا او هرزيګووينا، آلبانيا او ختيځ تيمور. دغه سوله ټينګونکی عمليات د ملګرو ملتو تر اداری لاندی نه دی. دی د پر ځای هغه د يوه هيواد او يا د څو هيوادونو له خوا په ډله ايزه توګه سرته رسول کيږی، لکه ختيځ تيمور کی چی آستراليا دغه مشری په غاړه درلوده (۱۹۹۹)، ناتو په بوزنيا هرزيګوينا کی (له ۱۹۹۵ کال څخه را په دی خوا، په کوزوو کی له (۱۹۹۹) کال څخه را په دی خوا. په دغو ماموريتونو کی ناتو پوځی مشری او ملګری ملتونه د دغو سيمو په موقتی توګه اداری چاری په غاړه لری.

د نړيوالی سولی او امنيت د ساتنی لپاره د ملګرو ملتو د منشور ټولی مادی د سوله ساتنی او سولی ټينګونی لپاره د تطبيق وړ دی.

**د سولی رامينځ ته کول**

د سولی رامينځ ته کول د هغو فعاليتونو څخه مقصد دی چی له شخړی څخه وروسته ولسونو سره دسولی د نيالګی د ايښودلو لپاره مرسته کوی. دغه ډول عمليات د هغوی د دولت جوړونی او بيا رغاونی د دندو په پام کی نيونی سره يوه ستر مسؤليت په غاړه لری.

**بشری ماموريتونه**

له دغو ماموريتونو څخه مقصد د کورنی جګړو، وچکاليو او طبيعی مصيبتونو (سيلابونه، توپانونه او زلزلی) په صورت کی د بشری هوسايی رسول دی. د دغو عملياتو ډيری برخه وال (حکومتونه، غير حکومتی مؤسسی، د ملګرو ملتو اداری) هڅی لری چی دا ډول بيړنی حالاتو کی په يو وخت کی په عمل لاس پوری کړی، نو په دی وجه کله کله د داسی هوسايی پرګرامونو د پلی کولو يواځنی لاره له پوځ څخه د لوژستيکی مرستو غوښتنه ده.

سرچينه: د ملګرو ملتونو د ګډو برخو انترنيتی پاڼه: http://www.un.org

ښایی دا د حکومت او خلکو په ګټه وی چی بهرته د عسکرو د استلو په پروسه کی پارلمان ته تر کومه ځایه چی امکان ولری برخه ورکړای شی ځکه پارلمانی بحثونه او رایی ورکونی د دا ډول یو ماموریت دیموکراتیک قانونیت غښتلی کوی او د عامو خلکو د ملاتړ سبب ګرځی.

## بهر ته د عسکرو د استولو په پروسه کی د پارلمان برخه اخیستنه

که څه هم بهرته د عسکرو د استول د نویو ګواښونو او د نړیوالو کړکیچونو د حل د امکاناتو په چوکاټ کی خورا اهمیت لری، نو په دی اړه کله چی د سولی د ماموریتونو د تصویب مسأله مطرح شی په ځینو دولتونو کی د پارلمان نقش محدود دی او په ځینو کی اصلا هیڅ نقش نه لری. دا کیدای شی چی بدلون ومومی، لږ ترلږه په ضمنی توګه ترڅو د امنیتی موضوعاتو د څارنی مسأله خوندی پاتی شی.

په دی اړه کیدای شی چی دری مختلف حالتونه تشخیص کړای شی او د هر یوه لپاره د غوره واکمنی په پام کی نیونی سره د پارلمان ته د نقش او مستقیمی برخی اخیستنی لاره پرانیځی.

## د پارلمان ړومبنی یا ورستی پریکړه (غښتلی نقش)

که چیری د قانون له لحاظه د پارلمان ړومبنی تصویب غوښتنه په کار وی، نو بهر ته یواځی د پارلمان له یوی پریکړی سره سم عسکر استول کیدای شی. په دی برخه کی باید د هغه حالت چی پارلمان به دی موضوع کی د بحث او بیا وروسته د راییو ورکولو صلاحیت لری (لکه په امریکا متحده ایالاتو کی) او هغه حالت چی پارلمان یو قانون تصویبوی چی د داسی ماموریت لپاره حکم صادروی (لکه په سویدن کی) باید توپیر وشی. په دواړو حالتونو کی د بشری مداخلو د دیموکراتیک قانونیت او د سولی ماموریتونو د عمل په ډګر کی پلی کیږی.

په دفاعی موضوعاتو کی د وخت او زمان ټاکل خورا مهم امر دی او دا چی پارلمان معمولا په دی لاره کی دیر زیات ګړندی نه دی، نو له پارلمانی ړومبنی تصویب هغه لاره نه ده چی په آسانی سره د عمل جامه واغوندی. همدا وجه ده چی په ډیری حالاتو کی بهرته د ځواکونو د استولو په مسأله کی پارلمان وروسته له هغی مداخله کوی چی د ځواکونو د استولو تصمیم نیول شوی وی. د بیلګی په توګه د امریکا په متحده ایالاتو کی د «جګړی د ځواکونو د پریکړی» له مخی کانګرس تر ۹۲ ورځو پوری د ځواکونو له استولو څخه وروسته کولای شی چی خپل موافقت له هغی څخه اعلان کړی. دا هغه حالت دی چی د پارلمان له پریکړی څخه مخکی ځواکونه استول شوی وی. د دی حالت پر خلاف، په هالند کی د هغه هیواد اساسی قانون په خپل سلمه ماده کی بهر ته د پوځی ځواکونو د استولو په وخت کی د پارلمان او دولت ترمینځ د همکاری غوښتنه کوی، څرنګه چی له استولو څخه مخکی ټول هغه لازم معلومات د پارلمان په اختیار کی باید کیښودل شی چی بهر ته د نړیوال قانون او نظم د اعادی په موخه د عسکرو استولو پوری اړه لری. په دا ډول استولو کی د وسلوالو نښتو حالتونو کی بشری مرستو رسول هم شامل دی.

## بهرته د پوځی عسکرو په استولو کی د پارلمان محدود بحث او نقش (محدود نقش)

په داسی حالت کی اساسی قانون د پارلمان نقش محدودوی او هغه یواځی په یو ټاکلی حالت کی د پوځی ځواکونو د استولو په هکله بحث کولای شی. خو نه شی کولای چی د اجراییه قوی پریکړی ته بدلون ورکړی او همدارازپه دی هکله د راییو ورکولو حق هم نه لری. که څه هم پارلمان د نیول شوی تصمیم په هکله رایی ورکولای نه شی، خو د یو بحث په لاره اچولو سره بهر ته د پوځی ځواک د استولو دیموکراتیک مشروعیت غښتلی کوی. په هغه یو حالت کی چی د پارلمان قدرت محدود وی،

بنایی هغه بهرته د پوځی ځواک استولو سره کومه اړه ونه لری. خو معمول چالچلند دا دی چی بهرته د پوځی ځواک د استولو په هکله حکومت او پارلمان پری بحث وکړی او په ځینو هیوادونو کی آن دا چی پری راییی اخیستنی هم سرته رسولی کیږی.

## هغه یو حالت چی پارلمان په هیڅ صورت کی د تصمیم نیونی حق نه لری (نقش نه لرونکی)

دا هغه یو حالت ته وایی چی پارلمان حتی نه شی کولای چی بهر ته د پوځی ځواکونو د استولو په هکله بحث او خبری وکړی او له هغی وروسته د پریکړی صلاحیت هم نه لری. په داسی دولتونو کی بهرته د پوځی ځواکونو استول اساسا د بهرنی سیاست د تصمیم نیونی له جملی څخه شمیرل کیږی او دا تصمیم په بشپړه توګه اجراییه قوی پوری اړه لری. دا چی پارلمان د تصمیم نیولو په پړاوونو کی برخه نه لری د سولی پر ماموریتونو باندی د هغه د څارنی توانمندی کمزوری ده.

## هغه نوری لاری چاری چی د پارلمان په اختیار کی دی

حتی په هغو حالتونو کی چی پارلمان د تصمیم نیونی په پروسه کی له پام څخه غورځول کیږی او یا محدود نقش ورته ورکول کیږی، کولای شی چی لږترلږه په څلورو برخو کی پارلمان تر فشار لاندی ونیسی:

- پارلمان کولای شی چی له اجراییه قوی څخه وغواړی ترڅو بهر ته د پوځی ځواکونو د استولو په هکله پارلمانی استازو ته معلومات ورکړی. خو که چیری پارلمان د دولت د نړیوالو تعهداتو په هکله بشپړ معلومات ونه لری، نه شی کولای چی د دغو تصمیمونو په هکله له حکومت څخه اغیزمنی پوښتنی وکړی.
- کله چی اجراییه قوی د بودجوی تعدیلاتو په هکله معلومات وړاندی کوی، پارلمان کولای شی چی هغه ترپوښتنو لاندی ونیسی، په خاصه توګه هغه وخت چی له پارلمان څخه غوښتل کیږی چی د سولی د نه پلان شوو او ناڅاپی ماموریتونو لپاره اضافی بودجه تصویب کړی. په دی ډول پارلمان ته دا امکان په لاس کی ورځی چی د مالی خزانی د قدرت له لاری خپل نظر بیان کړی لکه چی دا ډول چلند په فرانسه کی شته دی.
- د پارلمان ونډه نه یواځی د بحث او رائ اخیستنی په بهیر کی مهمه ده بلکه د سولی د ماموریتونو په وخت کی هم کولای شی چی پارلمانی استازی پوښتنی مطرح کړی او یا د دی ماموریت په هکله د پوښتنو لپاره حکومت ته یو وخت وټاکی. سر بیره پر دی استازی کولای شی چی په بهر کی له پوځی ځواکونو څخه لیدنه کتنه وکړی (اوولسم فصل ته دی کتنه وشی).
- د وروسته حساب ورکونی له نظره کله چی د سولی عملیات بشپړ شی، پارلمان کولای شی چی ځینی پلټنی وکړی او یا له حکومت څخه وغواړی چی د هغه ماموریت یو ارزونه وکړی.

**۴۸- چوکاټ**
## د ملګرو ملتونو د سوله ساتو ځواکونو ګام په ګام خوندی کول

د ملګرو ملتونو سازمان له پوځی ځواک څخه بی برخی دی. د سولی د هرماموريت لپاره بايد د هر نوی حالت له مخی پلان جوړ کړای شی؛ د ملګرو ملتونو د امنيت شورا هر کله چی د سولی د عملياتو لپاره بلنه ورکوی، د هغو شرايط او امکانات بايد له سره جوړ کړای شی.

د امنيت شورا له خپلو ۱۵ غړو سره د سولی د عملياتو پريکړه ورکوی او د هغو د ميشته کيدو حکم صادروی. دغه ډول پريکړی د امنيت د شورا د ۹ موافقو رايو ته اړتيا لری او د هغی شورا د هر يو دايمی غړی (چين، فرانسه، د روسيی فيدراسيون، انګلستان او د امريکا متحده ايالاتو) له مخالف يا ويتو رايی سره فسخه کيدای شی. عمومی منشی د هغو عملياتو د څرنګوالی، پيل، د هغو د پلی کولو او همدا راز د هغو د پرمختګ په هکله رپوټ ورکوی. د سوله ساتو عملياتو اداره د ملګرو ملتونو د سوله ساتو عملياتو په هکله د لارښوونو، اداری او ملاتړ دنده په غاړه لری. د ملګرو ملتونو عمومی منشی د ځواکونو قوماندان ټاکی او له غړو هيوادونو څخه غواړی چی پوځی، پوليسی او غير پوځی او داسی نو پرسونل چمتو کړی. غير پوځی پرسونل له هغو افرادو څخه عبارت دی چی د ملګرو ملتونو په دننه کی کار کوی. د هغوی لګښت د غړو هيوادونو له خوا ورکول کيږی او د ځينو خاصو ماموريتونو د ترسره کولو لپاره ګمارل کيږی.

د سوله ساتی ماموريت لپاره د وخت ټاکل فرق کوی او اساسا د عملياتو د ترسره کولو لپاره د پوځی ځواکونو د چمتو کولو په موخه د غړو هيوادونو تصميم پوری اړه لری. په خپل وخت سره د مالی منابعو او ستراتيژيکی مرستو برابرول هم د دغو ځواکونو د ميشته کيدو پر وخت او زمان اغيزه لری. د بيلګی په توګه په ۱۹۷۳ کال کی د ملګرو ملتونو د بيړنی دوهم ځواک غړی(UNEF II) په ۲۴ ساعتونو کی په منځنی ختيځ کی ميشته کړای شوو. خو د کړکيچنو ماموريتونو او يا کله چی سوله ساتی ځواکونه د پام وړ خطرونو سره مخامخ وی، ښايی د هغو ځواکونو برابرول مياشتی مياشتی وخت ونيسی.
سرچينه: د ملګرو ملتونو د سازمان انترنتی پانه http://www.un.org

**۴۹- چوکاټ**
## د سولی په ماموريتونو کی د برخی اخيستلو مقررات

کله چی پارلمان بهر ته د پوځی ځواکونو د استولو اجازه ورکړی، کيدای شی چی د ځواکونو د شرايطو او کچی په هکله هم تصميم ونيسی. په پل عبارت د برخی اخيستلو د شرايطو په هکله. له برخی اخيستلو څخه زمونږ مقصد د خاصو عملياتو لپاره له پوځی قوی څخه د کار اخيستلو حد اوحدود دی چی تر کومی کچی دغو ځواکونو ته اجازه شته چی له قوی څخه کار واخلی. کوم حد او حدود چی په دی اړه ټاکل کيږی، بايد د يوی ځانګړی قاعدی له مخی وی، دا په داسی حال کی ده چی سرتيری د خپل ځان څخه د دفاع لپاره د اړتيا وړ آزادی څخه برخه من دی. همداراز د شخصی دفاع بنسټيز اصول بايد مراعات شی. د سوله ساتی ماموريت د ځواکونو د برخی اخيستلو مقررات له سرتيرو اوهمداراز د عملياتی او تاکتيکی لارو چارو له ملاتړ څخه عبارت دی او بايد له عملياتی او سياسی مسألو او له نړيوالو مقرراتو لکه د ملګرو ملتو د امنيت د شورا له پريکړو سره همغږی ولری. د سولی په عملياتو کی د برخی اخيستلو مقررات بايد له هغو معيارونو څخه کار واخلی چی له پوځی ځواکونو څخه د شفافی استفادی او ړومبيتوبونو له مخی د شخړو د مخنيوی ، شنډولو او حل کولو امکانات مشخص کړی. د پوځی ړومبيتوبونو له مخی د برخی اخيستلو د مقرراتو ټاکل پوځی چارواکو

ته دا امکانات ورکوي چې د شخړې اړخونو ته د لږ تاوان اوښتو سره د زورزياتيو د پای ته رسولو لپاره له پوځي قوی څخه په مختلفو کچو کار واخيستل شي.
د سولې په عملياتو کې د برخې اخيستلو مقررات له پوځي ځواکونو څخه د کار اخيستو مختلفې کچې په لاندې ډول څرګندوي:

- **يوازې د خپلو عسکرو د خپل ځان د دفاع لپاره**
- **د عسکرو د خپل ځان او د ملکي وګړو څخه د دفاع لپاره**
- **د عسکرو د خپل ځان څخه دفاع، له ملکي او ټاکلو اهدافو څخه دفاع (لکه روغتونونه، پلونه او داسې نور)**
- **د دې مقصد د داړ من کيدو لپاره چې دغه عمليات په ښه توګه عملي شوی دی، له ځينو ضروري اقداماتو څخه کار اخيستل.**

**د دې تر څنګ د برخې اخيستلو مقررات بايد هغه وسلې او پوځي تجهيزات هم وټاکي چې په دې عملياتو کې ترې کار اخيستل کيږي، لکه الوتکې، بيړۍ، توغندي سيستمونه او داسې نور.**

## د سولې د ماموريت لپاره د سرتيرو روزنه

په سوله ساتو عملياتو کې برخه اخيستل د هر پوځي ځواک لپاره يوه ګرانه دنده ده چې د چمتوالی د معياري روزنو سر بيره د ځينو نورو اضافي روزونو غوښتنه کوي. دغه اضافي روزنې په مختلفو برخو کې دي، لکه د مينونو شنډول، له ولسي خلکو سره د اړيکو نيول، د عمل په ډګر کې د مينځګړيتوب توانمندي، د سيمې د خلکو د ژبې زده کړه، د هغوی له کلتور، رسم او رواج سره پيژندګلوي، له انساني حقوقو او بشري قوانينو څخه سمه خبرتيا. د يادونې وړ ده چې د سولې په ماموريتونو کې له قوي څخه کار اخيستل ډير محدود دی او په ځينو حالاتو کې پوځي ځواکونه اصلا وسله ځان سره نه ليږدوي.

د ځانګړو روزنو لپاره په دې وجه هم اړتيا ده چې وسلوال ځواکونه ډيرې وخت د سولې په هغو ماموريتونو کې ګډون وکړي چې له خپل وطن څخه ډير ليرې دی او مخکې له دې هيڅ ګمان هم نه کيده. په داسې حالاتو کې د عسکرو ليږدول او چمتو کول په خاصه توګه يو ستره ننګونه ده او په ځينو حالاتو کې له مادي او مالي لحاظه د ځينو دولتونو له قدرت او تاوان ډيره اوچته ده.

په پای کې د قوماندې او په لوژيستکي سطحه هم روزنو ته ا ړتيا ده، ځکه د ډيرو هيوادونو ملي عسکر په دغې سيمې کې د يوې ګډې قوماندانۍ تر قوماندې لاندې دي، نه دا چې له خپل اړوند دفاع وزارت څخه قومانده ترلاسه کړي. د مختلفو هيوادونو د وسلوالو ځواکونو او د ځينو سازمانونو لکه سور صليب تر مينځ همکاري يو حتمي او بنستيز امر دی.

د سولې هغه ماموريتونه چې د ملګرو ملتونو د سازمان له خوا اداره کيږي د عسکرو قوماندانۍ نه يوازې د امنيت شورا فيصلو پورې اړه نيسي، بلکه د برخې اخيستلو مقرراتو ، د ملګرو ملتونو د ځو اولسيز ځواک عملياتي مقرراتو او د هغه سازمان د اداري چالچلند تګ لارې پورې هم اړه لري.

**۵۰ـ چوکاټ**

## د ملګرو ملتونوله خوا د سوله ساتو ځواکونو روزنه

د سوله ساتو ځواکونو د عملیاتو د دارالانشاء په څانګې کې یوه جوړ شوی پوځی ټولګی د سوله ساتو روزنو په هکله تخصصی او معلوماتی لاربښوونی د غړو هیوادونو په اختیار کې پریږدی. دغه ټولګی هغه درسی زدکړی او مطالب چمتو کوی چی د سوله ساتو ماموریتونو له کلونو تجربو څخه لاس ته راغلی او موخه یی د زده کړو او د معیاری عملیاتی چلندونو پراخول دی. دغه ټولګی په ډیرو هیوادونو کی له پوځی پوهنتونونو، د زدکړو له ملی او سیمه ایزو مرکزونو او همداراز د سوله ساتو ماموریتونو سره همکاری کوی. د سوله ساتو پروګرامونو د جوړولو او عملی کولو لپاره د ملګرو ملتونو د زدکړو مرستندوی تیمونه او د «ښوونکو د روزنی» تر نامه لاندی د زدکړو کورسونه غړو هیوادونو ته د مرستی په موخه جوړ او دایر شوی دی. په بنسټیزو معیارونو کی د یووالی د راوستلو سره د مرستی په موخه د چالچلند لاربښونی او مختلفی رسالی او کتابونه خپاره شوی دی.
سرچینه: د ملګرو ملتونو د سازمان انترنتی پاڼه http://www.un.org

### بهرته ته د بشری ماموریتونو لپاره د ځواکونو د استولو معیار

پارلمان او حکومت کولای شی چی بهرته د پوځی ځواکونو د استولو لپاره معیارونه وټاکی. له مشخصو معیارونو څخه کار اخیستل د تصمیم نیونی په چلند کی شفافیت زیاتوی او دا د دی سبب ګرځی چی د سولی عملیاتو څخه عامه ملاتړ هم پیاوړی کړی. په دی اړه دوه ډوله معیارونه د پلی کیدو وړ دی (راتلوکی چوکاټ ته دی کتنه وشی). لومړی ډول یی سیاسی شرایطو او د عملیاتو ډول پوری اړه نیسی او دوهم ډول یی خپله د ماموریت څرنګوالی، واک او اختیار، قوماندانی، مودی او د پوځی ځواک ډول پوره تړلی دی.

## هغه څه چی تاسی د پارلمان د استازی په توګه سرته رسولای شی

**د سولی د ماموریتونو د شرایطو او ډول په هکله عمومی معیارونه**

- ډاډ پیدا کړی چی پارلمان یا د هغه واکمن کمیسیونونه په لاندی برخو کی څارنه لری:
  - د دولت په نړیوالی ژمنو؛
  - د سولی د ماموریتونو په نامه د پوځی ځواکونو استول او یا په خپل هیواد کی د هغو منل؛
  - د هر مشخصی مداخلی لامل او وجوهات (د بیلګی په توګه د اړوند هیواد په ټوله سطحه د بشری حقوقترپښولاندی کول او داسی نورو حالاتو څارنه)؛
  - په سیمه ایز یا نړیوال سوله ساتو ماموریتونو کی د واک او اختیار د حدودو لپاره د بنسټیزو شرایطو جوړول؛
  - په سیمه ایز یا نړیوال سوله ساتو ماموریتونو کی د برخی اخیستلو لپاره د پوځیانو لپاره د بنسټیزو مقرراتو ټاکل؛
  - له پوځی ځواک څخه په تناسبی توګه کار اخیستل؛
  - د اغیزمنو سیاسی تصمیمونو لپاره لازم احکام؛
  - د دولت واک ته د حدودو ټاکل؛
  - په سوله ساتو عملیاتو کی د خلکو ملاتړ یا مخالفت؛
  - د چالچلندونو او یا د پیښیدونکو مسألو په پام کی نیونی سره د هر ډول اصولو ارزونه؛
  - د ماموریت په پای کی پر هغه باندی د یوی عمومی کتنی لپاره بشپړو معلوماتو ته د پارلمان اړتیا.

**د سولی د ماموریت په اړه مشخص معیارونه**

- ډاډ پیدا کړی چی پارلمان یا د هغه واکمن کمسیونونه په لاندی برخو کی څارنه لری:
  - د سولی د ماموریت د واک او حدودو تعریف؛
  - د پوځی ټولګیو ډول چی په ماموریت کی ونډه اخلی؛
  - د ماموریت پوځی امکانات؛
  - د پوځی ټولګیو او د هغو د تجهیزاتو برابرول او چمتووالی؛
  - هغه احتمالی خطرونه چی پوځی پرسونل ورسره مخامخ دی؛
  - د عملیاتو په پام کی نیول شوی موده او د اړتیا په صورت کی د هغو د پای ته رسولو لپاره شرایط؛
  - مالی اغیزی؛
  - د دی امر په وړاندی د خلکو غبرګون.

**د سولی د ماموریتونو په اړه له پارلمانی لارو چارو څخه کار اخیستل**

- ډاډ ومومی چی د اړتیا په صورت کی پارلمان وکړای شی:
  - د سولی د ماموریتونو په هکله عامه غوړ نیونی غونډی دایری کړی؛
  - د سولی د ماموریتونو د پلی کولو لپاره پوره څیړنی وکړی؛
  - د دی صلاحیت ولری چی د سولی په ماموریت کی له بشری حقوقو څخه د سرغړونو په صورت کی هر شکمن غړی د عدالت منګولو ته وسپاری.
- د سولی د جاری ماموریتونو په اړه د پارلمانی پوښتنو او ګرویځنو او غوړنیونو لارو چارو څخه د کار اخیستلو لپاره سپما مه کوی.

## شپږمه برخه

# مالی سرچينی:
# دامنيت په اړه يواغيزمن بودجوی
# کنترول ته لاره اوارول

## درویشتم فصل

# امنیت او د خزانی قدرت

## پارلمان او د امنیت په اړه بودجوی چلند

په ټوله نړی کی د قانون له مخی پارلمانونه د امنیت په اړه د بودجی په ټاکنه او څارنه کی ستر نقش لری، که څه هم د دغه نقش سیاسی انګیزی او د هغه پر ځای کول له یو هیواد څخه تر بله پوری توپیر لری. خو په عمل کی ډیری وختونه پارلمان دومره صلاحیت او قدرت نه لری چی ډیر زیات اغیزمن تمام شی او د امنیتی لګښتونوپه اړه د هغه چلندونه ډیری وخت له خنډونو سره مخامخ کیږی. له ډیر پخوا څخه همدا دود پاتی دی چی اجراییه قوه پر امنیتی برخی واکمنی لری چی په خپله د پارلمان د چلند په وړاندی یو خنډ دی. دا مسأله د دی لامل ګرځیدلی چی په دفاعی بودجه کی د تصمیم نیونی ټول بهیر اجراییه قوی او وسلوالو ځواکونو ته خوشی پاتی شی.

خو پارلمانی استازی باید د ملی بودجی قدرت چی پر امنیتی برخی باندی د څارنی او د ټولنی له غوښتنی سره سم د اصلاحاتو راوستلو لپاره یوه اغیزمنه وسیله ده، کمزوری ونه ګڼی. دخزانی یا په عام اصطلاح د«پیسو د کڅوړی قدرت» څخه کیدای شی چی د بودجی په ټاکنه کی هغسی کار واخیستل شی، چی خلکو ته ځواب ورکونکی وی.

**۵۱- چوکاټ**
**بودجه: د دیموکراتیکی واکمنی لپاره یوه مهمه وسیله**

ملی بودجه یوازی د عایداتو د اندازی د جمع کولو او لګښت لپاره د وړاندیز وسیله نه ده، بلکه هغه د پالیسی یوه مهمه تګ لاره ده چی د اجراییه قوی له خوا د یو کال په موده کی په لاره لوییږی. ملی بودجه د بنسټیزو ارزښتونو چی د ملی سیاست بنسټ جوړوی، ښکارندوی ده او د یو اولس د ټولنیز - اقتصادی حالت په هکله د حکومت نظر څرګندوی. بودجه د حکومت د مالی کال او د هغه د مالی او اقتصادی هدفونو اعلامیه ده او ټولنیز او اقتصادی ږومبیتوبونه ښیی (....). همداراز بودجه د حکومت د راتلونکی هدفونو او تیرو اجراآتو په هکله ارزښت لرونکی تدبیرونه وړاندی کوی.
«بودجه د شفافیت، د ځواب ورکونی د وړتیا، د غوره او هراړخیزی واکمنی په هکله د داډ میندنی لپاره یو مهم سند ګڼل کیږی. د پیشنهادی لګښتونو په هکله د دقیق معلومات ورکولو سره پارلمان او عام خلک د دی اجازه پیدا کوی چی پوه شی چی پیسی په کومو لارو لګولی شوی دی» او په دی ډول شفافیت نور هم غښتلی کیږی. سربیره پردی، مخکی له دی چی حکومت پیسی ولګوی او یا کوم عاید لاس ته راوړی، بودجه باید د پارلمان له خوا تصویب شی، دا د دی سبب ګرځی چی اړوند وزیران پارلمان او یا اړوندو کمسیونونو ته ځواب ورکړی.
«شفافیت او ځواب ورکونه یا حساب ورکونه باید د اساسی قانون غوښتنه وی او بیا په خاصه توګه د ملی بودجی په اړوند. په حقیقت کی شفافیت او ځواب ورکونه د بودجی د ټاکلو په ټولو پړاونو کی د دیموکراسی زړه ده.
اقتباس : د جنسیت له نظره او د بودجی د ټاکلو په هکله د بین الپارلمانی اتحادیی د سیمینار عمومی رپوټ، نایروبی، د ۲۰۰۰ کال د می میاشت.

پارلمان کولای شی چی د امنیتی مسألو په هکله د بودجی د جوړولو په څلورو پړاونو کی غبرګون ښکاره کړی:

**د بودجی چمتو کول:** دا پړاو اجراییی پوری اړه لری چی د مختلفو مقصدونو لپاره د بودجی وړاندیز کوی. خو پارلمان او د هغه غړی هم کولای شی چی د مختلفو رسمی او غیر رسمی میکانیزمونو له لاری په دی لاره کی مرسته وکړی.

**د بودجی تصویب:** په دی پړاو کی پارلمان باید د خلکو ګټی مشخصی کړی او د بودجی وړتیا تر غور لاندی ونیسی. همداراز کولای شی چی په ځینو ځانګړو حالاتو کی د امنیتی بودجی تخصیص له ځینو لاربښونو سره تکمیل او تصویب کړی.

د **اجراآتو یا د لګښت پړاو:** په دی پړاو کی پارلمان ټاکل شوی لګښتونه تر کنترول او غور لاندی نیسی او کولای شی چی د شفافیت او ځواب ورکونی لپاره امکانات غښتلی کړی (لاندی اړوندی برخی ته دی کتنه وشی). د اضافی بودجی د غوښتنی په هکله پارلمان کولای شی چی هغه تر کنترول او ژوری څیړنی لاندی ونیسی او له بی ځایه لګښتونو څخه مخنیوی وکړی.

**مالی پلټنه یا کتنه:** په دی پړاو کی پارلمان د حکومت له خوا له اختصاص شوی بودجی څخه د ناوړه استفادی امکانات تر پلټنی لاندی نیسی. سر بیره پر دی، پارلمان وخت په وخت ټوله بودجه تر ارزونی لاندی نیسی تر څو د ځواب ورکونی له وړتیا، اغیزمنتوب او د هغه له دقت څخه ډاډ لاس ته راوړی.

## دفاعی لګښت

**۵۲ چوکاټ**

### ولی باید پارلمان د هیواد د بودجی په ټاکلو کی فعال نقش ولری؟

په پارلمان کی د حکومت مخالف اړخ کولای شی چی د بودجی پر سر له بحث څخه استفاده وکړی او نور وړاندیزونه وړاندی کړی.
د پارلمان ډیری یعنی حاکم اړخ د بودجی د تصویب په وخت کی هڅه کوی چی د حکومت د سیاست او هغو پرګرامونو تر مینځ چی حاکم ګوند د هغو له مخی پارلمان ته انتخاب شوی دی په تطابقت باندی له ټینګار سره د اجراییه قوی د چلند په نسبت خپل اعتماد څرګند کړی.
د بودجی کنترول د حکومت پر سیاست باندی د اغیزی لپاره یوه ډیره مهمه وسیله ده.
د بودجی پر سر د غورکولو د قانون له مخی اجراییه قوه خپل مسؤلیت پر ځای کوی او په دی ډول د بودجی د تصویب پړاو پای ته رسیږی.

اقتباس: د جنسیت له نظره او د بودجی د ټاکلو په هکله د بین الپارلمانی اتحادیی د سیمینار عمومی رپوټ، مالی، باماکو، نومبر ۲۰۰۱

په لاندی چوکاټ کی د نړی په مختلفو برخو کی دفاعی لګښتونو ته یوه لنډه کتنه شوی ده. په دفاعی لګښت کی کموالی په خاصه توګه له سړی جګړی څخه وروسته زمانه کی لیدل کیږی. ډیرو هیوادونو په اصطلاح د خپلی «سولی ګټه» ترلاسه کړه. سره له دی هم په آسیا او افریقا کی د ډیرو هیوادونو دفاعی بودجی له پخوا څخه هم زیاتی شوی دی.

**۵۳ چوکاټ**
## په فیصدی توګه له ملی ناخالص عاید څخه د ځینو هیوادونو دفاعی لګښتونه

| هیواد | 1985 | 2000 | 2001 |
|---|---|---|---|
| ناتو | 4.0 | 2.2 | 2.2 |
| متحده ایالات | 6.5 | 3.0 | 3.2 |
| انګلستان | 5.2 | 2.4 | 2.5 |
| فرانسه | 4.0 | 2.6 | 2.6 |
| آلمان | 3.2 | 1.6 | 1.5 |
| هغه اروپایی هیوادونه چی د ناتو غړی نه دی | 4.3 | 2.8 | 2.3 |
| پخوانی شوروی اتحاد / روسیه | 16.1 | 5.0 | 4.3 |
| منځنی ختیځ او شمالی آفریقا | 11.9 | 6.7 | 7.2 |
| مرکزی آسیا او جنوبی آسیا | 4.3 | 5.2 | 3.8 |
| لویدیځه آسیا او آسترالیا | 6.4 | 3.5 | 3.3 |
| جاپان | 1.0 | 1.0 | 1.0 |
| لاتین آمریکا او د کاریبیک ناحیهء | 3.2 | 1.7 | 1.7 |
| آفریقا ـ د صحرا منطقه | 3.1 | 3.8 | 3.4 |
| اریتریا | نه لری | 30.0 | 20.9 |
| نړی په ټولیزه توګه | 6.7 | 3.6 | 3.5 |

سر چینه: پوځی توازن 2003 - 2002، IISS لندن

## د امنیت په پام کی نیونی سره د اغیزمنی بودجی جوړول

ځواب ورکونه او شفافیت د بودجی د تنظیم لپاره بنسټیز شرطونه دی. د ځواب ورکونی د ارزښت د پلی کولو لپاره غوره لاره د بودجی په جوړولو کی له یوی روښانی لاری چاری څخه کار اخیستل دی. سمه ځواب ورکونه یا حساب ورکونه او شفافیت کیدای شی چی د اغیزمنی بودجی د تنظیم له اصولو څخه په کار اخیستلو سره ډاډمن شی:

**مخکی له مخی واک ورکول**: پارلمان باید د بودجی په لګښت کی اجراییه قوی ته لازم واک او اختیار ورکړی.

**یووالی:** ټول لګښتونه او عایدات باید د بودجی په ټاکل شوی لایحه کی هر کال پارلمان ته وړاندی شی.

**تنظیم:** له اجراییه قوی څخه انتظار کیږی چی پارلمان د کلنی بودجی د یوی لایحی وړاندی کولو لپاره یو ټاکلی زمانی چوکاټ ته پاملرنه وکړی. یو زمانی چوکاټ ټاکلو ته اړتیا ده تر څو په دی مودی کی ټاکلی پیسی چی د بودجی تنظیم پوره اړه نیسی، ولګولی شی.

**تشخیص:** د بودجی د هری برخی کچه او توضیحات باید د حکومت د لګښتونو یو ښکاره څرګندونه وکړی. د بودجی د هری برخی څرګندونی باید تت او ګنګی نه وی او همداراز د هری برخی اړونده اختصاص شوی بودجه ډیر زیاته ستره نه وی.

**مشروعیت:** ټول لګښتونه او فعالیتونه باید د قانون له مخی اجراء شی.

**د پوهی وړ پلان:** انتظار کیږی چی اجراییه قوه پارلمان ته د لګښتونو داسی یو پلان وړاندی کړی چی په پارلمان کی د ټولو برخه والو لپاره د پوهیدو وړ وی.

**هراړخیز والی:** د حکومت بودجه باید د امنیتی هری برخی لپاره بشپړه او هراړخیزه وی. د امنیتی ټولو خدماتو په شمول لکه پوځ، د حکومت نور پوځی ارګانونه، پولیس، استخباراتی خدمات او پوځی خصوصی شرکتونه چی د حکومت له خوا استخدامیږی، د هیڅ برخی لګښت باید له پام څخه ونه غورځول شی.

**تبلیغات:** ټول اتباع (څه انفردی یا ډله ایز) باید دا موقع ولری چی د بودجی په هکله خپل شخصی قضاوت وړاندی کړی. دا امر د دی غوښتنه کوی چی د بودجی ټول اسناد د پوهیدو وړ پلان ولری او د هیواد په هره برخه کی د وګړو په اختیار کی پریښودل شی (د بیلګی په توګه سیمه ایزو کتابتونونو ته د هغی د نسخو استول).

**اړیکی:** د پالیسیو، نقشو، دبودجی د لاس ته راوړنی او د عملیاتو د سرته رسولو او د هغو د نتایجو تر مینځ باید څرګندی اړیکی موجودی وی.

**وسایل او هدفونه:** د بودجی په هکله وړاندی شوی توضیحات باید د دغو ټکو په پام کی نیونی سره د بودجی هدفونه څرګند کړی: **الف -** د بودجی د لاس ته راوړنی سرچینه، **ب -** هدفونو ته د رسیدو لپاره اجراآت او امکانات، **ج -** په طرحو کی د اندازه کیدو وړ نتایج. د بدلون وړ یوی بودجه کی باید دا امکان موجو وی چی د هر یوه یاد شوی ټکی له مخی هغی کی بدلون راوستل شی.

په حقیقت کی دغه اصول کیدای شی چی د بودجی د سم تنظیم او نوی کولو لپاره د کیفی معیارونو په توګه وکټل شی. چیرته چی پارلمانی استازی د امنیتی ادارو په هکله له سمو معلوماتو څخه برخه من نه وی، نه شی کولای چی د بودجی په مختلفو پړاونو کی ټولنیز، اقتصادی او پراختیایی موضوعات مطرح کړی.

## د امینتی بودجی د سم تنظیم شرایط

د بودجی په تنظیم کی مختلف عناصر شته دی چی د امنیتی اداری پر بودجی باندی پارلمانی څارنه غښتلی کوی. داسی ښکاری چی په دی اړه په لومړی سرکی یو مشخص قانونی چوکاټ موجود وی. همداراز د پارلمانی څارنی لپاره د پیسو ارزښت، په بودجه کی نظم، د وخت او زمان ټاکل او د مدنی ټولنی اړیکی هم د اهمیت وړ مسألی دی.

### د قانون مشخص چوکاټ

پرامنیتی ادارو باندی د پارلمانی استازو د څارنی حق باید په اساسی قانون او د هغه په ضمایمو کی په ښکاره ډول څرګند وی. سربیره پر دی پارلمان باید له حکومت څخه د معلوماتو د لاس ته راوړلو لپاره

ځيني قوانين تصويب کړي او هغه صلاحيت او واک چې د هغه له مخې له حکومت څخه معلومات لاس ته راوړل کيږي د قانون په چوکاټ کې بايد اعمال شي. پرامنيتي ادارو باندې د بودجې له لارې پارلماني څارنه بايد د استازو سياسي عادت وګرځي، البته دا د ډېر زيات زيار او هڅو غوښتنه کوي.

### د پيسو ارزښت

د بودجې د جوړولو په پروسه کې بايد د پيسو د ارزښت بنسټيز قوانينو څخه کار واخيستل شي:

- اغيزمنتوب: د پاليسي په هدفونو پوهيدل (د سم کار سرته رسول)؛
- توانمندي: له ډېرو لږو سرچينو څخه د کار اخيستلو سره د پاليسيو په هدفونو پوهيدل (له اقتصادي لحاظه کار په ښه توګه سرته رسول).

**۵۴ ـ چوکاټ**

## د پلان، پروګرام جوړوني او بودجوي نظام

«(...) د پلان، پروګرام جوړوني او بودجوي نظام ميکانيزم د لومړي ځل لپاره په امريکا متحده ايالاتو کې د ۱۹۶۰ لسيزې په سر کې د دفاعي بودجې د جوړوني په برخه کې په کار ولويده. (نن ورځ دغه نظام په ډېرو نورو هيوادونو کې هم په کار لويدلی دی.) د پلان، پروګرام او بودجې جوړوني د لومړي پړاو يوه نښانه دا ده چې په هغه کې امنيتي شرايط، ملي ګټې او ګواښونه تر تحليل او تجزيې لاندې نيول کيږي تر څو د وسلوالو ځواکونو دندې، ترکيب او جوړښت وټاکل شي. د داسې مهمو مسألو له ارزونو څخه وروسته پروګرامونه طرحه کيږي. د دغو پروګرامونو له طرحې سره چې د يو سوداګرۍ پلان په څير دي، هغه هدفونه چې بايد لاس ته راشي ټاکل کيږي. له کومه ځايه چې د ټاکل شوو هدفونو پروګرام جوړونه مالي سرچينو پورې اړه نيسي، نو په دې وجه دا يوه ډېره مهمه اړيکه شميرل کيږي. په دې ډول پلان، پروګرام جوړوني او بودجوي نظام د دې پر ځای چې مالي منابع د اعلان شويو اړتياو و سره سم اختصاص کړي، په پام کې نيسي چې پلان او پروګرام جوړونه په بودجه کې د وړاندويل شويو محدوديتونو په مطابق سرته ورسوي. نو له دې کبله مهمه مسأله دا ده چې پروګرامونه د ړومبيتوبونو له مخې جوړ شي، ترڅو چې د وسلوالو ځواکونو له ټولو څخه مهمې اړتياوې پوره کړای شي. د خطرونو له ارزونو څخه چې هدف ته د نه رسيدلو له نتايجو سره اړه لري، کيدای شي د ړومبيتونو د ټاکلو لپاره کار واخيستل شي.

د دي پروسې په پای کې د سنجش او ارزونې پړاو دی چې په هغه کې وزارت په ځانګړې توګه او ټولنه په مجموعي توګه کولای شي د کال په پای کې وګوري چې ټاکل شوي هدفونه تر کومه ځايه لاس ته راغلي دي. په دې ډول د مالي سرچينو د اغيزمنو ويشلو لپاره لاره اواريږي.

مأخذ: د دفاغي بودجې شفافيت د Kate Starkey and Andri van Meny ليکنه
معلومات او امنيت، ۵ جلد، ۲۰۰۰ کال، C4 in Defence of Reengineering.

د دې خبرې ارزونې لپاره چې آيا دفاعي بودجه پيسو ته ارزښت ورکړي که نه، د بودجې د پرمختللې نظريې له مخې لګښتونه بايد له پروګرامونو او هدفونو سره اړه ولري (۵۴ چوکاټ دې وکتل شي) يعنې لګښتونه بايد اړوندو پاليسيو او هدفونو پورې تړلي وي (د بيلګې په توګه د سولې ماموريتونه، ښوونه او روزنه). همداراز ټول لګښتونه بايد د يوې ګيډې په توګه سره راټول کړای شي. سر بيره پر دې پارلمان بايد وکړای شي چې د پيسو ارزښت د مالي پلټونکو په مرسته وټاکي (راتلونکی فصل ته دې کتنه وشي). دا په دې معنې چې حکومت پارلمان ته د لګښتي بودجې پر ځای د هدفونو بودجه وړاندې کوي. د پلان، پروګرام جوړوني او بودجوي نظام ميکانيزم هغه وخت عملي کيدای شي چې امنيتي خدمات د محرميت له غوښتنو سره خپل پلانونه روښانه کړي.

## د بودجی انضباط

د دی لپاره چی سړی ډاډه شی چی حکومت له مقرراتو او د قانون او همدا راز د پارلمان له خوا د تصویب شوی بودجی له چوکاټ سره سم عمل کوی، په بودجه کی د انضباط خوندی ساتل یو حتمی امر دی:

- د دفاعی بودجی (د لګښت اټکل) او د بیو د سطحی د ودی تر مینځ اړیکه؛
- په لګښت کی د کموالی او زیاتوالی د حد او حدودو د ټاکلو د څارنی لپاره له نورمونو څخه کار اخیستل؛
- د بودجی د تطبیق په وخت کی د لګښت د کموالی او زیاتوالی د مخنیونی لپاره له اقداماتو څخه کار اخیستل؛
- که چیری د دفاعی بودجی په لګښت کی کموالی یا زیاتوالی راشی، باید د اقتصاد او مالیی وزیران او د کابینی نور غړی دی خبر کړای شی.
- د دفاعی بودجی د زیات لګښت د جبران لپاره مقررات: د دفاعی بودجی یا د نورو دولتی بودجو په چوکاټ کی د دفاعی بودجی د د زیاتوالی جبران.

## د وخت او مودی ټاکل

د امنیتی اداری لپاره د یوی ډیری ښی اغیزمنی بودجی د ټاکلو په موخه، لازمه ده چی له رایی ورکونی څخه مخکی د دفاعی بودجی په وړاندیزونو باندی د غورلپاره کافی وخت ورکړای شی. لږ ترلږه ۴۵ ورځی یا دری میاشتی وخت پکار دی چی پارلمانی استازی وکړای شی چی په دفاعی بودجه باندی په بشپړه توګه غور وکړی.

د دفاعی بودجی د پالیسیو په هکله د دقیقو، هراړخیزو او په خپل وخت معلوماتو برابرول له څو اړخونو خورا اهمیت لری:

- دغه معلومات د عامو خلکو د خبرولو لپاره او همداراز د مخکی له مخکی بحث او مناقشی لپاره ضروری دی؛
- د کمزورو ټکو پیژندل او سمونوالی ته اړتیا د امنیت او د نورو دولتی ارګانونو د لګښت تر مینځ د انډول لپاره لاره اواروی؛
- د امنیتی برخی د بودجوی شفافیت منجمنت عامه خلکو او پارلمان ته د ځواب ورکونی او حساب ورکونی سره ښه مرسته کولای شی او په حکومت باندی د خلکو اعتماد زیاتوی.

## له مدنی ټولنی سره اړیکی

پارلمان کولای شی چی د مالی غور او د بودجی د کنترول د پړاونو لپاره په مالی او بودجوی چارو کی د مدنی ټولنی له کار پوهانو له نظریو څخه کار واخلی. دا امر په خاصه توګه کولای شی چی د امنیتی مسألو د بودجی په تنظیم کی چی څارنه یی روښانه او څرګنده نه ده، مرسته وکړی. د نورو مسألو سر بیره د بودجی په تنظیم کی شفافیت باید د معلوماتو د آزادی د قانون پر بنسټ ولاړ وی.

## ښوونه او تخصص

په پای کی، ډیری پارلمانونه اړتیا لری چی د خپل تخصصی هیأت لپاره د ښوونی او څیرنی له لاری د پارلمان د غړو او پارلمانی کارکونو کفایت او ظرفیت لوړ کړی. په دی موخه بین الپارلمانی اتحادیه د

دیموکراتیک حکومت او پارلمانی استازو د اغیزمن فعالیت د ودی لپاره په سیمه ایزو او محلی سطحو سیمینارونه جوړوی ترڅو د هغوی پام استازو او د پارلمان نورو کارکونکو ته واړول شی او همدا راز د لاربښودنی د ځینو کتابونو او رسالو لکه د دغه کتاب په خپرولو لاس پوری کوی.

**۵۵. چوکاټ**

## د دفاعی بودجی بنسټیزی اجزاوی: د هسپانیی د ۲۰۰۲ کال دفاعی بودجه

**اجناس او خدمات**

- خوراکی مواد
- له تأسیساتو څخه ساتنه
- پټرول
- بریښنایی خدمات، اوبه، تیلفون او داسی نور
- پوښاک
- د نورو لګښتونو جبیره
- ترانسپورت
- ښوونه
- روغتیایی خدمات
- نورعملیاتی لګښتونه

**نور مالی لګښتونه**

- روانی لیږدونی
- نړیوال سازمانونه
- خپلواک ارګانونه
- نوری لیږدونی

**جنسی پانګه ایښودنه**

- د وسلوالو ځواکونو عصری کول
- له وسلو او مهماتو څخه ساتنه
- څیړنی او پرمختګونه
- نوری پانګی اینودنی

**د پانګو لیږدول**
**مالی شتمنی**

سرچینه: په ۲۰۰۲ کال کی د هسپانیی دفاعی بودجه، د هسپانیی د دفاع وزارت

# د امنيتي بودجې په جوړولو کې شفافيت او حساب ورکونه

## شفافيت د پېتوالي په وړاندې

په تصميم نيولو کې شفافيت هغه يوه اساسي لاره ده چې ښيي چې د تصميمونو پايلې د خلکو غوښتنو او سياسي هدفونو سره يو شان دي. په دفاعي بودجه کې شفافيت پارلمان ته توان ورکوي چې د خپلې څارنې نقش په اغيزمنه وجه سرته ورسوي او د امنيتي اداري په وړاندې د خلکو اعتماد غښتلې کړي. د دفاعي بودجې په جوړولو کې د شفافيت نشتوالي ډېرې وخت د بودجې د طرحې لپاره يو خنډ دی او يا د د امنيتي هدفونو د تعريف کمزورتيا ښيي. همداراز دغه امر د مالي پلټنې په ملي سازمانونو کې د انضباطي تخصص نشتوالي، د نظر ورکولو په موخه عامو خلکو ته د معلوماتو ورکولو لپاره د اساسي قانون کمزورتيا او بيروکراتيک دريځ سره اړه لري، کوم چې د حساب ورکونې پر ځای محرميت ته غوروالې ورکوي. د مالي حسابونو پلټونکې او قانون جوړونکې بايد د کمزورتيا ټکې معلوم کړي او هغه تر پاملرنې لاندې ونيسي (راتلونکې فصل ته دې کتنه وشي).

**۵۶. چوکاټ**

**د امنيتي بودجې په شفافيت کې مهم خنډونه**

«کله چې د اجراييه قوې يو کوچنی شمير افراد د امنيتي پاليسيو او سرچينو د تصميم نيونې صلاحيت ولري د شفافيت رامينځ کول او ځواب ورکونه ، بيا په خاصه توګه د بودجې د تنظيم په برخه کې، يو ستونزمن کار ګرځي. د اقتصاد او ماليې په وزارتونو او د اجرائيه قوې په داسې نورو برخو کې مهم افراد په تصميم نيونو کې له پام څخه غورځول کيږي او يا د هغوی تصميم څخه ليريتوب کيږي. د پارلمان افراد چې حتی ښايي د اساسي قانون له مخې د څارنې قدرت هم ولري او هم ملې رسنيو او مدني ټولنو ته معلومات نه ورکول کيږي.» ...

«د امنيتي ځواکونو په مختلفو برخو کې ټول لګښتونه، د هغوی پرسونل، عمليات او تجهيزات بايد په پروګرام کې ځای ورکړای شي او روښانه کړای شي چې دغه لګښتونه څرنګه تأمين کيږي. خو په ډيرو امنيتي بودجو کې دغه ډول شرايط هيڅ وخت نه مراعاتيږي. د کورنيو بودجو تخصيص تت او ګنګ دي او ټول لګښتونه چې کيدای شي د مختلفو برخو پانګه وي، په نا معلومه توګه پاتې کيږي. په هغو هيوادونوکې چې له بودجوی څخه بهر فعاليتونه وي ډيرې وخت خپله حکومتونه له دقيقو معلوماتو څخه بې برخې دي، په همدې وجه د ځواب ورکونې لپاره له لومړنی کچې څخه ـ د طرحو د پرتله کولو اود هغو د پلې کولو په پام کې نيونې سره ـ د يوی وسيلې په توګه کار نه اخيستل کيږي. د دفاع وزارت چارواکې او د اجراييه قوې نورې برخې دفاعي مسألو اړوندو مسلکې پوهې ته اړتيا لری ترڅو وکړای شي چې د دفاعي، د بودجې تنظيم او تدارکاتي پاليسيو په هکله تصميم ونيولای شي. د هغو فعاليتونو ستونزو ته چې په بودجه کې نه منظور کيږي، پاملرنه ډيرې وخت يو سياسي امر دی چې په اوږده موده کې د پوځ او مدني ټولنې ترمينځ د بدلون غوښتنه کوی.

سرچينه: د انسان د پرمختګ رپوټ، ۲۰۰۲ ( پاڼې: ۸۹ او ۹۱)

## د دفاعي او امنیتي کنترول وړ او کنترول نه وړ لګښتونه

که چیرې سرې غواړي چې پر امنیتي اداره باندې څارنه موجوده وي ترڅو په امنیتي او د حکومت په نورو ادارو کې د پیسو لګښت تر ارزونې لاندې ونیول شي، نو پارلماني استازي باید د بودجې په اړوند اسناد په خپل اختیار کې ولري. له دې لارې کیدای شي چې له مالي چارو څخه داډ لاس ته راشي. که چیرې پارلمان یواځې له موضوعاتو څخه په ټولیزه توګه خبرتیا مومي، دا د دې لامل ګرځي چې د بودجې په تنظیم کې «د ټاکل کولو» له اصل څخه سرغړونه وشي. که چیرې پارلمان دقیق معلومات په اختیار کې ونه لري، نه شي کولای چې په دفاعي بودجې باندې د قانوني کنترول او څارنې دنده سرته ورسوي. پارلمان باید د دفاعي بودجې ټولو اسنادو ته لاس اوږد کړای شي. په ځینو هیوادونو (لکه دنمارک او لوکزامبورګ) کې پارلمان حتی د بودجې له ډیرو کوچنیو برخو څخه هم خبرتیا مومي، چې هغه د بودجې په تنظیم کې د ډیرو ټیټ سویه مسألو څخه شمیرل کیږي. خو په ځینو نورو هیوادونو (لکه فرانسه، یونان او پولند) کې یواځې د پارلمان کمسیون د دفاعي بودجې له اړوندو جزییاتو څخه معلومات پیدا کوي. د غوره واکمنې له نظره د دې ضمانت باید وشي چې کمسیون یا پارلمان (که چیرې اړتیا وي په دروازه تړلو غونډو کې) ټولو هغو اسنادو ته لاس رسیدنه ولري چې دفاعي بودجې پورې تړلي دي. دغه ډول چالچلند باید په نورو امنیتي برخو کې، په خاصه توګه استخباراتي خدماتو کې هم مراعات وشي. د امنیتي خدماتو د بودجې پټ ساتل باید د قانون او په خاصه توګه د معلوماتو د آزادي د قانون پر بنسټ وي (۵۷ چوکاټ ته دې کتنه وشي).

د امنیتي بودجې پرسر د بحث او رایې ورکونې په وخت کې په هغې کې د بدلون راوستلو لپاره د پارلمان آزادي د اجباري لګښت (د بیلګې په توګه: تدارکاتي قرارداد چې په تیرو کلونو کې لاس لیک شوي دي) او استحقاقي پروګرامونو (لکه: تقاعد او د پوځیانو د روغتیایي خدماتو لګښت) په واسطه محدودیږي. دغه ډول لګښتونه یواځې په اوږدې مودې کې د بدلون وړ دي.

### ۵۷- چوکاټ

### په امنیتي بودجه کې د پټ ساتنې یا محرمیت درې سطحې

پارلماني استازي باید په ځینو خاصو شرایطو کې د معلوماتو د پټ ساتنې د اړتیا، په دفاعي بودجه کې د اړوند اختصاصي پیسو او ځواب ورکونې یا حساب ورکونې تر مینځ انډول رامینځ ته کړي. یوه لاره کیدای شي دا وي چې بودجوي وړاندیزونه د محرمیت په مختلفو سطحوباندې وویشل شي: پارلمان ته د یوې عمومي دفاعي بودجې وړاندې کول؛ یوه محرمانه بودجه او عملیاتي لګښت چې د دفاعي بودجې د یو فرعي کمیټې او پوځې کارپوهانو له خوا تر کتنې لاندې وي؛ هغه یو لګښت چې د لوړې سطحې د پوځې محرمیت غوښتنه کوي چې کیدای شي د پلټنې د یوې کمیټې د منتخبو غړو د یوې ډلې له خوا تر کتنې لاندې ونیول شي. دغې ډلې ته باید د ملي اسرارو د مقرراتو له مخې محرم اسناد په اختیار کې کیښودل شي.

سرچینه:Ravinder Pal Sing، د وسلو د تدارکاتو په هکله د تصمیم نیونې پروسه لومړی ټوک، د اکسفورډ له خپرونو څخه، ۱۹۹۸

## له عامه پانګو څخه د ناوړه استفادې او د فساد پر خلاف شفافیت

په دې هکله د ډاډ من کیدو لپاره چې حکومت له عامه پانګو څخه ناوړه استفاده نه کوي، پارلمان خورا مهم نقش لري. تجربو ښودلې ده چې دغسې ډول سرغړونې کیدای شي چې پیښې شي، په خاصه توګه د هغې یوې بودجې په اړوند چې امنیتي برخې پورې تعلق نیسي، ځکه دغه برخه ځانګړې خصوصیت لري لکه پیچلي تخنیکي موضوعات او امنیتي ستراتیژیکي غوښتنې.

د دفاعي بودجې په تنظیم کې شفافیت او حساب ورکونه پر امنیتي اداري باندې د پارلماني څارنې لپاره د لازمي شرطونو څخه شمیرل کیږي. په حقیقت کې شفافیت د حساب ورکونې لپاره ړومبنی شرط دی چې دا په خپل ذات کې د غوره واکمنۍ لپاره بنسټ ګڼل کیږي. نو په همدې وجه دغه دواړه د بودجې د ټولې دورې لپاره خورا اهمیت لري.

> **«څرنګه چې په یوه دفاعي بودجه کې د حساب ورکونې او شفافیت نشتوالی کیدای شي (...) د یو هیواد د وسلوالو ځواکونو د سترواکۍ، توانمندۍ او هدفونو په هکله اندیښنې پیدا کړي، هماغسې د پراخ شفافیت شتوالی پوځي لګښت ته پام اړوي او د ناباوري اوغلط پوهیدنې، هغه څه چې د شخړې لامل ګرځي، احتمال راټیټوي.»**
>
> Paul George، «په ۱۹۹۰ لسیزه کې دفاعي لګښت: د پراختیا په حال کې هیوادونو لپاره بودجه او د مالي پالیسي مسألې»، ۲۰۰۲

ټول په دې پوهیږي چې له حد څخه زیات پوځي لګښت، هغه ارزښت لرونکې سرچینې چې د هغو په مرسته ټولنیز فقر له مینځه وړل کیدای شي او د پرمختګ لپاره لاره اواره کیدای شي، له اصلي تګ لارې څخه کږوي. د خلکو استازې باید خبر وي چې ولې او څرنګه اجراییه قوه د ټولنې د امنیت د خوندي ساتنې بندوبست کوي. دا ځکه چې هغه د خلکو د مالیاتو له لارې خوندي کیږي. د چارواکو ناوړه استفاده، بیا په خاصه توګه د پراختیا په حال کې هیوادونو کې، دا ډول ناوړه استفادې ویجاړونکې اغیزې لري. نو په دې وجه حکومت د غوره واکمنۍ هدف ته د رسیدو لپاره مکلف دی چې پر امنیتي ادارو باندې د خبرو په وخت کې عامه نظریات هیر نه کړي او پارلمان هم باید ډاډ پیدا کړي چې دفاعي بودجه د ټولنې د پرمختګ او د هغې د امنیتي اړتیاو تر مینځ انډول رامینځ ته کوي. ډیرې ستونزې شته دي چې کیدای شي د امنیتي اداري د بودجې د اغیزمنې څارنې مخه ونیسي، لکه چې په ۵۸ چوکاټ کې لیدل کیږي.

**۵۸- چوکاټ**

### د امنیتي ادارو د بودجې د اغیزمن کنټرول په وړاندې اصلي ستونزې

- **د قانوني چوکاټ نشتوالی -** د یو څرګند قانوني چوکاټ نشتوالی چې وکړای شي پر امنیتي ادارو باندې د څارنې لپاره پارلمان ته اختیار ورکړي، ښایي د ځینو ستونزو لامل وګرځي.
- **د معلوماتو کموالی -** د نوموړې نیمګړتیا سربیره، د معلوماتو د آزادۍ د قانون کمبود هم بله ستونزه ده، هغه قانون چې د حساسو معلوماتو بربنډول آسانه کوي. نو په دې وجه له قانون څخه سرغړونې او یا په قانون کې ابهام کیدای شي چې د څارنې لپاره د پارلماني استازو هڅې له ستونزو سره مخامخ کړي. نتیجه یې دا ده چې خلک او پارلمان له هغه یو حق څخه بې برخې کیږي چې په یوه روغه دیموکراتیکه اداره کې د حساب ورکونې په نامه یادیږي.
- **هغه فعالیتونه چې په بودجه کې منظور شوي نه دي او د امنیتي اداري عایداتي سرچینې -** د خاصو فعالیتونو لپاره د امنیتي برخې د بودجوي سرچینو د عاید دقیق خصوصیت او

| |
|---|
| ګټې (په خاصه توګه جاري فعاليتونه لکه پوځي شرکتونو او پوځي خدماتو څخه لاس ته راغلي عايدات) تل پارلمان او د وزارتونو چارواکو ته معلوم نه دي. دغه فعاليتونه بايد لکه د بودجې د خوندي ساتنې لپاره د بلې هرې سر چينې په توګه پارلمان ته وښودل شي.<br>• **د دفاعي لګښت پټ ساتل -** د تقاعديو، بنسټيزو تأسيساتو، ترانسپورټ او داسې نورو په هکله امنيتي بودجه ډيرې وخت د نورو وزارتونو يا حکومتي برخو، لکه ټولنيز هوسايي هستوګنځيو او اورګاډې بودجو ته ليږدول کيږي. دا چلند د دفاعي بودجې په هکله يو غلط معلومات وړاندې کوي او په دفاعي لګښت کې د پارلمان او د خلکو توان ته تاوان رسوي.<br>• **کمزوري ډله ايزې رسنۍ -** ډيرې هيوادونه د کمزورو رسنيو خاوندان دي (د تخصص او سر چينو له نظره) چې په ځيرتيا سره د امنيتي ادارو او پارلمان کړه وړه نه څاري. دا مسأله د دې لامل ګرځي چې عام خلک د پارلمان او د امنيتي ادارو د فعاليتونو په هکله له معلوماتو څخه بې برخې شي.<br>• **د ژورې کتنې لپاره د وخت کموالی -** لکه چې مخکې وويل شول، د دفاعي بودجې د ژورې کتنې لپاره د يو محدود وخت ټاکل د پارلماني څارنې لپاره ستونزې پيدا کوي.<br>• **د بنسټيزو تأسيساتو، متخصصينو او پرسونل کموالی -** ډيرې پارلمانونه له بنسټيز تأسيساتو، متخصصينو او پرسونل له کموالي يا نشتوالي سره مخامخ دي تر څو وکړای چې ډاډ لاس ته راوړي چې اجراييه قوه د خلکو په وړاندې حساب ورکونکې ده. |

## د ديموکراسۍ په حال هيوادونو کې د بودجې کنترول

د ۱۹۹۰ لسيزې په پای کې په ټوله اروپا کې د ديموکراسۍ کيدو څپه په خوځيدو راغله. دغې څپې وښودله چې د پارلماني څارنې د مفکورې او عمل وده تر زياتې کچې هغو هيوادونوپوره اړه نيسي چې د ديموکراسۍ د ودې په حال کې دي. په ۵۹ چوکاټ کې د جنوب ختيځې اروپا بودجوي چالچلند ته يوه روښانه کتنه شوې ده. هغوی د شفافيت او حساب ورکونې په يوه روښانه قانوني چوکاټ کې د خپلو سياسي سيستمونو په جوړولو کې فعال نقش درلوده.

| **۵۹ـ چوکاټ**<br>**د جنوب ختيځې اروپا په ځينو هيوادونو کې بودجوي چالچلند (له ۲۰۰۱ کال څخه را په ديخوا)** |
|---|
| **البانيا:** د ۲۰۰۰ کال د اکتوبرپه مياشت کې د بودجې د تنظيم اداره جوړه شوه. دغې اداری د دفاعي پاليسۍ اسناد چې تر ۲۰۰۸ کال پورې دفاعي غوښتنې تشريح کوي، خپاره کړل. د دفاع وزارت د بودجې د تنظيم مسؤليت په غاړه لري. |
| **بلغاريا:** ملي اسامبلې (د بلغاريا پارلمان) د تيرو لسو کلونو لپاره دفاعي بودجه تر غورلاندې نيولې ده. انتظار کيږي چې دغه اسامبله پر امنيتي برخې باندې د يوې بشپړې پارلماني څارنې په لور ورو ورو د خپلې څارنې توانمندۍ ته وده ورکړي. |
| **کرواتيا:** بودجه د حکومت له خواجوړيږي او بيا پارلمان ته وړاندې کيږي او په «رسمي جريده» کې خپريږي. د بودجې تنظيم د جولای له مياشتې څخه ترنومبر پورې دوام کوي چې د دفاع او ماليې وزارتونو له نظره تيريږي. پارلمان يوازې د دفاعي بودجې په ټوله اندازې باندې پريکړه کوي او د هغې په جوړښت کې هيڅ لاس وهنه نه شي کولای. |
| **د مقدونيې جمهوريت:** د دفاع وزارت د بودجې وړانديز برابروي او بيا د ماليې وزارت ته استول کيږي. په دغه پړاو کې له نورو وزارتونو سره خبرې اترې پيل کيږي ترڅو بودجه د هيواد له عمومي توانمندۍ سره همغږه کړي. بيا بودجه حکومت ته سپارله کيږي. له هغې وروسته چې اصلاحات په کې راوستل شول هغه پارلمان ته وړاندې کيږي. د دفاع وزير پيشنهادي بودجه د پارلمان کورني پاليسۍ او |

| |
|---|
| دفاعي کمیټې ته بیانوي. له هغې وروسته پرې رایې اخیستلې کیږي او له تصویب څخه وروسته د جمهور رییس له خوا د یو فرمان سره توشیح کیږي. بودجه د ناخالص ملي تولید په سلو کې ۱۲،۲ جوړوي. |
| **رومانیا:** پلان جوړونه، پروگرام جوړونه، د بودجې جوړوني او ارزنې سیستم د ۲۰۰۰ کال څخه را په دېخوا د دفاع وزارت له خوا سرته رسول کیږي. د نورو هدفونو تر څنګ، په ټولو دفاعي فعالیتونو کې د شفافیت زیاتول اصلي هدف دی. د بودجې د تنظیم په پروسه کې څو کمسیونونه برخه لري: دفاع، عامه نظم، ملي امنیت، بودجه، مالي چارې او بانکونه. په دفاع وزارت کې اړونده برخه د پارلمان، قانون جوړونې، همغږیتوب او عامه اړیکو د څانګې په نامه یادیږي. د دفاعي د اصلي طرحو اسناد په انټرنټ کې هم خپریږي. |

## هغه څه چې تاسې د پارلمان د استازي په توګه سرته رسولای شئ

### د بودجې د تنظیم په وخت ګې امنیتي اداره

- ډاډ پیدا کړئ چې پارلمان د بودجې په ټولو څلورو پړاونو(د بودجې چمتو کول، د بودجې تصویب، اجراآت، عمل کول او لګښت څارولو) کې امنیتي برخې ته پاملرنه ولري.
- د مالي پلټنې له قانوني مؤسساتو څخه په کار اخیستو سره، د پارلماني څارنې لپاره لاره اواره کړئ.
- د پارلمان او د نورو څارونکو مؤسسو له خوا مالي پلټنه باید سیاسي هدفونه د بودجې له غوښتنې او هدفونو سره اړیکه ولري.

### د امنیتي شفافې بودجې د تنظیم کولو لپاره د پارلمان اغیزمن چلند

- غوښتنه وکړئ چې بودجه د هغې جوړولو له اغیزمنو اصولو سره سم چې په همدې فصل کې ترې یادونه شوې چمتو کړای شي.
- هڅه وکړئ چې له هغو خپلواکو کارپوهانو څخه د مرستې غوښتنه وکړئ چې پارلمان یا تاسې ته ویلای شي چې آیا وړاندې شوې بودجه وړتیا، مناسبت او شفافیت لري که نه.
- ډاډ لاس ته راوړئ چې امنیتي خدمات د بودجې په جوړولو او تنظیم کې څه نویو لارو چارو څخه کار اخلي. دا مسأله پارلمان سره مرسته کوي چې دفاعي لګښتونه په ښه توګه تر ارزونې لاندې ونیسي او د هدفونو، مالي عایداتو او عملي چلند تر منځ په اړیکو ښه پوه شي.
- په خپل پارلمان کې شرایط کنترول کړئ او له هغو ټکو څخه چې په ۵۸ چوکاټ کې ترې یادونه شوې ده، کار واخلئ او د یوې نیمګړتیا یا تاوان د مخنیوني او جبران ته په پام کې نیوني سره د خپلو سیاسیو امکانات په چوکاټ کې په لازم اقدام لاس پورې کړئ.

## څلورویشتم فصل

# د امنیتی برخی د ملی بودجوی لګښتونو پلټنه

## پارلمان او د محاسباتو دیوان

د امنیتی بودجی لپاره د پارلمان مسؤلیت، کله چی ور په غاړه وی، نه پای ته رسیدونکی دی. پارلمان باید د څارنی او مالی پلټنی دنده سرته ورسوی، البته د دی خبری په پام کی نیونی سره چی پارلمان ته د بشپړ پلټل شویو حسابونو وړاندی کول د دیموکراسی د پروسی یوه برخه ده او د پلټنی پروسه باید د مالی حساب د روښانه کولو او اجراآتو یوه برخه وی. د امنیتی ادارو حسابونه او کلنی رپوټونه د پارلمان لپاره مهمی سرچینی دی تر څو له دی لاری په تیر مالی کال کی د پیسو لګښت تر ارزونی لاندی ونیسی.

د څارنی په چلند کی باید یو خپلواک مؤسسه، چی د محاسبانو د دیوان (کله هم د عام پلټونکی، د محاسباتو ملی اداره، د بودجی اداره یا د حسابونود خونی) په نامه یادیږی، پارلمان سره مرسته وکړی. دغه ارګان باید د اساسی قانون له مخی له اجراییه، مقننه او قضاییه قواوو څخه د یوی خپلواکی مؤسسی په توګه جوړه شی.

پارلمان باید په حقیقت که ډاډمن شی چی د هیواد د محاسباتو عمومی پلټونکی:

- د پارلمان د استازو له خوا ټاکل کیږی او د ماموریت دوره یی مخکی له مخکی ټاکله شوی ده؛
- د خپل ماموریت د ترسره کولو لپاره له قانونی او اجرایی امکاناتو او همداراز سرچینو څخه برخه من دی؛
- پارلمان او د هغه د بودجی کمسیون ته د لګښتونو په اړوند په هر وخت او زمان د رپوټ ورکونی خپلواک صلاحیت لری؛

پارلمان باید د دی خبری بندو بست وکړی چی قضایی سزاوی د قانون له مخی ټاکلی شویدی او کله چی اداری او سیاسی چارواکی په فساد او په مالی سرچینو کی په ناوړه چلند لاس پوری کړی، هغه پلی کیږی او په دی هکله څارنه ولری چی د خطا عمل کولو سره تاوان باید ورکړای شی.

**۶۰- چوکاټ**

**د محاسباتو د دیوان عمومی پلټونکی**

«د دی خبری په پام کی نیولو څخه پرته چی آیا دغه ارګان د اجراییه، مقننه او قضاییه قواوو څخه خپلواک دی که نه دی، د محاسبانو د دیوان لپاره نه اړتوب او بشپړ خپلواکتوب خورا اهمیت لری. دغه ارګان باید د خپل ماموریت د سرته رسولو لپاره له کافی امکاناتو او سرچینو څخه برخه من وی. د هغه چالچلند له دری اړخونو څخه د کتنی وړ دی:

**مالی څارنه**

د محاسباتو دیوان باید د ټولو اجرایی ارګانونو او عامه ځانګو د مالی سر چینو له ربنتینوالی، صحت او بشپړتیا څخه ډاډمن شی. همداراز باید ډاډه شی چی ټول مالی عملیات د خزانی له مقرراتو سره سم

عملي کيږي. د څارنې د دغه چالچلند په ساحه کې د محاسباتو ديوان بايد د عامه او اداري چارواکو د حساب او کتاب په برخه کې د قضاوت واک ولري. ټول بايد د هغو پيسو د حساب ورکونې لپاره مسؤليت ولري چې د هغوی په اختيار کې دي. د ناوړې استفادې يا فساد په صورت کې، د محاسباتو ديوان دنده لري چې خپل نتايج قضاييه قوې ته خبر ورکړي.

### قانوني څارنه

د محاسباتو ديوان بايد ډاډ پيدا کړي چې ټول عامه لګښتونه او عايدات د هغه قانون سره سم اجراء کيږي چې د بودجې پر نظام باندې واکمن دی.

### له عامه شتمنيو څخه په سمه توګه کار اخيستل

د محاسبانو يو پرمختلې ديوان چې د غوره واکمنۍ د نظام په ګټه ګام اخلي، بايد له عامه شتمنيو څخه د سمې ګټې اخيستلو لپاره دغه لاندې معيارونه په پام کې ونيسي:

**۱ـ د پيسو ارزښت:** هغه بايد ډاډه شي چې له کار اخيستل شويو سرچينو څخه د کيفيت او کميت له اړخه په ډيره ښې طريقې څخه کار اخيستل شوی دی؛

**۲ـ اغيزمنتوب:** هغه بايد هدفونو ته د رسيدو کچه تر ارزونې لاندې ونيسي؛

**۳ـ توانمندي:** هغه بايد وګوري چې له کار اخيستل شويو سرچينو څخه تر کومې کچې په سمه توګه کار اخيستل شوي چې لاس ته راغلې نتيجې ته رسيدلي دي.

دغه څارنه د محاسباتو د ديوان په وړانديز او يا د پارلمان په غوښتنه د پخوانيو چارو په هکله سرته رسوله کيږي.

اقتباس: د جنسيت له نظر سره جوخت د پارلمان او د بودجې د ټاکلو د پروسې په هکله د بين الپارلماني سيمينار عمومي رپوټ (2001,November; Bamko;Mali)

## په عمل کې د امنيتي بودجې د محاسبې پلټنه

د امنيتي بودجې د محاسبې پلټنه په حقيقت کې د پارلمان لپاره يوه پيچلې لاره ده چې د هغو رپوټونو له تحليل سره اړه لري چې په مستقيمه يا غير مستقيمه توګه امنيتي مسألو پورې تړلې دي. لکه تجارت، صنعت، اړيکې او د پيسو ليږدول او داسې نور. ستره ننګونه کيدای شي د هغو فعاليتونو تر مينځ اړيکې وي چې ظاهرا يو بل سره اړيکې نه لري.

په عمل کې هغه وزارتونه چې د امنيت په اړه مهم نقش لوبوي، لکه د دفاع وزارت، د کورنيو چارو وزارت، تجارت او صنعت، مخابراتو او ماليې وزارت بايد د پيسو د لګښت د څرنګوالي په هکله پارلمان ته بشپړ معلومات وړاندې کړي. هغه پارلماني لارې چارې چې کيدای شي ترې کار واخيستل شي دغه لاندې ډول دي: د مختلفو برخو په هکله کلنې رپوټونه، د پارلمان د کمسيونونو له خوا د بودجې د هر ډول اختصاص په هکله يوه کتنه، د هر وزارت د کلنې مالي کتنې په هکله رپوټ، په پارلمان کې د هرې برخې په هکله ځانګړې بحثونه

له غوښتنې سره سم، د مالي پلټنې پروسه بايد پارلمان ته توان ورکړي چې د بودجې د تنظيم دوره تر ارزونې لاندې ونيسي او ډاډ پيدا کړي چې په دغې بودجې کې د لګښتونو قانونيت، اغيزمنتوب او ټاکل شوو هدفونو ته د رسيدو لاره سمه ده او ورته پاملرنه شوې ده.

**۶۱- چوکاټ**

## په پارلماني څارنه کې پر امنيتي ادارو باندې د انګلستان د ملي محاسباتو د ديوان نقش

د انګلستان د ملي محاسباتو ديوان چې د يو خپلواک ارګان په توګه په ۱۹۸۳ کال کې جوړ شو او د هغه په سر کې عام مالي پلټونکی کار کوي، د مرکزي حکومت د لګښتونو په هکله پارلمان ته رپوټ ورکوي. دغه ارګان مالي پلټنې سرته رسوي او د لاس راغلو پيسو د ارزښت په هکله رپوټ وړاندې کوي.

- **مالي پلټونکی**

د قانون له مخې، عمومي مالي پلټونکی او د انګلستان د ملي محاسباتو ديوان د حکومت د ټولو برخو او ادارو د حسابي پلټنو مسؤليت په غاړه لري او د يو رپوټ سره د هغه نتايج پارلمان ته وړاندې کوي. لکه د نورو مالي پلټونکو په څېر، عمومي مالي پلټونکی هم مکلف دی چې د حسابونو په اړه او همداراز دا چې مالي ناوړه استفادې شوې دي که نه، خپل ځانګړی نظر وړاندې کړي. همداراز د دې خبرې پخلی بايد وکړي چې د پيسو انتقالات د پارلمان له خوا د ورکړل شويو صلاحيتونو له مخې سرته رسيدلي دي. که چيرې هغه ارګان وميندي چې کومه مالي ناوړه استفاده شوې ده، عمومي مالي پلټونکی خپل ځانګړی نظر وړاندې کوي. که چيرې هيڅ کومه مالي اشتباه نه وي شوې او نه په حسابونو کې بې نظمي شوې وي، په هغه صورت کې مالي پلټونکی د مهمو موضوعاتو په هکله پارلمان ته يو رپوټ وړاندې کوي چې کيداې شي په پارلمان کې د ولسي جرګې د محاسبې د کمسيون له خوا تر کتنې لاندې ونيول شي.

- **د پيسو د ارزښت پلټنه**

هر کال تقريبا ۵۰ رپوټونه چې د پيسو د ارزښت په هکله د حکومتي ارګانو او يا نورو دولتي ادارو له خوا د عمومي مالي پلټونکي لاس ته ورځي او يا د خپلو سر چينو له لارې برابروي، پارلمان ته وړاندې کيږي. د ملي محاسباتو ديوان د حکومت د لګښتونو اقتصاديتوب، پياوړتيا او اغيزمنتوب تر کتنې لاندې نيسي او له هغو څخه يو رپوټ برابروي. په داسې حال کې چې دغه رپوټونه کيداې شي د اجراآتو کمزورتيا ښکاره کړي اويا پر سمو چالچلندونو باندې ټينګار وکړي، کيداې شي چې د ګټور بدلونو په موخه ځينو سپارښتنو ته هم پام واړوي. د محاسباتو ديوان په دې باور دی چې په تيرو درې کلونو کې د ټولو سپارښتونو په عملي کولو سره حکومت توانيدلی دی چې ۱۰۴ مليارد پونډ وسپموي. د پيسو د ارزښتونو په هکله د دفاع وزارت وروستي رپوټونه په دې وروستيو وختونو کې په بشپړه توګه د مختلفو موضوعاتو په هکله ؤ، لکه د څرخي الوتکو لوژستيک، د جنګي عملياتو پيژندنه، د ځمکنيو وسيلو کنترول او رغول، د زيرمو کمول او د دفاع وزارت د اصلي ودانۍ پراختيا. د ملي محاسباتو ديوان همداراز د ۳۰ سترو نورو پروژو په هکله رپوټ وړاندې کوي.

- **له پارلمان سره اړيکې او د حساب ورکونې دوره**

له پارلمان او بيا په خاصه توګه د حسابونو له عمومي کمسيون سره اړيکې د محاسباتو د ديوان په دنده کې مرکزي نقش لري. له قانوني لحاظه مالي پلټونکی د پارلمان د ولسي جرګې کار کونکی دی او د هغه د ټولو اصلي دندو رپوټ پارلمان ته وړاندې کيږي. په دې ډول د حساب ورکونې دوره عملي کيږي. کله چې د حکومت د مرکزي ارګان له خوا له عامه پيسو څخه کار اخيستل کيږي عمومي پلټونکی کولاې شي چې د دغه لګښت د نظم، مناسبتوب او ارزښت په هکله پارلمان ته رپوټ وړاندې

کړی. د عمومی حسابونو کمسیون کولای شی چی د خپل لوړ مقام له لاری د دغو رپوټونو په هکله د شواهدو غوښتونکی شی او ځینی وړاندیزونه وړاندی کړی چی حکومت هغو ته ځواب ورکړی. سربیره پر دی د ملی محاسباتو دیوان د عامه لګښتونو په اړوند د پارلمان د غړو د څه د پاسه ۴۰۰ پوښتونو ته ځواب ورکوی.
سرچینه: د دفاع وزارت د ملی چارو لوړ پوړی پلټونکی، Tom Mc Donald، د انګلستان د ملی محاسباتو دیوان، ۲۰۰۲

## د محاسباتو د دیوانونو اصلی عناصر

د محاسباتو دیوان د پارلمانی څارنی د ډیرو مهمو امکاناتو څخه شمیرل کیږی او د دی لپاره چی د یو اغیزمن ارګان په توګه فعالیت ولری باید د دغو لاندو ځانګړیتوبونو څخه برخه من وی:

- د پلټنی مقام د پارلمان د محاسباتو کمسیون ته چی د بودجی له کمسیون څخه جلا دی، رپوټ ورکوی.
- هغه باید له تصمیمونو څخه د خبرتیا لپاره محرمو اسنادو ته لاس اوږد کړای شی او دا اسناد د عامو خلکو په اختیار کی باید نه وی.
- هغه باید په امنیتی ادارو، دفاعی منجمنت، تخنیکی، مالی او قانونی امکاناتو کی له تخصص درلودلو سر بیره په ځو برخو کی پیاوړتیا ولری.

### ۶۲- چوکاټ
## د ګرجستان پارلمان او د بودجی کنترول

د ۲۰۰۱ کال په پای کی د ګرجستان د پارلمان استازو تصمیم ونیو چی د ۲۰۰۲ کال د بودجی د لایحی په هکله بحث کول تر یوی میاشتی پوری ځنډنی کړ. د دی کار وجه د لومړنیو ارقامو پر سر د توافق نشتوالی او د بحث لپاره کافی وخت نه درلودل ؤ، ځکه حکومت د بودجی د پلان مسوده ډیره وروسته پارلمان ته وړاندی کړه. په عین وخت کی د دفاع وزارت د امریکایی کار پوهانو په مرسته د لومړنی دفاعی بودجی پلان جوړ کړ. پارلمانی استازو وخت پیدا کړ چی د وسلوالو ځواکونو د جوړښت لومړی عناصر تر کتنی او غور لاندی ونیسی او د دفاعی بودجی د لګښت په هکله خپل نظر څرګند کړی. سر بیره پر دی د بودجی مسوده د ناټو له معیارونو سره همغږی درلوده او ټول لګښت یی په دری برخو، پرسونل، حفظ او مراقبت، جنګی توانمندی او پانګه اینودلو وویشله.

د پارلمانی څارنی له نظره اصلی ستونزه دا وه چی د بودجی تصویب د ۲۰۰۲ کال د جنوری په پای کی سرته ورسید او دا چی **الف -** جمهور رییس، د مالیی وزیر او د دفاع وزیر د دفاعی لګښت د ډیری غوری لاری چاری باندی خپل مختلف نظریات څرګند کړل؛ **ب -** په وروستیو شیبو کی د بودجی په ارقامو کی بدلون راغی چی پارلمانی استازو ته د هغه وجه څرګنده نه شوه؛ **ج -** په دفاع وزارت کی د پرسونل د کمولو وړاندیز او همدا ډول هغه مالی اغیزی چی دی اقدام ځان سره درلودی، پارلمانی استازی ته وړاندی نه شو. په عین وخت کی د دولتی ادارو د بودجی لایحه چی د بودجی په قانون کی یی څرګنده نه شوه، د پارلمانی استازو د کنترول له واک څخه ووتله.

په پای کی دفاعی بودجه اساسا تاوانی شوه، ځکه پارلمان یوازی ۳۸ ملیون GEL د دفاعی لګښت لپاره تصویب کړ، حال دا چی ټاکل شویو پروګرامونو ۷۱ ملیونو GEL ته اړتیا درلوده. په داسی شرایطو کی جمهور رییس او د ملی امنیت شورا له مختلفو حکومتی جوړښتونو څخه د بودجو د پانګو د برابرولو د څرنګوالی په هکله تصمیم نیسی. پارلمان کولای شو چی له داسی ارزښت لرونکی وخت

ځخه په استفادی سره د دیموکراتیک کنترول په موخه د بحث او د بودجی د تصویب لپاره له پارلمانی چالچلندونو ځخه ګټه واخلی.
سرچینه:David Darchiashvili، د پارلمان د تحقیقاتو د برخی رییس، ۲۰۰۲

## هغه څه چی تاسی د پارلمان د استازی په توګه سرته رسولای شی

### خپلواک اغیزمن مالی پلټنه

- ډاډ لاس ته راوړی چی د مالی پلټنی لوړ پوړی ارګان په اساسی قانون او یا نورو قوانینو کی راوړل شوی او دغه لاندی ځانګړیتوبو نه لری:
  - د مالی پلټنی د لوړ پوړی ارګان او پارلمان تر مینځ د اړیکو ځانګړیتوب او پراخوالی؛
  - د ملی مالی پلټنی د ارګان، د هغه دچارواکو او غړو او همداراز د مالی خپلواکیو کچه؛
  - پارلمان باید د حکومت هغه چالچلندونه چی مالی پلټنی د اداری او د پارلمانی حسابونو د کمسیون له رپوټونو ځخه وروسته سرته رسولی دی تر کتنی او کنترول لاندی ونیسی؛
- وګوری چی د لیما په اعلامیه کی بنودل شوی اصول ستاسو په ملی قوانینو کی په پام کی نیول شوی دی که نه. دغه اصول د لوړو مالی تأسیساتو د نړیوال سازمان په انترنتی پاڼه کی میندلی شی: www.intodsai.org

### د قانون پر بنسټ ولاړ مالی پلټنه، منظمه مالی پلټنه او اجراییی مالی پلټنه

- ځارنه ولری چی د مالی پلټنی ارګان دغه دری پورتنی ټکی په امنیتی مسألو کی هم په پام کی نیسی.
- ډاډ پیدا کړی چی حتی که چیری د امنیت برخی د مالی لګښتونو پلټنه له لګښت ځخه وروسته هم سرته رسول کیږی، پارلمان له لازمی تجربی ځخه کار واخلی او د نویو مالی غوښتنو په وخت هغه په پام کی ونیسی.
- د مالی پلټنی ډیری رپوټونه د مالی پوښتنو په پلټنو پوری تړلی دی. د قانون له مخی د مالی پلټنی لپاره ګمارل شوی چارواکی باید د ځینو خاصو پروژو د پلټنی کارونه په تفصیل سره سرته ورسوی، یا که چیری هغه د تخصص له نظره له ستونزو سره مخامخ کیږی، د خپلواکو مشاورینو ځخه دی مرسته وغواړی.
- د قانون له مخی د مالی پلټنی لپاره ګمارل شوی چاروکی باید د امنیتی ادارو د مالی چارو د اجراآتو په پلټنی هم لاس پوری کړی.

**اوومه برخه**

# د امنیت په برخه کی بشری قواوې:
## د تخصصتوب او د دیموکراتیکی څارنی خوندی ساتل

## پنځه ویشتم فصل

# د امنیت په برخه کی د دیموکراتیکو ارزښتونو د سطحی لوړول

دیموکراتیکی ښوونی او د وسلوالو ځواکونو فکری سطح باید لوړ کړای شی تر څو پوځ وکړای شی چی په ټولنه کی په ښه توګه جذب شی او د دیموکراسی لپاره ګواښ ونه ګڼل شی. د نړی په مختلفو برخو تجربی ښودلی ده، که چیری پوځ په ښه توګه اداره نه شی او له دیموکراتیکو لارو کنترول نه شی او یا د ټولنی په جوړښت کی ورګډ نه کړای شی، کیدای شی چی د دیموکراسی لپاره بیلابیل ګواښونه پیدا کړی:

- په غیر قانونی چالچلندونو لاس پوری کول یا د کودتاګانو بندوبست کول؛
- د غیرقانونی فعالیتونو یا تجارتی کارونو سرته رسول؛
- له هغومنابعو څخه چی د ټولنی د نورو برخو لپاره ورته اړتیا ده، له حد او اندازی څخه زیات کار اخیستل؛
- له عامه شتمنیو څخه په غیر معقوله توګه کار اخیستل؛
- بشری حقوق تر پښو لاندی کول (لکه لوټ ماری، غلا، له قوی څخه په غیرقانونی توګه کار اخیستل او پر نوامیسو تیری).

## د امنیتی اداری د کارکونکو په مینځ کی د دیموکراتیکو اخلاقو د روزنی لپاره لاری چاری

د وسلوالو ځواکونو د فکری سطحی لوړول په دی معنی ده چی د پوځ په دننه کی هغه میکانیزمونه جوړ کړای شی چی د هغو له لاری د دیموکراتیکو ارزښتونو او د بشری حقوقو په نسبت د پوهی او هغو ته د درناوی کچه لوړه کړای شی. دغه میکانیزمونه پر وسلوالو ځواکونو باندی د پارلمانی، دولتی او مدنی څارنی لپاره خورا اهمیت لری. دغه لاندی ټکی د پوځی افرادو د دیموکراتیکو چلندونو او اخلاقو د پیاوړتیا لپاره مرسته کولای شی.

#### د اساسی قانونی او د دولتی تأسیساتو په نسبت وفاداری

غوره واکمنی یا حکومت کونه عبارت ده له: د امنیتی ادارو په دننه کی خلکو ته د خدمت کولو ارزښتونو روزل او د قانون د واکمنی په نسبت د اخلاقی وفاداری او د اساسی قانون او د بشر د حقوقو په وړاندی درناوی. سرتیری او د دیموکراتیکی ټولنی نور ساتونکی باید اساسی قانون او دولتی تأسیساتو په وړاندی لوړه وکړی او ژمنه ولری نه دا چی د یو سیاسی رهبر په وړاندی. دغه ډول «غیر فردی» وفاداری د دی ویندویی کوی چی امنیتی اداری د یو خاص حکومت په وړاندی نه بلکه د اساسی قانون او د هغه قوانینو په وړاندی چی د خلکو د استازو له خوا تصویب شوی دی ژمنه لری. پر امنیتی برخی باندی ملکی څارنی کی باید د پوځی لوړی په اصلی ماهیت باندی په دقیقه توګه ځان پوهول او هغه ته عملی بڼه ورکول شامل وی.

## په امنيتي اداره کې په ډېره ښه توګه د نظم ساتل

د ديموکراتيکې څارنې لپاره ضروري ده چې د امنيتي ادارې په دننه کې د نظم د ساتلو قانوني چوکاټ په سمه توګه تعريف او مشخص شي. دا کار په لاندې ډول کيداى شي:

- د پوځي چاروکو د قانوني صلاحيتونو محدودول؛
- د عسکرې د جلب او احضار د قانون طرحه او پر هغه باندې کتنه، د پوځي خدمت قانون، د پوځي مجازاتو قانون، د جينوا له معاهدو سره سم د يو قانوني چوکاټ جوړول.
- پوځي افرادو ته حق ورکول چې له غيرقانوني هداياتو څخه سرغړونه وکړي.

په ډېرو هيوادونو کې، په داسې حال کې چې اساسي قانون د ټولو اتباعو د بنسټيزو حقوقو د ساتلو ژمنه کوي، ځينې فرعي قوانين کولاى شي چې د پوځيانو لپاره دغه حقوق محدود کړي. نو له دې امله پوځيان چې د يوه دولت يونيفورم لرونکي اتباع دي هم بايد له نوموړو حقوقو څخه يو شان برخه من وي. سره له دې هم په ځينو حقوقو لکه د بيان آزادي باندې محدوديت وضع شوى دى ځکه پوځيان له محرمو اسنادو سره سر او کار لري. همداراز تر کومه ځايه چې امنيتي او پوځي چمتوالي پورې اړه نيسي، د عمل اود يو سياسي پست لپاره انتخابيدو باندې هم محدوديت لګول شوى دى. خو د نړۍ په ټولو ديموکراسيو کې د پوځيانو مدني حقوق يو شان محدود شوي نه دي. د بيلګې په توګه په سکنډناويې هيوادونو، آلمان او هالند کې پوځيان کولاى شي چې صنفي اتحاديې ولري. په ځينو نورو دولتونوکې پوځيان يواځې کولاى شي چې د ټولنو او انجمنونو په جوړښت کې ګډون وکړي او يا هغو کې شامل شي. خو په ټولو دې حالتونو کې په فرعي قوانينو کې دغه محدوديتونه بيان شوي دي او تل په مستقيمه توګه د پوځيانو اوملي امنيت ځانګړي مقام او موقف پورې اړه نيسي.

## انجمنونه او اتحاديې له پو ځي استازيتوب سره

په ډېرې دولتونو کې د خپلې خوښې عسکري خدمت يا جبري عسکرې د ګټو د خوندي ساتنې لپاره اجازه نه شته چې پوځيان صنفي اتحاديې يا انجمنونه جوړ کړي او يا د هغو غړي وګرځي. د دې مخالفت دليل دا دى چې له داسې اتحاديو سره کيداى شي چې په وسلوالو ځواکونو کې انضباط او نظم کمزوري شي. خو سره له دې هم د بشري حقوقو او بنسټيزو آزاديو په هکله د اروپا د منشور د ۱۱ مادې له مخې پوځي افرادو ته اجازه شوې چې په اتحاديو او انجمنونو کې غړيتوب ولري. دغه هيوادونه چې خپلو پوځيانو ته يې داسې يو حق ورکړى دى عبارت دي له اطريش، د چک جمهوريت، دنمارک، فنلند، آلمان، هنګرى، آيرلند، لوکزامبورګ، هالند، ناروى، پرتګال، روسيه، سلوانيا، د سلواک جمهوريت، سويډن او سويس. په دغو هيوادونو کې د پوځي کارکوونکو لپاره اتحاديې او ټولنې مختلف حقوق لري چې د هغو ټولنو خصوصيت پورې اړه لري. هغوى ټول د دفاع له وزير سره د سلا مشورې حق لري او حتى په ځينو حالاتو کې د استخدام په برخه کې هم د بحث کولو حق لري. په هر صورت دغه انجمنونه او ټولنې د پوځيانو د ښه وضعيت د خوندي ساتنې لپاره مرسته کوي او د اړتيا په صورت کې هر پوځي څخه ملاتړ کوي، د بيلګې په توګه د پوځ او د هغه دکار ورکونې مرجع تر مينځ په حقوقي شخړو کې. اروپا د پوځي افرادو د حقوقو د خوندي ساتنې لپاره دوه ستر سازمانونه لري. لومړى يې په بروکسل کې د EUROMIL په نامه ياديږي چې د اروپايي پوځيانو له حقوقو څخه ساتنه کوي، دا فرق نه کوي چې هغوى کوم پوځي مقام لري. دوهم داسې يو سازمان چې د ECCO په نامه ياديږي او مقر يې په ستکهلم کې دى، خپله دنده يې ګرځولې ترڅو د اروپايي پوځيانو او د عسکري جلبيانو له حقوقو څخه ملاتړ وکړي.

**۶۳- چوکاټ**

## د وسلوالو ځواکونو د مسلکی کارکونکو لپاره د ټولنو او انجمنو د درلودلو د حق په هکله د اروپا د شورا سپارښتنی

**۱-** پارلمانی اسامبله د پوځ وسلوالو غړو ته په عادی شرایطو کی پرته د اعتصاب کولو څخه د ټولنو د جوړولو د حق ضمانت کوی (...)
**۴-** په تیرو څو کلونو کی د ځینو هیوادونو پوځی نظام د مکلفیت له سیستم څخه په بشپړه توګه په حرفی یی سیستم باندی بدل شوی دی. په نتیجه کی پوځی پرسونلو څخه هغه کارکونکی جوړ شوی دی چی کاروړکونکی یی د دفاع وزارت ګرځیدلی دی او په بشپړه توګه له هغو کارګری حقوقو څخه برخه من دی چی د اروپا د بشر د حقوقو او د اروپایی ټولنی په اعلامیی کی راغلی دی.
**۵-** د دولت د یونیفورم لرونکو اتباعو په توګه د وسلواو ځواکونو کارکونکی کولای شی چی د هغه یو انجمن یا ټولنی غړی وی یا د هغو په جوړولو کی برخه ولری چی د دیموکراتیکو اصولو په چوکاټ کی د هغوی له مسلکی حقوقو څخه دفاع کوی، البته په دی شرط چی پوځ په جنګی عملیاتو کی بوخت نه وی.
**۶-** پوځی پرسونل د دغه ډول حقوقو په اعمال کی د سیاسی ګوندونو د غړیتوب حق هم باید ولری.
**۷-** په همدی وجه اسامبله وړاندیز کوی چی د وزیرانو کمیسیون د غړو هیوادونو له حکومتونو څخه وغواړی:

- **الف:** د وسلوالو ځواکونو غړو او پوځی پرسونلو ته باید اجازه وشی چی د خپل استازیتوب لپاره خپلی صنفی اتحادیی جوړی کړی ترڅو وکړای شی چی په ځینو موضوعاتو لکه د معاشونو او استخدام شرایطو بندوبست وکړی.
- **ب:** د وسلوالو ځواکونو د غړو لپاره د صنفی اتحادیی د جوړولو په مخکی اوسنی پراته غیر ضروری محدودیتونه لیری کړی.
- **ج:** د وسلوالو ځواکونو غړو او پرسونل ته اجازه ورکړی چی د سیاسی ګوندونو غړی شی.
- **دال:** دغه حقوق د هیواد له پوځی او کورنی قوانینو سره ګډ کړی.
- **هـ :** د شکایتونو د چاروکی د یوی اداری د جوړولو لپاره د امکاناتو لټول چی وکړای شی د پوځی پرسونل شکایتونو ته غوږ ونیسی.

**۸-** اسامبله د وزیرانو له کمیټی څخه غواړی چی داروپایی ټولنیز منشور د متن په هکله په ۵ ماده کی تعدیل باندی یوه کتنه په پام کی ونیسی. په دی هکله داسی ویل کیږی: «د محلی، ملی یا بین المللی سازمانونو د جوړولو لپاره د کارګرانو او د کار د خاوندانود آزادی د خوندی ساتنی لپاره د هغوی د اقتصادی او ټولنیزو ګټو په موخه او همداراز په هغو سازمانونو کی د ګډون لپاره شامل اړخونه دا منی چی ملی قانون باید په داسی بنه نه وی او یا په داسی بنه عمل ونه کړی چی آزادیو ته تاوان ورسوی. د ضمانت هغه حد او حدود چی په دی ماده کی منل شوی دی د پولیسو او د وسلوالو ځواکونو د غړو په برخه کی د قانون او مقرراتو له مخی ټاکل کیږی.

د ۲۰۰۲ کال ۱۵۷۲ سپارښتنه
د اروپا دپارلمانی شورا اسامبله، د ۲۰۰۲ کال سپتمبر ۳

## په مهمو ارزښتونو او نورمونوکی د ښوونی او روزنی پراختیا

د پوځی پرسونل ښوونی او روزنی باید د یو سر ښندونکی حرفه یی وسلوال ځواک د جوړولو په موخه چی د خدمت کولو لپاره چمتو وی، سرته ورسیږی. دغه ښوونی باید په یوی خاصی سیاسی ډلی پوری اړه ونه لری او هیڅ ډول سیاسی ایدیولوژی په هغو کی دخالت ونه کړی. دغه ښوونی د دیموکراسی،

بشري او نړيوال قانون او بشري حقوقو په هکله له کورسونو څخه عبارت دي چې د نړيوالو بشري قوانينو او د بشر د نړيوالو حقوقو په هکله د ښووني د ديموکراتيکو ارزښتونو په لوړولو کې خورا اهميت لري. له نړيوالو بشري قوانينو سره د پيژندګلوي په موخه، د پارلمان غړي ښايي هغه يو کتاب وغواړي چې د پارلماني استازو لپاره د «نړيوال بشري قانون ته درناوي» تر نامه لاندي په ۱۹۹۹ کال کې د بين الپارلماني اتحاديي او سره صليب نړيوالي کميټي له خوا (لومړي کتاب) خپور شوي دي. د سره صليب نړيواله کميټه او په ملګرو ملتونو کې د بشر د حقوقو عالي کميساري هغو هيوادونو ته چې نړيوال بشري قانون او نړيوال بشري حقوقو ته د درناوي په برخه کې د خپلې توانمندي پياوړتيا غواړي، تخصصي مرسته کوي.

## د سياسي ناپلويتوب او د غيرفعالي ونډې لپاره لاره اوارول

امنيتي خدمات بايد له سياسي لحاظه ناپلوي وي. په دې وجه سياسي ګوندونه په عسکري قشلو کې د فعاليت اجازه نه لري. په داسي حال کې چې په ځينو هيوادونو کې وسلوال فعال ځواکونه کولای شي چې د سياسي ګوندونو غړيتوب ولري، په نورو هيوادونو، بيا په خاصه توګه په پخوانيو کمونستي هيوادونو کې، پوځي پرسونل اجازه نه لري چې سياسي ګوندونو کې ګډون وکړي. د بيلګي په توګه په پولند کې د کورنيو چارو د وزارت کارکونکي، لکه پوليس يا د استخباراتي ادارو کارکونکي، اجازه نه لري چې په سياسي ګوندونو کې غړيتوب واخلي. په ډيري هيوادونو کې پوځيان د پارلمان غړي هم نه شي کيدالای. سره له دې هم په ځينو هيوادونو، لکه آلمان او هالند کې، پوځيان کولای شي چې د سيمه ايزو ټولنو غړي وګرځي.

## امنيتي خدمات د ټولنې د هنداري په توګه

په حقيقت کې د امنيتي خدماتو ټولې څوکې بايد د هيواد د ټولو اتباعو پرمخ، د جنسيتي، سياسي کړنلارو، قومي يا نژادي او مذهبي توپيرونو څخه پرته، خلاصي وي. له ټولو غوره ښځه يا نارينه په غوره موقف کې کيدای شي چې د ټاکلو معيار وګرځي. ډيري حکومتونو ميندلي ده چې امنيتي اداري په خاصه توګه پوليس او وسلوال ځواکونه بايد عملا د ټولنې هنداره وي. دغه حکومتونه ځينې خاصي پاليسي غوره کوي ترڅو د ټولنې هغه ډلي چې په امنيتي خدماتو کې ډير زيات نقش نه لري، په هغو کې د ونډې اخيستو لپاره يې وهڅوي.

## د غير قانوني او ناجايزو فرمانونو په وړاندې د سر غړونو قانوني کول

د ټولو امنيتي ادارو دريځ، نظر، عمليات، همکاري، مسؤليتونه، دندې او پر هغو څارنې د قانون له مخې بدلون مومي. د امنيتي خدماتو ارګانونه له قدرت څخه بې برخې دي، مګر داچې د قانون له خوا ورکړ شوي وي. د پوځي مسألو په هکله ځينې خاص پريکړي لکه «د پوځي پرسونل چالچلند» او يا د «پوځي جزايي قانون» د فرمانونو حد او حدود چې سرتيري د هغو څخه په اطاعت مؤظف دي، ټاکي. په ډيري هيوادونو کې دغه قوانين هر پوځي قوماندان مکلفوي چې د امر په ورکولو کې قانون مراعات کړي او له دې لاری د قوماندان قدرت او صلاحيت محدود کيږي. د قانون په دوام کې راغلي دي چې پوځي افراد له غير قانوني فرمانونو او امرونو څخه دي سرغړونه وکړي؛ هيڅ پوځي وګړي نه شي کولای چې خپل چالچلند هغه يو امر سره چې جرم ګڼل کيږي، توجيه کړي. سربيره پر دې پوځيان مجبوره نه دي چې له هغه يو امر څخه اطاعت وکړي چې د دوی دنده نه ده او بشري حقوقو ته درناوي تر پښنو لاندې کوي. په غير مستقيمه توګه دا مسأله د دې ويندويي کوي چې پوځيان خپله د خپلو چالچلندونو مسؤل ګڼل کيږي، حتی که چيری د خپل آمر له امر څخه اطاعت هم وي.

پوځي لوړ پوړي چارواکي باید د نورو د سرمشق ګرځیدو لپاره تشویق شي او ټولو ته ښکاره کړي چې د پوځیانو غیر دیموکراتیک یا د قانون او اخلاقو خلاف امرونه منع دي. دا مسأله په خاصه توګه د هغو وسلوالو ځواکونو په برخه کې د اهمیت وړ دي چې دیکتاتوري رژیمونو پوري اړه لري. د بیلګې په توګه دیموکراسی ته د ارجنتاین د بیرته ستنیدو څخه وروسته د پوځ لوړ پوړو جنرالانو اعلان وکړ چې «هدف هیڅکله وسیله توجیه کولای نه شي» او «هر هغه څوک چې غیر اخلاقي فرمانونه صادر کړي او یا هر هغه څوک چې له غیر قانوني امرونو څخه اطاعت وکړي، قانون تر پښو لاندې کوي».
له دغو ویناوو سره لوړ پوړو پوځي قوماندانانو اعلان وکړ چې هر سرتیري د خپل جرم مسؤلیت خپله په غاړه لري او نه شي کولای چې ادعا وکړي چې ګواکي د خپل یو آمر له غیرقانوني امر څخه یې اطاعت کړی دی.

یوه اړونده موضوع په دې هکله له سزا ورکوني څخه د مصؤنیت مخنیوی دی، باید ډاډ لاس ته راشي چې د بشري نړیوالو قوانینو او بشري حقوقو څخه هر ډول سرغړونه د قضایي یا اجرائي صلاحیت لرونکو ارګانونو له خوا څارل کیږي او سزا ورکوله کیږي.

## د امنیتي لوړ پوړو چارواکو د ټاکلو معیارونه

د امنیتي او پوځي چارو لوړ پوړي چارواکي، لکه د وسلوالو ځواکونو لوی درستیز یا د استخباراتي اداري رییس د حکومت د کابینې یا د دفاع وزیر له خوا ټاکل کیږي. په ځینو هیوادونو کې د دغو مقاماتو ټاکل د پارلمان له خوا تر بحث لاندې نیول کیږي او کله هم پریکړه پرې کیږي. که څه هم لوړ پوړي اداري چارواکي د هیواد د غیر پوځي سیاسي مشري له خوا ټاکل کیږي یا پریکړه پرې کیږي، خو مسلکي معیارونه د هر یو په ټاکلو او انتخاب کې خورا اهمیت لري.

## په لوړ پوړو امنیتي ادارو کې ملکي چارواکي

د غوره واکمنۍ له نظره دا خورا مهمه ده چې په امنیتي خدماتو کې، د بیلګې په توکه د وسلوالو ځواکونو په چوکاټ کې، له ملکي مامورینو څخه هم باید کار واخیستل شي. د دې کار مهم دلیل دا دی چې، اړوند وزیر د دې لپاره چې د اندول تصمیم نیوني پروسې ضمانت وکړي، باید نه یوازې د پوځ د جنرالانو له خوا بلکه د ملکي مامورینو له خوا ورته مشوري ورکړای شي.

## مسلکي اخلاقي چلند

د مسلکي کار اخلاق په عمل، پالیسیو او مقرراتو پوري تړلي دي. پوځیان باید له دولتي ارګانونو او اساسي قانون سره د زړه له کومې همکاري ولري او خلکو ته دې خدمت وکړي. خپلې دندې په ښه او اغیزمنه توګه سرته ورسوي او له خپل قدرت څخه ناوړه ګټه وانخلي او یا د خلکو له بودجې څخه ناوړه کار وانخلي. دا مسأله خورا اهمیت لري چې اخلاقي مسلکي چلند په خپله خوښه او د زړه له کومې وي، نه داچې په زور پر چا وتپل شي. د زړه له کومې اخلاقي مسلکي چلند دې ته وایي چې پوځیان اساسي قانون او ملي بنسټونو ته وفادار وي، ځکه هغوی له دې سره داسې ښکاره کوي چې د خپلې ټولنې ملي ارزښتونه په بشپړه توګه درک کړي دي.

ډیرو هیوادونو ځینې قوانین وضع کړي دي چې دپوځیانو چلند تنظیموي. د آلمان د وسلوالو ځواکونو مسلکي اخلاق په ۶۴ چوکاټ کې ښودل شوي دي.

**۶۴- چوکاټ**

## د آلمان په وسلوالو ځواکونو کې د مشرۍ او مدنی روزنی مسأله

«(...) له دوهمی نړیوالی جګړی څخه وروسته د آلمان د فدرال پوځ د جوړولو په بحث کی د داخلی مشری طرحه (یعنی اخلاقی مشری او مدنی روزنه) د وسلوالو ځواکونو د اصلاح لپاره د پخوانی پوځی دود څخه د واټن نیولو سره، یوه لاره وګڼله شوه. دغه لاره د ټولو له خوا ومنله شوه چی د داخلی مشری اصول د آلمان د فدرال پوځ د داخلی جوړښت لپاره له یوی خوا او په دولت او ټولنه کی د هغه د ګډیدو لپاره له بلی خوا لومړنی لارښونی برابروی.
(...) داخلی مشری هڅه کوی چی له یوی خوا د دولت د اتباعو په توګه د پوځی پرسونل د حقوقو او آزادیو او له بلی خوا د هغوی د پوځی دندو ترمینځ کش کړېپ تر کومه ځایه چی امکان لری کم کړی.
د لوړ پوړو پوځیانو د مشرتابه چلند باید د بشری کرامت او پټ ته له درناوی سره جوخت وی، هغه څه چی زمونږ د اساسی قانون بنسټ جوړوی (...).
(...) په بهر کی زمونږ هدف له دولت او د یوی مؤسسی په توګه د آلمان دفدرال پوځ او د دولت د اتباعو په توګه له ټولو پوځی وګړو سره د پیوستون ټینګول دی. (...) هدف دا هم دی چی هغه اندیښنی له مینځه یوړلی شی چی د فدرال آلمان پوځ «دولت د دولت په دننه کی» د یو ارګان په توګه سر راپورته کړی، دا هغه یو خطر دی چی ذاتا ټولو وسلوالو پوځونو سره تړلی دی.

د داخلی مشری هدفونه په لاندی ډول بیان شوی دی:

- د سیاسی اصولو او د آلمان د ملی پوځ د قانون او همداراز د هغه پوځ د هدف او د ماموریت د معنی په هکله د پوځی پرسونل بشپړ خبرتیا؛
- له دولت او ټولنی سره د آلمان د فدرال پوځ او د پوځی پرسونل وحدت او د هغه د ماموریت په هکله عمومی پوهیدنه؛
- په پوځی پرسونل کی له دندو او مسؤلیتونو سره د مینی زیاتول او په وسلوال پوځ کی د انضباط او یووالی ساتل؛

له دی څخه ډاډ من کیدل چی د وسلوالو ځواکونو جوړښت انسانی کرامت او قانونی امرونو ته د درناوی پربنسټ ولاړ دی او د وسلوالو ځواکونو ماموریت په اغیزمنه توګه سرته رسول کیږی.
په ورځنی پوځی ژوند کی د داخلی مشرتابه ځانګړتوب او رښتینی هدفونه په یو لړ قوانیونو، فرمانونو او پوځی مقرراتو کی بیان شوی دی (...).

سرچینه: د آلمان د فدرال پارلمان انترنتی پاڼه www.bundestag.de

په نړیواله سطح کی تر اوسه پوری دوه ډوله مقررات جوړ شوی دی چی د پوځیانو مسلکی اخلاقی چلند لپاره یو قانونی چوکاټ ورکوی. د ملګرو ملتونو عمومی اسامبلی په ۱۹۷۹ کال کی د پولیسی چارواکو لپاره د مسلکی اخلاقی چلند مقررات په تصویب ورسول: (۶۵- چوکاټ دی وکتل شی.) دغه مقررات عمومی ځانګړیتوب لری چی نه یواځی د دولت د یونیفورم لرونکو بلکه په پولیسی ارګان کی د ټولو کارکونو لپاره د تطبیق وړ دی.

**۶۵. چوکاټ**

## د پولیسي چارواکو لپاره د مسلکي اخلاقي چلند مقررات

دغه مقررات د ملګرو ملتونو د ۱۹۷۹ کال د دسمبر په ۱۷ د ۱۶۹/۳۴ پریکړې سره په تصویب رسیدلي دي:

**لومړۍ ماده** - د پولیسي چارو کارکونکي باید هغه دنده چې د قانون له خوا ورته سپارله شوی ده په هر وخت کې تولنې ته د خدمت او د غیر قانوني عملونو په وړاندې د خلکو د ساتنې په موخه د زړه له کومې له بشپړ احساس سره سرته ورسوي.

**دوهمه ماده** - د پولیسي چارو کارکونکي د خپلو دندو په ترسره کولو کې بشري کرامت ته درناوی کوي او له هغه څخه ساتنه کوي او همداراز بشري حقوق د ټولو خلکو په اړه خوندي ساتي او هغو ته خپله هم درناوی کوي.

**دریمه ماده** - د پولیسي چارو کارکونکي کولای شي چې له قوي څخه یوائې او یوائې د سختی اړتیا په وخت کې تر کومه ځایه چې قانون ورته اجازه کړې ده، کار واخلي.

**څلورمه ماده** - هغه موضوعات چې په حقیقت کې باید پټ او محرم پاتې شي اود پولیسي چارواکو په اختیار کې کیښودل شي، باید د هغو محرم توب خوندي وساتل شي، مګر دا چې د دندې د ترسره کولو او د قضا او عدالت غوښتنه وي چې هغه بربنډ کړي.

**پنځمه ماده** - د پولیسي چارو هیڅ یو کار کونکي حق نه لري چې له زور زیاتیو، د ربړلوني لپاره له لمسوني او یا له هغې او یا نورو غیر انساني چلندونو یا سپکاوي څخه کار واخلي. همدا راز د پولیسي چارو هیڅ یو کار کونکي حق نه لري چې له ربړوني یا غیر انساني چلندونو لپاره د خپل لوړ پوړي آمر په امر یا د اضطراري حالتونو لکه جګړې، د جګړې ګواښ، یا ملي امنیت ته د ګواښ، یا کورني سیاسي نا امنیو په پلمه توجیه کړي.

**شپږمه ماده** - د پولیسي چارو کار کونکي باید د بندیانو انساني حقوق په بشپړه توګه خوندي وساتي، په خاصه توګه چې د هغوی روغتیایي وضعیت پوري اړه نیسي، په دې برخه کې دوی باید سمدلاسه په عمل لاس پورې کړي.

**اوومه ماده** - د پولیسي چارو کار کونکي باید هیڅ ډول غیر اخلاقي عمل سرته ونه رسوي. همداراز د داسې اعمالو پر ضد په پوره قوت سره مقابله وکړي.

**اتمه ماده** - د پولیسي چارو کارکونکي مکلف دي چې قانون او دهغو بیان شوي مقرراتو ته درناوی ولري. همداراز د خپل بشپړ قوت څخه په کار اخیستلو سره له قانون څخه د سرغړونو مخه ونیسي. کله چې هغوی فکر وکړي چې قانون څخه سرغړوني شوي دي او یا ترې سرغړونه کیږي، باید لوړ پوړو چارواکو او د اړتیا په صورت کې، اړوندو مقاماتو او یا ارګانونو ته چې د پلټنې او غور صلاحیت لري، خبر ورکړي.

یادونه: د نومول شویو مادو هر یوه یې له یو لړ تفسیرونواو تبصرو سره جوخته ده چې دلته تشریح شوي نه دي. د زیاتي مطالعې لپاره دغه انترنتي پاڼه دې وکتله شي: www.un.org

د پوځي ـ سیاسي مسلکي اخلاقي چلند په هکله دوهم نړیوال مقررات د اروپا د امنیت او همکارۍ د سازمان OSCS مقررات دي (۶۶ چوکاټ دی وکتل شي). دغه مقررات د ټولو امنیتي ارګانونو د کارکونکو او غړو لپاره د پاملرنې وړ دي او د پوځي وسلوالو ځواکونو لپاره لارښوونې وړاندې کوي. دغه مقررات وايي چې پوځیان باید له قانونیت، دیموکراسي، ناپلویتوب، بشري حقوقو ته له درناوي او همدا راز له ټولو نړیوالو قوانینو څخه پیروي وکړي او همداراز څرګندوي چې هر پوځي له بشري حقوقو څخه د سرغړونې په صورت کې د خپل عمل ځواب ورکونکي ګڼل کیږي. سربیره پر دې هغه مسألې چې معمولا د دولت د کورنیو چارو د قضاوت په حدودو کې راځي، هغه هم تر څارنې لاندې نیسي. په دې ډول دغه مقررات د دولتي قدرت په ساحه کې د یو مهم محدودیت ښکارندوی دي چې تر هغه وخت پورې د نه لاس وهنې وړ ګڼل کیده. له هغه وخت څخه ځینو هیوادونو د OSCS دغه مقررات په ۱۹۹۴ کال کې لاس لیک کړل، د خپلو ځواکونو د جلب او احضار، پوځي روزنې او امر ورکونې لپاره ځینې معیارونه ټاکلي دي. په دغو مقرراتو کې یو ټکي په خاصه توګه د پاملرنې وړ دی، هغه دا چې د وسلوالو ځواکونو د حرفه یي کول لړی باید د هغو ځواکونو د دیموکراتیک کنترول له اصل سره جوخت وي.

**۶۶ـ چوکاټ**

## د امنیت د سیاسي – پوځي اړخونو لپاره د اروپا د امنیت او همکارۍ د سازمان د مسلکي چلند مقررات (۱۹۹۴)

- **د استخباراتي او اطلاعاتي خدماتو، نیمه پوځي جزو تامونو او پولیسي ځواک په شمول د ټولنې امنیتي برخې د ځواکونو لپاره یوه عمومي طرحه.** دغه مقررات د دولتونو په دې مکلفیت ټینګار کوي چې هغوی دغه ځواکونه د قانوني صلاحیت څخه د برخه منو دیموکراتو چارواکو له خوا په منظمه توګه تر دیموکراتیک اغیزمن کنترول لاندې ونیسي (۲۰ او ۲۱ پاراګرافونه)؛
- **د دفاعي بودجې پارلماني تصویب او د پوځي لګښتونو د محدودولو لپاره غوښتنه.** شفافیت او د وسلوالو ځواکونو اړوند معلوماتو ته د عامو خلکو لاس رسیدنه (۲۲ پارګراف)؛
- **د وسلوالو ځواکونو ناپلویتوب** (۲۳ پاراګراف)؛
- **د وسلوالو ځواکونو غړي کیدای شي چې په انفرادي توګه د انساني نړیوالو حقوقو د سرغړونې لپاره مسؤل وګڼل شي** (۳۱ پاراګراف)؛
- **وسلوال ځواکونه د سولې او جګړې په وخت کې له نړیوالو قوانینوسره سم تر امر لاندې دي او کولای شي، بشري قواووی استخدام کړي او هغوی ته روزنه ورکړي او یا هغوی مجهز کړي** (۳۴ پاراګراف).
- **د کورني امنیت په برخه کې د ماموریتونو د عملي کولو لپاره له قوې څخه کار اخیستل باید له تناسب څخه برخمن وي.** وسلوال ځواکونه باید، تر کومه ځایه چې امکان ولري، د ولسي وګړو او د هغو د شتمنیو د تاواني کیدو مخه ونیسي (۳۶ پاراګراف).
- **د وسلوالو ځواکونو عملیات باید د وګړو د سوله ایز او قانوني حقوقو پلي کیدل محدود نه کړي.** همدا راز دا عملیات باید د اتباعو ملي، دیني، کلتوري، ژبني یا قومي هویت لوټ نه کړي (پارګراف ۳۷).

سرچینه: د OSCE د مسلکي چلند مقررات، ۷ او ۸ برخې. همدا راز د OSCE انترنتي پاڼه وګورئ.
http//www.osce.org/docs/english/1990-1999/summits/buda94e.htm#Anchor_COD_65130

## پوځی محاکمه

له پوځی دسپلین څخه کار اخیستل یا د پوځی دسپلین لپاره اړتیا د یو لړ شرایطو پر بنسټ ولاړ دی چې د پوځی ماموریت له یو ځانګړی ډول څخه سر چینه اخلی. د جنایی چلند په پام کی نیونی سره د ملکی خلکو په پرتله د وسلوال پوځ غړی بل ډول نظر لری. یو ملکی کارکونکی، که چیری د یوی دندی په ترسره کولو کی ناغیری وکړی یا په کی پاتی راشی، تر جنایی تعقیب لاندی نه شی نیول کیدای. د کار څښتن کولای شی یواځی هغه له کاره څخه وباسی. همدا راز کولای شی چی هغه د یو کارکونکی لپاره د تقدیر نامی یا د کاری تصدیق له لیکلو څخه مخ واړوی. خو هغه په هیڅ صورت سره د کارکونکی پر خلاف په یوه جنایی محکمه کی دعوا نه شی کولای. خو د وسلوال ځواکونو غړی که چیری په سپارل شوی دندی کی ناغیری وکړی یا په هغی کی پاتی راشی، مجرم ګڼل کیدای شی. د هغه دغه ډول چلند نه یواځی له امر څخه سرغړونه ده، بلکه کیدای شی چی د نورو پوځیانو ژوند هم له خطر سره مخامخ کړی. د پوځی چلندونو نوری بیلګی چی په ملکی ساحه کی تر جنایی جرم لاندی ښایی و نه څارل شی، عبارت دی له پوځی خدمت لپاره جعلی نوم لیکنه، له خدمت څخه تیښته، پرته له اجازی څخه غیر حاضری، د لوړ پوړی صاحبمنصب په وړاندی بی احترامی، بغاوت، له دښمن سره مرسته او د وظیفی په وخت کی بیدیدل.

دا ډول جرمونه دا پوښتنه رامینځ ته کوی چی کومی یو د هغو څخه ملکی او کوم یو یی پوځی محکمی پوری اړه نیسی. په عمومی توګه پوځی محکمی ته په دیرو کمو حالاتو کی اړتیا پیدا کیږی. خو ملکی محکمو ته ډیری نوموړی جرمونه راجع کیږی. پوځی محکمه د هغو مسألو لپاره دایریږی چی په هغو کی یو پوځی خطا شوی وی. سر بیره پر دی پوځی محکمه هغه وخت هم د یو جرم د فیصلی لپاره دایریږی چی پوځی جزایی قوانین ډیر لږ ملکی جزایی قوانینو سره تداخل ولری.

د یادونی وړ ده چی په ډیری هیوادونو کی پوځی محکمی د قضایی ارګان یو برخه نه ده، بلکه د وسلوال پوځ اداری محکمی د اجراییه قوی یوه برخه ده. دا په دی معنی چی پوځی قاضی ډیری وخت د اساسی قانونی له پریکړی او غوښتنی سره سم د قاضی په توګه نه نومول کیږی. سره له دی هم باید دا خبره په پام کی ونیسو چی په ټولو دی حالاتو کی پوځی محکمی د قضاییه قوی تر څارنی لاندی وی. په ډیرو هیوادونو کی دا کار د مدنی استیناف محکمو د جوړولو له لاری د پوځی قضا لپاره د استیناف د پړاو په توګه سرته رسول کیږی.

### هغه څه چی تاسی د پارلمان د استازی په توګه سرته رسولای شی

داډ پیدا کړی چی:

**۱-** پوځی پرسونل د اساسی قانون، مقرراتو او د دولتی مؤسساتو په وړاندی لوړه کوی نه د افرادو په وړاندی.

**۲-** د مدنی او بشری قوانینو لپاره په مهمو ارزښتونو او د دیموکراسی په معیارونو کی روزنه د هر پوځی روزنی بنسټیز حیثیت لری.

**۳-** د پوځ غړی د پارلمان استازی نه شی کیدای.

**۴-** د نویو پوځی عسکرو او صاحبمنصبانو ټاکل د هغوی د حرفه یی معیارونو له مخی سرته رسول کیږی.

**۵-** له ناوړه او غیر قانونی امرونو څخه د پوځیانو د سرغړونی عمل قانونی ګڼل شوی دی.

**۶-** په خپله خوښه له پوځی مسلکی اخلاقو څخه اطاعت کول د مناسب چلند له مقرراتو څخه یی ملاتړ کیږی.

**۷-** د پوځی محاکمو له لاری د قضایاو د فیصلی امکان محدود کړی او سر بیره پر دی د پوځی

محکمې د فيصلې په خلاف په مدني محکمو کې د استيناف لپاره لاره پرانيستې وساتي.
۸ـ امنيتي اداري په قانون او په عمل کې د دولت د هرې واکمنې برخې په وړاندې مسؤل ګڼل کيږي (د دې برخې لمړيو عناوينو ته کتنه وکړئ: د پوځي غړو انفرادي مسؤليت). ډاډ لاس ته راوړي چې په امنيتي ادارو کې د ځواب ورکونې لپاره ځيني ميکانيزمونه په پام کې نيول شوي، په قانون کې وړاندوينې شوې او د خلکو د شکايتونو لپاره لار پرانيستې پاتې وي؛ همداراز د هغو کسانو لپاره چې مجرم ګڼل شوي، سزا ورکونه بايد تر کنترول لاندې ونيوله شي چې ايا هغه اغيزمنه ده او که نه. سر بيره پر دې ډاډ لاس ته راوړي چې پارلمان په مسألو کې د خپلواکې پلټنې په لټه کې دی او مشکوک او مظنون افراد محکمې ته کش کوي.

## د پوځيانو مدني حقوق

- د قانون له لارې د پوځيانو مدني حقوق محدود کړي ترڅو ډاډ پيدا کړي چې هغوی د خدمت لپاره چمتو دي او له سياسي لحاظه ناپلوي دي.
- په پام کې ولري چې په مدني حقوقو کې هر ډول کموالی بايد په مستقيمه توګه د امنيتي ادارو له چلند او دندو سره تړاو ولري، د بيلګې په توګه: په ټولنه کې د قدرت انحصار.
- د مدني حقوقو په برخه کې د محدوديتونو منل بايد له مناسبو لارو چارو د نارضايتي جبران وکړي.

## اطاعت

- د قانون له لارې دا مسأله يقيني کړي چې د عسکرو په شمول پوځي افراد حق لري تر څو له هغو غير قانوني او يا اخلاقي ضد امرونو څخه سرغړونه وکړي چې نړيوال بشري حقوق او قوانين تر پښو لاندې کوي.
- ډاډ لاس ته راوړي چې دغه دنده د امنيتي ادارو د انضباطي ميکانيزم له لارې پلې کيږي.

## ناوړه استفاده او اختلاس

- که چيرې زورزياتي او افتضاحي قضيې، لکه په امنيتي ادارو کې اداري فساد، اختلاس او داسې نورپيښ شي، سمدلاسه په عمل لاس پورې کړي.
- ډاډ لاس ته راوړي چې پلټنې په بنسټيزه توګه سرته رسول کيږي او که چيرې لازم وي د صلاحيت لرونکو مقاماتو له خوا دې سزاوي وټاکلې شي او پرته له ځنډ څخه دې عملي شي.
- هغه پريکړې چې پوځي ارګانونه او د امنيتي ادارو پرسونل له يوې دوهمې حرفې يا دوهم کار له مشغولتيا څخه منع کوي، د عمل په ډګر کې پلې کړي.

**شپږویشتم فصل**

# د امنیت په برخه کی د پرسونل منجمنت

د پوځ په خدمت کی پاتی کیدل هغه یوه دنده ده چی خپل ځانګړی خصوصیتونه لری، لکه ځانی خطرونه، په پر له پسی توګه د وظیفی د ځای بدلیدل، ډیری وخت لیری له کورنی څخه او داسی نور. پارلمانونه باید پوه شی چی پوځ ته کار کول یوه ساده مشغولیتا نه ده. د استعداد لرونکو قوتونو جذبول، د کارکونکو انتخاب، د معاشونو ورکول او د کار څخه د تقدیر په توکه بخشش ورکول د غوره تشکیلاتی منجمنت مهم ټکی دی چی د مسلکی امنیتی ادارو په جوړولو کی چی له دیموکراتیکو اصولو څخه اطاعت وکړی او قانون او د خلکو د واکمنی اصل ته درناوی ولری، مهم نقش لری.

همداراز پارلمانونه باید د مسلکی امنیتی خدماتو په جوړولو او ساتنی باندی څارنه ولری. هغوی باید ډاډمن شی چی د تشکیلاتی منجمنت طرحی د عمل په ډګر کی پیاده کیږی چی دا امر د مسلکی او دیموکراتیک پرسونل د رامنیځ ته کیدو سبب ګرځی. هغوی باید ډاډ لاس ته راوړی چی حکومت د کار د ځښتن په توګه د پوځیانو په وړاندی د معاش ورکولو، د کار د شرایطو، استخدام، د تقاعد د حقوقو او داسی نورو مسألو کی له انصاف څخه کار اخلی.

**۶۷- چوکاټ**

## د پرسونل یا تشکیلاتو منجمنت: هغه څه چی پارلمان باید ورته پاملرنه ولری

پارلمانونه باید له دغو لاندو ټکو چی د امنیتی ادارو د تشکیلاتی منجمنت په هکله د حکومت وړاندیزونو پوری اړه لری، خبرتیا پیدا کړی:

**عمومی سیاست پوری تړلی مسألی**

- آیا له پارلمان څخه غوښتل کیږی چی د امنیتی ادارو د تشکیلاتی منجمنت د پالیسیو، لکه د کلنی بودجی وړاندیز یا ځانګړی سند پریکړه وکړی؟
- آیا د تشکیلاتی منجمت پالیسی اود پوځی ځواک جوړښت د بودجی او د عامه اقتصاد له نظره د ځغملو او پلی کیدو وړ دی؟

**توانمندی او عمومی شرایط**

- آیا پارلمان د وسلوالو ځواکونو، پولیسیو یا استخباراتی ادارو لپاره د پوځی افرادو شمیر ټاکی؟
- آیا پارلمان د پوځی افرادو د معاشونو په هکله د رتبی او درجی پر بنسټ تصمیم نیسی؟
- آیا د تشکیلاتی مشرتابه پالیسی د عامو خلکو په نظر له شفافیت څخه برخه منه ده؟
- آیا د امنیتی ادارو په اصلاحی پالیسیو کی له کار څخه د کارکونکو د رخصتولو ټولنیزو پایلو ته پاملرنه لری که نه؟

**استخدام او انتخاب**

- آیا ټول پوستونه د ښځو په شمول د هر تبعه لپاره پرانیستی دی؟ که چیری وی، آیا دا په قانون

کې ذکر شوی دی؟
- آیا په امنیتي ادارو کې استخدام د پرانیستي سیستم او که د تړلي سیستم پر بنسټ ولاړ دی؟ څرنګه چې په یو تړلي سیستم کې د ټولنې یوازې خاص افراد کولای شي چې د کار کولو غوښتنه وکړي.
- آیا مسلکي معیارونه د افرادو په ټاکلو کې په پام کې نیول کیږي؟
- آیا په امنیتي خدماتو کې خالي بستونه زیات دي؟
- آیا وروسته له لومړنی ټاکنو څخه د هغو کسانو شمیر چې له کار کولو څخه ډډه کړې ده، زیات دی؟

**د بستونو ډکول**

- آیا هغه یو مهم اصل چې یوځې افراد د خپل لیاقت او استعداد له مخې باید استخدام شي او ترفیع وکړي، په عمل کې پلي کیږي؟
- آیا په منظمه توګه مسلکي ارزوني سرته رسول کیږي؟
- ایا د ارزوني او قضاوت سیستم شفاف، ناپلوی او منصفانه دی؟
- آیا په امنیتي اداره کې خدمت کول د مسلکي پرمختګ لپاره په زړه پوري او تشویق کونکی امکانات برابروي؟
- آیا پوځې افراد له نورو عاید لرونکو کارونو څخه منع کیږي؟
- آیا د امر خاوندان د عمل په ساحه کې له کافي تجربې څخه برخه من دي او دهیواد څخه بهر د سولې په ماموریتونو کې یې خدمت کړی دی؟
- آیا د لوړ پوړو افرادو په ټاکلو کې، لکه لوی درستیز، د دفاع وزیر یا اړوند نور وزیران له پارلمان او یا اړوند کمسیونونو سره سلا مشوره کوي؟

**د معاش ورکړه**

- آیا په امنیتي برخو کې معاشونه د نورو کارونو له معاشونو سره د پرتله کیدو وړ دي تر څو امنیتي اداری وکړای شي د کار په بازار کې له نورو خصوصي شرکتونو سره سیالي وکړي؟
- آیا د افرادو معاشونه په خپل وخت کې ورته ورکول کیږي؟
- آیا پوځې افرادو ته د خپل استعداد او لیاقت په خاطر انعام ورکول کیږي؟
- آیا د پوځې افرادو رښتیني چالچلند د هغوی پر معاشونو اغیزه لري؟
- آیا د معاش د ورکړې سیستم هغو کسانو ته چې معاش ورکول کیږي او نورو عامو خلکو ته شفافیت لري؟
- د تقاعدی معاش د سیستم په هکله څه اندیښنې موجودی دي؟
- آیا د خدمت په حال کې د پوځې افرادو معاش او نورو حقوقو په پرتله د تقاعدی معاش د رضایت وړ دی که نه، کله چې دغه افراد تقاعد شي څه ډول حقوق لري او یا کوم حقوق له لاسه ورکوي؟

## هغه څه چې تاسې د پارلمان د استازي په توګه سرته رسولای شی

### د امنيتي برخې د کار کونکو دندې او د هغوی شمير

- ډاډ لاس ته راوړی چې د امنيتي ځواکونو تشکيلات او د هغوی دندې د دولت له ملی اقتصادی سرچينو سره همغږی ولري.

### د امنيتي اداري د کار کونکو معاش

- ډاډ لاس ته راوړی چې د وسلوالو ځواکونو د غړو معاشونه کافی وی، او په عين وخت کی د کار په بازار کی سيالی وکړی او د ژوند اړتياوی پوره کړای شی.
- ډاډ لاس ته راوړی چې معاشونه په منظم ډول او په خپل وخت ورکول کيږی.
- پام وکړی چې که چيری معاشونه کافی نه وی، په امنيتي ادارو کی کار کول په زړه پوری نه ګرځی او ځوان استعدادونه زړه نه ښه کوی چې په هغو ادارو کی کار وکړی.
- په پام کی ولری چې د معاش نه بسيا او په غير منظمه توګه د معاشونو ورکړه ښايی اداری فساد او بډو اخيستلو او زور زياتيو ته لاره اواره کړی.
- د وسلوالو ځواکونو د غړو او د هغو د لوړ پوړو آمرينو مالی ګټې او امتيازات بايد د زياتو شخصی علاقمنديو لامل ونه ګرځی او نه امنيتي اداری دی ته وهڅوی چې خپل سياسی نفوذ پراخ کړی. هغوی بايد له عامو معلوماتو څخه برخه منه وی د هغو مالی امتيازات او معاشونه د دولت له نورو کارکونکو سره انډول ولری. هغوی ته ورکړ شوی امتيازات بايد له ځانګړو شرايطو او د عملياتو په ساحو کی له احتمالی خطرونو سره جوړښت ولری.
- ډاډ من شی چې د تقاعد نظام د رضايت وړ دی.

## اوویشتم فصل

# د عسکری مکلفیت او د هغه په وړاندی وجدانی اعتراض

تقریبا د ټولو هیوادونو اساسی قانون یوه ماده په دی مضمون لری چی له دولت څخه دفاع د هر تبعه دنده او اخلاقی مسؤلیت دی. په ځینو هیوادونو کی دغه دنده د قانون له مخی د عسکری جبری خدمت په کولو سره سرته رسول کیږی، څرنګه چی د یو هیواد هر تبعه باید په هر وخت او زمان کی چی حکومت لازم وګڼی په وسلوالو ځواکونو کی د خدمت لپاره چمتو وی. د عسکری خدمت په موخه د اتباعو (ډیری وخت نارینه) دنده په اساسی قانون کی څرګنده شوی ده او تل د قانون له مخی په لاندی ډول تنظیم کیږی:

- هغه څوک چی د عسکری د خدمت کولو د شرایطو وړ پیژندل کیږی
- د عسکری د خدمت موده
- د عسکری د خدمت شاته اچول/ له خدمت څخه معافیت
- د جلب او احضار لاری چاری
- هغو کسانو ته سزا ورکول چی د عسکری له خدمت کولو څخه ډډه کوی
- د عسکری د خدمت له ټولو څخه ټیټ او لوړ عمر

سر بیره پر دی، په ډیرو قوانینو کی د وسلی د لیرډولو څخه د ډډه کولو حق منل شوی دی؛ یعنی سړی حق لری چی د عسکری له خدمت څخه هم ډډه وکړی او یا یی پر ځای یو بل عامه خدمت سرته ورسوی.

### د عسکری د مکلفیت ګټه او هدف

په ډیرو هیوادونو کی تراوسه پوری د عسکری خدمت جبری دی. یو مهم دلیل دا دی چی دغه هیوادونه د عسکری خدمت ته د دیموکراسی او د ملی فرهنګ د یو ارزښت لرونکی فکتور په توګه نظر کوی. سره له دی هم په ټوله نړی کی د عسکری خدمت له یو شخړایز بحث سره مخامخ دی. په دغه بحث کی د وسلوالو نښتو د بدل شوی خصوصیت ته په پام کی نیونی سره، د عسکری د خدمت هدف او ګټه تر پوښتنی لاندی نیوله شوی ده. څو هیوادونو د عسکری د جبری خدمت نظام ته شا اړولی او یا په دی نژدی وخت کی له هغه څخه لاس اخلی. حتی فرانسی چی په نوی عصر کی د عسکری د مکلفیت نوښت یی کړی ؤ، په ۲۰۰۱ کال یی جبری خدمت لغوه کړ.

**۶۸- چوکاټ**

**عسکری خدمت په ټوله نړی کی**

**د عسکری د خدمت شرایط:** په ډیرو هیوادونو کی د عسکری د خدمت د پیل سن ۱۸ کلنی دی، په ځینو نورو کی په ۱۶، ۱۷، ۱۹ او یا په ۲۰ کلنی عسکری خدمت ته غوښتل کیږی. نن یو شمیر هیوادونو د خپل پوځي نظام دروازه د ښځو په مخ هم پرانیستی ده.
**د خدمت موده:** دغه خدمت د ۶ میاشتو څخه تر ۳ کلونو پوری اوږدیږی.

**وجداني اعتراض او د عسکری بدیل خدمت:** د نړۍ تقریبا نیمایي هیوادونه د عسکری د خدمت په وړاندې اعتراض مني او د بدیل خدمت غوښتنه کوي.
په ډیرو هیوادونو کې د عسکری له خدمت څخه د سرغړونې سزا حبس دی.

سرچینه: د کمیسیون د پریکړې څخه وروسته د ملګرو ملتونو د عمومي منشي رپوټ
UNCHR, 1997.E/CN.4/1997/99,83/1995

## د عسکری د مکلفیت مثبت او منفي اړخونه

کله چې پارلماني استازي د عسکری د مکلفیت مثبت او منفي اړخونه تر ارزونې او تحلیل لاندې نیسي، ښایي وغواړي چې دغه لاندې حالتونه په پام کې ونیسي:

### ولې د عسکری مکلفیت باید وساتل شي؟

د عسکری له مکلفیت سره موافق نظرونه په لاندې ډول دي:

- د عسکری مکلفیت ډیرې وخت د دیموکراسۍ له فکر سره جوخت دی، ځکه دغه مکلفیت قانوني دی او د هر وګړي ( ډیری نارینه) اخلاقي مسؤلیت دی. دا چې د یو دولت ټول اتباع په یوډول شرایطو کې قرار لري، د نژادي، دیني او طبقاتي توپیرونو ته نه پاملرنې سره د عسکری خدمت باندې مکلف دي. په ځینو هیوادونو کې د جنسیت توپیر هم په پام کې نه نیول کیږي، یعنې ښځې هم دغه خدمت ته مکلف ګڼل کیږي.
- جلبي عسکر په حقیقت کې د دولت یونیفورم لرونکي اتباع دي، دغه شته والي سره له دې څخه مخنیوی کیږي چې وسلوال ځواکونه دولت د دولت دننې په توګه رامینځ ته شي. په دې ډول د عسکری مکلفیت کیدای شي چې د ټولنې او د وسلوالو ځواکونو تر مینځ دیموکراتیکه اړیکه وګڼله شي.
- په ټولیزه توګه د عسکری مکلفیت نظام د خپل خوښې پوځي نظام په پرته ارزانه دی. ځکه د جبري خدمت د نظام معاش د خپل خوښې د خدمت په پرتله ټیټ دی.

د عسکری مکلفیت د ټولنې د مختلفو پرګنو خلک سره نژدې کوي. هغوی وسلوال پوځ ته ځان سره مختلفې حرفې او کسبونه په اقتصادي، تخنیکي او د کرهنې په برخو کې راوړي. وسلوال پوځ کولای شي چې له دا ډول کسبونو او حرفو څخه په ښه توګه کاروا خلي. د بیلګې په توګه، کله چې وسلوال پوځ په بهر کې د سولې ماموریت لپاره ګمارل کیږي، کولای شي چې د هغه حرفوي او کسبي عسکر له جګړې څخه وروسته په دوره کې د بیارغاونې په پروګرامونو کې ونډه واخلي.

### ولې د عسکری مکلفیت یا اجباري خدمت لغوه شي؟

په نړۍ کې د عسکری د مکلفیت په هکله زمونږ څیړنې ښيي چې دغه لاندې دلایل د جبري عسکری د خدمت د پای ته رسیدو لپاره مهم ګڼل شوي دي:

- په تیرو ۲۵ کلونوکې په خاصه توګه د سړې جګړې له پای څخه وروسته د دیرو هیوادوونو پوځ کوچنی کړای شوي دي او دا د دې لامل شوي چې پوځ ته لږ شمیرل کسان جلب او احضار شي (دا په خپل ذات کې کله کله د عسکری د مکلفیت په پیټې کې د نابرابرۍ له امله د خلکو د ناخوښیې سبب ګرځي). اروپایي او د اقیانوس هغه خوا هیوادونو په خاصه توګه د خپلو پوځیانو شمیر لږ کړی دی. داسې ښکاري چې د سړې جګړې له پای ته رسیدو څخه وروسته

افریقایي او آسیایي هیوادنو د خپلو پوځونو د کوچني کولو لپاره د سولې له چانسونو څخه ډیره زیاته استفاده نه کوي.

- داسي ښکاري چي وسلوال پوځ ورځ په ورځ مسلکي کیږي او له مختلفو تکنولوژیو سره پیژندګلوي پیدا کوي او هغوی پوري تړل کیږي. ډیري وخت مخکي له دې چي سرتیري وکړای شي چي د وسلو له پرمختللو او پیچلوسیستمونو څخه استفاده وکړي، هغوی د یوی اوږدي مودی تعلیم ته اړتیا لري. دا چي جلبي یا مکلفیتي عسکر په عادي توګه په وسلوال پوځ کي ډیر نه پاتي کیږي چي له دا ډول سیستمونو سره پیژندګلوي پیدا کړي، نو ډیر پوځونه غواړي چي په حرفوي یا د خپلي خوښي اردو باندي تکیه وکړي.
- د سولې ماموریتونه نه یواځي د پوځي لومړنیو مهارتنو د درلودلو، بلکه د ځینو نورو، لکه د خبرو اترو سرته رسولو لپاره هم غوښتنه کوي. د ډیري سرتیرو د عسکري مکلفیت د خدمت دوره ډیره لنډه ده. هغوی نه شي کولای هغه لازم مهارتونه او تعلیم زده کړي چي جګړه ځپلو ټولنو کي د سولې د ماموریتونو لپاره پکار دي.
- په ځینو هیوادونو کي اساسي قانون د جلبي عسکرو څخه کار اخیستل یواځي د خپلي خاوري د دفاع پوري محدودوي او اجازه نه ورکوي چي په بهر کي عسکري خدمت سرته ورسول شي.

**۶۹ـ چوکاټ**

## د عسکری د مکلفیت په دوره کي ځورول

د عسکري د خدمت په دوره کي د زړو او نویو عسکرو ترمینځ یو ډول غیر رسمي مشرتوب او کشرتوب مسأله مطرح ده. دغه ډول غیر رسمي سلسله مراتب خورا اهمیت لري، ځرنګه چي پخواني عسکر نویو ته لاربښونه کوي او هغو ته پوځي مقررات او دود وربښکاره کوي. دا په حقیقت کي د پوځ له ټولنیز جوړښت سره یو ډول مرسته ده. خو په ډیرو حالتونو کي پخواني عسکر له غیر رسمي مشرتوب څخه د خپلي شخصي ګټي لپاره ناوړه استفاده کوي او هغوی دندو ته مجبوروي او یایي ځوروي. که چیري دا د پوځي صاحبمنصبانو له خوا کنترول نه شي، دا به ډیری نا خوالي ځان سره ولري، ځرنګه چي زاړه عسکر به نوي زوروي، د هغوی په خلاف به له جسمي زورزیاتیو څخه کار اخلي او یا به یې ویروي. د اروپایي شورا د جلبي عسکرو د سازمان له نظره د ځوانو عسکرو ځورول له ډیرو مهمو ستونزو څخه شمیرل کیږي. دغه ډول ځورول کله کله د روحي او جسمي ژوبل کیدو او حتی د مرګ او یا ځان وژني سبب ګرځي. د جلبي عسکرو او د پوځي خدمت د شهرت د خوندي ساتني په موخه د صاحبمنصبانو له خوا باید وخت په وخت ټینګه څارنه موجوده وي. سره بیره پر دې د څارني داخلي او بهرني تأسیسات باید د ناوړو پیښو په حالاتو کي په پلټني لاس پوري کړي او پوځ په دننه کي دې د قانون واکمني بیرته اعاده کړي.

سرچینه: Ilona Kiss، د سولې په وخت کي د سرتیرو حقوق، ۲۰۰۱
په دغه لاندي وب سایټ کي: www.dcaf.ch (په مرکزي او شرقي اروپا کي د جلبي عسکرو د حقوقو په هکله دی تور نومئ کتاب کي وکتل شي، ۱۹۹۶ په دغه انترنتي پاڼه کي:
/http: //www xs4all.nl/~ecco)

## وجدانی اعتراض او بدیل خدمت

ځینی خلک د اخلاقی لارښوونو پراساس لکه مذهبی عقایدو (چی څوک باید ونه وژل شی) یا خپلو شخصی عقایدو له مخی (لکه له زورزیاتی څخه نه کار اخیستل) له پلارنی وطن څخه د دفاع دنده تر پوښتنی لاندی نیسی. په نتیجه کی ډیر امکان لری چی دغه ډول خلک له دولتی فرمانونو څخه د سرغړونو په تور په سختو سزاو حتی اعدام محکوم شی.

د تیری پیړی په وروستی نیمایی کی د عسکری خدمت او د وسلی په لاس کی اخیستلو څخه د سرغړونی د حق درلودلو مفکوره پیدا شوه او په پراخه کچه ومنله شوه. په ځینو دولتونو کی هغه حتی په قانون کی هم ومنل شوو. دغه بدلون په ځینو دولتونو (لکه بریتانیا، آیرلند، بلجیم، لوکزامبورگ، فرانسه، هسپانیه، ایتالیا او پرتگال) کی د جبری خدمت د پای ته رسیدو سره جوخت ؤ.

وجدانی اعتراض کونکی کیدای شی د هغو خلکو په توګه تعریف شی چی د وسلی لیږدولو مخالف دی او یا پوځی روزنی یا خدمت سره مخالفت لری. که څه هم ټول اعتراض کونکی د وجدان پر بنسټ دریځ نیسی، خو ښایی هغوی د خپل وجدانی اعتراض لپاره مختلف دینی، فلسفی یا سیاسی دلایل ولری.

## پارلمانی تصمیم

د وجدانی اعتراض کونکو د شمیر د زیاتیدو سره د ځینی دولتونو پارلمانونو تصمیم ونیو چی د قانون له مخی څه وخت او د کومو شرایطو لاندی کولای شی چی اتباع د عسکری له خدمت څخه سرغړونه وکړی. دغه ډول قوانین په امریکا متحده ایالاتو او د لویدیځی اروپا په ټولو هیوادونو کی نافذ شوی دی. یونان د لویدیځی نړی وروستی هیواد ؤ چی په ۱۹۹۷ کی یی د وجدانی اعتراض کونکو حق ومانه.

په هغو هیوادونو کی چی د وجدانی اعتراض کونکو حق منل شوی نه دی، هغوی د عسکری خدمت څخه د تیښتی یا خیانت په تورونو تر تعقیب لاندی نیول کیږی، دا هغه دوه جرمونه دی چی کیدای شی د سختو سزا وړ وګرځی. په ځینو هیوادونو کی د جنایی جرمونو یوه خاصه درجه بندی وجود لری «دایمی سرغړونی» او معمولا په پوځی قوانینو کی ورته ځای ورکړ شوی دی.

## څوک تصمیم نیسی او پر کوم بنسټ چی یو سړی وجدانی اعتراض کونکی په توګه وپیژندل شی

د دی لپاره چی څوک د وجدانی اعتراض کونکی په توګه وپیژندل شی، معمولا دا پوښتنی باید روښانه شی چی دغه نارینه یا ښځه څرنګه دغه عقیده پیدا کړی او څرنګه دغی عقیدی د ده پر ژوند اغیزه کړی ده او دا عقاید څرنګه له پوځی خدمت سره ټکر کوی. دا چی څوک د وجدانی اعتراض کونکی د حق پیژندلو تصمیم نیسی، په مختلفو هیوادونو کی مختلف ارګانونه ګمارل شوی دی، مثلا په سویس او بلغاریا کی د کار وزارت، په سلوونیا کی د کورنیو چارو وزارت او په کرواتیا کی د عدلیی وزارت.

### وجدانی اعتراض د یو انسانی حق په توګه

د ۲۰۰۰ کال د اپریل په میاشت کی د ۱۹۹۸ د ۷۷ پریکړی د اصولو له منلو څخه وروسته، د بشر د حقوقو په هکله د ملګرو ملتونو کمیسیون پرته له رایپو څخه د ۲۰۰۰/۳۴ پریکړه تصویب کړه چی د هغی له مخی هر وګړی ته حق ورکړ شوی چی د عسکری خدمت په وړاندی اعتراض وکړی او د هغسی یو حق په توګه په رسمیت وپیژندل شوو لکه د فکر، وجدان او دین حق چی د بشر د حقوقو په

نړيوالې اعلاميې کې پيژندل شوې دی. په ۱۹۹۳ کال کې د ملګرو ملتونو د بشر د حقوقو کمسيون اعلان وکړ چې وجداني اعتراض د هغه منشور له ۱۸ مادې څخه سرچينه اخلي ځکه «مرګ پيښونکي کار ته د وګړو مجبورول کيداى شي چې د وجدان له آزادۍ او ديني حق له عملي کولو سره په تناقض کې وي». هغه کميسيون زياته کړه چې «کله چې دغه دولت يو حق په قانون کې وپيژندل شي او يا نافذ شي د وجداني اعتراض کونکو تر مينځ به د هغوی د عقايدو له مخې کوم توپير وجو ونه لري. په دې دولت وجداني اعتراض کونکې د دې لپاره چې د عسکرۍ له خدمت څخه سرغړونه کوي، بايد له تبعيض سره مخامخ نه شي».

**۷۰- چوکاټ**

## د بشرې حقوقو د ۱۹۹۸/۷۷ پريکړې په هکله د ملګرو ملتونو کمسيون: د عسکرۍ د خدمت پر خلاف وجداني اعتراض

کميسيون ( ...)
د دې خبرې په پام کې نيولو سره چې دغه کمسيون د بشر د حقوقو په هکله نړيواله اعلاميه او د مدني او سياسي حقوقو په هکله نړيوال منشور په دې محتوا په رسميت پيژني چې هر انسان د ژوند کولو، آزادۍ او شخصي امنيت حق او همدا راز د فکر، وجدان او دين د آزادۍ حق لري او دا حق لري چې هغه سره تبعيض ونه شي، او د دې خبرې په رسميت پيژندلو سره چې د عسکرۍ خدمت په وړاندې وجداني اعتراض د وجدان له اصولو او د دين، اخلاقو او بشر دوستۍ او يا داسې ورته ارزښتونو پر بنسټ ولاړ ژور اعتقاد په شمول له وجداني دلايلو څخه سر چينه اخلي، (...)
کمسيون....

**۱-** دې خبرې ته پام اړوي چې هر وګړی حق لري چې د عسکرۍ د خدمت په وړاندې وجداني اعتراض وکړي او همداراز د فکر، وجدان او دين د آزادۍ حق لري، څرنګه چې د بشر د حقوقو د اعلاميې په ۱۸ ماده او مدني او سياسي حقوقو د نړيوال منشور په ۱۸ ماده کې راغلي دی؛

**۲-** له دې څخه هرکلي کوي چې ځينې هيوادونه د وجداني اعتراض غوښتنې پرته له پوښتنې او ګرويځنې څخه منې؛

**۳-** په هغو هيوادونو کې چې دغه دولت سيستم نه لري غږ کوي ترڅو هغه خپلواک او ناپلوی تصميم نيونکې ارګانونه جوړ کړي چې د دې خبرې سپيناوی وکړي چې آيا د عسکرۍ د خدمت په وړاندې اعتراض د بورتينو معيارونو په پام کې نيونې سره مدلل دی که نه، او هم دا بايد پام کې ونيول شي چې د وجداني اعتراض کونکو تر مينځ د هغوی د عقايدو د خصوصيت پر بنسټ توپير ونه شي؛
**۴-** هغو هيوادونو ته چې د عسکرۍ د مکلفيت نظام لري او هلته د وجداني اعتراض کونکو د معافيدو نظام نه شته، لار ښونه کوي چې د وجداني اعتراض کونکو لپاره د هغوی د دلايلو سره سم د عسکرۍ بديل خدمت کولو امکانات برابر کړي، څرنګه چې دغه بديل خدمت غير محارب خصوصيت ولري او د عامو خلکو په ګټه کوي، نه دا چې سزا ورکونکی خدمت وي.

**۴-** پر دولتونو ټينګار کوي چې د وجداني اعتراض کونکو د بندي کولو او د عسکرۍ له خدمت څخه د سرغړونې په وجه د مکررو سزا ورکونې د مخنيوی لپاره په لازمو مقرراتو لاس پورې کړي او يادونه کوي چې هيڅوک بايد د يو جرم لپاره چې مخکې له دې د قانون او د دولت له مقرراتو سره سم سزا ليدلې وي، بيا سزا ونه ويني (...)

د ملګرو ملتونو د کډوالو عالي کميساری د ۷۷/ ۱۹۹۸پريکړه

## بدیل خدمت

ټولو هغو دولتونو چې وجداني اعتراض یې په رسمیت پیژندلی، د قانون له مخې د عسکري بدیل خدمت وړاندې کوي. دغه بدیل خدمت کیدای شي چې دوه مهم ډولونه ولري:

- په وسلوالو ځواکونو کې د وسلې له لیرډوني څخه پرته خدمت کول؛
- په عام المنفعه تأسیساتو لکه روغتونونو، ورکتونونو، د معیوبینو او معلولینو په مؤسسو او داسې نورو دولتي او غیر دولتي ځانګو کې خدمت کول.

بدیل خدمت معمولا د عسکري د مکلفیت د دورې په پرتله اوږد وي، د بیلګې په توګه په فرانسه کې پخوا بدیل خدمت ۲۰ میاشتې او مکلفیت یوازې ۱۰ میاشتې ؤ. په اطریش کې ۱۲ میاشتې دی، حال داچې د عسکري خدمت ۷ میاشتې دوام کوي. په بلغاریا کې بدیل خدمت ۲۴ میاشتې او د عسکري خدمت د ۶ څخه تر ۹ میاشتو پورې اوږدیږي.

**۷۱. چوکاټ**

### بدیل خدمت: د بیلګې په توګه په سویس کې

سویس د هغو لږ شمیر اروپایي هیوادونو له جملې څخه دی چې د عسکري خدمت یې د مکلفیت پر بنسټ ولاړ دی چې د اساسي قانون د ۵۹.۱ مادې، د ۱۹۹۵ کال د پوځي ارګان د قانون او ۱۹۹۵ کال د عسکري د خدمت د قانون له مخې تعدیل شوی دی. د سویس د عسکري خدمت په ټولو هغو کسانو چې د ۲۰ تر ۴۲ کلونو پورې وي، او د لوړ پوړو پوځیانو لپاره تر ۵۵ کلونو لازمي امر دی. د عسکري خدمت په لومړي سر کې ۴ میاشتې اوږد دی، بیا په هر دوه کلونو کې درې اونۍ او په دې ډول هر کال د انداخت تمرینونه جاري پاتې دي.
د ۱۹۹۶ کال د بدیل خدمت قانون د اخلاقي، فلسفي یا مذهبي دلایلو په خاطر وجداني اعتراض په رسمیت وپیژاند. د کار او صنایعو وزارت په دې هکله غوښتنې ترلاسه کوي، په دغو غوښتنو باندې یو درې کسیز کمیسیون چې د ورځپاڼو د اعلانولو له لارې د ۱۲۰ تنو له جملې څخه ټاکل کیږي، غور صورت مومي. د عسکري د جلبیانو له جملې څخه په سلو کې ۵ یې د وجداني اعتراض غوښتنه کوي. هغه کسان چې د وجداني اعتراض له کبله له عسکري څخه معاف نه شي، خو بیاهم د عسکري له خدمت څخه سرغړونه وکړي، کیدای شي چې د ۴ تر ۵ میاشتو پورې د قید سزا ووینې. وجداني اعتراض کونکې باید بدیل خدمت وکړي چې ۴۵۰ ورځې دوام کوي او په عامه یا دولتي مؤسسو کې چې د خلکو په ګټه وي، کار کوي. دغه خدمت کیدای شي چې په روغتونونو، د ځوانانو په مرکزونو، د پوهنتونونو په تحقیقاتي مرکزونو، د ځنګلونو په پالنه او داسې نورو ځایونو کې سرته ورسیږي.

سرچینه: د اروپا د وجداني اعتراض دفتر (EBCO)

## هغه څه چې تاسې د پارلمان د استازي په توګه سرته رسولای شی

**د مکلفيت يا نه مکلفيت عسکری نظام؟**

- په پوره ځيرتيا سره د هغه ټولی ګټی په خپل ملی چاپيريال کی تر کتنی لاندی ونيسی.
- په دی اړه په دی فصل کی ياد شوی عوامل په پام کی ونيسی او وګوری چی تر کومی کچی ستاسو له چاپيريالی شرايطو سره سمون لری.

**له ناوړه چلندونو يا سپکاوی سره د عسکری جلبيانو مخامخ کيدل**

- که چيری رپوټ ورکړای شو چی جلبی عسکر له ناوړه چلندونو، ځورونو يا زورزياتيو سره مخامخ دی، بايد د دی کار د مخنيوی لپاره سمدلاسه په عمل لاس پوری شی.
- ډاډ پيدا کړی چی تحقيقات په سمه وجه سرته رسول کيږی او که چيری لازمه وګڼل شی، د صلاحيت لرونکو ډلو له خوا دی سزاوی هم وټاکل شی او سمدلاسه عملی شی.
- که چيری ستاسو په هيواد کی د شکايتونو لپاره کومه مرجع ټاکله شوی نه وی، د داسی يوی مرجعی د جوړولو وړانديز وکړی او صلاحيت ورکړی چی د جلبی عسکر پر خلاف د ناوړه چلندونو او د سپکاوی مخه ونيسی.

**د وجدانی اعتراض کونکو دريځ**

- په خپل هيواد کی د وجدانی اعتراض کونکو موقف تر کتنی لاندی ونيسی او که چيری لازمه وګڼله شوه د قانونی چوکاټ د جوړولو او د اوسنيو مقرراتو د لا ښه کولو لپاره دی په اقداماتو لاس پو ری شی.
- په داسی چاپيريالی شرايطو کی ډاډ پيدا کړی چی په نورو دولتونو کی په دی موضوع او د قانونی عملی لارو چارو او وضعيت باندی تازه معلومات لاس ته راوړی.

**بديل خدمت**

- په دی هکله غور وکړی چی بديل خدمت ستاسو په هيواد کی د قانون له مخی خوندی پاتی وی او که چيری لازمه وی د هغه لپاره قانون تعريف او يا د اوسنی قانون د ښه کولو لپاره په اقداماتو لاس پوری کړی.
- په داسی چاپيريالی شرايطو کی ډاډ پيدا کړی چی په نورو دولتونو کی په دی موضوع او د قانونی عملی لارو چارو او وضعيت باندی تازه معلومات لاس ته راوړی.

اتمه برخه

# مادی سرچینی:
# د وسلو پرلیږدولو او تدارکاتو باندی اغیزمنه څارنه

## اته ویشتم فصل

# د وسلو او پوځی تجهیزاتو تدارکات

د وسلو او پوځی تجهیزاتو تدارکات باید د هیواد د عمومی امنیتی او دفاعی پالیسی او پلان څخه سرچینه واخلی. د نویو وسلو یا پوځی تجهیزاتو لپاره ټولی غوښتنی باید په ملی امنیتی پالیسی باندی د هغو د اغیزو او اړوندتوب په پام کی نیولو سره تر ارزونی لاندی ونیولی شی.

د یوی ملی امنیتی طرحی درلودل په دفاعی منجمنت کی د ثبات د رامینځ ته کولو سره مرسته کوی او په اوږده موده کی د دفاعی پالیسی د جوړونی وړاندوینه کوی. د اختصاص شویو مالی سرچینو او د هیواد د دفاعی پالیسیو د موخی تر مینځ اړیکی خوندی وساتلی شی. همدا راز د پوځی برخی او ټولنی تر منیځ د انډول ساتل ضروری دی.

## د وسلو په تدارکاتو کی شفافیت ساتل

په هری ټینګی دیموکراسی کی په عمومی توګه د بودجی د تنظیم په اړه فعالیتونه او بیا په خاصه توګه د پوځی تجهیزاتو برابرول باید عامه خلکو ته شفاف او حساب ورکونکی وی. د عامه حساب ورکونی له نظره باید د پالیسیو، پلانونو، بودجی او د وسلو د تدارکاتو تر مینځ یوه منطقی اړیکه موجوده وی. که څه هم دغه موضوع هری چیری د حساب ورکونی لپاره ضمانت نه شی کولی. له بده مرغه په ډیری هیوادونو کی پارلمان د پوځی تجهیزاتو د برابرولو په پروسه کی ډیره کمه مداخله کولای شی او یا یی هیڅ نه شی کولای.

د بودجی د اختصاص یا د وسلو د تدارکاتو په وخت کی د هغو پر قانونیت باندی پارلمانی څارنه ضروری ده او په دی اړوند په خاصه توګه نړیوال مقررات او هغه موافقت لیکونه باید په پام کی ونیول شی چی د وسلو تولید، تجارت او یا د ځینو وسلو څخه کار اخیستل محدودوی: لکه د ۱۹۶۸ کال د وسلو د تکثیر معاهده، د اوتاوا معاهده چی د پرسونل ضد مینونو تولید، استفاده، ساتل او لیږدول بندوی او همداراز د مینونو د له منیځه وړو په هکله د ملګرو ملتونو د امینت د شورا د ۱۹۹۷ کال پریکړه .

کیدای شی چی پارلمانونه د هیواد د سترو دفاعی تجهیزاتو په محاسبه کی د هغوی ذاتی پیچلتوب په وجه د کلونو په اوږدو له ستونزو سره مخامخ شی؛ دا امر د دی سبب ګرځی چی جګړه ځپلی او د پراختیا په حال کی هیوادونه په خاصه توګه د وسلو د کورنیو او بهرنیو برابرونکو له خوا چی طبیعتا غواړی خپل وسلی ګرانی وپلوری او د دیموکراسی غوښتنو ته ډیره زیاته پاملرنه نه کوی، تاوانی کړی.

په همدی دلیل پارلمانونه د وسلو د برابرولو په هکله د ځانګړو اصلی او فرعی کمسیونونو له جوړولو سره علاقه لری. له دغی لاری پارلمانونه کولای شی چی د وسلو د تدارکاتو په پروسه کی شفافیت خوندی وساتی او اجرایه قوی په دی برخه کی حساب ورکولو ته مجبوره کړی.

د پارلمانونو ستونزه دا ده چی حکومتونه مینه نه لری چی د متعارفو یا پیژندل شویو وسلو(جنګی الوتکی، زره لرونکی نقلیه وسیلی، ټانکونه، د رادار سیستمونه، توغندی، جنګی بیړی او داسی نور) د ارقامو او اعدادو او هم د اړتیاوو په هکله معلومات نه ورکوی او تر زیاتی کچی هغوی حتی دیره لږه

علاقه مندی لری چی د کوچنیو مختلفو ډولو وسلو چی د سپکو وسلو په نامه هم یادیږی (لکه۱۰۰ ملی متر قطر لرونکی وسلی) د شمیر او د هغو د لیږدولو په هکله په ښکاره توګه بربنډونه وکړی.
کله چی د وسلو د تدارکاتو پروسه پیل کیږی، غوره ده چی حکومتونه له پارلمانونو سره همکاری ولری ترڅو ډاډ لاس ته راشی چی د وسلو د تدارکاتو په پلان کی زیاتی نه کیږی او د هیواد لپاره په اوږده موده کی دروند مالی پیټی نه ګرځی. د وسلو د تداروکاتو پلانونه باید د هیواد د نورو عامه ږومبیتوبونو په رابطه کی په پام کی ونیول شی. په همدی وجه نه یواځی پوځی ږومبیتوبونه، بلکه نور ږومبیتوبونه هم باید په تصمیم نیونو کی د اهمیت وړ وګڼل شی. پارلمانونه باید په ټولنه باندی د وسلو د تدارکاتو اغیزی او مالی بار تر ارزونی لاندی ونیسی.

**۷۲- چوکاټ**

## ولی باید د پارلمان استازی د وسلو پر تدارکاتو باندی څارنه ولری؟

ځکه....:

- د عامه شتمنی موضوع مطرح ده؛
- د وسلو د تدارکاتو په هکله تصمیم نیول یواځی تخصصی او امنیتی موضوع نه ده، بلکه دا باید روښانه شی چی مالی سرچینی په څه مقصد لګول کیږی (توپک یا ډوډی)، که چیری په وسلو لګولی کیږی، څه ډول وسله، څومره او ولی؟
- د وسلو برابرول باید نه په لنډه او نه په اوږده موده کی (د ژوندانه د عمومی مصارفو په پام کی نیونی سره) د هیواد لپاره مالی دروند بار وګرځی؛
- پارلمانی څارنه باید د وسلو د لګښت د بیی او د ټولنی د عمومی غوښتنو ترمینځ یو انډول ټینګ کړی؛
- د وسلو په تدارکاتو کی د شفافیت خوندی ساتل چی پارلمان ته ځواب ورکونکی وی، د فساد، د مالی سر چینو د ضایع کولو او ناوړه کار اخیستلو څخه مخنیوی کوی.

## آیا ځینی خاص حالتونه د پټوالی (محرمتوب) لپاره دلیل کیدای شی؟

د غوره واکمنی یا د ښی حکومتی مشری اصول، په خاصه توګه شفافیت، باید د ټولو عامه پالیسی جوړونی لپاره لاربښود وی، خصوصا هغه چی د وسلو پلورلو یا تدارکاتو پوری اړه لری. نو په دی وجه د هغو خاصو حالتونو ارزونی ته اړتیا ده چی په دفاعی چارو کی تصمیم نیوینی لپاره استثناء منی او د پټوالی یا محرمتوب توجیه کوی.

د وسلو د پلورلو او تدا رکاتو لاربښوونی باید د شفافیت او حساب ورکونی د اصولو پر بنسټ ولاړ وی. د تصمیم نیونی په پروسه کی د محرمتوب لپاره دلیلونه چی د وسلو د پلورونکو او یا رانیونکو هیوادونو له خوایی غوښتنه کیږی، باید په څرګنده توګه بیان کړای شی. که چیری دغه ډول دلیلونه په معامله کی د اختلاس د رامینځ کیدو امکان پیدا کوی، باید د معاملی د دواړو اړخونو له خوا ورته اشاره وشی او په داسی اقداماتو لاس پوری کړی چی د دا ډول یو امکان مخه ونیسی.

**۷۳ـ چوکاټ**

**د وسلو د تدارکاتو ګنګ او کمزوی پالیسی یا د وسلو د تدارکاتو ډیره محرمانه پروسه ښایی دغه لاندی پایلی ولری....:**

- د وسلو د سیستمونو د تدارکاتو د منطق کمزوری ارزونه؛
- د ملی او سیمه ایز امنیت لپاره د حکومت په تصمیمونو کی نیمګړتیا چی له ناخوالو نتایجو سره جوخت دی
- په ګاونډیو هیوادونو کی ویره او اندیښنی؛
- د وسلو په تدارکاتو او په ټولو پوځی اړوندو تدارکاتی تصمیمونو کی اختلاس؛
- د وسلوالو ځواکونو په وړاندی د خلکو د اعتماد تاوانی کیدل چی کیدای شی د بی اعتباری لامل وګرځی او غیرضروری بحثونه راوپاروی.

## په تدارکاتو کی هراړخیزه تصمیم نیول

د وسلو د مهمو سیستمونو د رانیولو په حالت کی د تصمیم نیولو پروسه باید هغه لاری چاری په ګوته کړی چی په لاندو مسألو پوره اړه نیسی:

- د ګواښ د ارزونی پروسه؛
- د دفاعی توانمندی لپاره د اوږدی مودی طرحه
- د نوو تجهیزاتو لپاره د اړتیا وړ موادو پیژندنه؛
- د وسلو د تدارکاتو لپاره د بودجی ټاکل؛
- د تخنیکی کیفیت له درکه ډاډمن کیدل او د تدارکاتی اجراآتو څخه وروسته د مالی پلټنی پروسه؛
- د وسلو د ساتنی او پالنی په شمول د هغو د ټول عمر د دوری لګښت؛
- د تاوان او د خساراتو د ورکړی لپاره د فرمایشاتو ارزونه.

د یوی پارلمانی څارنی او د غور کونی د پروسی رامینځ ته کول د تصمیم نیونی په پروسه کی په دغو ټولو پړاونو کی د بی ځایه لګښتونو، دغلیو، دوکه کاریو او سرغړونو امکانات لږوی. د اغیزمنی پارلمانی څارنی لپاره پارلمانونه باید له حکومتونو څخه وغواړی چی هغوی د وسلو د رانیولو د پروسی له ټولو پړاونو څخه خبری کړی. سر بیره پردی پارلمانونه باید د وسلو د رانیولو په ټولو تړونونو کی د تصمیم نیولو حق ولری. د هالند پارلمان د قانون جوړونی هغه جوړښت دی چی د وسلو د تدارکاتو د تصمیم نیولو په ټولی پروسی باندی څارنه کوی ( ۷۴ چوکاټ دی وکتل شی).

**۷۴- چوکاټ**

## د دفاعي تجهیزاتو د تدارکاتو لپاره د هالند پالیسي: د پارلماني څارنې اړخ

د تدارکاتو په برخه کې هالند د پارلماني څارنې لپاره یوه ټینګه او ثبات لرونکې پسمنظر لري. په اساسي توګه د وسلو د برابرولو لپاره ټول هغه تصمیمونه چې له ۲۵ ملیون ایرو څخه پورته وي، باید د پارلمان له تصویب څخه تیر شي. دغې پروسې ته په اصطلاح کې د «نظریاتو د لاس ته راوړنې پروسه» ویل کیږي. حکومت (په عمل کې د دفاع وزیر چې دفاعي تجهیزات د هغه په واک کې دي) د څلور لیکونو (A,B,C,D) څخه یو یې استوي چې د نظریاتو د راټولو په مقصد جوړ شوي دي. پرته له دې چې د دې موضوع په جزییاتو کې داخل شوو، د وسلو د تدارکاتو مختلف پړاوونه د نویو وسلو لپاره له اړتیا څخه پیل کیږي تر یو مشخص وړاندیز پورې چې د بیلګې په توګه وایي: د وسلو X..... ډول دي له Y نومې تولیدونکو څخه واخیستل شي.
پارلمان کولای شي چې د نظریاتو د لاس ته راوړلو د هر پړاو په تصمیم نیولو کې مداخله وکړي. نو په دې وجه، هرکله چې حکومت د وسلو د بدلولو یا نویو وسلو د تدارکاتو اعلان وکړي (یا د وسلو ځینې نور سیستمونه چې باید چمتو کړای شي، وړاندیز وکړي) پارلمان کولای شي چې یا مخالفت وکړي او یا په هغه کې بدلون راولي؛ که څه هم په عمل کې داسې یو څه بنایي پیښ نه شي. په ډیرې حالاتو کې د حکومت نظریات د اجازې په ټوله پروسه کې د څلور لیکونو (A,B,C,D) تر اغیزې لاندې په پارلماني غونډو کې تر بحث لاندې نیول کیږي.

د وسلو د تدارکاتو ستري پروژې لپاره چې له سل میلونو ایرو څخه زیاته وي، د څارنې په مقصد یوه ځانګړې لاره ټاکله شوې ده چې د زیاتو جزییاتو سره د رپوټونو د برابرونې غوښتنه کوي. د دې خبرې یوه ښه بیلګه د هالند د حکومت هغه یو تصمیم دی چې غواړي د یوې نوې جنګي الوتکې د جوړونې لپاره په تحقیقاتي پروسه کې ونډه واخلي، دغه الوتکه د امریکایي اف ۱۶ ډوله څخه وروسته یو بله نوې جنګي الوتکه ده. البته په دې برخه کې له ځینو نورو سترو پروژو څخه هم نوم اخیستل کیدای شي، د بیلګې په توګه د هوایي خوځنده کنډک.
په مجموعي توګه لیدل کیږي چې د هالند اوسنی وضعیت د رضایت وړ دی. البته د مالي حدودو او د پارلماني پلټنو د معقولیت په هکله چې کله هم فني پروسې دي، بحثونه موجود دي. په دغه چوکاټ کې د حکومت د معلوماتو د خپلواکتوب او کیفیت او یو خپلواک څارونکې (لکه د دفاعي چارو خپلواکه مؤسسې) ته د ا ړتیا په هکله ځینې پوښتنې مطرح کیږي. په پای کې د صنعتي برخې د نقش او نفوذ درلودونکو افرادو او د دفاعي کمیسیون له غړو سره د هغوی اړیکې معمولا تر بحث لاندې نیول کیږي. خو تر اوسه پورې په دې هکله کومه افتضاح لرونکې پیښه رامینځ شوې نه ده.

سر چینه: Jan Hoekema ، د هالند پارلمان یو پخواني غړی، ۲۰۰۲

## هغه څه چې تاسې د پارلمان د استازي په توګه سرته رسولای شي

### د وسلو پر تدارکارتو څارنه

- د وسلو پر تدارکاتو باید پارلماني څارنه قانوني شي
- ډاډ لاس ته راوړې چې پرامنیتي ادارو پارلماني څارنې هراړخیزې دي او د تدارکاتو ټول پړاوونه پکې شامل دي او په عین وخت کې دغو لاندو اړخونو ته هم پاملرنه وکړي:
  - امنیتي اړتیاوې
  - سیاسي سیمه ایز نتایج چې ښایي منفي غبرګونونه راوپاروي او په سیمه کې د تسلیحاتي سیالۍ لامل وګرځي.
  - د بودجې لپاره مالي پیټي (په لنډه او اوږده موده کې)
  - په خصوصي او عامه برخه کې پر ملي صنعت اغیزې.

### د وسلو په تدارکاتو کې شفافیت او ځواب ورکونه

- ډاډ پیدا کړې چې پارلمان د وسلو او تجهیزاتو په برابرولو کې لاس وهنه کولای شي.
- غوښتنه وکړې چې پارلمان او صلاحیت لرونکې کمسیونونه په یو مناسب وخت کې د متعارفو وسلو (لکه الوتکې، نقلیه او زره لرونکې وسیلې، تانکونه، د رادار سیستمونه، توغندي او جنګي بیړې) او د سپکو وسلو (لکه له ۱۰۰ ملي مترو لږ قطر لرونکې) دموجودي او کیفیت په هکله یو هراړخیز او بشپړ رپوټ برابروي او د نویو وسلو د رانیولو دلیلونه لاس ته راوړي.
- ډاډ لاس ته راوړې چې د دفاعي توان په هکله دفاعي سیاست د پارلمان په واک کې پاتې کیږي.
- ډاډ لاس ته راوړې چې پارلمان او صلاحیت لرونکې کمسیونونه د هغو لارو چارو څخه په کار اخیستلو سره چې د پوځي مسألو د ځواب ورکوني او محرمتوب ضمانت وکړي، د وسلو تدارکاتو په معاملو کې محرمو مسألو ته پاملرنه کوي.

### د پوځي تدارکاتي اغیزو ارزونه

- له امنیتي عمومي پالیسي سره د تدارکاتي پروګرامونو جوړښت تر ارزوني لاندې ونیسي.
- ډاډ پیدا کړې چې پارلمان د پوځي تدارکاتي مالي پیټي د ټولنې د نورو اړتیاو او ړومبیتوبونو په پرتله کولو سره تر څیړنې او ارزونې لاندې نیسي ترڅو د هغو ناهمغږیو مخه ونیسي چې د هیواد د ودې او اقتصادي او ټولنیز ثبات مخه نیسي.
- په پوځي تدارکاتو کې د بې ځایه او نه ګټورو تصمیمونو د مخنیوي لپاره له پارلماني لارو چارو څخه کار واخلي. پارلمان باید دهغو پلانونو معقولیت خوندي وساتي چې په اوږده موده کې هیواد ته پوځي پیټي نه ګرځي.

### د وسلو د تدارکاتو پلټنه

- د دفاعي پالیسي او پلانونو ترمینځ او همدارازد دفاعي بودجې او د پوځ د اړتیاوو او وسلو لپاره د ریښتینو لګښتونو تر منځ انډول کنترول کړي.
- د وسلو د تدارکاتو او د خرید له ټړون څخه وروسته په پلټنه لاس پورې کړې (لږترلږه د وسلو د عمر په درې پړاونو کې)

**په پارلمان کی د وسلو د تدارکاتو کمسیون**

- که چیری په پارلمان کی د وسلو د تدارکاتو کمسیون او یا د هغو لپاره فرعی کمسیون موجود نه ؤ، نو د هغه جوړولو لپاره هڅه وکړی. په دی دول د پالیسی جوړونی، د مالی او پلټنی د پلانونو تر مینځ او همداراز د دفاعی صنعت او څیړنی او پراختیا تر منځ د اړیکو د ټینګولو پر اهمیت ټینګار وکړی.
- په همدی اړه په نورو پارلمانونو کی د اختیاراتو د حدودو، چالچلندنو او د داسی ورته ارګانونو د نتایجو په هکله معلومات راوغواړی او هغه تر مطالعی لاندی ونیسی.
- ډاډ پیدا کړی چی پارلمانونه د کارپوهانو مشورو ته لاس اوږدولای شی او له هغو څخه کار اخیستلای شی.

## نهه ويشتم فصل

# د وسلو سوداګرى او ليږدول

پارلمانونه بايد د وسلو د سوداګريو او د هغو د ليږدولو په څارنه کې مهم نقش ولرى. د وسلو په برابرولو باندى واکمن مقررات او چالچلندونه بايد د ملي تدارکاتو، ملي بودجې، مالي چارو له قانون او د شخړو د حل د قوانينونو سره سمون ولرى. د وسلو د تجارت اصلي خصوصيت، د ليږدولو مقررات اود هغو قانوني چوکاټ باندى د شفافيت او ځواب ورکوني پربنسټ ولاړ وى.

**۷۵ـ چوکاټ**

**د وسلو د ليږدولو تعريف**

د وسلو ليږدول ټولو هغو فعاليتونو ته يې لمن پراخيږى چې دولتونه او غير دولتي لوبغاړى يې د وسلو د برابرولو او خرڅلو په برخه کې سرته رسوى. د وسلو په ليږدولو کې د هغو پلورل يا سوداګرى، اخيستل يا تداراکات او همداراز بسپنه کول شامل دى.

## د وسلو د سوداګرى او ليږدوني ملي پاليسى

- حکومت بايد د وسلو د خرڅولو پاليسى او مقررات وټاکى او د تصويب لپاره دى پارلمان ته وړاندى کړى. دغه مقررات بايد د متعارفو وسلو د خرڅلو اصول تعريف کړى او د لاندو اړخونو په پام کې نيوني سره دى هغه وټاکى:
- د متعارفو وسلو واردات او صادرات بايد د پارلمان د اړوندو کمسيونونو تر څارنې لاندى وى.
- د وسلو د تجارت مقررات بايد د ملګرو ملتونو د سازمان له منشور، نړيوالو قوانيونو او يا د ملګرو ملتونو د وسلو د بنديزونو له پريکړو سره سمون ولرى او همدا ډول د هيواد د هيواد مالى، سياسى، اخلاقي او امنيتي چارى په پام کې ونيسى.
- د رښتينوالي او مسلکي حساب ورکولو په موخه په تصميم نيولو کې بايد د شفافيت اصل په پام کې ونيول شى.
- د غير اخلاقي معاملو د مخنيوى لپاره دى ځيني لارى چارى په تصويب ورسيږى چې د ملګرو ملتونو د سازمان له لارښوونو او د نورو هيوادونو د مقرراتو او تجربو پر بنسټ ولاړى وى؛ هغه مقررات بايد د کاغذ پرمخ قيد شى چې د وسلو عرضه کونکى او اخيستونکى د هغو په وړاندى بايد ژمنه ولرى.
- پارلمان بايد ډاډ پيدا کړى چې د خرڅ کړاى شويو وسلو خصوصيت او ډول د اخيستونکى هيواد د دفاعى اړتياوو سره سمون لرى او هم د اخيستونکى هيواد پارلمان د هغو پريکړه کړى وى.
- د وسلو د عرضه کونکو هيوادونو پارلمانونه بايد ډاډ پيدا کړى چې اخيستونکى هيوادونه بشرى حقوقو او بنسټيزو آزاديو ته درناوى لرى او د وسلو په تدارکاتو کې د ځواب ورکونکى پاليسى خوندى ساتلې ده.
- د وسلو د عرضه کونکو هيوادونو پارلمانونه بايد ډاډ پيدا کړى چې د وسلو خرڅول سيمه ايزى سولې ته ګواښ نه پيدا کوى، سيمه ايزو نښتو ته لمسونه نه کوى، په سيمه کې د وسلو پلورلو

لمن نه پراخيږي او د لمسونکو وسلو له عرضه کولو يا د سپکو او کوچنيو وسلو سره د سيمې ثبات نه ګډود کيږي؛ که چيري د پارلمان دفاعي کمسيونونه د سيمې ثبات ته د ګواښ په هکله يو سيمه ايز ديالوګ پيل کوي، نو په دې اړه له اړتيا څخه زيات د وسلو برابرول او پټ کارونه چې اختلاس ته لاره اواروي، دسيمې په سطح تر بحث لاندې نيول کيږي.

- بايد داسې يو ميکانيزم جوړ شي چې يو هيواد ته پلورل شوي وسلې د وارداتو د مقرراتو په خلاف بل هيواد دغه وسلې صادرې نه شي.

پارلمانونه بايد له مشخصو قانوني صلاحيتونو سره د خپلواکو پلټنو لپاره پلان جوړ کړي تر څو ډاډ پيدا کړي چې د ملي وسلو د خرڅولو پروسه خپلواکي پلټني او څارني پوري اړه لري. دغه امر بايد د پارلمان له ټاکل شويو لارښونو او اصولو سره سرته ورسيږي. په ۷۶ چوکاټ د وسلو د تجارت د نړيوالو موافقو او د ملي پاليسيو پوري د اړوندو مقرراتو ځيني بيلګې ښکاره کوي.

**۷۶- چوکاټ**

## د وسلو د ليږدولو په برخه کې سيمه ايزې موافقې

- **د اروپا د چالچلند لارښوونه**

د اروپا د اتحاديې شورا د ۱۹۹۸ کال د جون په اتمه يوه پرکړه په تصويب ورسوله. دغه پريکړه د اروپا د اتحاديې له هيوادونو څخه د نړۍ هغو سيمو ته د وسلو د ليږدولو مخه نيسي چې هلته بشري حقوقو ته درناوی نه کيږي. د اروپا د اتحاديې غړو باندې پوره اته کاله د غير حکومتي سازمانونو له خوا فشار راوستل شوو ترڅو د وسلو د تجارت په برخه کې د يوې ګډې معقولې پاليسۍ لپاره پريکړه وکړي. دغې پريکړې کې د حساسو مقصد ځايونو (د وسلو اخيستونکو هيوادونو) فهرست او د وسلو د وروستي اخيستونکي د کنترول او څارني لپاره ځيني لارې چارې او په همدې ډول د دو اړخيزو معلوماتو د لاس ته راوړولو لارښووني او همداراز د وسلو د صادراتو د اجازې يا نه اجازې په هکله مشورې او سپارښتني ښودل شوي دي .

د وسلو د تجارت او ليږدولو په هکله د اروپا د چالچلند دغه لارښووني البته غړي هيوادونه نه مکلفوي چې حتما دې هغه ته پابندي ولري او هم داسې يو مکيانيزم نه لري چې سرغړونکي هيواد تر پوښتني او ګرويځني لاندې ونيسي. نو په دې وجه هر هيواد ته واک ورکړ شوی چې د خپلو وسلو په تجارت کې تر کومې کچې سختې په پام کې نيسي ترڅو د بشر د حقوقو سرغړونکو ته د وسلو د استولو مخه ونيوله شي او دوه اړخيزو خبرو اترو ميکانيزم تر فشار لاندې ونيسي.

د اروپا د اتحاديې پريکړه ۸ بندونه لري چې غړي هيوادونه کولای شي د وسلو په صادراتو کې يې په پام ونيسي:

۱ - «د اروپا د اتحاديې نړيوالو ژمنو، په خاصه توګه د ملګرو ملتونو د امنيت د شورا پريکړو ته درناوی (...)

۲ - د وسلو په تجارت کې د دې خبرې په پام کې نيول چې هغه هيواد باندې چې وسلې پلورل کيږي هغه کې بايد بشري حقوقو ته درناوی وشي (...)

۳ - د هغه هيواد چې وسلېورباندې پلورل کيږي، کورني وضعيت پام کې نيول چې آيا هلته شخړې او بيا په خاصه توګه وسلوالي نښتې شته دی که نه (...)

۴ - که چيرې دا خطر موجود وي چې د وسلو اخيستونکی هيواد په بل هيواد باندې د حملې لپاره له دغو وسلو څخه کار اخلي او يا غواړي چې د خاورې پر سر خپله شخړه له بل هيواد سره د زور له

لاری حل کړی، د اروپا د اتحاديي غړی هيوادونه اجازه نه لری چی دغه هيواد باندی وسلی وپلوری.
۵ ـ د غړو هيوادونو ملی امنيت او يا د هغو سيمو امنيت په پام کی نيول چی د هغو بهرنی مسؤليت د غړو هيوادونو په غاړه دی او همداراز د ملګرو هيوادونو کورنی امنيت په پام کی نيول (...)
۶ ـ د نړيوالی ټولنی په وړاندی د وسلو د اخيستونکی هيواد چلند، په خاصه توګه د تروريزم په وړاندی د هغه فکر څرنګوالی، د هغه د متحدينو خصوصيت او نړيوالو قوانينو ته د هغه درناوی (...)
۷ ـ د داسی خطر شته والی چی د وسلو په اخيستونکی هيواد کی پوځی اخيستل شوی تجهيزات کومی بلی خواته واستول شی او يا په نامطلوبو شرايطو کی دغه وسلی يو بل هيواد ته استول شی (...)
۸ ـ د اخيستونکی هيواد له فنی او اقتصادی شرايطو سره سم د استول شوی وسلی اړوندتوب په پام کی نيول (...)»

سرچينه: http://europa.eu.int

- **د امريکايي هيوادونو سازمان او د وسلو ليږدول**

کله چی د امريکايي دولتونو د سازمان (OAS) ۱۹ غړو د متعارفو وسلو د ليږدوو په هکله يو موافقت ليک لاسليک کړ، د امريکايي هيوادونو لپاره د وسلو په سيمه ايز تجارت کی شفافيت سمون پيدا کړ.
د شفافيت دغه موافقه چی د امريکايي هيوادونو ترمينځ په ګواتيمالا سيتی کی لاسليک شوه، د وسلو د صادراتو او وارداتو په هکله هر کال له لاسليک کونکو هيوادونو څخه د معلوماتو غوښتنه کوی.

د هغی موافقی د دريمی مادی له مخی، غړی هيوادونه هر کال د خپلو متعارفو يا ساده وسلو د هر تير شوی کال د صادراتو او وارداتو په هکله رپوټ وړاندی کوی چی په هغه کی د صادر کونکی هيواد د وارداتو په اړه، د وارد شوو ساده وسلو د ډول او اندازی او همداراز د صادر کونکی هيواد د صادراتو په اړه د صادر شويو ساده وسلو د ډول او اندازی په هکله معلومات شامل دی. هر غړی هيواد کولای شی نور معلومات لکه د متعارفو وسلو د ډول او اندازی په هکله هم وړاندی کړی (...) سر بيره پر دی دغه هيوادونه د ساده وسلو د وارداتو، توليد يا د هغو د نه اخيستلو په هکله يو بل ته معلومات ورکوی (۴ ماده).

سرچينه:2002 http://www.oas.org

## د وسلو نړيوالو بنديزونو ته درناوی

کله چی يو هيواد نړيوالی سولی ته ګواښ پيدا کوی، نړيواله ټولنه د هغه پرضد د خپلی ناخوښی د څرګندولو په توګه د وسلو د بنديزونو په لګولو لاس پوری کوی. د ملګرو ملتو د اعلاميی ۴۱ مادی له مخی د امنيت شورا واک لری چی له هيوادونو څخه وغواړی ترڅو د سولی او امن د اعادی لپاره په غير پوځی اقداماتو لاس پوری کړی. د ۱۹۴۵ او ۱۹۹۰ کلونو په مينځ کی د امنيت شورا دوو هيوادونو باندی بنديز لګولی دی او له ۱۹۹۰ کال څخه را په دی خوا ۱۲ ځله په داسی بنديزونو لاس پوری کړی دی. په دی وجه د «وروستی استهلاک کونکی د تصديق» غوښتنه چی په هغه کی د وسلو د وروستی کار اخيستلو ځای قيد شوی وی، کيدای شی چی د پارلمانونو لپاره د وسلو د صادراتو د اجازی ورکولو د پروسی د کنترول لپاره يوه ډيره ښه وسيله وی. خو ډيری داسی پيښی شوی دی چی په دی اړه د «وروستی استهلاک کونکی تصديقونه» په جعلی توګه وړاندی شوی دی.

## د ملګرو ملتونو له خوا د متعارفو يا ساده وسلو ثبتول

د ۱۹۹۱ کال د دسمبر په ۶ د ملګرو ملتونو د امنيت شورا د «وسلو د شفافيت» تر نامه لاندی 46/36 L پريکړه صادره کړه چی له عمومي منشي څخه غواړی ترڅو متعارف يا ساده وسلی په نړيواله سطحه ثبت شي. په دغه ثبت کی بايد د وسلو د نړيوالي ليږدوني، د غړو هيوادونو د پوځی موجودی او همداراز د ملی توليد له لاری د پوځی تجهيزاتو او اړوندو پاليسيو په هکله معلومات قيد شي. په دغه ثبتونی کی چی له ۱۹۹۲ کال څخه را په دی خوا د عمل په ډګر کی پلی کيږی، ۷ ډوله متعارف يا ساده وسلی شاملی دی: جنګی ټانکونه، زره لرونکی نقليه وسيلی، توپخانی، جنګی الوتکی، جنګی څرخی الوتکی، جنګی بيړی، توغندی او توغندی چلونکی. د ملګرو ملتونو عمومی منشی د همدی ثبت له مخی د ۱۱۰ هيوادونو د متعارفو وسلو د صادراتو او وارداتو په هکله عمومی غونډی ته په منظمه توګه رپوټونه وړاندی کوی. په دی رپوټونو کی د وسلو د کورنی توليد او پوځی موجودی په هکله معلومات شامل دی. دغه انترنتي پاڼه دی وکتله شي:

http://disar,emt.un.org/cab/register.html

## د سخت او دردونکی بنديز لګولو لپاره اړتيا

د ملګرو ملتونو عمومي منشی هراړخيز اقتصادی بنديز د «پڅی يا غير پريکړنی وسيلی» په توګه نومولی دی. هغه تل اغيزمن نه دی او ډيری وخت ګاونډيو هيوادونو او يا د هدف نيول شوی رژيم تر واکمنی لاندی عادی خلکو ته تاوانونه اړوی. په دی وجه ځينی په دی باور دی چی شديد او د دقت وړ بنديزونو ته اړتيا ده. د مالی او سفری بنديزونو تر څنګ د وسلو بنديز همداسی يو بنديز دی. ځکه د وسلو بنديز ډيری وخت يواځی او يواځی  واکمن رژيم او د هغه واکمنان اغيزمن کوی، عادی خلک يا د حکومت مخالفين له هغه څخه خوندی پاتی کيږی. خو شديد او د دقت وړ بنديزونه په سختی سره د عمل جامه اغوندی او بشپړ برياليتوب هم نه لری. هغو کی هم بايد سمونوالی رامينځ ته شی (۷۷ چوکاټ ته کتنه وکړی.)

**۷۷ـ چوکاټ**

### د وسلو په بنديز کی له نور زيات دقت او پاملرنی څخه کار اخيستل: هغه څه چی پارلمانونه کولای شی په دی اړه يی سرته ورسوی.

**د وسلو صادرونکو هيوادونو پارلمانونه بايد له دغو لاندی حالاتو څخه ځان ډاډه کړی:**

- د اداری لازمو لارښوونو او مقرراتو په شمول د داسی قوانينو وضع کول چی د ملګرو ملتونو د وسلو له بنديز څخه سرغړونی جنايی جرم وګڼل شی؛
- د حکومت په دننه کی همغږی چی د بنديزونو د پلی کولو لپاره يو اداره په پام کی ونيسی؛
- د حکومت د ادارو په دننه او حکومتونو تر مينځ د هغو معلوماتو او استخباراتو شريکول چی شکمن پيتی، مقصد ځای، ترانزيتی لاری او يا دلالان کنترول کړای شی؛
- د هغو اجناسو د لست کنترول چی پری بنديزونه لګول شوی دی؛
- د هغو مالونو د مصادری لپاره واک درلودل چی بنديز پری لګول شويدی، نه دا چی هغه بيرته خپل استونکی ته بيرته واستول شی؛
- د غير قانونی وسلو له تجارت څخه د لاس ته راغلی شتنمی د مصادری يا منجمد کولو لپاره احکام؛
- د هغو وسلو د بارونو څارل او کنترول چی ښايی له خپل اصلی مقصد ځای څخه بلی خواته منحرف کړای شی. سرچينه: د www.bicc.de د انترپانی څخه ، ۲۰۰۰

## د سړې جګړې څخه وروسته ميراث، اضافي وسلې او د هغو ليږدول

د سړې جګړې پای په ټوله نړۍ کې پوځي ځواکنه کوچنی کړل. دا په دې معنی چې په مليونونو وسلې اضافي پاتې شوې. په ټوله نړۍ کې د اضافي وسلو نه کنترول دا لاره اواره کړه چې د حکومتونو ترمينځ وسلې رد وبدلې شي او هم له دولتونو څخه غير دولتي سازمانونو ته وسلې په لاس ورغلې. نتيجه دا چې وسلې له هر ډول عامه څارنې څخه بې برخې شوې. ښکاره ده چې ډيرې دغه وسلې د وسلو د غلا چينلونو ته برابرې شوې او يا په مستقيمه توګه د وسلو له ګدامونو څخه غلا شوې.

په ۱۹۹۰ کال کې د وسلو د تجارت دوه پر پنځمه برخه د وسلو د اضافي ګدامونو څخه سر چينه اخلي. په ۱۹۹۰ لسيزې کې د وسلو د نړيوال تجارت د پديدې په توګه د اضافي وسلو اصلي دليل دا وه چې د وسلو هغه ګدامونه چې د پخواني شوروی بلاک پورې اړه درلوده، له مرکزی کنترول څخه ووتلې. د سختو اقتصادی شرايطو او د وسلو د بيشميرو ګدامونو په پام کې نيولو سره، اضافي وسلې د نغدو پيسو ډيره ښه سرچينه وګرځيدله، د هغه څه لپاره چې ډيره ورته اړتيا وه. له بلې خوا دا هم ربښتيا ده چې د وسلو د پلورل لپاره ډيرو جنايي شبکو بندو بست کړی دی، کومې شبکې چې کومې سياسي مشرۍ پورې اړيکې درلودلې يا نه درلودلې. خو د وسلو په غير قانوني پلورلو کې پخواني شوروی بلاک يوازې نه ؤ، بلکه ډيرو پرمختللو او يا د پراختيا په حال کې هيوادونو هم په کې لاس درلود.

**۷۸ـ چوکاټ**

### د اضافي وسلو سوداګرې: د بې وسلې کولو منفي نتايج

«د نويو وسلو په سوداګرې کې د کموالي سره سره، احصاييې ښيي چې د دوهم لاس د وسلو تجارت بې سارې ؤ. د اضافي وسلو په ليږدولو کې يو ډول مختلط جاذب او دافع عواملو نقش درلوده. د بې وسلې کولو موافقه ليکونو، اوربندونو او د پوځي مقابلو د کميدو سره په ټوله نړۍ کې د وسلو ستر انبارونه را مينځ ته کړل چې حجم يې تر ۱۶۵ زره پورې رسيږې. له هغو څخه د ۱۹۹۰ او ۱۹۹۵کلونو په مينځ ۱۸ زره يې صادرې او يا بسپنه شوې. په ۱۹۹۴ کال کې د لومړی ځل لپاره د اضافي وسلو تجارت د نويو وسلو پر تجارت لاس برتوب وموند. اضافي يا مازاد وسلې په ارازنه بيه پلورل کيږې او تجارت يې د پراخيدو په حال کې دی او د پوځي مرستو د پروګرامونو د يوې برخې په توګه په وړيا توګه ورکول کيږې. دغه ډول سوداګرې د بې وسلې کولو لپاره ستونزمنې پايلې لرې، څرنګه چې دا وسلې کړکيچنو سيمو ته استول کيږې او هلته د تسليحاتي سياليو تنور نور هم تودوې.»

سرچينه: Herbert Wolf، ۱۹۹۸، په بن کې د نړيوالو بدلونو مرکز،www.bicc.de

ښکاره ده چې د وسلو اخيستونکې بې وزلې هيوادونه دي چې په عمومي توګه د پارلماني څارنې کمزوری تشکيلات لری. په ۱۹۹۰ کال لږ ترلږه ۹۰ هيوادونو اضافي وسلې واردې کړې. د کوچنيو وسلو دقيق کنترول په خاصه توګه اهميت لری او مقننه قوه بايد حکومت او پوځ مکلف کړې چې هر کال د کوچنيو وسلو د تاواني کيدو او غلا او نورو داسې پيښو په هکله پارلمان ته رپوټ ورکړې. همدا راز د کوچنيو وسلو د توليد فابريکې په غير پوځي فابريکې د بدلولو لپاره دې په اقداماتو لاس پورې شي. په اوسطه توګه د وسلو د نړيوالې ليږدونې کچه د ۱۹۹۷ او ۲۰۰۱ کال تر مينځ راټيټه شوه. د دغه کموالي دليل دا دی چې امريکا متحده ايالاتو په هغه کې د دغو وسلو په عرضه کولو کې کموالي راوست. خو له ۱۹۹۸ کال څخه وروسته په سلو کې ۶۵ د دغه کموالي سره سره متحده ايالاتو د ۱۹۹۷ او ۲۰۰۱ کلونو په مينځ کې د وسلو د عرضه کونکو هيوادونو په سر کې ولاړ دی. په دغې مودې کې روسيې دوهم مقام درلود. خو له هغې وروسته د ۲۰۰۰ او ۲۰۰۱ کلونو په مينځ کې روسيې

د خپلو وسلو د عرضې په بازار کې په سلو کې ۲۴ زياتوالی راووست، څرنګه چې په ۲۰۰۱ کال کې يې لومړی مقام ترلاسه کړ. (سر چينه د ۲۰۰۲ کال کتاب، SIPRI)
چين په ۲۰۰۰ کال د وسلو په اخيستلو کې په سلو کې له ۴۴ زياتوالی راوستلو څخه وروسته په ۲۰۰۱ کال کې تقريبا د وسلو د سترو اخيستونکو هيوادونو له جملې څخه دی. هند هم په سلو کې د ۵۰ زياتوالی سره په ۲۰۰۱ کال د وسلو د واردونکو هيوادونو دوهم مقام ترلاسه کړ. د ۱۹۹۷ او۲۰۰۱ کلونو په منيځ کې د وسلو سترو اخيستونکو هيوادونو څخه سعودی عربستان، تايوان او ترکيه هم دی. (سر چينه د ۲۰۰۲ کال کتاب، SIPRI)

**۷۹ـ چوکاټ**

## د کوچنيو او سپکو وسلو د تجارت ارقام

«په داسی حال کی چی په اوسنی وخت کی د توليد شويو سپکو وسلو حجم د سړی جګړی د کلونو له پای څخه ټيټ دی، خو بياهم هر کال په مليونو دغه ډول وسلی توليديږی (...) د اټکلونو له مخی (...) په ۲۰۰۰ کال کی د مهماتو په شمول د وسلو ارزښت لږترلږه ۴ مليارد امريکايي ډالر اټکل شوی دی؛ د اټکلونو له مخی په ۲۰۰۰ کال کی ۴،۳ مليون سپکی وسلی توليد شوی دی (...) چی د سړی جګړی د کلونو په پرتله په سلو کی ۳۰ کموالی راغلی دی.»

«په داسی حال کی چی د سپکو وسلو لپاره غوښتنی وار په وار کميږی، خو داسی ښکاری چی په بازارونو کی د هغو عرضه د زياتيدو په حال کی ده. توليدونکی شرکتونو په تيرو ۲۰ کلونو کی دری برابره زيات شوی دی (په ۱۹۸۰ کلونو کی له ۱۹۶ کارخانو څخه په اوسنی وخت کی ۶۰۰ ته لوړ شوی).»

(...) د نويو شرکتونو رامينځ ته کيدل او د سپکو وسلو د توليدونکو هيوادونو زياتيدو او د هغو کسانو د شته والی سره چی په هرچا او هری چيری په هرقيمت وسلی خرڅوی، دا ټول دا معنی لری چی استبدادی حکومتونه، غير دولتی لوبغاړی تروريستان او جنايت کاران په آسانی سره کولای شی چی نوی، پيچلی او خطرلرونکی وسلی لاس ته راوړی. په همدی وجه پر سپکو وسلو باندی د دولتی کنترول ټينګول د نړيوال امنيت لپاره په يوی مهمی موضوع بدل شوی ده.

سرچينه: د سپکو وسلو ارزونه، ۲۰۰۱، د اکسفورد خپرونی

**۸۰ ـ چوکاټ**

## د کوچنيو او سپکو وسلو د غير قانونی تجارت پرضد د ملګرو ملتونو د عمل پروګرام: د پارلمانی استازو لپاره د پام وړ موضوع

«د سپکو او کوچنيو وسلو د غير قانونی تجارت د مخنيوی، د هغه پرضد د مبارزی او د هغه د له مينځه وړو لپاره (SALW)، د سپکو او کوچنيو وسلو د غيرقانونی تجارت په هکله د جولای په مياشت کی د ملګرو ملتونو د ۲۰۰۱ کال د نيويارک په يو کنفرانس کی ګډون کونکو دولتونو په ملی، سيمه ايز او نړيواله سويه په يو لړ اقداماتو لاس پوری کړ. د نورو تر څنګ دغه لاندی د يادونی وړ دی:

### په ملی سطح

- د مناسبو قوانينو د نشتوالی په صورت کی په قضايی ساحه کی هغه قوانين، مقررات او

چالچلندونه وضع کړي تر څو د سپکو او کوچنیو وسلو په غیر قانوني تجارت، وارداتو، صادراتو، ترانزیت یا لیږدولو باندې اغیزمن کنترول ټینګ شي.

- هغه افراد او ډلې چې د سپکو او کوچنیو وسلو په غیر قانوني تولید، تجارت، ساتنه، لیږدونه، ملکیت، پانګه اینودنه او تدارکاتو کې لاس لري، باید وپیژندل شي او د ملي قوانینو له مخې دې د هغو پر ضد قانوني چالچلند وشي؛
- ډاډ پیدا کړي چې د سپکو او کوچنیو وسلو قانوني تولیدونکي شرکتونه د دغو وسلو د تولید په وخت کې په هر یوه باندې د پیژندلو لپاره خپله ځانګړې مارکه وهي؛
- ډاډ پیدا کړي چې د خپلو قوانینو له مخې، د سپکو او کوچنیو وسلو د تولید، موجودې او لیږدولو دقیق او هراړخیز ثبت د یوې اوږدې مودې پر مخ سرته رسول کیږي؛
- ډاد پیدا کړي چې کوچنیو او سپکو وسلو د ساتنې او صادراتو مسؤلیت یواځې د حکومت په غاړه دې او د دغو وسلو د څارنې لپاره په اغیزمنو اقداماتو لاس پورې کیږي؛
- د سپکو او کوچنیو وسلو د صادراتو او ترانزیت د اغیزمن کنترول لپاره چې په هغه کې «د وروستي استهلاک کونکي» رښتیني او اعتباري تصدیق هم شامل دی، له اغیزمنو قوانینو، مقرراتو او اداري چالچلندونو څخه کار واخلي؛
- د سپکو او کوچنیو وسلو د صادراتو لپاره د دولتونو د حق په وړاندې له تعصب څخه پرته، د هغو وسلو لومړي صادرونکي ته د وسلو له لیږدولو څخه مخکې له دوو اړخیزو موافقو څخه خبر ورکړي؛
- د هغو افرادو د فعالیتونو د کنترول لپاره چې د سپکو او کوچنیو وسلو د دلالي په برخه کې بوخت دي، ملي قوانین او یا اداري مقررات وضع کړي؛
- د هر هغه فعالیت پرضد چې د امنیت د شورا بندیزونو څخه سرغړونه وکړي، په مناسبو اقداماتو لاس پورې کړي؛
- ډاډ پیدا کړي، کوچنۍ او سپکې وسلې چې مصادره شوي یا نیولې او یا ټولې شوي دي، له مینځه وړلې کیږي؛
- ډاډ پیدا کړي چې وسلوال ځواکونه، پولیس او یا هر هغه څوک چې قانونا اجازه لري سپکې او کوچنۍ وسلې په اختیار کې ولري، د وسلو د ساتنې او پالنې لپاره سم او دقیق معیارونه او چلندونه مراعاتوي؛
- د امکان په صورت کې د بې وسلې کولو، پوځي تحرکاتو د پای ته رسولو او په ټولنه کې د بې وسلې شویو کسانو د ادغام لپاره په لازمو پروګرامونو لاس پورې کړي؛
- او د هغو ماشومانو اړتیاوو ته چې په وسلوالو نښتو کې تاواني شوي دي، ځانګړې پاملرنه وکړي.

سرچینه: د ملګرو ملتونو د بې وسلې کولو اداره،
وب سایټ ۲۰۰۲:,http://www.un.org/Depts/dda

د وسلو د صادراتو د کنترول په لارو چارو کې شفافیت او حساب ورکونه چې د سرې جګړې د یاد شویو نتایجو سره یې شدت پیدا کړی په ډیرو هیوادونو کې د هغه څه په هکله چې پارلمانونه باید څه وکړي او یا څه کولای شي، د بحث په مهمې موضوع بدله شوې ده.

۸۱ چوکاټ د اروپا د اتحادیې د غړو له خوا د سرته رسول شویو اقداماتو ځینې بیلګې ښکاره کوي. د شفافیت او ځواب ورکونې په نسبت د خبرتیا د زیاتوالي سره په نوموړو هیوادونو کې د وسلو پر صادراتو باندې د پارلمانونو د پام وړ څارنې د ښه کیدو سبب شوی ده، خو اصلي هدف ته تر رسیدو پورې لا ډیره لاره پاتې ده.

**۸۱- چوکاټ**

## د وسلود صادراتو په کنترول کی د پارلمان نقش: د اروپا د اتحادیی په غړو هیوادونو کی شفافیت او ځواب ورکونه

**اطریش:** په اطریش کی د قوانینو له مخی د پارلمان په وړاندی د معلوماتو د وړاندی کولو یا بربنډولو لپاره احکام نه دی اینسودل شوی.

**بلجیم:** په ۱۹۹۱ کال د یو تصویب شوی قانون له مخی حکومت مکلف دی چی د وسلو د لیږدولو په هکله پارلمان ته هر کال رپوټ ورکړی. البته قانون په دقیقه توګه دا نه بیانوی چی څوک چاته د وسلو د صادراتو جواز ورکولای شی. دا یو ډیر مهم امر دی، ځکه صادرات باید د اروپا د اتحادیی مقررات مات نه کړی.

**دنمارک:** په خپل قانون کی داسی احکام نه لری چی پارلمان دی د وسلو په صادراتو باندی بحث وکړی او نه په دی موضوع کی د دیموکراتیکی څارنی لپاره مقررات ټاکل شوی. خو د عامه فشار د زیاتیدو څخه وروسته د عدلیی وزیر هڅه کوی چی د وسلو د صادراتو په هکله یو لومړنی رپوت خپور کړی، کوم چی په هغه کی د صادراتو کنترول، د صادراتو ارزښت او هغه هیواد ته چی وسلی استولی کیږی، شامل دی.

**فنلند:** د اروپا د اتحادیی د چالچلند د لارښوونو سره سم، د دفاع وزارت تر اوسه پوری د دفاعی صادراتو د موادو په هکله دوه کلنی رپوټونه خپاره کړی دی. دا رپوټونه د شفافیت د خوندی ساتنی لپاره هراړخیز ګڼل کیږی. خو سره له دی د وسلو د لیږدولو په هکله پارلمانی بحث وجود نه لری.

**فرانسه:** د فرانسی پارلمان وار په وار له خپل حکومت څخه دا غوښتنی زیاتی کړی چی د وسلو د صادراتو په هکله په خپل کلنی رپوټ کی نور هم تفصیلات ورکړی او ځینو موضوعاتو باندی رڼا واچوی، لکه د سپکو وسلو، پولیسی او امنیتی وسیلو، د دوه ګونی استعمال لپاره وسیلی او د ټولو پوځی همکاریو په هکله. سربیره پر دی پارلمان غوښتنه کوی چی په دی هکله د هغه په دننه کی زیات بحثونه وشی.

**آلمان:** د وسلو د صادراتو په هکله لومړی رپوت په ۲۰۰۰ کال چاپ شو، انتظار کیږی چی پارلمانی کمیټی به په راتلونکی رپوټ باندی غور وکړی: د دفاع، بهرنیو چارو، تجارت او احتمالا هم د بشر د حقوقو کمیټی. د پارلمان نقش به د هغه څه په هکله چی حکومت صادر کړی دقیقی پلټنی پوری محدود کړای شی.

**یونان:** داسی یو میکانیزم وجود نه لری چی د وسلو د صادراتو د اجازی په هکله دی پارلمان ته یا عامه خلکو ته کوم رپوټ ورکړای شی. یواځنی رسمی معلومات هغه دی چی د ملګرو ملتونو له خوا د متعارفو وسلو د ثبت په هکله وړاندی کیږی.

**آیرلند:** د آیرلند په قانون کی داسی احکام نه شته چی حکومت د وسلو د صادراتو په هکله رپوت خپرولو لپاره مکلف کړی. خو د اروپا د چالچلند د لارښوونو له مخی، د هغه د بهرنیو چارو وزارت تر ۲۰۰۲ کال پوری دوه کلنی رپوټونه وړاندی کړی دی. د پارلمان په دننه کی یو دود د ودی په حال کی دی چی پارلمانی غړی د وسلو د صادراتو د جواز په اړه وزیرانو ته پوښتنی وړاندی کړی.

**ایتالیا:** حکومت مکلف دی چی د دفاعی وسیلو د وارداتو، صادراتو، لیږدولو او ترانزیت په اړوند پارلمان ته رپوټ وړاندی کړی. دا مسأله د ۱۹۹۰ کال د قانون له مخی سرته رسول کیږی چی د یو تفصیلی رپوټ غوښتنه کوی. خو پارلمان د صادراتو په پلټنه کی کوم رسمی نقش نه لری.

**لوکزامبورګ:** په دغه هیواد د وسلو کوم مهم صنعت وجود نه لری او نه په دی اړه د ځواب ورکونی کوم سیستم.

**هالند:** د وسلو د صادراتو په هکله لومړی هراړخیز رپوټ د ۱۹۹۸ کال د اکتوبر په میاشت کی خپور شو. د هالند د وسلو په صادراتو کی معمول دا دی چی پارلمان په غیر رسمی توګه له صادراتو څخه مخکی په یوی ژوری پلټنی لاس پوری کوی: حکومت په پټه توګه د پارلمان دفاعی کمیسیون ته د ټولو اضافی وسلو د پلورلو په هکله خبرتیا ورکوی.

**پرتګال:** د ۱۹۹۸ کال د رپوټ له خپرولو څخه مخکی داسی قانونی احکام موجود نه ؤ چی پارلمان د

| |
|---|
| ووسلو د صادراتو د جواز د تصمیم په هکله په پلټنه لاس پوری کړی. همداراز په دی اړه د پارلماني بحث لپاره هم امکانات نه شته. خو پارلماني استازی کولای شي چي د د وسلو د صادراتو له اجازی ورکولو څخه وروسته په دی اړه پوښتني وکړی. |
| **هسپانیا:** یو ریپوټ په ۱۹۹۸ کال کی خپور شو. د وسلو د صادراتو په هکله مخکی له مخکی هیڅ ډول پلټنه وجود نه لری. په دی برخه کی یواځی د پارلمان محرمه کمیټه برخه لری. د پارلمان په دننه کی اوس بحثونه د پراخیدو او ودی په حال کی دی. |
| **سویډن:** لومړنی ریپوټ په ۱۹۸۴ کال کی خپور شو چی په هغه کی پارلمان د پوځي وسیلو د صادراتو په هکله یو مشورتی بورډ وټاکه چی د نورو اروپایی هیوادونو لپاره د لار نښانه وګرځیده. پارلمان پر دغه ریپوټ باندی هر کال بحث او خبری کوی. |
| **بریتانیا:** د بریتانیا د وسلو د صادراتو ریپوټ ورکونه دټولو څخه له ډیر ښه شفافیت څخه برخه منه ده. په ۱۹۹۹ کال د لومړی ریپوټ له خپریدو څخه را په دی خوا د دفاع، بهرنیو چارو، نړیوالو پراختیاوو او تجارت او د صنایعو د وزارتونو له خوا یوه ګډه کمیټه جوړه شوه. دغه کمیټه د عوامو مجلس ته ریپوټ ورکوی او صلاحیت لری چی د وسلو صادرات وڅاری.<br><br>سرچینه: www.saferworld.co.uk; 2000 |

# پارلماني تخصص

څرنګه چی مخکی یادونه وشوه چی د دی ډاډینی لپاره چی پارلمان د وسلو د تجارت او لیږدولو په پروسه باندی پراخه څارنه لری، پارلماني تخصص خورا اهمیت لری، د مسلکی توان نه درلودل یا کموالی هغه یو مهم دلیل دی چی په تصمیم نیولو کی د محرمتوب لامل ګرځی. د پارلماني غړو روزل، بیا په خاصه توګه د صلاحیت لرونکو کمیسیونونو د غړو، یو ضروری امر دی. همداراز په ځینی تخصصونو، لکه د وسلو تجارت، تدارکاتی انډول، عملیاتی څیرنی، د تجهیزاتو منجمنت، د قیمتونو او وسیلو کنترول او داسی نورو کی د پارلماني کارکونکو روزل د کارپوهانو د یو چوکاټ په جوړیدو کی مرسته کوی، هغه چی په پارلمان کی د دفاعی کمیټو پوښتنو ته ځواب ورکولای شی. سر بیره پر دی د امنیتي برخي د تصمیم نیوني په مختلفو اړخونو باندی د یو معلوماتی سیستم جوړول د پارلمان دفاعی کمیتي په دی توانوی چی له اجراییه او پوځ څخه د تصمیمونو د څارنی او کتني لپاره د اړوندو معلوماتو غوښتنه وکړی.

| |
|---|
| **هغه څه چی تاسی د پارلمان د استازی په توګه سرته رسولای شی**<br><br>**د وسلو پر تجارت باندی څارنه**<br><br>• هڅه وکړی چی د وسلو نړیوال تجارت د پارلمان د کار د مهمو موضوعاتو څخه وګرځی.<br>دهغو سپارښتنو د عملی کولو لپاره لاره اواره کړی چی په ۸۰ چوکاټ کی «**د کوچنیو او سپکو وسلو د غیر قانوني تجارت پرضد د ملګرو ملتونو د عمل پروګرام: د پارلماني استازو لپاره د پام وړ موضوع**» بیان شوی دی.<br>• ځیل دولت وهڅوی چی د دغو لاندو مسألو په نسبت ژمنه ولری او هغه مراعات کړی:<br>- د متعارفو یا ساده وسلو په اړه د ملګروملتونو له خوا د وسلو د ثبت کولو په موخه د ریوټ ورکوني غوښتني؛<br>- د پوځي لګښت په هکله د ریوت ورکوني لپاره د ملګرو ملتونو معیاری امکانات؛<br>د متعارفو وسلو په اړه اړوند سیمه ایز تړونونه. |

**د وسلو د تجارت په هکله ملی پالیسی**

- ډاډ پیدا کړی چی د وسلو د پلورلو په هکله ملی پالیسی نوی وی او ډاډه شی چی په موقع سره د تصویب لپاره پارلمان ته وړاندی کیږی.
- ډاډ پیدا کړی چی داسی یو میکانیزم جوړیږی چی حکومت مکلفوی ترڅو پارلمان ته د وسلو د تجارت په هکله رپوټ ورکړی.

**د وسلو بندیز**

- ډاډ پیدا کړی چی د وسلو د بندیزونو اړوند مسألی په پارلمان کی د هغو د اړوندتوب او اغیزمنتوب په پام کی نیولو سره تر بحث لاندی نیول کیږی.
- په پارلمان کی د «سختو او دقیقو بندیزونو» په هکله بحث ته رواج ورکړی، خصوصا هغه ټکی چی په ۷۷ چوکاټ کی یاد شویدی، په پام کی ونیسی.
- له حکومت څخه په ټینګه توګه غوښتنه وکړی چی د وسلو بندیز ته درناوی ولری او له هغو څخه د سرغړونی په صورت کی ځینی سزاوی په پام کی ونیسی.

**اضافی وسلی**

- هڅه وکړی چی پارلمان او صلاحیت لرونکی کمیسیونونه چی ګمرګی مسألو سره یی اړوند دی، اضافی وسلو ته ځانګړی پاملرنه وکړی او د لاندو حالاتو د مخنیوی او کنترول لپاره په ځینی اقداماتو لاس پوری کړی:
  - ستاسو له هیواد څخه یا د هغه له لاری د اضافی وسلو لیږدول؛
  - د اضافی وسلو هر ډول تدارکات.
- له حکومت څخه وغواړی چی د اضافی وسلو په فهرست کولو او یا له مینځه وړلو کی ونډه واخلی.
- بیاهم له حکومت څخه وغواړی چی د هغو شرکتونو پیژندنه وکړی چی د اضافی وسلو په لیږدولو کی نقش لری او د هغوی فعالیتونه تر کنترول لاندی ونیسی.

**سپکی یا کوچنی وسلی**

- ډاډ پیدا کړی چی پارلمان یا اړوند کمسیون د سپکو وسلو د ملی تولید او پلورلو په هکله هرکال هراخیز معلومات لاس ته راوړی. غوښتنه وکړی چی کلنی رپوټ کی د هغو شرکتونو د فعالیتونو په هکله دقیق معلومات موجود وی.
- ډاډ پیدا کړی چی د سپکو یا کوچنیو وسلو پلورل چی ملی تولید دی د هغو معیارونو سره سمون لری چی د دی رسالی په همدی فصل کی پری ټینګار وشو.

# بين الپارلماني اتحاديه څه ډول سازمان دی؟

بين الپارلماني اتحاديه (IPU) چې په ۱۹۸۹ کال کې تأسيس شوه، د خپلواکمنو دولتونو د پارلمانونو سازمان دی. په ملګرو ملتونو کې د نوی ځارونکي موقف د لاس ته راوړنې سره دغه سازمان په نړيوال ډګر کې د يو پارلماني بُعد د پرانيستلو او د خبرواترو په نړيواله پروسه کې د منتخبو استازو د غږ د اوچتولو په موخه يو بل ګام واخيست.

د ۲۰۰۳ کال تر جنورۍ پورې د نړۍ ۱۴۴ پارلمانونه د بين الپارلماني اتحاديې غړي وګرځيدل. د پارلماني ډيالوګ او عمل د مرجع په توګه دغه سازمان د نړۍ پارلمانونو سره جرګه کوي تر څو:

- د نړيوال مينې وړ او پام وړ مسألو باندې غور وکړي،
- د پارلماني استازو د بشري حقوقو په دفاع او خوندي ساتلو کې ونډه واخلي،
- په ټوله نړۍ کې د ولسونو د استازيتوب په ټيګښت کې مرسته وکړي.

د سولې او امنيت پورې اړوند مسألې د بين الپارلماني اتحاديې لپاره تل د اهميت وړ دی. په ډيرې حالاتو کې د هغې اتحاديې دايمي غړې د بې وسلې کولو، تحريماتو، نړيوالو بنديزونو، نړيوالې جنايي محکمې او تروريزم په شمول په امنيتي موضوعاتو کې په عمل لاس پورې کوي. هغې اتحاديې په ۱۹۹۴ کال کې د نړيوال بشري قانونې ته د درناوۍ په موخه يو ځانګړې کميته جوړه کړه. نوموړې کميټې د سره صليب د نړيوالې کميټې په همکارۍ په ۱۹۹۹ کال کې د بشري نړيوال قانون ته د درناوۍ په هکله د پارلماني استازو لپاره يو لارښود کتاب خپور کړ.

بين الپارلماني اتحاديې همداراز تل مينه درلودلې چې د شخړو او کش کړپونو د کمولو او حل کولو لپاره د خبرو اترو له لارې مرسته وکړي. د بين الپارلماني اتحاديې غونډې د ډيالوګ او د کړکيچونو د شنډولو او يو بل باندې د اعتماد د رامنځ ته کولو لپاره موقع برابروي. دغه اتحاديه همداراز په منځنۍ ختيځ کې د کړکيچ د يو خوښې وړ حل د رامنځ ته کيدو په موخه يوه پارلماني کميته او د قبرس په دواړو برخو کې د موجودو سياسي ګوندونو تر مينځ د ديالوګ د پياوړې کولو لپاره يو مينځګړې ډله لری. بين الپارلماني اتحاديه همداراز په مديترانه کې د امنيت او همکارۍ د غښتل کولو لپاره يو ځانګړې ميکانيزم هم لری.

**په ملګرو ملتونو کې د بين الپارلماني اتحاديې د ځارونکې دايمي دفتر**

Inter-Parliamentary Union
220 East 42nd Street
Suite 3102
New York, N.Y. 10017
USA
Tel: (212) 557 58 80
Fax: (212) 557 39 54
Website: www.ipu.org

**د بين الپارلماني اتحاديې مقّر**

Inter- Parliamentary Union
Chemin du pommier 5
Case Postale 330
CH-1218 Grand Saconnex, Geneva
Switzerland
Tel: 41 22 919 41 50
Fax: 41 22 9919 41 60
E-mail: postbox@mail.ipu.org
E-mail:ny-office@mail.ipu.o

# د وسلوالو ځواکونو د دموکراتيک کنټرول لپاره
# د جينوا مرکز (DCAF)

په تيره لسيزه کې د پرمختګ سره سره، د پوځې ـ ملکی اړيکو د ديموکراتيک بدلون او منجمنت د ډيرو دولتونو لپاره د يوی ستری ننګونی په توګه پاتی دی. دغه مقوله په خاصه توګه د هغو هيوادونو په برخه کی چی د ديموکراسی په لور په انتقالی دوره کی دی او جګړه ځپلو يا له جګړو څخه وروسته هيوادونو په برخه کی صدق کوی. وسلوال او نيمه پوځی ځواکونه، پوليس، سرحدی محافظين او داسی نور امنيتي جوړښتونه په ډيرو هيوادونو کی لا تراوسه مهمو لوبغاړو په توګه پاتی دی. ډير وخت د هغوی چالچلند داسی دی، لکه چی «دولت د دولت په دننه کی» وی، پر محددو منابعو باندی درووند پيټی ګرځی، ديموکراتيکی پروسی ته خنډ پيدا کوی او په ملی او نړيواله سويه کش کړيونو ته لمسون کوی. نو په دی وجه دا خبره د ډيرو له خوا منل شوی ده چی د داسی ځواکونو د ديموکراتيک او ملکی کنټرول د نښتو د مخنيوی، د سولی اود ديموکراسی د پرمختګ او د ټولنيزـ اقتصادی ثبات لپاره مهمه لاره چاره ده.

د وسلوالو ځواکونو د جوړښت د ديموکراتيک او ملکی کنټرول پياوړی کول د نړيوالی ټولني په اجنداء کی د پاليسی يوه مهمه موضوع ګرځيدلی ده. د دغه عمومي او مثبتی ليرډونی سره د يوی عملی مرستی په موخه د ۲۰۰۰ کال د اکتوبر په مياشت کی د سويس حکومت د خپل دفاع وزارت، ملکی ساتنی، سپورټونو او بهرنيو چارو د وزارت په ګډ نوښت سره د وسلوالو ځواکونو د ديموکراتيګ کنټرول لپاره د جينوا مرکز (DCAF) تأسيس کړ.

## ماموريت

دغه مرکز دولتونه او غير حکومتی مؤسسی د وسلوالو او امنيتی ځواکونو د ديموکراتيک او ملکی کنټرول د پياوړی کولو په مقصد دهغوی هڅی تشويقوی او له هغو څخه ملاتړ کوی او په دی ساحه کی نړيوالی همکاری پراخوی، د دغه مرکز پام په لومړی سر کی د اروپا ـ اتلانتيک سيمی ته اړول شوی دی.

د دغو هدفونو د پلی کولو لپاره دغه مرکز:
- **د معلوماتو په راټولولو، څيړنو او په شبکه يی فعاليتونو لاس پوری کوی** ترڅو ستونزی وپيژنی، لاس ته راغلی تجربی په کار واچوی او د وسلوالو ځواکونو او ملکی ـ پوځی اړيکو د ديموکراتيک کنټرول په ساحه کی د غوره چالچلندونو وړانديز وکړی؛
- **خپل تخصص او مرسته** ټولو علاقمندو اړخونو ته وړاندی کړی، په خاصه توګه حکومتونو، پارلمانونو، پوځی چارواکو، نړيوالو سازمانونو، غير حکومتی مؤسسو او اکاډميکو کړيو ته.

**DCAF** له اړوندو کورنی چارواکو، نړيوالو او غير حکومتی سازمانونو،علمی مؤسسو او ځانګړو کارپوهان سره له نژدی همکاری کوی. **DCAF** په خپل عملياتی او تحليلی کار کی د۴۲ حکومتونو چی په مؤسسی شورا کی استازيتوب لری او همداراز په نړيوال مشورتی بورډ کی د څه ناڅه ۵۰ نوميو کارپوهانو، په خپل فکری نهاد او د خپلو کاری ډلو په ملاتړ تکيه کوی. دغه مرکز له يو شمير څيړنيزو انستيتوتونو او څو نړيوالو سازمانونو او بين الپارلمانی عمومی غونډو سره د ملګرتيا يا د همکاری موافقی تړلی دی.

# د کار پروګرام

د دې لپاره چې د وسلوالو ځواکونود دیموکراتیک کنترول مشخصو عنوانو ته پاملرنه وشي، DCAF ۱۲ فعال کاري ګروپونه جوړ کړي او یا د جوړولو په پروسه کې دي چې دغه لاندې موضوعات تر غور او کتنې لاندې نیسي:
د امنیتي برخې اصلاحات؛ د وسلوالو ځواکونو پارلماني څارنه؛ د وسلوالو ځواکونو د دیموکراتیک کنترول قانوني اړخ؛ په دفاعي بودجه او د وسلو په تدارکاتو کې د شفافیت رامنځ ته کول؛ د پولیسو او نوروغیرو پوځي امنیتي ځواکونو دیموکراتیک کنترول؛ ملکي ـ پوځي اړیکې کله چې یو په بل باندې واړول شي او د قواوو کمول؛ پوځ او ټولنه؛ د مدني ټولنې جوړول؛ له پوځي نښتو څخه وروسته دوره کې ملکي ـ پوځي اړیکې؛ د وسلوالو ځواکونو د دیموکراتیک کنترول لپاره د بریالیتوب یا ناکامۍ معیارونه؛ د افریقا په اړه ملکي ـ پوځي اړیکې. پلان جوړونه، منجمنت او د کاري ډلو همغږي د دغه مرکز د فکري زیرمتون په زړه کې ځای لري.

د وسلوالو ځواکونو د دیموکراتیک کنترول لپاره د جینوا مرکز خپل تخصصي خدمتونه د دو اړخیزو یا څو اړخیزو په سطح وړاندې کوي او همدارز د عامه خلکو مینې وړ مسألو ته هم پام اړوي. د امنیتي برخې د اصلاحاتو او د وسلوالو ځواکونو د پارلماني څارنې په ساحو کې یو شمیر دوه اړخیزې پروژې د جنوب ختیځې او ختیځې اروپا په دولتونو کې لاس لاندې نیولې شوې دي. په څو اړخیز سطح کې DCAF د جنوب ختیځې اروپا او په اروپا کې د امنیت او همکارۍ د کنفرانس لپاره د ثبات د تړون د کار په چوکاټ کې یو شمیر پروژې پلې کړې دي. دغه مرکز په منظمه توګه د رسالو په خپرولو، د کنفرانسونو په دایرولو، د ورکشاپونو په جوړولو او داسې نورو محافلو په دایرولو لاس پورې کوي. د خپلې وب سایټ (http://www.dcaf) په شمول دغه مرکز خپل پام وړ مخا طبینو او عامو خلکو ته د رسیدو په موخه له معلوماتي تکنولوژۍ څخه کار اخلي.

# تشکیلات او بودجه

د وسلوالو ځواکونو د کنترول لپاره د جینوا مرکز یو نړیوال بنسټ دی چې د سویس د قانون له مخې عمل کوي. د دغه مرکز په مؤسسي شورا کې * ۴۲ حکومتونه استازیتوب لري. نړیوال مشورتي بورد چې په دفاعي او امنیتي موضوعاتو کې د نړۍ له ډیرو مخکښو کارپوهانو څخه جوړ شوی دی د دغه مرکز رییس ته په ټولو ستراتیژیکي موضوعاتو کې سلا مشوري ورکوي. DCAF کې څه ناڅه ۴۰ کار پوهان په کار بوخت دي چې د نړۍ له ۲۳ ولسونو څخه دي، هغوی په څلورو څانګو کې ویشل شوي دي: فکري نهاد، ټولنیز پروګرامونه، معلوماتي سرچینې او اداره.

د DCAF بودجه د سویس د دفاع وزارت، ملکي ساتنې او سپورتونو له خوا ورکول کیږي چې په ۲۰۰۲ کال اته ملیون سویسي فرانک اټکل شوی وه. د دغه مرکز بل ستر بودجوي سرچینه د سویس د

---

**1.** البانیا،ارمنستان، اطریش، آزربایجان، سپینه روسیه، بوزنیا ـ هرزګووینا، بلغاریا، کوت د ووی، کرواتیا، جمهوریت چک، دنمارک، استونیا، فنلند، فرانسه،ګرجستان، آلمان، یونان، هنګری، آیرلند، ایتالیا، لاتویا، لیتوانیا، مولداویا، هالند، نایجریا، ناروی، پولند، پرتګال، رومانیا، فیدراسیون روسیه، صربستان و مونتینګرو، جمهوریت سلواک، سلوانیا، افریقای جنوبی، اسپانیه، سویدن، سویس، مقدونیه، اوکراین، انګلستان، ایالات متحده امریکا و کانتون جینوا.

بهرنیو چارو وزارت دی. ځینی غړی هیوادونه **DCAF** سره د کارکونکو غړو له استولو یا د مرکز په مشخص فعالیتونو کی له ونډی اخیستلو سره مرسته کوی.

## اړیکه

## د زیاتو معلوماتو لپاره دغی پتی سره اړیکه ونیسی:

Geneva Centre for the Democratic Control of Armed Forces (DCAF)
Rue de Chantepoulet 11, P.O.Box 1360, CH-1211 Geneva 1 Switzerland
Tel: 41 (22) 741-7700; Fax: 41 (22) 741-7705
E-mail: info@dcaf.ch; Website: www.dcaf.ch

د دی کتاب ټول حقوق خوندي دي. د وسلوالو ځواکونو د ديموکراتيک کنترول لپاره د جينوا د مرکزيا بين الپارلمانی اتحاديی له خوښی ځخه پرته د دی کتاب د هيڅ برخي خپرول او همدا راز په يو حافظوی سيستم کی دهغی ساتل، ليږدول، کاپی کول او ثبتول ځه په الترونيکی او يا ميکانيکی توګه منع دی. د دی رسالی د توزيع لپاره يوائی په دی شرط اجازه ورکول کيږي چی د سوداګری، پلورلو او پيريدلو، کرايه او يا داسی نورو ګټو اخيستلو په موخه نه وی. همداراز د خپرونکي د مخکی له مخکی خوښي ځخه پرته د رسالی خپرول او يا د راتلونکی خپرونکي له خوا د هغی په محتوا کی بدلون راوستل او يا د کومی ضميمی د زياتولو اجازه نه شته.

---

ISBN
ISBN

---

**پر امنيتی برخی پارلمانی څارنه**
**اصول،ميکانيزمونه او چالچلندونه**

**خپرونکی**
**بين الپارلمانی اتحاديه او د وسلوالو ځواکونو د ديموکراتيک کنترول لپاره د جينوا مرکز**

**مؤلفين**
**هانس بورن (Hans Born)، هالند**
**فيليپ فلوری (Philipp Fluri)، سويس**
**او اندرز بی جانسن (Anders B Johnsson)، سويدن**

**سرمؤلف**
**هانس بورن (Hans Born)،هالند**

**پښتو ژباړه**
**عبدالباری حکيم**

**مصحح**
**خالد صديقی**